
Khyber.ORG

**Presents**



له غوښې

جوړ سړی لا څه چې

دَ هوا خپه هم

کله چې

ځان هڅوي مخته

نو شي یخه ځکه

چې دَ ښکلا

# دَ لمر دَ کلي په لور

هره لاره

دَ زیږو غرونو

په واوْرینو څوکو داسې درومي


لکه تور مار چې کړی وي

مزل په واوْرو باندې

## افضل شوق

له اړخه دَ

## سکام پښتو اکیډمي کوئټه



له غوښې
جوړ سړی لا څه چې
د هوا څپه هم
کله چې
ځان هڅوي مخته
نو شي يخه خټه
چې د ښکلا

# د لمر د کلي په لور

هره لاره
د زړښو غرونو
په واوړينو څوکو داسې درومي
لکه تور مار چې کړی وي
منزل په واوړو باندې

**افضل شوق**

له اړخه د

**سکام پښتو اکېډمي کوټه**

# حقوق محفوظ

دا دَ یُون لیک کتاب ، چي "دَ لمر دَ کلي په لور" تر عنوان دلاندي په کال 2005ع کي چاپ او دَ افضل شوق په نامه مارکیټ کي خپور کړلی شو -- همه حق یې دَ زامنو عزیزیارخان، اولس یارخان، حکمتیار خان، قام یار خان او لُور هدیل برېښنا افضل خان په نامه محفوظ ساتل کېږي -

دَ کتاب په باب

| | |
|---|---|
| دَ کتاب نوم | دَ لمر دَ کلي په لور |
| ليکونکی | افضل شوق |
| دَ چاپ کال | 2005ع |
| سرپاڼه | الي بولنگ ، الي الائس اېن ماهافي - جارجيا امريکا |
| اهتمام دَ چاپَولو | ډاکټر وهيبه سکاني افضل |
| کمپوزنگ | عزيزيار خان او اولس يارخان |
| له اړخه | سکام پښتو اکېډمي کوټه |
| بيهه | 300 کالداري پاکستانۍ/ 250 افغانۍ/ 25 امريکائي ډالر |
| دَ چاپ ځای | حجره پبليکېشنز، ۱۴ جاپان مېنشن پريډي سټريټ صدر کراچي |

دَ کتاب تر لاسه کولو درک

- يونيورسټي بُک اېجنسي خېبر بازار پېښور
- صحاف نشرياتي موسئسه کاسي روډ کوټه
- عظيم پبليشرز سوئيکارنو چوک پېښور
- دانش کتابتون ډهکي قيصه خوانۍ پېښور
- پښتو اکېډمي بُک سټال ، پېښور يونيورسټۍ
- گوشه ادب جناح روډ کوټه

# انتساب دَ کتاب

دَ موجوده عصر

دَ ستر علمي او ادبي شخصيت

صاحب طرز شاعر

دَ ځانګړي اسلوب نثرنګار

او

دَ لوړ تنقيدي بصيرت څښتن

ښاغلي اياز داؤدزي

په نوم

چي په پښتو او پښتنو ورک مئين دی

# مننه

- دَ اُستاد سعدالدین شپون، چي زما ملاتړ کولو سره سره یې زه په سُوچه پښتو رسم الخط لیکلو هم وَ پارَولم
- دَ درانه سعید ګوهر، چي راهنمائي یي زه دَ ډېرو تاریخي حوالو په صحیح کولو کي وَ لوستونکو ته رښتین کړم
- دَ عمرګل عسکر، چي دَ ځینو تاریخي وضاحتونو پرته یې هم زه په خپل سوچه او کره کار کولو روژدَولم
- دَ رینګ ګولډ جارجیا - امریکا ملګري آرټسټ "الې بولنګ" الې الائس ابن ماهافې چي زما دَ دې کتاب سرپاڼه یې جوړه کړه
- دَ ژوند دَ خوږې ملګري ډاکټر وهیبه سکاني افضل ، چي دا کتاب یې پښتو ته پیرزوْ کړو
- دَ خواځُوږي سهېل جعفر، ملګري محمود ایاز، ډاکټر باقي دُراني، ملګري حسینه ګل، ملګري رحمان بونېري، ملګري رفعت اعوان، ملګري اکبرسیال، ملګري محب وزیر، ملګري نورالاسلام سنګر، ملګري ریاض تسنیم او ملګري سونیا خان چي په بېلابېلو حوالو یې له ما سره په دې کتاب چاپَولو کي کومک وکړو

# فهرست


پښتون "جهانیان جهان ګشت " افضل شوق ........ 1

څو خبري ........ 3

یادګیرنه ........ 4

خو خپلو هیلو سره ځمه ........ 5

دَ ښکلاوْ په ګودر چي مازیګر شو ........ 6

دَ خوبولو سترګو ویښ ښار ........ 29

هلته مسلمان زړه وَ کافر حُسن ته پخوا لا ماته خوړلي وه ........ 53

هغه ښار وْ- که مات بنګړی ؟ ........ 75

دَ مونا لیزا په موسکا موړ هېواد ........ 92

دَ ائیفل ټاوْر تر سیوري لاندي ........ 116

دَ برمنګهم پېلس په لور ازغني دومي ........ 135

انګلېنډ--که دَ شېکسپئیر دَ ډرامو کردارونه ........ 159

دَ دوزخي حُورو په جنت کي ........ 181

هلته رنګونه خبري کوي ........ 201

په څنګه ټکودي وَستایم ؟ ........ 224

دَ خیالونو په ګودر مي تندر پرېوت ........ 242

څنګه خوب - هغسي تعبیر ........ 259

دَ مصنف چاپ ناچاپه کتابونه ........ 260

دَ شاعر درک ........ 260

Khyber.ORG

# پښتون "جهانیان جهان ګشت" افضل شوق

ګران افضل شوق دَ پښتو ژبي هغه بختور لیکونکی دی چي شعري او نثري کتابونه يې پرله پسې را روان دي او په لره بره پښتونخوا کي يې هر سنجيده او فهميده ادب لوستونکی نه صرف پېژني بلکې دَ تخليقي فنکار په حېثيت يې کار او زيار ستائي هم - دَ هغه ليکني خپل لفظي او معنوي ښائستونه لري - دَ هغه دَ فکر دائره دَ خپل قام له ژوند ژواک څخه دَ نړۍ دَ هېوادونو او اولسونو ترمطالعې پوري فراخي او توسع لري - هغه که يوې خواته دَ خپل قام دَ مثبتو قدرونو تعريف او منښته کوي نو بلي خواته يې دَ منفي روئيو په واضح او صفا ټکو کي غندنه هم کوي - همداسي که يوې خواته هغه دَ دُنيا دَ نورو قامونو په سائنس او ټيکنالوجي کي پرمختګ او په تهذيب او تمدن کي پېشرفت او ارتقا ته ګوته په غاښ دی نو بلي خواته يې دَ خپل قام په بې وزلۍ، بې وسۍ او بې حسۍ زړګی قاش قاش دی ــــ زما په خيال ، دَ هغه دَ تخليقاتو دَ فکري اړخ اساسي سرخط ، دَ نړۍ دَ ملتونو په پرته ، دَ پښتون قام پاته ، پربوتي ،لوبدلي ، زېلي - پسته او پسمانده ، زړه چاوْدونکي ورځ ده- هغه نه غواړي چي قيمتي قام يې دَ دود دستور دَ لايعنيت او منفي غېرت په حواله دَ تربګنۍ او ورور وژني په مکروه او قبيح عمل او ردعمل کي ضائع شي- دَ هغه دَ تعميري خوب تعبير خو دا دی چي پښتانه دَ سيالانو سيال شي ، په هر ميدان کي دَ پرمخ تللي اقوامو سره دَ علم او صلاحيت مقابله وکړي- دَ تُوري په ځای قلم خپل کړي او دَ ځان دپاره پرتمين او عزتمن مقام و ګټي- دَ هغه دا څړيکي څړيکي خوږمن احساس دَ هغه دَ تحرير په هر مخ ، هر سطر او هر توري کي جوت دی او زما غوندي حساس خلګ په ورټ ورټ ژړَوي-

دَ "اووه ګامه مزل" راپس دَ "پښتون جهانيان جهان ګشت" افضل شوق دَ يورپ دَ څوارلس هېوادونو دَ دويمي سفرنامې ، دويم ټُوک "دَ لمر دَ کلي په لور" دَ اشاعت دپاره تيار دی- زړه دا راته واي چي دَ هغه دَ اولنۍ سفرنامې په شان به دا سفرنامه هم نه يوازي دَ لوستونکو په معلوماتو کي په زړه پوري اضافه اوکړي ، بلکې دَ هغوئ دَ فکر او نظر دَ تزکئيې او تربئيې باعث به هم شي ، زما په نزد سفرنامه يوازځي دَ تفريح او لذت دَ حصول په نيت لوستل ګناه ده- يکار چي قارئين يې دَ مندرجاتو په فکري او معنوي اهميت ځان پوهـ او ډېرخه ځني زده کړي او هغه مقصديت ته ځير شي کوم چي افضل شوق دَ دې سفرنامې په ليکلو راپارَولی دی- هغه دَ خوردبين غوندي رسا او باريک بين نظر لري- دَ هغه مشاهده

بې معنا ، سرسري او سطحي نه ده- هغه دَ يورپ دَ چاپېريال سنجيده او ژوره مطالعه کړې ده ، دَ هغې معاشرې تهذيب ، کلتور ، تاريخ ، تعمير ، اخلاقيات ، کردارونه ، فکري روئيې او دَ ژوند هلې ځلې ، هرڅه يې په ډېره موثره او صريحه پېرايه کې وړاندې کړې دي چې سترګور ترې ډېر څه اخذ کولی شي -

يقينًا چې دَ يو کتاب ارزښت هر کله په معياري ليک او مثبت پېغام پورې اړه لري، او زه يقين لرم چې دا دواړه اړخونه دَ افضل شوق په نظر کې شته- ځکه تاسو به يې په کتاب لوستلو مايوسه نه شئ بلکې دَ بهاند تحرير دَ شاعرانه رنګ او آهنګ تاثير به مو په زړونو کې دَ ځوانۍ مستې ولولې او په ذهنونو کې دَ ژوند او بېدارۍ غورزنګ را پيدا کړي-

خاوري سعيد ګوهر
راولپنډۍ
16م اګست 2004

# ځو خبري

دا زه چې هنداري په کاڼو ولم ... لېونی نه یم- ولې چې ماته هنداري اوس ځېرې نه ، بلکې دَ ځېرو تر شا پټې هغه غابښوَري او په سرو وینو باندې لړلې داړې راښئیي- چې دې خو انساني ، لاکن ځناورو زمه برېښي څه ، چې ما هم داړل غواړي- نو ځکه ځان ورځخه ژغورل غواړم او انسان اوسېدل غواړم- هو ، که څه هم زه خپله په خپل اندرون کې ورته مونږدلی یم- هرڅه هرڅه ، خو زه په دې خبره ایمان لرم، چې بد ته بد وئیل ګناه نه بلکې دَ خېر او دَ ثواب کار لا څه ، چې دَ نېکې په حق کې منصوري جهاد هم دی-

زه دَ لوی خدای پاک مننه کوم، چې ماته یې وس راکړو ، چې دَ خپل پښتني بول په سمه مې په ډېر لنډ او تنګ وخت کې دَ اروپا دَ یُون لیک دویمه برخه دَ خپلو خواخُوږو په کومک په کتابي بڼه کې دا ده چاپ کړه- ګوا له دې سره سم زما دَ اروپا په باب لیکل شوی درست یُون لیک ، عکسي یُون ، "دَ اروپائي ژوند ښه او بد "او "انګلسي په اروپا کې "تر عنواناتو دلاندې عمراني مطالعې وړاندې کولو سره سره یو تپوس هم "پښتو دَ پښتنو په نظر کې " تر سرخط دلاندې سرته وَرسَولو-

او بل ، ما چې څه وئیل غوښتلو ، هغه خو مې په لومړي ټوک کې وَ وئیلو- دلته زه فقط دَ هغو پښتنو لوستونکو مننه کوم، چې هغوئ دَ اروپا په اړه زما دَ یُونلیک لومړی کتاب " مزل په واوْرو باندې " خوښ کړو- او عظیم خدای دې وَکړي، چې دا کتاب "دَ لمر دَ کلي په لور" هم دَ هغوئ په معیار پورا وَ وځي-

آمین

دَ پښتو او پښتنو دَ روښان سباوْن په تمه

افضل شوق
اسلام آباد

# يادګيرنه

په اروپا کي دَ سېل کولو په وخت ما دَ خپلي پورتني مطالعې په سمون دَ مواد دَ راغونډولو دَ پاره په آډيو کېستانو باندي دَ **24** ساعتونو دَ کم او زيات ريکارډنګ سره سره په خلګو باندي دَ **407** سوالنامې ډکولو پرته دَ بېلابېلو طبقو سره اړه لرونکي**1534** اروپايان هم انټرويو کړلو- نه يوازي دا ، بلکې دَ خپلو سېلاني مشاهدو په رڼا کي مي له**251** مخونو ليکلي ډائرۍ او قريبًا **500** اخيستل شوي عکسونو پرته هم په هر ورپېښنه کونکي هېواد کي دَ هغوئ دَ ټورزم له ګائيډونو څخه کار اخيستی دی- ( شوق )

Khyber.ORG

# خو خپلو هيلو سره ځمه

دَ ستړياوْ له کبله
چي زه څنګه
ستنېدو ته هڅومه
مانده فکر
دَ يو چا خوږ تصور مي
په زړه باندي
له نازډکي څو نُوکري
کړي راجګي
او زه هم بيرته
دَ ماتو ګوډو هيلو
پېټې بار کړم په اوږو
مخته ټکېږم
او په هر قدم وهمه نُوک
پرځېږم



ليک: افضل شوق

# دَ ښکلاوْ په ګودر چي مازيګر شو

شاته 170 غټ غټ سرنګونه پرېښوَلو ورسته ، چي څنګه مورږ دَ اټلي څخه وَ فرانس ته پېښبه وکړه ، نو په آسمان کي سپيني اوريځي خپرې وې او کيڼ لاس ته لېګورين سي ، چي په لوی سر ورته بحيره روم وئيل کېږي له ساحل سره سره چي مخته روان وْ، نو دَ کوبرا مار په رنګه کاږه واږه او دَ دنګو څوکو غر ، چي دَ فرانس جنوبي بارډر غوره کوي هم راسره سم غزېدلو مخ مخته- درې نيمي بجې ماځېښين، چي څنګه دلته دَ فرانس له اولني اوږده سُرنګ څخه مخته وتلو ، نو زموږ وَ کيڼ لاس ته جوړ لومړنی فرنچ ټاوْن زموږ پام بيا بيا ور اړَولو ځکه، چي ډېر په ترتيب باندي جوړ وْ څخه چي په څنګګ کي تېرېدلو ، نوميرنا ، چي دَ کاسوس ټوْرنګ کمپنۍ اسکارټ وه وئيلو-

" زه او دَ دې بس ډرائيور مسټر دانيال دَ کاسموس کمپنۍ له خوا په فرانس کي دَ ګرېنډ يورپئين ټوْر وَ نړئيز سېلانيانو ته هرکلی وايم- او داسي سنجَوم ، لکه دَ يوې هفتې ورسته به موږ او تاسو له يو بل څخه بېلېږو- بيا ګوره ، چي کله دَ ژوند په يو ګوټ کي سره وه هم وينو او که به دا زموږ ورستنی ملاقات وي ؟ "

هغې چي دا خبره څنګه سرته وَرسوله ، نو ملګرو يو بل ته ګوره چي په کوم نيت او سوچ کتل شروع کړو؟ او حقه خبره ده ، چي ما هم په دې خبره چي څومره څومره سوچ مخته وهلو ، نو هغومره دا څېرې دَ ياد دَ نه هېرېدونکو څېرو په شان راته مونېدلې لګيا وې- هغه ځکه ، چي دَ درې نيمو هفتو په ګرېنډ يورپئين ټوْر کي موږ، چي دَ ميرنا اسکارټ او دَ دې کاسموس بس ډرائيور مسټر دانيال په چپه 43 نورو نړئيزو سېلانيانو په ګډه مزل کولو- په تېرو شوْ دوه نيمو هفتو کي موږ دَ دې فرانس په چپه بلجئيم، هالېنډ، جرمني، سوئټزرلېنډ، لېچټنسټائن، آسټريا، سان مرينو او دَ اټلي هېوادونه شاته دَ سېل کولو ورسته پرېښي وْ-

دَ کاسموس بس چي په کي دَ ميرنا ، دانيال او زما په ګډه دَ ديارلس هېوادونو ، ګوا امريکه ، سنګاپور، جاپان، ملائيشيا ، فلپائن ، پاکستان ، انډيا ، تائيوان ، کېنېډا ، آسټرېليا ، هالېنډ ، سلوانيا او بلجئيم ملګري ناست وْ دې وخت دَ فرانس له رقم رقم سمندري غاړو سره په کاږه واږه سړک مخته منډه وهله ، نو موږ دَ نرۍ دَ ښېخي واړه او آزاد هېواد مناکو په

Khyber.ORG

لور لاره لنډَوله- که څه هم سیمه له اټلي څخه لا نه وه په نوعیت کي ېبله شوي ، خو سړک او دَ سړک دواړو اړخونو ته لیکلي بورډونه دَ نوښته لیک په باب بدل بدل مونېدلو او لوي لاري ته نیږدي ټاوْنونو هم څوکه څوکه بڼي بدلولې-

څه مخته موږ دَ بحېره روم له بلیو کوستې، چي دَ دُنیا په اووْ نامي سمندري څنډو کي یوه څنډه باندي یادېږي سره سره چي رهي وْ، نو دَ ګهړۍ ستني دَ پاوکم درو بجو په خوا ور رواني وې- او میرنا هم وئیلو-

" بس یو څو دقیقو کي به موږ دَ هغه هېواد ، چي درسته رقبه یې فقط **48** ایکړه ده او په دې واړه کلي وزمه هېواد کي دې وخت **29876** خلګ مېښته دي وَ یوازیني ښار مونتې کارلو ، چي شهرت یې دَ نړۍ دَ غټو جوا خانو یعني کاسینو ګانو له سوبه دي- او دلته دَ هالي وُډ دَ زړَو هیروګانو پرته دَ دُنیا ماړه ، لاکن زاړه خلګ اوسېږي او دَ ژوند آخیري ورځي شپې تېرَولو ته په کاسینوګانو او شراب خانو کي تېرَولو ته جوګه ښکاري "

ګائیډ چي څنګه خپله دا خبره سرته رسَوله ، نو بس هم دَ مونتې کارلو ډ ستړکتې دَ هغې غټي او مشهوري کاسینو په خوا ور وګرځېدلو ، چي په سر تکه شنه ګهمبده او میناري لري- او په مونتې کارلو کي چي موږ دَ هغې کاسینو وَ مخي ته څنګه وَرسېدلو ، نو میرنا وئیلو -

" دا هغه کاسینو ده ، چي خپل تاریخي حېثیت لري او دَ دُنیا ماړه ماړه خلګ لکه فلمي ستوري ، کارخانه داران او عربي شېخان په خپل ژوند کي یو ځل دلته دَ جوارۍ کولو هڅه ځکه کوي ، چي ځان دَ تاریخ برخه جوړَوي- نو درځئ ، چي موږ او تاسو هم پنځه پنځه یا لس ډالران په داوْ وَ لګوْ او خپل خپل قسمت تللو سره سره نوموْنه دَ دې کاسینو دَ تاریخ برخه کړو- لاکن ګورئ ګورئ ، چي زیاتي پیسې نه وَلګوئ- ګني بیا به دَ سبل په ځای خبرونه ټولَوئ "

او بیا موږ ټول وَ هغه ببخي غټي او ښائیسته کاسینو ته وردننه شولو- هلته که څه هم زاړه خلګ زیات ښکاره کېدلو ، خو دَ پېغلو او ځوانانو هم څه کمی نه وْ، چي خپل خپل قسمتونه یې په ببلا ببلو مېزونو تللو لګیا وْ او هر یو ښه ډېر غوئیی شوی هم وْ- میرنا له موږ سره سره له یوه مېزه چي به بل مېز ته تلله، نو هغو زړَو کونیانو به ورته ډېر په هوسي نظرونو کتلو- لنډه دا ، چي دلته دَ نورو ملګرو په شان ما هم له پنځو ډالرانو لاسونه پرېمنځلو او

Khyber.ORG

يوازي ځکه دباندي را ووتلم ، چي دَ دباندي ماحول هم تر ډېره هانده شاعرانه وْ- ځکه خو مي مزغو ته دَ "دَ فرعون سره دَ شوي بول په سمه "نظم تهيم آخير هم ډائرۍ ته وسپارَلو -

له دې ځايه چي موږ دَ مونتې کارلو دَ سمندري څنډې په لور ورچېپدلو، نو ماته داسي محسوسېدلو ، لکه دا کلی وزمه هېواد چي يو ټاپو وي- لاکن داسي کيسه هم نه وه- دَ ښکلي رائل پېلس له کتو ورسته ، موږ يو ډېر عالي شانه کېتهاډرل مخي ته تېرېدلو ، نو ميرنا وئيلو -

" که څوک دَ دې کلا له هغه اوچتي چوبارې څخه شاوخواته وګوري، نو زما يقين دی ، چي دَ مناکو هېواد پُولي به ورته له ورا يه ښکاري "

کېدلی شو ، چي ميرنا لانور هم څه وئيلي وی، که بس ګوره چي دَ چا په خواست دَ يو حاجت ځای په نيت دَ يو رېستورېنټ مخته درېدلی نه وی- او بيا ځينو دَ واش روم او ځينو دَ رېستورېنټ سره جوړ دَ واړه دوکان په لور منډه کړه ، چي په کي زه او داني هم وْ- دَ بس په لور چي راتللو ، نو داني دَ چپس وړه کڅوړه او دوه چاکليټونه راکولو په وخت واي-

" شوقه ! نن شپه به کاسينو يا کلب ته ځو ، څه دې خوښه ده ؟ "

" ته لکه چي ډېري پيسې لرې "

او بيا مي کلک خندلو ورسته ورته وئيلو-

" ته خو ښه خبر يې ياره ! چي ما څومره درلودلې هغه خو په روم کي دَ هغو په -- کي وَ منډلې "

داني هم دَ خندلو ورسته بيرته اراده بدله کړه او واي-

" هو ، داسي علاقې خو له خطرو خلاسي نه دي - خير بيا به ګورو "

په زړه کي مي وئيلو ، چي

Khyber.ORG

"له ده څخه هم خود لکه چي ځان ورک دی- چرته دا مونتې کارلو او چرته دَ فرانس هغه نیس ښار، چي نن شپه به په کي او سېږو "

بس په یو دوْ روډونو ګرځېدلو ورسته چي څنګه بیرته موټروي ته ورچپېدلو، نو دَ صوفیه لارېن ، چي دَ هالي وُډ غټه اداکاره ده له ښائیسته کوره سره مخته تېر شولو، چرته چي هغه په کال کي یو څو ورځي حتمًا راځي- او دَ میرنا له قوله دا ښار دَ هغې دَ خوښي ښار هم ځکه دی ، چي هغې ماشوموالي هم دَ دې کلي وزمه هېواد په کوڅو کي تېر شوی دی-

اوس چي څنګه موږ موټروي ته پېښنه وکړه ، نو دَ ښکاره سمندر په غاړو باندي که څه هم رش نه وْ، خو هلته په سمندر کي مي یو څو واړسکوټران تر سترګو شولو، چي خلګو چلولو- په زړه کي مي وئیلو، چي دا موسم وګوره او داسي په اوبو کي لوبه ګوره- لاکن چي بیا مي داني او روني ته پام شو، نو پوهـ شوم - چي دا هر څه خو دَ هغو اوبو اثر دی ، چي له سړي غوئیی جوړَوي-

دَ مناکو هېواد شاته داسي ژر دَ غرونو تر شاته پټ شو، لکه هغه چي هېواد نه ، دَ خوب یو منظر وْاو بس-

او دا هغه ځای وْ، چي میرنا مائیک خلې ته ونیولو او ګویانه شوه-

"اوس به راشو دَ فرانس په لور، چي موږ په کي مخته رهي یُو- په کار خو نه دی ، چي هرڅه هرڅه درته وَوایم ، ولي چي تاسو خو به یې هم وینئ په خپلو سترګو- لاکن دا درته وایم ، چي په فرانس کي دَ اټلي په نسبت شُوکماري کمه کېږي- "

په دې خبره باندي مي سترګي دَ وېرُندوکي کائیکو په لور ځکه واوینتلې ، چي هغې به نو اوس دَ سکون سړه ساه اخیستي وي- او بیا له ټوخېدلو ورسته میرنا وئیلو-

" دا فرانسویان هم په ځانونو غره خلګ یادېږي- دَ دې خبري اندازه له دې څخه لګولی شئ ، چي فرانسویان په خپله ژبه ، ژوند او ژواک هن په کړو وړو ډېر ویاړ کوي او هیڅوک هم چي کله دَ هغوئ سره په دې خبره کي بحث کوي - نو خورا خفه کېږي- ګوا دَ یو مېلمه په حېثیت موږ ته نه دي په کار، چي دَ دې خلګو سره په غاړي کي کښېو ځو - "

Khyber.ORG

دومره وئيلو ورسته يې يوه سړه ساه اخيستلو سره سم بيرته مائيک خلې ته وَنيولو او په خندا کې واي-

" هو، که يو نيم ځای دَ حاجت خبره راشي، نو هم - زما مطلب انسان په هر حال انسان دی - ضروريات لري ، لکه خوړل ځيښل او سپکس وېکس "

دَ سپکس وېکس په باب يو ځل بيرته په بس کې ملګري رابېدار شولو، او سرونه يې له "هاهوهي " سره شک شک کولو - لاکن ميرنا وه ، چې مخته يې څه نوري هم داسې خبري له خلې وَايستلې، چې دلته يې زه په نره ځان لا هم نه شم کولی -

خو داسې به وَ وايم ، چې په بس کې ناستو نرينا ملګرو که څه هم په ښکاره نه ، خو له خياله يې خامخا په شونډو باندي وَ خپلو ښځينه ملګرو ته زبې تېرَولې- ولې چې زما دَ مشاهدې په سمه هر ملګري وَ بل ته داسې په خبراتي نظرونو سترګي کچکول کړي وې لکه هغوئ چې ورڅخه خيرونه غواړي- دا ځکه چې دَ ميرنا په چم، انساني حاجات چې په وخت نه شي پوره، نو روئيې هم ځناوري شي دَ انسانانو- هو دغسې خبري خو يې څه دَ مخه کولې لګيا وه -

---

" دَ فرانس رقبه **551500** مربع کلوميټره ده او دَ مغربي اروپا تر ټولو غټ هېواد دی- آبادي يې دې وخت قريبًا **56**ملينه ده- مذهب يې رومن کېتهولک او حکومت يې جمهوري دی- په غټو ښارونو کې يې Paris , Bordeaux , Lyon , Marseille , او Loulouse دي- او Nice, Avignon او Saintes نامې ځايونه چرته چې به شپې کوْ هم، له يوې نا يوې وجې ځانګړي نومونه لري "

ميرنا چې دا خبري کولې، نو بس دَ يو غره په سر باندي جوړ واړه ټاوْن چې Aze نومېږي کې دَ يوې پرفيوم فبکټری دَ لوی ګېټ مخې ته ودربدلو او ميرنا په خپل اعلان کې داسې وئيلو -

" دلته په دې پرفيوم کارخانې کې به موږ درې پاوْه وخت تېرَوْ- او بل دا ، چې که څوک غواړي ، نو دلته خالص پرفيوم هم اخيستلی شي "

بس بيا نو څه وْ ؟ ټول ملګري دَ خوشبويانو په هېواد فرانس کي وَ اولي پرفيوم کارخانې ته دَ چکر په نيت داسي په تادۍ ګوز شولو - لکه زما په رنګه هريو چي دَ عطرانو دَ جوړَولو بټياني کتلو ته تازيلمن وي- هو، دغسي خبره وه - کله چي مونږ دَ ميرنا په رهنمائي کي کارخانې ته دننه شولو، نو هر لور دَ عطرو داسي تېزه خوشبوئي وه- چي کله يې مونږ ته په يوه هال کي بريفنګ راکولو- نو ځکه يې هغو ملګرو ته ماسکونه هم ورکړو، چي له عطرو دَ الرجي شکايت درلودلو-

دَ دې فېکټرۍ ګائيډ، چي يوه چټه پېغله وه، مونږ تر ټولو دَ مخه هغو غټو بټيانو ته يوړلو، چرته چي دَ ګلانو عرق له قسماقسمو ګلانو څخه جوړَول کېږي او بيا دا عرق په پائپونو کي له بېلابېلو مرحلو څخه تېرېدلو ورسته په آخيري مرحله کي څنګ فرفيوم کېږي؟ دا ټول څه رانښکاره کولو ورسته يې هلته يوړو- چرته چي په درځنو پېغلو دَ پېکنګ کولو او په خوږو موسکاګانو باندي يې مونږ په پرفيوم اخيستلو باندي پارَولو -

" دلته پرفيوم نه اخيستل دَ دې ښائيسته فرنچ حُورو دَ ښائيست او انداز توعين دی "

روني چي دا خبره څنګه وَکړه ، نو ورسره ولاړي شېلا اوډلې داسي وار وکړو -

" نو بيا خو ښځو ته هلته تله په کار دي ، چرته چي پېکنګ نران کوي "

کېرولين ، چي دې وخت يې څنګ ته ولاړه وه هم ورسره خبره داسي خوږه کړه -

" خبره خو صحيح کوې، لاکن دلته دغه يو پېکنګ سېکشن خو دی "

او په دې دوران کي ميرنا هم په خندا باندي رامخته شوه او واي -

" داسي به وکړو، چي اول دي دا زمونږ نران پرفيوم واخلي او بيا به يې مونږ ورڅخه واخلو- دا يې مسئله حل "

داسي وار کولو ورسته چي هغوئ څنګه خلې وَ خندا ته نه وې سمي جوړَي کړي ، چي ډېني هاوْرا وَدانګلو او واي -

"لاکن موږ خو يې بيا په ګټه درباندي خرڅ وْ"

او مخته موږ چي دلته څومره وخت دَ عطرو په اخيستلو کي تېر کړو، هغه مي په کړيکو او تودو ګپو کي تېر کړو- او په آخير کي چي له دې فبکټرۍ وتلو، نو زما نظر په هغه ليکلي تختۍ باندي ولګېدلو، چرته چي دَ دې فبکرۍ دَ پرانستلو کال **1968**ع ليک وْ او په يو بل بورډ باندي داسي نوښته وْ-

" دلته پرفيوم له ګلانو څخه دَ سائينسي فارمولو په کومک جوړېږي- او دلته هر څه له ټېکس څخه خلاس دی "

له دې فبکټرۍ ورسته موږ دَ ايز ويليج، چي تفريحي مقام دی په تنګو روډونو باندي مخته تېرېدلو ورسته ښېرته لوی سړک ته ورچپ شولو- او په شل منټه کي دننه دننه بس دَ نيس په ښائيسته ښار کي، چي زياتره ودانياني او ماڼياني يې يو، دوه يا دري باميزه وې يو بل اړخ ته پرېښولو ورسته هوټل اګاتا مخي ته برېک وَنيولو- او نن دَ زاړه معمول په چپه، موږ ته دَ خپلي خپلي خوني چابۍ هلته بس ته راوړل شوې-

---

نن دَ کال **1996**ع دَ اپرېل **7**مه نېټه وه، خو دَ ايسټر له سوبه دَ نيس ښار ټول شاپنګ سېنټران بند وْ، خو کېفې، رېسټورېنټونه، بارونه او دَ شپې ژوند ته چمتو سېنټران خلاس وْ- له هوټل څخه وتلو دَ مخه زه له فليپينو ملګرو سره دَ کيڼ لاس په هغه روډ، چي کښته تللی وْ باندي روان شوم، او بيا مخته په تنګو کوڅو او روډونو کي يوې بلي خواته تر ليري ليري پوري پينښې خلاسي کړې- موسم که څه هم شاعرانه وْ، خو دَ شاعرۍ دَ پاره موږ په کي ګوره چي څله نه جوړېدلو- چرته دا وجه خو نه وه، چي دَ شاعرۍ وړ مخلوق په کي تر ليري ليري نه ښکاره کېدلو- ښه چي ستړي شولو، نو دَ داني په خوښه هلته دَ روډ په بله څۍ باندي جوړي کيفې په لور ولانګلو په وخت روني هم خپل زړه دَ ژبي په لار داسي وَژغَولو-

" دا نيس ښار خو زما له تصوراتو هم ښائيسته وَوتلو، لاکن خلګ په کي له دې قضا مازيګره بيا چرته نه ښکاري "

Khyber.ORG

هغه لا خبره سرته سمه رسولي نه وه، چي داني په ملا شپلاخه ور کولو ورسته ورته په فليپينو کي خود لکه چي خره ته نيږدي نيږدي خطاب ورکړو، چي دواړو کلک وَخندلو او روني مخته په انګلسی کي واي -

" ستا خبره صحيح ده ، لاکن هغسي خو هم په اروپا کي له اول مانبامه ټول کاروبار بند شي "

"چپ دَ شپي له زړخوښيانو "

داني چي دَ روني له خبري سره سر په "هو " کي ښورَولو ورسته دا خبره کوله، نو موږ په هغه کېفې کي دَ يو واړه مېز شاوخوا ناست وْ-

"زړه مي غواړي ، چي دَ دې نيس دَ شپې ژوند هم - "

" دَ روم دَ شپې په شان وَلمانځو- ستا مطلب دا دی هان ؟ "

داني بيا دَ روني خبره داسي په خندا سرته وَرسوله او وَ نيږدي ولاړي ټېبل ګرل ته يې دَ خپلي خوښي مينو ور په ګوته کولو دَپاره په خپله پسته لهجه کي اخته شو- او هغه انجلۍ چي څنګه مخته تېره شوله، نو يوه بله پېغله رامخته شوه، چي يو کارډ يې راته وَنيولو- چي ورباندي ليک وْ،

"زه کڼه او ګونګۍ يم ، زما مدد وکړئ "

" لاکن ته خو اورې - ولي چي کله هلته شاته دَ هغې بلي انجلۍ له لاسه چي کپ وَلوېدلو ، نو دَ ماتېدو په ژغ دي ورته شاته کتلي وْ "

ما چي څنګه دا ورته وَوئيلو ، نو څنګ ته راته ناست داني زه په څنګلي وَوهلم او ما چي ورته وَکتلو ، نو هغه دَ سترګو په اشارو دَ چپ کېدو اشاره راته کوله ، ځکه زه هم چپ شوم- بيا چي هغه انجلۍ بل مېز خواته لاړه، نو دا ني راته واي -

" شوقه ! خيال كوه ، چي بل ځل داسي غلطي نه وکړې- ولي چي په دې هېواد كي له معزورانو سره بد سلوكي ډېر لوی جرم ګڼلی شي "

" هرڅه هرڅه ، خو وه ډېره ښائيسته پېغله "

روني هم دَ داني دَ سيرئيس خبري په ځواب كي بيرته ماحول خندا او خوشالۍ ته وَ موئولو او بيا مورِ تر ډېره پوري دلته ايستر لمانځلو لګيا وْ-

له دې كېفې څخه مورِ دَ دې ښار په يوازيني چائينيز رېستورېنټ كي دَ شپې ډوډۍ خوړَلو ورسته چي ستړي او ساه كېدلي دَ هوټل اګاتا په لور يه توربخونه دروازه كي چي څنګه لابي ته ورچپ شولو ، نو څه ګورو ؟ چي درسته لابي له سرو او سپينو پېغلو ځنګېدله- او ډله ډله پېغلو مستياني كولې لګيا وې- دَ كاوْنټر په خوا دَ كيليانو اخيستلو په نيت چي مو ګامونه اوچت كړو ، نو وَ ښي لاس ته په اوچتي تړه وزمه كونج كي په صوفو باندي ناستو دري پېغلو په خپرو ټكولو زمورِ پام خپلي خواته اړَولو ورسته وئيلو-

" هې جاپانيانو- هې جاپانيانو ! دلته خو راشئ "

" ولي؟ خېر خو دی ، چاته واياست ؟ "

دَ داني دَ منع كولو پرته هم روني ورته دَ درېدلو ورسته چي داسي وَوئيلو ، نو له هغو انجونو څخه يوه نرۍ او تكه سپينه چي په درختي باندي وره وه او په دې يخ كي يې هم دَ جينز اورِد نيكر او بې لستونو سپين كميس اغوستی وْ را ولاړه شوه او واي-

" خفه كېږئ مه - زمورِ مطلب دا نه، چي ستاسو بې عزتي وكړو ، بلكې تاسو جاپانيان دلته په اروپا كي ډېر نوي ښكارئ او مورِ- "

او بيا يې په خندا خندا كي مخته خبره چي په دغه ځای پرېښوله ، نو دَ روني زړه ورته وَتخنېدلو او واي-

" هو هو ، په دې كي نو كومه بده خبره ده او مورِ جاپانيان نه يُو- بلكې زه دَ او دا داني ملګری دَ فلپائن او دا شوق له پاكستان سره اړه لري

" وېل کم - خوشاله شوم له تاسو سره په ملاقات باندي او ماته کرسټي ياني کرسټينا وئيل کېږي- دَ انګلېنډ څخه اړه لرم "

هغې دومره وئيلو ورسته په وار وار لاس راته وَغزَولو او بيا واي -

" راځئ ، کښېنئ راسره - څه خبري به وکړو "

او بيا يې خپلو خوندکيانو ته اشاره چي څنګه وکړه، نو هغوئ هم رامخته شولې او يوه ، چي وېښته يې له څېرې څخه په وار وار په لاس او دَ سر په څنډلو باندي ډېر په خوند اړَولو لاس موږ دري واړه ملګرو ته راکولو ورسته وئيلو-

" زه جېن يم او زما تعلق له دې فرانس څخه دی "

او دريمي بيا لاس راکولو په وخت خپل نوم ټينا او هېواد يې سکاټ لېنډ ښئګيلو -

" موږ دَ وېلز يونيورسټۍ ناروېچ څخه دَ فرانس په سټډي ټرپ راغلي يُو "

کرسټي موږ ته دَ کښېښستو اشاره کولو ورسته چي دا وَوئيل، نو داني ورته داد ورکولو او حوصلې زياتَولو سره سم په موسېدلي انداز کي ځيني پوښتنه وکړه -

" فرانس او انګلېنډ؟ بلکې دَ برطانيه تر منځه چي څومره زميني فاصله کمه ده ، دومره دَ دې خلګو تر منځه دَ کرکي تر هانده کلتوري اختلاف څله دی؟ "

انجونو په خپلو کي يو بل ته وکتلو او بيا جېن، چي فرنچ وه وېښته له مخه په لاس اړَولو ورسته په خوږې موسکا کي واي -

" وجه دا نه ده، چي فرانسويان له انګلسيانو يا انګلسۍ څخه کرکه کوي ، بلکې دا مقابله تر منځه دَ غټوالي ده- ګوا دواړه قامونه ځان ځانته په دې مقابلې کي مخته واي "

جېن چي دومره وئيلو، نو دَ سکاټ لېنډ ټينا ځان رامخته کړو او په شوخۍ کي واي -

" منم ، چي په دَنيا کي کم او زيات دوه شپېتو هېوادونو کي فرنچ ژبه ويونکي په ښه ډېر شمېر وجود لري- خو له دې حقيقته هم انکار نه شي کېدلی، چي دې وخت انګلسۍ دَ نړۍ دَ ژبي په توګه خپل مقام جوړ کړی دی "

" دَ دې مطلب دا شو ، چي موږ ګوا که وَ وايو چي، انګلش از دي بېسټ ، نو هم په حق يُو "

کرسټي لاس دَ فاتح لوبغاړي په شان موټ کولو ورسته چي څنګه داسي وَ وئيلو ، نو ورسره ناستي هغې څُماري فرنچ انجلۍ جېن دَ خندلو ورسته په کي يو دم ورټوپ کړو- او بيا دواړي داسي په مستۍ له بل سره لاندي وتلې، چي ټينا هم تر ګواش زيات خپله برخه هم ورېاء انجلۍ غوندي اخيستله- او موږ ورته کتلواو موسېدلو- بلکې روني خو تر دې هانده لا هم وَوئيلو-

"زما په خيال چي دا انجوني موږ ته خپله مستي او ځواني راښيي لګيا دي "

لنډه دا ، چي څه وخت ورسته درې سره سيرئيس شولې او له موږ سره په ګپو اخته شوې- هغوئ له موږه او موږ له هغوئ پوښتني کولې او له دې سره سره هر يوه په مېز پرتو رسالو پاڼي هم داسي اړَولې را اړَولې ، لکه سوالونه يا دَ سوالونو ځوابونه چي په کي لټوي- هو ، موږ به کېدلی شو ، چي لا نور هم له هغوئ سره ناست وی- که داني دَ تللو ضد نه وی کړی-

---

زما خونه دَ هوټل اګاتا په ګراونډ فلور کي وه او هغه هم دَ لابي څخه دَ لفټ په خوا کي کيڼ لاس ته غبرګ شوي کاريډور کي په څو ګامه واټن باندي- دَ ګهړۍ ستني اوس ابله له يولس بجو اوښتي وې او ما هم زياته دَ خوب ټاپوګانو ته کوچ کولو ، چي تر غوږو مي دَ خندا کړيکي شوې او ورسره مستي او دربی هم- يو ځل مي لا ځان په تاوده تلتک کي وَنغاړلو ، لاکن خوب مي له سترګو داسي تښتېدلی وْ ، چي ګرسره مي مازغه وَ خوب ته نه تيارېدلو- نو ځکه مي تلتک يوې خواته وَغورځولو او په پلنګ کي جګ کښېنستم - په زړه کي مي وئيلو-

"که ژوند وْ، نو دَ خوب کولو دپاره لا ډېر عمر ګوري "

Khyber.ORG

او په هغه سليپنګ ډرېس کي دباندي وروَتم- او څه وينم، چي لابي هغسي له انجونو ډکه ده او خال خال ځوانان هم اوس په کي ليدل کېدلو- دَ لابي په ښي کونج کي جوړ بار اوس بار نه تيار ډيسکو کلب ته مونېدلو- ولي چي په ميوزک باندي بې حاله شوي انجونو داسي دَ وحشت دَ لوبي غوندي ډانس کولو، لکه دا چي انساني پېغلي نه بلکې آسماني مخلوک وي- يا له پرستان څخه پرياني مځکي ته راغلي وي- او که څه هم زما زړه ورته هوَسېدلو، خو همت مي نه شو کولی- ځکه هلته ليري دَ کاريډور په سر کي ورته ولاړ دا تماشه مي کتله- خو تر کومه؟ يو وخت په هغو درو پېغلو، چي تراوسه لا په هغو صوفو باندي ناستي وې کي دَ يوې پېغلي ټينا سترګي چي راسره ناڅاپه ځلور شولې- نو يې راژغ کړو او له دې سره هغو نورو دوْ پېغلو هم دَ لاس په اشارو ځانته ور وَغوښتم-

"راځه دلته کښېنه مستړ--"

"شوق"

جېن په صوفې باندي ماته ځاى جوړَولو دپاره څه څکېدلو ورسته چي زما دَ سردوباره پېژندګلوى دپاره ما نوم ورته بيا کړو، نو دَ کښېنستلو سم دستي مي ځانته پام شو، چي زه ډېر په غلطه موقعه راغلى وم- ولي چي دَ هري پېغلي مخته دَ ګرمي کوفي په ځاى هغه څه پراته وْ، چي ورته أم الخبائث وئيل کېږي- لاکن اوس ما کولى هم څه شولو؟ له خپله لاسه په کي کښېوتى وم- او منم- چي که څه هم ما دَ هغوئ دَ ضد پرته لا هم دَ هغو په رنګ کي ځان رنګولو ته نه ورکولو- خو دَ تاش له لوبي مي ځان ځکه نه شو ورڅخه ژغورلى ، چي هغه درې په ما باندي دَ دې لوبي دپاره ځلور کېدلي-

"درځئ- چي موږ هم هلته خپلو ملګرو سره مستي وَکړو او اېستړ وَلمانځو"

په مخامخ صوفې باندي له کرسټي سره ناستي شوخي ټينا دَ هغې په ښکاره سپين ادوم باندي لاس وهلو ورسته چي دا خبره وکړه ، نو کرسټي ورته واى-

"هو- واې خو صحيح درځه چي ځو"

او بيا دواړو پتي په مېز ږدلو ورسته وئيلو-

Khyber.ORG

"موږ بس په دوه منټه کي راځو- تاسو لږ انتظار وکړئ پليز"

هغه چي څنګه په تېزو ګامونو ځنګېدلي ولاړې ، نو جېن هم دَ سر په څنډلو وښتنه شاته اړَولو ورسته تروي اوبه غوړَپلو ورسته زما په لور سترګي را واړَولي او پوښتنه يې وکړه -

"ته هم سټوډنټ يې؟ "

"يَه زه بس هسي آواره ټوْرسټ يم او دې وخت دَ اروپا په سېل راوتلى يم "

"أوولللا- ته خو بيا خوشبخته يې دَ دې مطلب دا دى "

داسي وئيلو ورسته يي له سره تر پښو راباندي سترګي ځغلولو ورسته شونډي چي څنګه وَ موسَولې، نو يې بل لوي غوړپ تر حلق تېرَولو ورسته په لاس وښتنه شاته واړَولو- او په نيمو خلاسو سترګو يې داسي راته وَکتلو ، لکه هغه چي څه وئيل غواړي- لاکن وئيلى نه شي- ولي چي اوس يې ژبه پړسېدلي وه- او په خبرو کي يې هغسي تندکونه هم وهلو ، لکه کرسټي او ټينا ، چي دې وخت دَ يو بل په آسره دَ ګلونو دَ څانګو غونډي په ټالۍ وهلو کي را رواني وې او په خندا خندا ايله په ما او جېن کي کښېي برسېره نه کښېنستې -

"وار دَ چا دى دَ کارډ غورځولو هان- ؟ "

ټينا دَ تاش پتي په لاس کي اخيستلو ورسته چي دا وَوئيلو ، نو جېن ورته واي -

"ستا وار خو دى - راځه أتري شه"

لاکن تر أتري کېدلو ورسته جېن دَ کرسټي په غوږ باندي خله کښېښوله او ورته پُوسکېدلو ورسته په خندا سر شوه- او يو کرسټي وه ، چي په پټه خله يې ماته داسي راکتل شروع کړو ، لکه اوس چي به مي غالوي زياته- ځکه زه هم سم کښېنستم او خپل شاوخوا مي نظر ځغلول لا سم شروع کړى نه وْ- چي هغې کرسټي خله وکړه او واي -

"درځئ - چي هلته په خوني کي کښېنو ، دلته دَ ميوزک شور ډېر زيات دى "

"هو-زه هم غواړم ، چي اوس له تاسو اجازه واخلم "

او چي زه ښنګه پورته شوم ، نو جېن راته واي -

"لاکن مورِ دريِ ښنګه تاش کولی شو؟ "

"ته هم راځه له مورِ سره "

ټينا هم ورسره چي خبره خوړه کړه، نو ما به لا اوس بل عذر کولو ، چي جېن واي-

"ته خو نر يې - په دې کي دَ ويرېدلو څه خبره ده؟ "

"وېره-دَ څه وېره؟ "

زه هم زيژ شوم ، ولي چي پښتون وم-او په زړه کي مي وئيلو-

"چي هغوئ په ښځه ځانونو نه وېرېږي ، نو دا زه بيا څله په نره له دې ښځو ځان پېچم؟ "

او ورسره روان شوم دَ لفټ په خوا ، چرته چي جېن دَ دريم چهت په بټن ګوته کښېښوله- نو مي زړه ته دا خبره راغله -ګوا

" په مغرب که دَ خوشالۍ په موقعو باندي خلګ هر "بد " وَ " ښو " ته مونولو دپاره هڅوال ځکه وي ، چي په داسي کولو هغوئ ځانونه دَ هغه موقعې په تندي دَ نه هېرېدونکي ياد په توګه خال کوي "

او زه غلط نه وم ، ولي چي دا دَ ايسټر موقعه وه- ځکه خو يې زه وَ ايسټر ته دَ سپېلني غوندي لوګی کول غوښتلم-

---

"دَ تاش لوبه ګرانه نه وه-ما او فرنچ جېن دَ کرسټي او ټينا مقابله ډېره په مړانه کوله-هو ، دَ لاسونو څخه غورځول شوي زياتره پتي به ما او زما ملګري جېن ټولولې-زه او کرسټي دَ يو بل په ضد وَ بازۍ ته جوړېدلي خو وُ- لاکن ناست بيا هم ښنګ په ښنګ په هغه پلنګ وُ- چي

Khyber.ORG

يو ځکه نه شو وربانديِ کښېښستلی، چي په هغې خوني کي فقط دوې چوکۍ وې او په هغو بانديِ جېن او تېينا ناستي وې- دغه خو وجه وه ، چي دَ وخت سره سره دَ کرستي دَ سترګو انګلسي چلونو زما او دَ جېن کاميابۍ ځوکه ځوکه په ماتي کي بدلوله لګيا وه-

بله خبره دا- چي جېن که څه هم انګلش دُښمنه وه ، خو دَ کرستي او تېينا په حق کي دستبرداري يې زه ډېر حريان او پرېښانه هم کړم-

په اتهم اپرېل 1996ع باندي سهار اتهه نيمي بجې دَ ناری کولو ورسته ، چي په بس کي څنګه کښېښستلو ، نو دَ روني دَ پرله پسې سوالونو په ځواب کي ما دا نکل تېر کړو ، نو هغه په کلکه وَخندلو او داني ته يې په خپله ژبي کي ګوره، چي په څنګه څنګه القاباتو وَ ښکنځلم- چي داني راته په تريو تندي کتلو ورسته راته وئيلو-

" هلته په دريم فلور باندي خو زمونږ خونه هم وه، ولي تا مونږ هېر کړي وْ څه --؟ چي دَ حال راکولو زحمت دي هم نه وَکړو "

او ښه پوهېدمه ، چي روني هم خفه وْ او په هري خبري کي يې لغازونه دَ بې وفائي راکولو- خو ما اوس څه کولی شو- ځکه مي وَميرنا ته غورږ وَنيولو ، چي دَ نيس ښار په Mini Tour کي يې وئيلو-

" نيس ښار چي که څه هم په ځان کي دننه سوړ او له سکونه ډک ژوند نغاړلی لري ، خو دلته خلګ له خپلو اشنايانو سره ځکه راځي، چي وئيل کېږي دلته زړونه ميني ته څه ، چي مينه زړونو ته تخنول کوي "

مخته په يو څو زړَو ودانيانو باندي شاوخوا راګرځېدلو ورسته دَ رشئين آرتهوډاکس کېتهاډرل دننه او دباندي کتلو سره سم مونږ ماتېيسي ميوزيم په خوا هم ورَغلو- لاکن دننه دَ ايستر دَ چتهيانو او دَ لوي دروازې سره يې تعميري کار له سوبه چي مونږ ورته دننه نه پرېښودلو ، نو دَ کاسموس دَ بس مخه دَ ستي سېنتر په لور شوه- چرته چي که څه هم زياتره شاپنګ سېنټران بند وْ ، خو دَ پرون دَ ماښام په مقابله کي دې وخت دَ خلګو رش زيات وْ- او خاص خبره مي دا هم تر سترګو شوله، چي بُک سټالونه دلته دَ دې چتهيانو پرته هم خلاس وْ او دَ ميرنا له قوله فرنچ باذوقه خلګ دي- لاکن په دې دوکانونو کي چي څومره کتابونه هم

دي ، په هغو کي تر **90** هم زيات فيصده دَ فرنچ ژبي ليدل کېږي- هم دغه خو وجه ده، چي په فرانس کي که سپلانيان چرته بېخي نه ليدل کېږي ، نو هغه دا دَ کتابونو دوکانونه دي-

دَ دوْ ګنټهو په دې ستړي توْر کي دَ نيس ښکلاګاني لوټلو ورسته چي بس دَ نيس څخه ښه مخته دَ يو سُرنګ دننه ورچېږدلو ، نو ميرنا دَ يُوهو کولو ورسته وئيلو-

"ښه حال راکړئ - څنګه وه دَ نيس شپه ؟ "

يو وار مي لا ورته وئيلو ، چي

"چي وه خو ښه لاکن -- "

او بيا مي ځان ځکه ورباندي واچوَلو ، چي دې وخت زما شاوخواته زياتره ملګري داسي په خوند ويده وْ ، لکه هغوئ چي هم -- ځکه خو ما دَ برايه دَ ويښو سترګو خوب په سمون "دَ نيس شپه ، زه او يادونه "نامي نظم مي هم سوچ کول پئيل کړی وْ-

---

دولس بجې خواته دَ دوْ غرونو په منځ کي دَ تېرېدلو په وخت چي مي څنګه سترګي له خوبه راخلاسي شولې، نو ګورم - چي په بس کي زياتره ملګري له خوبه يوې بلي خواته ځنګېدلو او داسي راته په زړه کي راغلو ، لکه دا هر ملګری چي برايه شپه په ويښه تېره کړي وي- ځکه چي ميرنا دې وخت وئيلو ، چي

" دَ نيس سيمه که څه هم ښکاره ژوند له موسم سره سم سوړ مونَوي ، خو وئيل کېږي، چي دلته زړونه دَ ميني کولو دپاره کم ، بلکې مينه خپله زړونه ښکار کوي- هغه څنګه؟ دَ دې خبري ځواب تش هغه کس ورکولی شي ، چي ورسره مخامخ شوی وي "

دا خبري چي يې کولې، نو زه غل غل کېدم او داني هم په بيا بيا ګوره چي څله راکتلو ؟

يوې بجې خواته ، چي موږ دَ Cannes په ښار کي پېښنه کوله، نو ميرنا دَ هغه ښار په حقله داسي وئيلو-

Khyber.ORG

" دَ خوشبویانو هبواد فرانس نور که هرڅه هرڅه دی، خو دَ هالي وُډ دَ اداکارانو دپاره په کي دَ دې کانز لوی اهمیت په دې وجه دی، چي دلته اکثره په سمرټائم کي فلمي مېلې څه ، چي کله کله دَ آسکر ایوارډ تقریبات هم لمانځل کېږي- ګوا دا دَ فلمي مخلوق دَ خوښي ښار دی- نو ځکه دَ دغو مېلو په وخت دلته په هوټلانو کي خوني څه، چي په پارکونو کي لا خلګ دَ سرلګولو ځای نه شي پیدا کولی "

کانز ښار دَ بحیره روم په څنډه مېښته دی، روډونه یې تنګ او دَ خلګو ښځي زیات رش دی په کي- لاکن دَ دې پرته هم دا ښار صفا او دَ ټریفک جام ډېر زیات مسائل نه لري- دَ ژېږ لمر په وړانګو کي تر نورو خلګو زیاتي ځواني جوړې ، چي لاسونه یې دَ یو بل تر ملا جارباسلي وي هر لورلیدل کېږي- ګوا دا ښار دَ سېل دپاره ښه ګڼل کېږي- نو ځکه یو نیم منظر دَ فرنچ کیسنګ هم کله کله تر سترګو شي-

" دلته په دې رش کي دَ فرنچ خلګو دَ خوی او بُود او ځان سره سره دَ بل دَ احترام کولو روئې له سېلانیانو څخه ځکه نه شي پُټېدلی- چي په فټ پاتهونو باندي - چي څنګه له یوه څخه ځان ژغورې ، نو بل په اوږه وهلی یې- ګوا دومره رش دی دلته "

میرنا دا خبري چي وکړې، نو بس هم دَ پېلس آف فلم فیستېول دَ مانۍ مخته په پارکنګ ائیریا کي برېک وَلګولو- او موږ دَ چکر او دَ غرمې دَ ډوډۍ خوړلو دپاره خوشي کړل شولو-

---

دلته په کانز کي دَ ښکلو او جدیدو مانیانو او ودانیانو، وړو پارکونو، ځای په ځای دَ اوپن ائیر کېفو او رېستورېنټونو سترګو ته سکون که بخښلو، نو زړونه یې بېکراره کولو هم ځکه، چي په دې ښار کي یوې بلي خواته ګرځېدونکي خلګ هم ډېر ښکلي بربښي- دا ښار دَ شنه او صفا سمندر په ځۍ باندي پروت بیچ ستې ښکاره کېدلو- ولې، چي یو نیم مست یا مسته دَ ځوانۍ په زور کي په نیکر او سوئمنګ کاستېیوم کي هم داسي په آزادۍ ګرځي ، لکه دا چي ښار نه - دَ سمندر هغه غاړه وي ، چي ژېږبخون ربت یې سړی په کي رغړېدلو ته مجبوره کوي-

په یو اوپن رېستورېنټ کي ژر ژر یو برګر خوړَلو او ور پسې پېپسي بوتل په غاړه اړَولو سم دستي دَ دې ښار په فټ پاتهونو یو خواته ورچپ شوم- نن چي دَ مطالعې په سمه ما له چا او

Khyber.ORG

چا سره هم خبري کولې، هغه که ښځه وه اوکه سړی ، ډېر خوش طبعيته وْ- ځکه خو مي په کم وخت کي دَ فرانسويانو په حقله داسي رائې هم جوړه شوه- ګوا

" که څه هم دا خلګ تر انګرېزانو ډېر آزاد خياله او دَ شرم تر هانده يې ښځي په ساحلونو باندي بدنونه ښکاره کوي- خو بلي خواته دا غاوره خلګ له هغو مسافرانو سره ډېر په مينه خبري کوي ، چي دَ هغوئ دَ ژبي او ژوند کولو طور طريقو ته په ښه سترګه ګوري- په زړونو باندي ښه دا انسانان چي خاندي ، نو له زړه خاندي -- نه چي دَ اتالويانو او دَ انګلسيانو په رنګه داړي تش دَ وخت تېرَولو او بل تر ځان تېرَولو دپاره وازَوي- لاکن په زړه کي يې غاښونه کرلي وي "

له ځان سره چي مي دا خبري کولې، نو دَ کانز سمندر په څنډه دې وخت دَ يو څو Topless سرو پېغلو تر ميان مي په لوري اوګرېک او لوري ويوار، چي مور او لور وې هم تر سترګو شولې- چا چي له شنو اوبو سره لوبي کولې، لاکن هغوئ جامې په تن درلودلې-

" شوق شوق - لُوک ابټ دېم "

لوري ويوار زما پام دَ هغو لُوڅ تيانو ښځو په لور اړَولو ورسته زما په لور رامنډه کړه او دَ هېلو هائی کولو ورسته واي-

" ستا په هېواد کي هم دَ سمندر په غاړو باندي داسي کوي ښځي؟ "

دَ ځواب په ځای مي ورته وَخندلو او تش مي دومره ورته وَوئيلو-

" دا نو اوس کوم داسي دَ کمال کار دی؟ "

" ښه ښه - نو ستاسو په هېواد کي ښځي تر دې لاهم آزادي انجوای کوي- ستا مطلب دا دی ؟ "

يو وار مي لا ورته وئيلو ، چي زما په هېواد کي دَ ښځي په لور لا کتل هم کله کله جرم ګڼلی شي- چرته په سمندرونو کي داسي په سوئمنګ کاستيوم کي په لُوڅو تيانو لمبېدل - خو بيا مي هم ورته وئيلو-

" اسلام دَ داسي بې حيايي څخه دَ ښځي څه، چي دَ نر دپاره هم ممانعت کړی دی- "

" ممانعت ، داسي ولي -؟ "

له دغه سوال څخه موږ دري واړو بيرته دَ بس په لور تلونکي درسته لاره په ګرما ګرم بحث کي لنډه کړه- او بيا چي تر بس پوري رسېدلو ، نو لوري او ګريک واي -

" په دې ټاپک باندي به بيا خبري کوُ "

---

او بيا چي څنګه بس مخته روان شو ، نو مي دَ دې مغرب او دَ مشرق دَ ښځو په حقله ډېر سوچونه وکړو- کله به مي دَ مشرق ښځه ورڅخه په تول درنه کړه او کله به مي دَ مغرب ښځه ورڅخه مخته وتي او دَ نرانو په سترګو کي په ډېرو حوالو درنه يا ښېخي ډېره مانده وګڼله- لنډه دا ، چي دَ کانز له اوور برجونو لاندي مخته وتلو په وخت ميرنا وئيلو-

" دا خلګ هر وخت دَ نورو سره دَ مقابلې په موډ کي برېښي او ځانونه يې هم کم او مانده نه خوښېږي "

او بيا يې يو دم دا خبره هلته ابله کړه ، چي دَ يو ښائيسته او غټ هوټل په لور يې اشاره کولو ورسته وئيلو-

" دا ګورئ Hotel Cailton ، چرته چي دَ فلمي مېلې په وخت دَ هالي وُډ اداکاران اوسېدل کوي "

موږ لا دَ هغه هوټل په لور کتلو ، چي بالا زموږ په سرونو يو ګلائيډر په هوا کي الوتلو ، نو موږ له کانز ښار څخه ښه ډېر ختلي وُ- او زموږ مخه دَ مارسيلي نامي ټاوْن په خوا وه- او بس په موټروې باندي ډېر په تېزۍ رهي وْ- دلته مځکه هواره وه او تر ليري ليري پوري علاقه ښکاره کېدله- خو هلته ښېخي ليري دَ يو هسک غره په سر باندي جوړ چرچ په خوا زموږ پام اړَولو ورسته ميرنا وئيلو-

" دَ غره په سر جوړ هغه چرچ دَ دويم جنګ عظيم په ورسته هغې مور دَ خپل منت منلو ورسته جوړ کړی وْ، چي په جنګ تللي څلور واړه زامن يې کور ته په خېريت راغلي وْ "

دې چرچ ته "دَ مور مينه" وئيل په کار دي- دا چي مي له ځان سره څنګه وئيلو، نو ميرنا اعلان وکړو-

" ملګرو ! په Avignon ښار کي هم دَ شپې ژوند تود دی- لاکن دومره هم تود نه ، چي څوک وَسېځي- بلکې له تودښت څخه زما مطلب له هغو زړخوښيانو څخه دی- چي دَ نورو ملکونو مسافران ورباندي خوند په دې وجه اخيستلی شي ، چي دلته دَ کلچرل شو او په شو کي فرنچ ډانس، چي په يوه ګېرډکه کي يې ښځي او نرينه لاس په لاس او اوږه په اوږه کوي - خو ډېر خوند کوي- "

دا خبري چي يې لا سرته نه وې رسېدلي، چي Avignon په ښار کي دَ لېدرسېنټر، چي Cur Centre نومېدلو مخته تېرېدلو ورسته موږ اوس په زړې علاقې کي په تنګو روډونو باندي مخته روان وْ لګيا وْ- مخته وَ کينې لاس ته ګرځېدلو ورسته چي دَ يوې ډېري زړې کلا ، چي ښېخي پنډ پنډ دېوالونه يې وْ سره سره دَ واچ ټاوَر څخه مخته تللو ورسته موږ دَ هوټل فينوټل مخته له بس څخه کښته شولو- چرته چي نن شپه زموږ استوګنه وه-

"زه خو دا ښار ګورم ، اوس لا لمر پټ شوی نه دی "

نو ځکه چي څنګه په خوني کي سم په کټ نه وم غزېدلی، چي بيرته راپورته شوم او له هوټل څخه دباندي وَوتم- بيا زه وم او زوړ ايوګنان ټاوَن، چي له پنډو پنډو او توربخونو دېوالونوشاوخوا يې ګرځېدلو ورسته يو وخت چي له غټې دروازې څخه ورننوتم ، نو ګورم ، چي هلته په دې غټې کلا کي يوې بلې خواته واړه دوکانونه جوړ وْ- زما په چپه هم ځيني نور غېرملکيان هلته دَ بندو او خلاسو وړو او زړو دوکانونو مخته په سېل وتي وْ- دلته داسي ښکاره کېدلو ، لکه زه چي دَ يو زاړه انګلش فلم په يو ښکلي منظر کي ورننوتی وم- ځکه خو مي ځان په کي په ګرځلاوْ ښه ډېر چي ستړی کړو- نو دَ ماښام دَ تيارو له خپرېدلو سره سم په يو ښائيسته کېفې چي Basserries نومېدله ، کي ورننوتم او هلته مي پرله پسې دوه سګرېټونه څکولو ورسته ، چي دَ جوس ګلاس په مېز ږدلو، نو هغه ځوان ، چي زما مخامخ له يوې چټې پېغلي سره ناست وْ او له ډېره وخته يې راته کتلو هم راته واي -

"ته يوازي يې؟ "

"هو ، ولي بد خو نه ښکارم ؟ "

ما هم په خندا چي داسي ځواب ورپيا کړو ، نو هغه واي -

"نو په دې کي شک نه شته ، چي ته بد قسمته يې "

او بيا يې لاس په خپل اشنا وراچولو ورسته له هغې دَ نرۍ مچي اخيستلو ورسته وئيلو -

"دا ګوره - زه دَ وېرونيکا ژوند يم او دا زما "

او بيا يې په شونډو ورته خله چي کښېښولو له - نو زه ولاړ شوم ، ولي چي ماته يې په داسي يو دم فرېنکنس کي بلا وهمونه را څرمه کړو او پورته شوم -

"دوسته ! ته روان يې - خفه خو نه شوې؟ "

او مخته يې ځکه نور څه نه وئيلو ، چي هغې انجلۍ ماته په برګو باندي راکتلو ورسته هغه ځوان بيرته په خپلو شُونډو زبېښلو اخته کړو- خود په دې نيت ، چي په ما يې لکه سپای را وَ کشکاري- نو ځکه ما هم په کاونټر باندي پيسې ورکولو ورسته چي دَ کېفې څخه ګام دباندي کښېښولو ، نو پښې مې څلور کړې- خو بيا بيا مي شاته ځکه کتلو ، چي تر ليري ليري پوري زما په چپه بل هيڅوک هم نه وْ- او ما نه غوښتلو ، چي بيا لُوټ شم -

"دَ غم مطالعه دي شه شوقه ! خو کله کله دي سر هم په خطره کي شي "

ځانته مي په ټوله لاره ګوتي نيولې او داسي رنګه زړَورتيا مي دَ ځان په حق کي ښه نه ګڼله- خو بيا چي دَ هغې لوي زړې کلا له لوي دروازې څخه دباندي وَ وتم، نو تر هوټله پوري مي زړه دَ حلق ژبه ښکلوله او واهمېدمه -- چي تر څو هوټل ته نه وم رسېدلی- ولي چي ما په هر تور کونج کي سوري هم ليدلو- او يا په خپل تعاقب کي داسي سړيانْ ، چي ښې يې نه

درلودلې- هو که څه هم حقه دا وه ، چي هلته هيڅ هم نه وْ- بس دا زما وېره وه او يا دَ وېرې احساس-

---

په نهم اپرېل 1996ع باندي دَ سهار ناری کولو ورسته دَ ايوګنان ښار څخه دَ کاسموس کاروان مخته رهي شولو- او په نه ساعت کي بيا مونږ هغه ښار شاته پرېښی وْ- اوس په ځنګلي سيمه کي مخته په موټروې باندي روان وْ- دَ ټاوْنونو پرته ځای په ځای دَ ګڼو ونو باغونه هم دَ روډ په دواړو څنډو باندي شاته پاته کېدلو او څه مخته دَ دوْ غرونو تر منځ تړل شوي ګال نامي يو غټ بند مخي ته راغلو- چي دولس دروازې يې دَ اوبو دَ تقسيم دپاره لرلې- او دَ ميرنا په قول دَ تاريخ يوه نخښه ياد ېږي مخي ته دَ لس منټه ستاپ کولو ورسته چي مونږ په موټروې نمبر A-9 باندي روان وْ- نو زمونږ ښي لاس ته Nimes نامي ښار شاته پاته شو- دا هغه علاقه وه، چي چرته يې يو کچه روډ هم له دې موټروې سره سم مخته تللو- پخَوي يا ورانوي يې ځکه نه ، چي دَ اسکارټ له قوله - هغه دوه زره کاله پخوا په رومن عهد کي جوړ شوی وْ-

څنګه څنګه چي مخته ځنګلي سيمه تمامېدله، نو دَ تکو شنو وشو ډکي پورته کښته مځکو سلسله تر ليري ليري پوري برېښېدله- او مونږ دَ ګهرې له ستنو سره سم مخته رهي وْ- ګوا چي کله دَ غرمې لس بجې شوې ، نو مونږ دَ Montpellier نامي غټ ټاوْن څخه مخته چي وتلو ، او ميرنا دا خبره کوله، چي

" فرنچ په قانون ماتَولو او قانون منلو کي ساري نه لري- ګوا دَ وخت سره تګ فرنچ تر ټولو ښه کولی شي "

" هو ، ما هم داسي اورېدلي دي "

له ماسره په څنګ کي ناستي زړې آسټرېلين ښځي ابډنا بريل يې هم دَ خبرو تصديق وکړو- ګوا دې وخت له Beziers نامي ټاوْن سره په موټروې باندي دَ ټال پلازې څخه څه دَ مخه ابکسيډنټ له سوبه چي دَ يو څو منټه دپاره ودرېدلو- نو په هغه بورډ مې سترګې وَ نښتلې، چي دَ سپېن بارډر يې فقط 58 ميله ښئګيلو- غرض دا ، چي پاوْ کم دولس بجي له Nerbonne ټاوْن څخه چي دَ سپېن دَ بارډر په لور روان وْ ، نو بحېره روم زمونږ کيڼ لاس ته له

Khyber.ORG

موږ سره سره له مستو څپو سره روان وُ- او ځای په ځای مي له هغو مستو څپو سره په لوبو بوخت څو سړي او ښځي هم تر سترګو شولې-

" هغه مخامخ چي تاسو کوم غرونه وينئ ، هغه دَ فرانس او سپين بارډر دی او بل دا ، چي دا سمندر به په سپين کي هم له موږ سره دغسي ملګري کوي "

خبره يې لا سمه ختمه شوي نه وه ، چي زموږ بس بيا دَPerpignan او له Village Catatn **څخه** تېرېدلو ورسته دَ فرانس او سپين بارډر مخي ته ولاړ وُ- دلته چي ماته کومه خبره په لومړي ځل وَ زړه ته را وَلوېدله --هغه دا وه ، ګوا

" دا به وَمنم ، چي سپين دَ عربيانو دَ سلاوُکلونو دَ قبضې ورسته هم وتل ک ځانته يو مهم سوال دی ، خو ژواکي اثر به يې نو خود تر اوسه څه پاته وي ؟ څنګه او په کومو کومو ښو کي؟ "

لاکن ځواب يې له دې ځايه دَ زميني واټنونو په شمېر لا ببخي ځکه ليري وُ ، چي تر اوسه پوري خو مي دوه هسپانيان هم لا نه وُمخي ته راغلي-

*****

Khyber.ORG

# دَ خوبولو سترګو ویښ ښار

" یُوهو - خوږو سپلانیانو ! زه تاسو ته دَ کاسموس ټوْرنګ کمپنۍ له خوا په سپېن کي ښه راغلی وایم "

په نهم اپریل کال **1996**ع باندي پاوْ کم یوه بجه ماځپښین ، چي دَ کاسموس بس دَ فرانس له خوا وَ سپېن ته پېښه وکړه، نو دَ دې هېواد دَ شنو پالېزونو، سمندري غاړو، غرونو او ځنګلونو په ځای اسکارټ میرنا په خپل زړه تنخنونکي ژغ کي چي څنګه موږ ته هرکلی کولو - نو په بس کي ناستو **43** نرۍ وال ټوْرستانو ، که څه هم په پټه خله باندي سترګي یوې بلي خواته غړَولې، خو هلته مخته ناست ځوان او سمارټ آسټرېلین ملګري ابهٔرین واي -

" زه خوشبخته یم چي سپېن ته وردننه شوم "

" ولي چي دا هېواد دَ ډرټي سېکس له سوبه شهرت لري "

ورسره ناستي ګرل فرېنډ وېلینا چي یې له خبري سره دا خبره څنګه وَترِله ، نو په بس کي یو نیم کس ورباندي وَخندلو ، خو دَ شا له خوا دَ روني ژغ داسي راپورته شو-

" بیا خو، نو دَ توشي مزې دي "

توشي، چي ببخي مخته په یو چوکۍ ناست وْ، په ځای دَ خفګان ، په خندا ډ که خله که څه هم بیا بیا وَځواب ته جوړَوله- خو هیچا ځکه نه اورېدلو ، چي هر چا خندلو لګیا وْ-

" په سپېن کي هرڅه په خپل ځای ، لاکن تاریخي اهمیت یې دَ نه هېرېدلو وَړ دی "

خندا ګاني چي څنګه کراري شوې، نو ابس- ټي- باکسواله ولاړېدلو ورسته داسي خبره څه وکړه، چي هلته په دې بل اړخ کي له چوکۍ زوړ ویلئیم هم پورته شو او په خندا کي واي -

" تاریخي زړخوښیاني یې ما او تاته دي - دې ځوانانو ته نه ، ولي چي ځوانان خو- "

" - دَ زړه خوشاله کولو سامان هم غواړي ، هان ستا دا مطلب دی؟ "

میرنا یې خبري سره خبره تړلو ورسته که ملګرو ته یو څو نوري کړیکې دَ خندا وَ سپارلې ، خو بیا یې مخته دَ سپېن په حقله دا سي توري هم له خلې څخه وتلو -

" په سپېن کي دَ تاریخي آثارو په چپه په تېرو شلو کالونو کي دَ ټوْرزم صنعت ډېر پر مختګ کړی دی- ګوا بلا بلا ځایونه او زړخوښیاني یې غوره کړي دي- لاکن بیا هم سپېن په درې شیانو کي ډېر شهرت لري- لکه ډرټې سېکس ، بُل فائېټنګ او ډانسنګ دا هېواد له نورو هېوادونو ځانګړی کوي "

میرنا چي چپ شوه ، نو ډېني هاوْ پورته شو او واي -

" میرنا ! تا خو دا هم پرون ماته وئیلي وْ ، چي دلته ګنډ کپې هم زیاته کېږي "

" خو ، دَ اټلي په مقابله کي کمه او له غټو ښارونو په چپه په نورو علاقو کي نه- ولي ، چي دَ سپېن خلګ اغیارو ته ډېر احترام لري "

میرنا دَ ډېني هاوْ دَ سوال په ځواب کي دومره وئیلو ورسته مخته خپله خبره دا سي کښ کړه-

" هېواد سپېن ، چي رقبه یې **504782** مربع کلومیټره ده او قریبًا له **40** څه بالا ملینه خلګ په کي مېښته دي- له اصله دا هېواد دَ یو غټ ټاپو په رنګه دی- په مشرق او جنوب کي بحېره روم Mediterranian Sea او په شمال مغرب او شمال جنوب کي بحیره اوقیانوس Atlantic Ocean لري- دا دَ سمندرونو په منځ کي سېنډویچ شوی هېواد ، چي دارالحکومت یې مېډرډ دی- خو دَ بارسلونا ، سېولي ، زاراګوسا ، ملاګا او بیلباوْ رنګه ښارونه یې غټ او نړی والي تقاضې پورا کوي "

دې وخت مورِ په دا سي سیمه کي مخته روان وْ ، چي خاوره یې سوربخونه وه او ځنګل وار په وار ګښېدلو لګیا وْ - دَ یوه واړه ټاوْن سره په څنګ کي تېرېدلو په وخت میرنا وئیلو-

"دا هغه هېواد دی ، چي مسلمانانو(عربيانو ) ورباندي په کال **711**ع کي قبضه کړي وه او بيا تر کال **1492**ع پوري ورباندي قابض پاته شول- خو دَ دې هېواد زوړ رومن کلتور او ژبه يې نه کړه بدله"

" په دې کي دَ حېرانېدلو خبره نه شته- عربيانو نو کله داسي کارونه کولو- ګوره چي هغه وخت يې څه کولو؟ اوس خوهغوئ بس يو کار کولی شي او هغه دی زړه خوشالول او بس "

دَ ميرنا دَ خبرو سره مي دا خبري هم په خپله خله په کېسټ کي چي څنګه څپ کولي ، نو راسره څنګ کي ناستي زړې اېډنا بريل راته کتلو ورسته يوښتنه وکړه-

"تا څه وئيلو؟ ما سم واورېدو نه "

هغې داسي وَ سنجَولو ، لکه ما چي له هغې سره خبره کړي وي- لاکن بيا مي هم داسي ورته وَوئيلو-

"ما وئيلو ، چي په دې سپېن کي دَ عربيانو دَ دورحکومت په حقله ستا څخه خيال دی؟ "

هغې وئيلو-

"دَ عربيانو حکومت ښه وْکه بد ، خبره دا نه ده- بلکې موږ ته دا کتل په کار دي- چي هغوئ څومره دَ دې ځای دَ خلګو په رسمونو او روئيو باندي اثراندز شوي دي؟ "

هو- دا هغه خبره هغه خبره وه، چي لږ ساعت مخکي ما سوچ کوله- ځکه خو مي ورسره وَهم منله او بيا ما او اېډنابريل دَ مسلمانانو له تاريخي فتوحاتو څخه دَ هغوئ تر ماتي او نن مانده تول پوري خبرو ته دوام ورکړو- که څه هم ما يې په حق کي ښې ډېري خبري وکړې ، خو هغې دا يوه خبره په وار وار داسي کوله- ګوا

" څومره چي دَ مسلمانانو تاريخ سنهري بابونه لري ، هغومره يې نن ماتي په برخه ده- څله؟ دا سوال ځواب غواړي "

Khyber.ORG

او ما يې هم ځواب ځکه نه شو کولی، چې که څه هم هغه عيسائي وه- لاکن په خبري کې يې وزن درلودلو- بل ما هم دا نه شو ورته وئيلی، چې

" مسلمانان ملامت هم نه دي ، هغوئ پرون وَ دُښمن ته دُښمن په نظر نه وْ کتلې- او بل دُښمنانودَ سائنسي تقاضو په سمه ژوند کولو سره سره دَ مسلمانانو دَ زور ماتَولو دپاره جنګي سازوسامان جوړَولو ، خو په بدل کې يې هغوئ شپه او ورځ موسواک لګولو- اوس لازمي خبره ده، چې بمونه خو په موسواکو نه راګرځي- ځکه يې ماته مقدر شوله- مطلب دا ، چې عبادت پخ خپل ځای ، خو دُښمن ته له تياري سره ملا تړل هم کُفر نه ، بکې دَ ثواب کار دی- او له دې ثواب څخه مراد پرمختګ هم دی "

ما به لا کېدلی شو ، چې نور نور دَ حق دَ لاري په بې لارو خلګو ماتم کړی وی ، که ميرنا دَ الحمرا په حقله داسې نه وْ وئيلي -

" الحمرا ، چې دَ غرناطه دَ يوې غونډۍ په لمن کې دَ اسلامي تعميراتو دَ ورستۍ نخښې په توګه چې په کې شاهي محل او شاهي کورونو هم ورګډ دي ، نن هم تاريخي اهميت لري- منم چې ځيني نور ماجتونه هم شته، خو دَ الحمرا په سر ځکه نه دي ، چې دې الحمرا ته باقاعده دَ تاريخي ورثې حېثيت ورکړل شوی دی "

که څه هم هغې مخته هيڅ هم وَنه وئيلو ، خو ما داسې وَسنجولو ، لکه هغه چې واي -

" په سپين کې عربيانو ته ماته ورکولو دَ پاره عيسايانو تر طاقت زيات هغه هسپانۍ پېغلې په کار راويستي وې، چې زړونه تخنولو او روحونه موسولو سره سره بدنونه ټکورَولو کې يې ساری نه درلودلو- ولې چې دا هغه وسله ده ، چې دُښمنان تر اوسه لا پرې مسلمانانو ته په نړۍ کې ماته هر چرته ورکوي لګيا دي- او مسلمانان هم دومره ساده دي ، چې په دې اړه يې ځانونه تر غازيتوبه ، په شهادت خوښ شي او شهيد بړي - ګاربړي لکه پښتانه "

دا خبري چې مې په زړه را وربدلې، نو بس دَ فيګوراس نامې ټاوْن په تنګو روډونو کې جوړ يوه رېستورېنټ مخته برېکونه ونيولو او موږ ټول ملګري دَ غرمې دَ ډوډۍ خوړلو په نيت دَ سپين په خاوره لومړی ګام کښېښولو-

Khyber.ORG

" دا ګوره - ټول تاته مونږي او ښائسته هم دي "

په ريسټورينټ کي دَ روني او داني سره په ګډه يو مېز شاوخوا چي لا سم نه وْ کښېنستو ، چي په اوږو راته تر شا ابډنا بريل سينه رډلو ورسته هلته ولاړو ځو هسپانيانو په خوا ګوته نيولو سره سم چي دا خبره وکړه، نو تر ما له مخه روني ورته خبره داسي بيا کړه -

" هو ، ښائيسته به ولي نه وي ، چي په هغوئ کي دَ شوق دَ ورنيکه ګونو وينه ورګډه شوي ده "

" لاکن زه خو عربی نه يم "

" مسلمان خو يې "

" هر مسلمان خو عربی هم نه وي "

" وي که نه ، دي خو يو شان او مورږ يې يو ګڼو هم "

زما او دَ روني تر منځه چي مقالمه تر دې ځايه راورسېدله ، نو داني راوَدانګلو او خبره يې په بله اړَولو په نيت له ما پوښتنه وکړه -

" شوقه ! دا ابډنابريل هم ماته - "

او بيا يې خبره په اشارو کي يوې بلي خواته داسي يوړه، چي مخته زمورږ درې سره ملګرو خلې له خندا بيرته نه راټولېدې- هم ځکه خو ميرنا او دانيال هم ځانونه را وَرسولو او خبري لا نوري هم دَ هسپانيانو دَ ښائيست څخه دَ هغو دَ بُل فائټنګ تر نفساتي حاجتونو پوري وَرسېدلې- ولي چي دَ ميرنا په قول دا خلګ نيمانيم کار نه خوښوي ، ګوا په هر څه کي انتهاپرسته دي- که څه هغه کار ښه وي او يا بد -

Khyber.ORG

" دَ سپېن کرنسي پيسيتا (Peseta) نومېږي- خو خيال کوئ ، چي ګنډکپان مو له پيسيتا خلاس نه کړي- دلته هم ګنډکپان لکه مخکي چي ما درته وَوئيلو زيات دي او زياتره دَ کوچې انجونو(جپسي ګرلز) په شکل کي- ګوا چي کله هم دَ پيپ شو او سېنما يا سېکس شاپ په شاوخوا کي ګرځئ ، نو خيال کوئ له خپلو پرسونو او جېبونو سره "

دَ غرمي ډوډۍ ماښپښين خواته خوړَلو ورسته ، چي بس ښنګه روان شو ، نو ميرنا دا خبري وکړې- او له دانيال سره په خپله ژبه ژغېدلو ورسته واي -

" په سپېن کي آئيني باچهي ده- پوليس ډېره مرسته کوي- لاکن دلته ځوک دوه توري انګلسي نه شي وئيلی- او نه وربانديي پوهېږي "

او بيا يې دا يو څو توري په هسپانې ژبه کي له ماناوْ سره دا سي راته تېر کړلو -

" Please دَپاره "پرساور " سېنډويچ ته Ocogillo او Beer ته "سروېسا " توري په کار راولي شئ "

" تر دې خو ښه دا دي ، چي دَ اشارو په ژبه ورسره خبري وکړو ، ښنګه شوقه ! "

" هو ، دا به ښه خبره وي ، ولي چي اشارې لا دَ انسانانو تر منځه تر ډېره هانده يو رقم دي "

ما چي دَ ابېنابريل دَ خبري سره خبره دا سي تړله ، نو په ځنګلي سيمي کي دې وخت بس دَ ټال پلازې مخي ته بريکونه دَ ټېکس ورکولو په نيت وهلو لګيا وْ-

پاوْبالا درې بجې خواته دَ غټو غټو پلونو لاندي تېرېدلو سره سره مورږ دَ لوبو په اړه ډېر مشهوره او دَ سپېن زړه بارسلونا ښار ته وردننه کېدلو- او دې وخت يې مورږ په صنعتي علاقه کي مخته روان وْ- دا ښار هم په لوړو ژورو کي جوړ تر ليري ليري پوري خور وور ښار دی ، چي دَ وړو غټو او هسکو جديدو پلازو سرونه هر لور سترګي په کتلو پارَوي- يو ځای په يو غټ بورډ باندي دا سي ليکل شوي وْ-

" Benviguts A Barcelona"

Khyber.ORG

چي خود به يې مطلب بارسلونا ته له هرکلي څخه وْ- لنډه دا ، چي ښه مخته دَ اولمپک ستېډيم ، چي په کال 1992ع کي دَ اولمپک لوبي په کي شوي وې څخه په ښي لاس ګرځېدلو ، نو هغه ستېډيم راته په دوْ غټو برجونو کي وېښل شوی وَبرېښېدو- نه دا ، بلکې دوا ړو اړخونو ته يې دوې غټې پلازې هم ولاړې وې-

له اولمپک ستېډيم څخه څه مخته يو وخت چي بس کيڼ لاس ته ورچپ شو ، نو روډونه وار په وار تنګېدلو لګيا وْ- او هر روډ دَ يوې خوا وَ ترېفک ته خلاس وْ- په يو چوک ، چرته چي ډېري زياتي مجسمې لګول شوي وې څخه مخته وتلو ورسته په وړو سړکونو باندي آخير پای دَ بارسلونا ښځي مشهوره بازار رامبلاس ته ورسېدلو-

رامبلاس سټريټ ، چي دويم سر يې هلته دَ سمندرتر څنډي او اولمپک ستېډيم په خوا کي يو پلې لېنډ چي Mont Juic نومېږي ته رسېږي کي ښه مخته تللو ورسته دَ اورينټ هوټل مخي ته ودرېدلو ، چرته چي زمونږ دپاره دَ استوګني اهتمام شوی وْ-

---

" دَ سترګو ښائيست څه دی ؟ يا دَ تورو زُلفو او پېغلتوب قدر څه دی؟ او څنګه دَ خُمار په اثردَ سپلانيانو جېبونه څنډل کېږي ؟

دا هغه سوالونه وْ، چي ځوابونه يې تش هغو هسپانيانو پېغلو درلودلو ، چي په رامبلاس سټريټ کي ما دَ سترګو وړاندي دَ نه منلو تر هانده ليدلې- په اروپا کي دَ مشرقي حُسن خوند اوخوبوَلی ښائيست له هر سپلاني څخه شاعر جوړَوي - چرته بيا شاعر، چي ځان او زړه يې ورباندي لوګی کېدو ته څکېدنه کوي- او زه خو هم شاعر وم، ځکه مي که هرڅو زړه قابو کولو ، خو دا خارمړی نه تم کېدلو او هري ښکلا پسې يې وردانګلو ظالم-

دَ رامبلاس په منځني پراخ فټ پاتھ ، چرته چي تر ليري ليري پوري ستالونه لګېدلي وْ پرته آرټستانو دَ سپلانيانو څېرې په کاغذونو باندي ډېري په هنر او خوږو موسکاګانو نقل کولي- ځکه خو ما هم دَ خپلي څېرې عکس دَ يوي ښائيسته او چټي پېغلي آرټستي، چي مارسېلا ډيخا نومېدله دَ تور چاک په کومک په لس يا پنځلس منټه کي دننه دننه په سپين کاغذ واړولم ( دا هغه تصوير دی ، چي دَ "اووه ګامه مزل" په ببک ټائيټل باندي چاپ دی ) -

دَ خپلي څېرې نقش نقش دَ وخت له قيده آزادولو ورسته مي غوښتلو، چي په دې دريابي رش کي ځان نور نور ډوب کړم- ولي چي ماته که څه هم ځان تراوسه انسان ښکاره کېدلو، خو دا رامبلاس سټريټ راته دَ پرستان هغه ګودر برېښېدلو، چي هسپانی پېغلي په کي دَ شاپېريانو غوندي يوې بلي خواته ګرځېدلې-

"دَ هسپانيانو مازيګری څله ډېر خوښېږي؟ "

دا هغه سوال دی ، چي زما په خيال چي دَ زياترو سېلانيانو په مزغو کي به غزَوني ځکه کوي، چي دلته که نر دی او که ښځه ، دَ ژړي لمر په رڼا کي په غوړېدلو څېرو باندي په هر دويم ګام کي شونډي ډېري په جادوئي انداز موسوي-

دَ رامبلاس سټريټ په پلن فټ پاتھ باندي دَ نوْ رنګونو او خوندونو سره سم مخته ډېر ليري وَوتم او تر هغه چوک پوري لاړم ، چرته چي يوې بلي خواته څو روډونه وتلي دي او په دې ښخي پراخ ميداني چوک چي Pl de Catalunya نومېدوکي څلور طرف ته نغمونه Sub ways ) ) يو اړخ بل اړخ ته لاري باسي- او دلته مېټرو ( زېر زميني ) رېلوې سټېشنان هم شته-

څه وخت ورسته بيرته چي په رامبلاس کي را سم شوم، نو يو ځای دَ روبوټ وزمه ځوان، چي خاص يې دَ روبوټ غوندي ګېټ اپ کړی وْ- دا سي ځان ساکن کړی وْ، چي تر څو به چا ورته سيکه په خولی يا ويړ شوي څادر باندي نه وه غورځولي، نو هغه به هغسي وچ په يوه پوز کي ولاړ وْ- ګوا دَ هغه هر حرکت دَ دې هسپانيانو په شان تش په پيسو کېدلو- اوس به له دې ځايه بيرته تلم، چي يوه پېغله رامخته شوه او لائيټر غوښتلو په بهانه يې له ما پوښتنه په اشاره کي وه کړه-

"ته يوازي يې؟ "

"هو- ولي ، دلته ابکړ ګرځېدل نه دي په کار؟ "

ما چي دَ دې خبري ورسته څنګه لومړی قدم مخته اوچت کړو، نو هغې مي په بدن لاس پوري کړو او واي-

"زه ځای لرم- "

دومره اوربدل وْ، چي زما په مزغو کي دَ خطرې زنګ وَ ژغبدلو او ما هم پښې ځلور کړې او په نه ساعت کي بیا هوټل ته نیږدې ګرځبدمه- دلته که څه هم پېغلې او ځوانان زیات لیدل کېږي ، خو جوړې تر خپلو ګوره چي ولې کمې ښکاري-

"چرته هر یو خو خپل خپل ملګری هره ورځ نه نوی کوي؟ "

دا سوال په مزغو کي لوبَولو سره سره مي هر چاته لږ زیات په غور کتلو او بل چي له چا سره هم ما دَ خپلې مطالعې په باب سوال ځواب کړی دی- هغه یا هغې ماته دَ سوداګر په سترګو ګوره چي څله کتلو- هم دغه وجه وه ، چي زما په مزغو کي دَ دې پُراسراره خلګو په حقله رقم رقم سوالونه دَ ځواب په تمه په ځان کي دننه دننه دَ محرومۍ ژړا ژړَوله-

---

"مازیګر چرته وې؟ په خپلې خوني کي نه وې "

داني دَ پورک وړه بوتۍ دَ پلېټ څخه په کاچوغه کي پورته کولو په نیت پوښتنه وکړه- لاکن داني یار چي زما مخامخ ناست وْ او په څنګ کي یې مارئین او مئ رېنارډ ناستي وې زما تر ځواب دَ مخه واي-

" مسټر شوق نو کله دَ چا خبره منله ، دَ هغه خو هر وخت ځان له خطرو سره مخامخ کولو کي خوښ وي او بس "

"نو دی لکه چي مهم جو دی؟ "

مارئین هم ورسره لا دا خبره چي وَتړله ، نو ما ورته وئیلو-

" نه زه مهم جو یم او نه لانجې خوښوم ، خو دا زړه مي کرار ته نه پرېږدي او غواړم ، چي ډېر ډېر څه وَوینم "

Khyber.ORG

ما چي ثنګه دا خبره سرته رسَوله ، نو زمونږ په ثنګ په يو مېز له خپل مېړه سره ناستي ملګري پام سر راوَغزَولو او واي -

" زه خپله هم دې شوق ته حريانه يم ، چي دا دومره ليکل او ګرځېدل يې ثنګه له لاسه کېږي ؟ "

" کله کله خو ماته داسي هم ښکاري ، چي دی زمونږ په باب هم څه ليکي لګيا وي ، ولي چي سترګي يې دَ هر ملګري تعاقب هم کوي "

روني چي داسي وئيلو ، نو ټېبل ګرل دَ وائن بوتل دې وخت چي دَ داني مخي ته رېدلو ، نو روني ځيني پوښتنه وکړه ،

" ته هم هسپانی يې ؟ "

" نونونو- "

هغې دومره وئيلو ورسته هوا شوه ،

" دا هم عجيبه خلک دي ، چي نه په ښو پوهېږي او نه په بدو "

" لاکن په پيسو ډېر ښه پوهېږي "

دا سي خبره چي مي ورسره ګنډي کړه ، نو مئ ريښارډ واي-

" په دې خبرو باندي نو تر مونږ زيات تاسو نران ښه پوهېږئ "

" تش نران ولي ؟ نن خو ما تکړه تکړه ځوانان هم وَليدلو ، چي له ښځو څخه يې ګوره چي دَ څه دپاره پيسي غوښتلې ؟ "

پام چي په دې خبره وَخندلو ، نو مېړه يې په موسکا کي ورته واي-

"ښه شو، چې ستا سرهم پرې خلاس شو، ګني تا خو زما خبره نه منله"

"کومه خبره-؟"

دَ مارئین په دې پوښتني چې څنګه موږ غاښونه سپینولو، چې ناري شوې-

"هیپپي برتهـډې ټو یُو"

او کورس هم زموږ ملګرو هلته په یو کونج کي تکرارَولو- بیا چې یې په آخیر کې دَ باکسواله نوم ورسره وَتړلو، نو موږ پوهـ شولو او بیا موږ هم ورسره غاړي تازه کول شروع کړو- څه وخت ورسته بیا دَ باکسواله لُور زینت او مائیني زینب مېز په مېز چاکلیټ وېښلو- او هلته په یو بل کونج کي لاراګُوک، بلېنډا، وېلینا، توشي، او ایډرین اتهونو ته جوړېدلي وُ- که څه هم دَ خپرو ټکولو والا ډېر وُ- خو وار په وار دَ ډانس کولو شمېر هم زیاتېدلو لګیا وُ- لنډه دا، چې یو وخت داسي هم راغلو، چې دا رېسټورېنټ - رېسټورېنټ کم، بلکې ډیسکو هال زیات ښکاره کېدلو، او تر ډېره وخته پوري ملګرو دَ یو بل سره دَ خپل خپل ناچ په بهانه بدنونه موړلو او دَ زړونو بېتریاني یې چاج کولې-

" دَ غوښې څخه جوړ انسان چي که سپوږمۍ کي اوسېدل هم پیئیل کړي، نو دَ غم او خوشالۍ جذبې او احساسات به یې هم هغسي انساني وي- ګوا انسان، انسان په رنګه دی هر چرته- که څه تور دی او که سپین- حاجات او جذبات یې یو رقم دی"

ماخستن خواته زه او فلیپینو ملګري په رامبلاس سټریټ کي دَ سېل په نیت ورچپ شولو- رش که څه هم ډېر لږ وُ، خو ماته دَ دې ځای خلګ دَ نورو اروپائي هېوادونو دَ خلګو په مقابله کي څه زیات مست وَ بربېښېدلو- ولي چي دلته په فټ پاتهـ باندي دَ خوراکونو دَ خوړلو دَ انتظام پرته زموږ له هوټل څخه په څه واټن باندي جوړ پیپ شو او سېکس شاپ وَخواته ډېر زیات او دَ نه منلو رش وُ-

"دلته خو هم خلګ دَ پیسو دپاره هر څه کوي"

Khyber.ORG

داني دغه خبره ځکه وکړه ، چي دې وخت په دې سټریټ کي هره دویمه ښځه چي مخي ته درځي هغه په واز ګومي نرانو ته دَ پیسو په سر هرڅه وړاندي کولو دپاره بلني ورکوي -

"لیري شه - څه غواړې زموږ له جج ملګري څخه ؟ "

یو وخت روني یوه ښځه له داني څخه داسي شړله لکه مچ- لاکن هغه وه، چي له داني ببلېدله نه او دَ هوټل تر دروازې ورپسې وه- لنډه دا ، چي نن شپه تر خوب له مخه مي " هسپانۍ سترګي " تر عنوان نظم هم ډائرۍ ته چي سپارلو ، نو داسي خوشاله وم، لکه ما چي دَ هسپانیانو دَ سترګو حق ادا کړی وي-

---

نېټه لسم اپرېل او کال 1996ع -- دَ سهار نهه بجې دي او موږ دَ کاسموس په بس کي ناست زیاته له رامبلاس سټریټ څخه په وتلو یُو او دَ میرنا په څنګ کي ولاړه ده ، خو لوکل ګائیډ موږ ته دَ سهار سلام کولو ورسته واي -

" دَ بحیره روم په غاړه آباد دغه ښار بارسلونا دَ سپېن دَ غټي بندرګاه په چپه یو غټ صنعتي، تجارتي او دَ بېلا بېلو مشینونو جوړَولو ښار هم دی- او اوس تاسو په اوله بارسلونا ښار کي روان یاست- دا څو واره دَ عربیانو تر تسلط لاندي پاته شوی دی- فرانسیانو هم 91 کاله حکومت ورباندي کړی دی- خو هسپانۍ ژبه ، کلتور او مستي یې په خپل قابو کي نه کړه "

دا خبره یې چي کوله ، نو بس دَ اوپېرا هاوْس دَ ښېخي غټي او زړې ماڼۍ په څنګ کي چي تېرېدلو ، نو هغې ګائیډ داسي وئیلو ،

" هسپانیان دَ سټېج دَ لوبو دَ خوښولو پرته دَ ډانس کولو او موزیک ډېر شوقیان دي- له دې خبري څخه هم انکار نه شي کېدلی، چي آواره ګردي یې هم خوښېږي- ځکه خو تاسو ګورئ ، هر لور فټ پاتهونه له خلګو ډک ښکاري "

خبره یې ښه کوله ، ولي چي څومره خلګ ما دلته تر اوسه لیدلي دي ، دومره مي په تېرو څو هفتو کي چرته هم په اروپا کي نه وْ لیدلي- که څه هم ماته دا خلګ په څېرو پښتانه

Khyber.ORG

بربنبېدلو ، خو پښتانه څکه نه وْ، چي پښتانه لا په پرون کي اوسي- او بل چي پښتني ځومره په کورونو کي په اوسېدلو خوشاله وي- هغومره وئيل کېږي، چي هسپانی ښځي په کور کي ګرسره تم کېږي نه او زياتره وخت دباندي له ملګرو سره تېرَوي- ګوا هيڅ رقم پابندۍ ته نه تيارېږي او نه يې ځوک بې واکه خوښېږي-

" هغه ګورئ مخامخ ، چي نوي او زاړه بلډنګان سترګو ته سکون بخښي- له دې ځخه دا مانا خېږي ، چي دلته دَ زړَو شيانو سره سره نوي شيان هم دَ سېلانيانو پام خپلي خواته اړَوي- "

له کولوم مجسمې سره په څنګ کي تېرېدلو ورسته ګائيډ په خپل تېره ژغ کي واي-

" هغه ګورئ - هغه ګورئ ، خپل ښي لاس خواته په فټ پاته باندي هغې انجلۍ ته چي دَ سګرېټ لوی لوی لوخړکي له خلې باسي- ماته داسي ښکاري ، چي دا پېغله دَ هغه بل سړي ، چي تر مخه يې روان دی دَ جېب وهلو هځواله ده- "

" اوو مائي ګوډ نس- دا خو ډېره جګه او په بدن کي تکړه انجلۍ ده "

سوزېن بارټ چي نن راسره اول ځل په څنګ چوکۍ کي ناسته وه ، چي دا وئيلو، نو مخ يې په دواړو لاسونو کي نيولی وْ- هو، هغه انجلۍ چي په لانګ ګلداره سکرټ کي وه او وېښته يې په مخ رايله وْ ، ماته کوچۍ وَمونېدله- ولي چي پرون يو وخت ميرنا دَ کوچۍ انجونو په باب دا ښباني هم وئيلي وه-

دَ مېريټائن ميوزيم ورسته دَ پکاسو ميوزيم او دَ هغه دَ نادراتو کتلو پرته چي بس په ببلا ببلو لارو دَ بارسلونا دَ بېخي پخواني او تر آسمانه چي يې تېرې او نرۍ ستني وزمه مينارې رسېدلي وې دَ توربخون بلډنګ مخي ته چي له بس ځخه کُوزېدلو ، نو ګائيډ وئيلو -

" دې ته Sagrada Fumilia وئيل کېږي او دا علاقه په Gaudi باندي مشهوره ده- ګوا په بارسلونا کي دا هغه بلډنګ دی ، چي ځوک هم بارسلونا ته راځي ، نو دا ګوري خامخا- ولي چي داسي دَ تېرو ستنو وزمه مينارو بلډنګ شاهد چي په نړۍ کي چرته وي- خو دا ځکه مکمل نه شو، چي جوړونکی انجينئير يې مړ شوی وْ دَ جوړولو له مخه- او دَ نورو انجينئيرانو دَ وَس خبره نه وه ، چي دا مخته جوړ کړي، نو ځکه دغسي نيمګړی پاته شو "

ما هم دَ نورو ملګرو په شان دَ خپل يو عکس اخيستلو پرته دَ دې ځلورو دنګو او په درځنو وړو، لاکن هغسي ستني وزمه نرۍ ميناروںو دَ ګودي دا ټيمپل په کېمرې کي خوندي کولو پرته هم ښه په مزغو کي خوندي کړو- او بيا مي دَ مطالې په سمه څو خلګو سره خبري هم په اشارو او ماتي انګلسۍ کي څه وکړې ، چي دا دوه دَ هسپانوي توري مي هم زده کړو- ګوا دا خلګ په ښه راغلي کي De nada واي- غرض دا ، چي دلته دَ ښه ګرځېدلو پس دَ نيږدې Servicio يعني حاجتځي څخه راغبرګېدلو ورسته چي بيرته بس ته ختم، نو ويلئيم راته واي-

" ځوانه ! دا خو هغه شيان دي ، چي زما په خيال ستا به ډېر خوښ وي "

يو وار مي لا ورته وئيلو ، چي

" پلاره ته څه راخبر شوي ؟ چي دا زما دَ خوښي بلهٔنګ دی ؟ "

لاکن ما هيڅ نه وَوئيلو ، بس هسي ورته وَموسېدم او مخته دَ چوکۍ په لور تېر شوم- او بس چي روان شو ، نو ميرنا تر ما پوري ځان رارسَولو ورسته څوکه غوندي راته واي -

" شوقه ! لږ خيال کوه ، دا خلګ دَ اعتبار وړ نه دي "

او په ملا باندي څوک راکولو ورسته چي بيا څنګه مخته تېره شوه ، نو سوزښن را څخه پوښتنه وکړه -

" ميرنا څله خفه وه؟ "

" هغه خفه نه وه ، بلکې ماته يې دا وئيلو ، چي کله خلګ انټرويو کوې ، نو لږ پام کوه- چي لُوټ دي نه کړي "

ما چي دا سي ورته وَ وئيلو ، نو هغې دَ سوالونو دومره پنډې راته کښېښولې، چي بيا يې زه په خلاسولو کي ستړی شوم- او په آخير کي چي سوالونه يې ختم شولو ، نو موسېدلو ورسته راته واي -

"ښه اوس دا حال راکړه ، چي هغه ميرنا دي دومره خيال ولي ساتي؟ "

"کېدلی شي، چي هغه زما کومک کوي"

ما چي دا وئيلو ، نو سوزېن بارټ وار لاس ته کړو او په خندا کي واي -

"هغه هم ښځه ده او ځوانه هم - "

"او ډېره ښائيسته هم -- څنګه؟ "

او دومره ژغېدلو ورسته موږ دواړو په کلکه وَخندلو -

په وړو ښائيستو او سپين بخونو بامونو پوري اړه لرونکی پارک ، چي Guell Park نومېدو هم په دې ګودي علاقه کي په هغه ځای کي وْ، چي سترګي يې ګټلې- خبر چي له څنګ سره يې تېرېدلو ، نو داسي مي سنجَولو لکه دا ښار چي ببخي قديم ښار وي- ولي چي کوڅې او روډونه يې ډېر تنګ وْ- لنډه دا ، چي دَ بارسلونا په تنګو او پراخو روډونو باندي يو وخت ، چي موږ دَ نورو پلازو په چپه دَ کټالونيا نامي پلازې څخه مخته تېر شولو- نو ډېر ژر بيا دَ شنه سمندر په غاړي باندي يوې بلي خواته دَ هغه مونټ جويک نامي پلې لېنډ ، چي بالا په غونډۍ جوړ وْ، څخه يو ځل بيرته دَ اولمپک ستېډيمانو مخته دَ يو څو منټو دپاره ګُوز کړل شولو-

دَ يو غټ ستېډيم دننه ننداره راباندي کولو ورسته موږ يو ځل بيرته دَ اوريځي په لړه ، ګوا په مځکي برسېره پرتې اوريځي په څُوپ کي دَ دې ښار په لوړو او ژوَرو کي مخ مخته روان وْ- او هسپانی اسکارټ ، چي کره کره خبري يې کولې وئيلو-

" دا دَ چوک په منځ کي ولاړه مجسمه ، چي په يوې ببخي هسکي پخې ستنې باندي بالا جوړه ده بل دَ هيچا نه ، بلکې دَ سر کرستوفر کولمبس مجسمه ده ، چي په نړۍ کي يې دَ سېل کولو پرته امريکه هم موندلې وه "

دَ کستهوفر کولمبس له دې دنګ مونامنټ سره په څنګ تېرېدلو ورسته موږ دَ کولمبس هغه کشتۍ هم یو نظر وَلیدله- چې هغه په خپل سفر کې په کارَوله- دا زړَه او بادبانونو په کومک تلونکې کشتۍ که څه هم ببخې غټه نه وه، خو په کې دَ دوه درځنه خلګو دَ ګنجائش سره سم دَ هغوئ دپاره دَ دوْ یا درو میاشتې دَ خوراکې او نور ضرورې سامان ځای په کې موجود وْ-

"ښه ښه نو دا هغه کشتۍ وه، چې کولمبس یې دَ نړۍ ستر سېلانې مشهوره کړو "

هو، دا هغه خبره وه - ما څه، چې هر چا سوچ کوله او هغې زړې کشتۍ له یې په وازو سترګو کتلو-

بیا چې موږ بیرته دَ هوټل په لور چې مزل لنډولو، نو په لاره کې دَ اولمپک ویلېج سره سره دَ انکم ټېکس دفتر، سکوائر بلډنګ، میوزیم، دَ ستاک اېکسچېنج بلډنګ ورسته یو چرچ بل چرچ ګرځېدلو پرته دَ هاربر او ځینو پارکونو سېل کولو کې لا بوخت وْ، چې ما دَ کولمبس دَ کشتۍ په لیدلو په وخت په مزغو کې راپیدا شوی خیال هم دَ " کرستهوفر کولمبس ته دَ هغه دَ کشتۍ په وړاندې " تر عنوان دلاندې نظم کړو- او بیا چې مې څنګه په ډائرۍ باندې لا سم اړَولوی نه وْ، چې بس دَ هوټل اورینټ چرته چې زموږ استوګنه وه مخې ته برېک شو- دَ ماښپښین دوې بجې وې، نو ځکه په ځای دَ هوټل- زه په رامبلاس سټرېټ کې دَ غرمې دَ ډوډۍ خوړلو په غرض دَ هغو اوپن رېستهورېنټونو په لور ور روان شوم-

---

"دا فنکاره خلګ دي - فن دَ روزګار دپاره کوي"

دَ یوې جوړې دَ روبوټ شو کتلو په وخت چې روني دا خبره وکړه، نو له کائیکو سره څنګ کې ولاړ دانې ورته واي-

"دا پېغله هم راته فنکاره ښکاري"

"ګوا جېبونه یا پرسونه هم په فن وهي"

Khyber.ORG

ما چي څنګه دا سي اظهار وکړو ، نو هغې انجلۍ ته زموږ دَ شا له خوا يوې بلي پېغلي ورژغ کړو ،

"هُولا "ګوا "هېلو "

"هُولا "

زموږ تر مخ ولاړي انجلۍ هم لاس ورته ښورَولو ورسته چي هېلو وَ وئيلو ، نو په يو دم يې شاته هم وَدانګلو - ما او دَ داني ته يې ديکه راکولو سره سم زموږ تر منځه داسي وَوتله ، لکه څوک چي له ډکي مجمې ځخه وَځي - او دومره پوهـ شوم ، چي لاس يې زما له سينې سره وَلګېدلو - خو هيڅ تاوان يې ځکه نه کړو راپېښې ، چي موږ ورته محتاط شوي وُ - ګني نن به بيا دې زموږ کورپه ګُرکه چرګه رابار کړی وی -

"ته وايه داني !لتا خو يې - "

ما لا سمه خبره سرته نه وه رسولي ، چي هغه دَ کړيکي لګولو ورسته وئيلو -

"دا خو ګنډکپه نه وه "

"نو څه وه؟ "

کائيکو چي پوښتنه ځيني وکړه ، نو هغه په کټ کټ خندا کي وئيلو -

"پوهـ يې -- هغې څه وَکړو له ما سره ، چي تېرېدله؟ "

"څه يې وکړو ؟ "

تر ما له مخه چي روني ورڅخه پوښتنه وکړه ، نو هغه ورته په خپلي ژبي کي يوه خبره څه وکړه و چي دواړو داسي په کلکه وَخندلو ، چي زه او جاپانۍ پېغله دواړه هم په خبره پوهـ

شولو- ګوا دَ داني دَلاسي اشارې په سمون هغې هسپانۍ يې لاس سم ځای نه وُ لګولی- ځکه خو موږ تر ډېره پوري په خندا مخته روان وُ-

او بيا مخته هغه زه او زما مطالعه وه -

" تاته انګرېزي درځي؟ "

دا هغه سوال وُ، چي ما به له چا هم نن ماځيګر پوښتلو ، هغه يا هغې به وئيلو-

" No Comprehendo " ګوا زما نه ده زده-

دَ هسپانيانو دپاره انګرېزي دَ پيريانو ژبه ده- ګوا دَ نه زده کولو لويه وجه يې هم شاهد چي دا کېدلی شي، چي انګلسی ته يې خله ګرسره جوړېږي نه- که څه هم زياتره توري يې انګلش وزمه دي- لکه Precio دَ Price دپاره Dia يې Day، Hola يې Hello، Puerto يې Port، Terminal De Autobus يې دَ Bus Station، Tren يې Train دپاره په استعمال کي راوړلو-

په بارسلونا کي که څه هم دَ دوُ ژبو (کتېلا او هسپانوي) خلګ اوسېږي ، خو په دې دواړو ژبو کي توپير فقط دومره دی ، لکه په پښتو کي دَ قندهارۍ او يوسفزۍ لهجې تر منځه چي دي- دَ نمونې دپاره دا يو څو فقرې وړاندي کوم-

په هسپانۍ ژبي کي Sabe واي " ته خبر يې؟ " ته او په کتېلا کي دغه توري ته Sap وئيل کېږي- دغه رنګه " زه نه يم خبر " ته په هسپانۍ کي No lo se ، خو په کتېلا کي ورته No ho se وئيل کېږي- نور توري لکه yes, No, sorry غوندي توري، چي دَ خالص انګلسي توري دي عام و خاص وئيل کېږي-

او بل دلته په بارسلونا کي هغه پېغلي، چي په زيات شمېر په فټ پاتهونو باندي دَ کار او روزګار په لټون ګرځي، دَ سپلانيانو سره Me lamo ګوا " زما نوم " په چپه چي کومي خبري زياتي کوي ، هغه فکي فکي او سکي سکي رنګه توري دي- او دا هغه خبري دي، چي سپلانيان ورته حريانه او پرېشانه وي- لکه پرون دَ شپې په ډوډۍ کي چي ابهرين ، بلبنړا ،

Khyber.ORG

او ګرېک دَ هسپانيۍ انجونو په لهجه کي کورس کولو او له ميرنا ، وېلينا او نورو پېغلو ملګرو شخه يې ديکې او څوکونه هم په بدله په ملا ملا باندي هم خوړلو-

" داسي ښکاري لکه دا هسپانيان ، چي په ماضي کي په داسي کارونو باندي مجبور کړل شوي وي؟ نو هم ځکه يې اوس داسي کول قامي عادت جوړ شوی دی "

دا هغه خبره وه ، چي دَ نه ليکلو په چپه هم آخير پای ما ډائرۍ ته ګوره چي ځله وَسپارله؟

---

" برايه شپه دي له خوني ځخه دَ چيغارو باغارو ژغونه راتلو ، ابکړه وي که څوک درسره وْ "

دَ سهار دَ ناری کولو په وخت مخامخ ناستي لاراګوک ځخه چي مي دا پوښتنه وکړه ، نو هغې يو وار يوې بلي خواته وکتلو او بيا يې وئيلو-

" وم خو ابکړه ، خو خوب نه راتلو ، ځکه مي پام په بله اړَولو دپاره سندري په زوره زوره وئيلې "

" ښه نو ته سندرغاړي هم يې؟ "

ما پوښتنه وکړه -

" که دي زما سندري واورېدلې، نو بيا به بل نه واورې "

هغې دومره وئيلو ورسه وَخندلو او بيرته يې په وازکي وئيلو-

" لاکن ته حال راکړه، ستا له خوني خو هم ژغونه راتللو دَ شپې "

داخبري اورېدلو ورسته ډېني هاوْ ميدان ته راوَدانګو او واي-

" تاسو دواړو لکه چي برايه شپه دَ يوبل له دېوال سره غوږونه نيولي وْ "

" منم ، چي زما خونه او دَ دې دَ خوني تر منځ دېوال وْ خو-- "

ما به لا نور څه وئیلو ، چې روني وار لاس ته کړو او واي -

"نو تا غوښتلو ، چې دَ منځه دې د ېوال ایستلې وی ؟ "

" ماخپل خوب کولو - ناري خو لارا جوړې کړې وې- خبر نه یم، چې څه کیسه وه ؟ لاکن دومره مې په یاد دي ، چې کله کله به شک هم راولوېدلو ، چې چرته -- "

دا چې مې څنګه وَوئیلو ، نو دَ روني او داني په کړیکو کې دانیال اُستاذ ، چې هلته له کاونټر سره ولاړ وْ هم هلته چې څنګه ځان را رسَولو ، نو میرنا هم ګوره چې له کومه ورپسې را ورسېدله او زموږ په کړیکو کې یې برخه چې اخیستله ، نو لاراګُوک لکه وړه ماشومه ګوته راته وَښوروله او سپکه پورته شوه- ګوا که یې څه هم په خلې راته هیڅ نه وئیلو ، خو مطلب یې دا وْ، چې

"ګورم به درسره بچو "

او دَ خوند خبره خو لا دا هم وه ، چې چوکۍ یې هم زما دَ چوکۍ تر شا وه نن- ځکه خو به یې کله کله زما وَملا ته ګونډې هم سمې کړې او په زوره زوره به یې زما چوکۍ ډیکه کوله- او ما چې به څنګه شاته مخ ور واړَولو ، نو دې به دَ غاښونو چیچلو سره زما په چوکۍ زور وَایستلو ، او یو دوه واره خو یې لا داسې هم راته وَوئیلو ، چې

" اوس به زه ستا یوه کمزوري ګورم او ټولو ملګرو ته به یې ښئیم "

لاکن لا خو زه وم ، چې به مې ورته خندلو- بس اوس له بارسلونا څخه وتی وْ او دې وخت موږ دَ مونسېرا نامې غریزي سلسلې تر منځه مخته روان وْ- وخت دَ سهار نهه بجې وْ ، چې دَ غره په لمن کې جوړ دَ ټېراګونا نامې ټاوْن ، چې سرې توربخونې پلازې او ودانیانې یې درلودلې سره په اړخ کې مخته روان وْ او میرنا وئیلو-

" تاسو به دا خبره نوټ کړې وي ، چې هسپانیان څومره آزادخیاله او دُنیاوي خلګ دي ؟ وایم چې مادي آسائشونه پوره کولو دپاره هر څه کولو ته تیار وي- لاکن دا خلګ امن خوښونکي هم مشهوره دي "

Khyber.ORG

میرنا لا خبري کولي ، چي دَ شاله خوا ونېسا دَ ډېرو ورځو دَ خفګان پرته هم راغله او له ماسره په خالي چوکۍ کي کښېنستله-

" های فرېنډ-زما سیلونه په کار دي ، که یې راکړې "

په زړه کي مي وئیلو ، چي

" ظالمي-دا سر خو مي وَغواړه ، بیا ګوره- "

او ژر ژر مي له کڅوړي ورته دوه سېلان وَایستلو او چي څنګه مي ورکړو ، نو دا هم پورته شوه او خپلې چوکۍ ته ولاړه-ګوا لا خفه وه-ځکه مي یو دوه ځله چي تر شا ورته وَکتلو ، نو لارا کُوک راته واي-

" پروګرام مو غوره کړو-؟ "

" هو-ولي ، زور درکوي که څه ؟ "

" نن به درپسې دَ جاسوسي غوندي ګرځم-پوهـ شوې "

" نه به وَکړې داسي او مورِ خو- "

" هر چرته ، چي ځئ-زه به درپسې سترګي ساتم "

" شرط لګوې، چي ته مورِ نه شې پیدا کولی "

زما په دې خبري باندي هغې وئیلو-

" هو-زه شرط لګوم "

او بیا مي ورته مخ شاته اړَولو ورسته یو ځل بیا هغسي اشاره وکړه ، کومه چي به ما او روني اکثره درباندي تنګوله-دې وخت که څه هم هغې مائنډ نه کړه، خو بیا تر ډېره یې زما

Khyber.ORG

وَچوکۍ ته لکه خره ګونډې نيولي وې- او ما په زړه زړه کي په دې خبري خندلو ، چي نن خو به دا خوارکۍ له ما دَ سهار بدله اخيستلو دپاره ټوله ورځ او شپه يو کوي- او بلي خواته حقيقت دا دی، چي زما او ونېسا تر منځه دوستي څه ، چي لا خو خفګان روان وْ-

لس نيمي بجې چي بس دَ لوي لاري دَ يوې کېفې مخته برېک ونيولو ، نو دَ کوفي څيښلو په وخت ما وَ روني او داني ته دَ لاراګُوک خبره وکړه او هغوئ هم دا راسره خوښه کړه ، چي يو دوه ځله به له کسته زه په يوه نا يوه بهانه له ونېسا سره ضرور وينم ، چي لارا نوره نوره شکي شي- موږ لا دا خبري کولې ، چي ونېسا خپله راغله او ماته يې دوه سېلان راکولو ورسته چي ګامونه ترشا اخيستلو ، نو روني ورته واي -

"لږ وخت موږ ته هم راکوه ، خو هېر دي کړو "

"ولي نه - تاسو خو زما دوستان ياست "

او بيا چي کښېنسته ، نو هلته ليري لارا ماته کتلو ورسته بيا ګوته وَښورَوله- نو ځکه خبري که څه هم ما له ونېسا سره دې وخت نه کولې- خو خندلو مي داسي لکه جوړه چي په وينښه ويده وم- يا بيا لېونی- هو ، تش په دې نيت، چي دَ لارا په زخمونو مالګي وَ دوړَوم او بس-

له کېفې څخه وتلو ورسته مي هلته په يو سټال باندي ځنېډلي کوټونه تر سترګو شولو ، نو وره غلم او ژر ژر مي يو کوټ په **5000** هسپانۍ پيسو باندي واخيستو، چي قريبًا **42** امريکائي ډالره جوړېدلو- دلته له دې خبري ذکر کولو څخه زما دا مطلب دی ، چي اوس که څه هم ونېسا نه وه راسره او زه يوازي وم - خو لاراګُوک دَ يوې جاسوسي په شان زه په سترګو کي اخيستی وم او راپسي يې تر ليري ليري پوري کتلو لګيا وه-

"نن خو به زه تاسو ربړ هېنډډ نيسم "

په بس کس زما تر شا په چوکۍ کي کښېنستلو په وخت چي لارا داسي وَ وئيلو ، نو ما هم مخ ورته واړَولو او په پسخوندي انداز مي داسي ځواب ورډيا کړو -

"لارا دُنيا هر وخت په مئينانو باندي ظلمونه کړي دي ، لاکن مينه يې له منځه نه ده وړي "

Khyber.ORG

داسي مي ورته څه وَوئيلو ، چي هغې بيا دَ شا له خوا زما وَ سيټ ته ګونډې بندي کړې او له سوخته راته واي -

" لو --؟ ماي ڤُت ، دا مينه به زه په دُښمني کي در بدله کړم "

" ولي تا ته داسي بده ايسي زموږ مينه ؟ "

" ته زما دُښمن يې - او زه له تا کرکه کوم "

که يې څه هم دا خبره په خندا کي وکړه ، خو وئيل يې رښتيا - ولي چي هغه نيمه نه وه پاته شوي او په دې درست ټوْر کي له چا سره جوړه شوي هم نه وه -

خبر پاوْ بالا يولس بجې موږ دَ صوبه اربګون په غرونو کي مخته رهي وْ - دلته دَ نارنګۍ او سېبانو درختي هم په باغونو کي ښکاره کېدلې ، چي ماته يې خپل کلی رایادَولو - ځای په ځای به ريګستان هم مخي ته راغلو او کله کله ځنګلونه هم - او بيا يو دم سپېرې مځکي دَ روډ دواړو څئيو ته تر ليري ليري پوري ښکاره کېدلې ، نودلته ميرنا وئيلو -

" په دې مځکو باندي تاريخ واي ، چي ګڼ ګڼ ځنګلونه وْ ، خو عربيان چي په دې مځکه قابض شولو ، نو هغه ټول ځنګلونه يې وَ سېځلو "

"هو - دَ هغوئ نو کله بل کار زده وْ بې له ورانۍ "

دَ ميرنا دَ خبري ورسته دومره ليکلو سره سم مي قلم ځکه بند کړو ، ولي چي دې وخت ميرنا دَ هسپانيانو په حقله داسي هم وئيلو -

" هر هسپاني دَ يوې اندازې په سمه دَ کال **42** پونډه ماهی خوري - خوراکونه يې ببخي خواږه ځکه وي ، چي مالګه او مرچي ډېري کمي په بوږ کي په کارَوي "

دَ غرونو ، ځنګلونو په چپه په لوړو ژورو او هوارو مځکو کي مخته دَ مېډرډ په لور روان وْ - او يو دوه ځايه دَ غويانو اشتهار په غټو بورډونو لګېدلی چي مي تر سترګوشو ، نو ميرنا

Khyber.ORG

که څه هم دا وئيلو ، چي دا دَ هسپاني بئير مارک دی ، خو زما په مزغو کي دا سوال پورته شو ، چي

" غوئيی څله په هسپانوي ژوند کي دومره مهم دی ؟ "

او بيا مي خپله دَ ځواب په نيت دا نوښته هم په ورسره وَتړله -

" هو - کېدلی شي ، چي دوئ خپله هم دَ غوئيی په رنګه مست وي ؟ "

دا خبره څه وه ؟ چي زه يې تر بيا ډېر ژر دَ هسپانيانو په باب له ځان جهانه ليري دَ خوبونو وَ يو داسي ټاپو ته وَ رسَولم ، چرته چي ښکلي وزر داري حُوري دَ الوتلو په ځای په مځکي باندي دَ هسپانئيو پېغلو په بڼو کي دَ روني دَ هغي پرونی خبري تر اثر دلاندي ګرځېدلي -- چي هسپانی پېغلي يې داسي په کي ستائيلي وې ، ګوا -

" هسپانی پېغلي نه يوازي ښخي ښائسته دي ، بلکې ډېري اوپن هم دي "

*****

# هلته مسلمان زړه وَ کافر حُسن ته پخوا لا ماته خوړلي وه

دَ ګهړۍ ستني لا سمي یوې بجې ته نه وې رسېدلي، چې موږ هغو هسکو مینارو، چې له ډېر لیري څخه ښکاره کېدلې وَ ګڼ او خپور وور ښار، چې دَ ابېرو دریاب په څنډه آباد وْ ته پېښنه وکړه- او دَ ابېرو دریاب سره سره دَ ښار دَ زړې او منځنۍ برخي په خوا یې رهي شوي وْ-

دَ صنعتونو په چپه دَ مزدورانو دپاره جوړي کالونیاني دَ روډ دواړو اړخونو ته ښکاره کېدلې- یو ځای له ډېري ښایئسته او په طریقه جوړي هدیرې سره چې په څنګ کي تېرېدلو، نو زړه راته وئیلو، چې

" خلګ خو نو دا دي، چې دَ ژوندئیو دَ احترام کولو سره سره خپل هغه مړي هم ښه په عزت خاورو ته سپاري- کوم چې په اوسنئیو پېښتنو کي دَ حاضرو سترګو دَ سودا دَ خُوېي له کبله ګار بلل کېږي "

او څه ورسته دَ دې ژېړو بامونو دَ ښار په حقله په مایئک کي میرنا داسي وئیلو-

" دا ساراګوسا ښار دی، چرته چي دَ زړَو او نوْ ودانیانو او ماڼیانو په چپه هغه دَ هسکو مینارو چرچ، چي Besilika de Pilar نومېږي څکه دَ ټوْرستانو دَ پام وړ ګرځي - چي دَ چرچ شاوخوا ته یې بلا ډېر شاپنګ سېنټران جوړ دي "

میرنا چي دا خبري کولې، نو موږ هم څوکه څوکه دَ پیلار چرچ وَ خوا ته نیږدې کېدلو- او دَ میرنا په قول دا هغه چرچ دی، چي په دویم نړئیز جنګ کي وربانديِ درې بمونه غورځول شوي وْ- خو دا چرچ وران نه شو، بلکې درې سره بمان تر اوسه په چرچ کي په هغو ځایونو کي ښخ پراته دي، چرته چي لوېدلي وْ- که مي څه هم اول خو دا خبره زړه نه منله- خو بیا چي مي په خپلو سترګو هغه درې سره بمونه، چي دَ ګهمبدي بالا بام یې هم سوروی کړی وْ، خو چاوْدلي نه وْ او تر نیم زیات په مځکي کي ښخ پراته وْ-

Khyber.ORG

نه يوازي دا ، بلکې دلته مي دا خبره هم په خپلو سترګو وَليدله ، چي دَ کوترو سېلونه هم چي به چرچ ته رانيږدې شولو ، نو يوبل اړخ ته به ورځخه تېر شولو - ګوا په سرباندي يې نه تېرېدلې دا کوتري - اوس که معجزه نه هم وه ، خو انکار مي هم ځکه نه شولو کولی - هو ، له دې دواړو حقيقتونو څخه ، چي ما په خپلو سترګو وَليدلو -

"دا څه وْ ؟ "

دَ پېلار چرچ په بغل کي دَ يوې تنګې کوڅې په يو واړه رېستورېنټ کي که څه هم زه له فليپينو ملګرو سره ناست او دَ خواړو انتظار مي کولو ، خو دې سوال لره مي په ځواب کي داسې جواز دَ ډېر سوچ کولو ورسته غوره کړو - ګوا

"دَ مسلمان په څير که مي څه هم دا معجزې زړه نه منلې - خو بيا چي به دَ لږ ساعت دپاره انسان شوم ، نو به مي ځکه دا معجزې وَمنلې- چي خدای پاک خو دَ مسلمانانو پرته دَ انسانانو خدای هم دی- کېدلی شي ، چي دلته هم - "

که داني زه په ملا نه وای ټکولی، نو کېدلی شو چي ما دا سوچ څه نورهم مخته وړی وی ، خو خبره دلته په دې وجه وَشلېدله ، چي خواړه زموږ مخته پراته وْ-

"نن سبا څه زياته مطالعه کوې لکه چي "

"دا خبره دي په کومه حواله وکړه؟ "

ما چي دَ داني دَ سوال په ځواب کي ورځخه وضاحت وَ غوښتلو ، نو دَ هغه په ځای روني وئيلو ،

"هغه ځکه، چي له درو څلورو ورځو راهسې ته مازيګريان او ماښامونه يوازي تېرَوې "

"پرون او بله ورځ هم لا له تاسو سره وم؟ "

ما چي دَ ځان په حق کي دليل وَوئيلو ، نو جج داني وای

Khyber.ORG

" زموږ مطلب دا دی ، چي يو وار خامخا له موږه ورکيږي او بل هغه ونيسا دي ګرسره هېره کړه "

ما ورته وئيلو-

" دَ هغې نو کله په ياد وم- "

او بيا په دوړي داسي ورمات شولو ، لکه له عمرو عمرو چي مو هيڅ قسم خوراک په سترګو ليدلی نه وْ-

---

له دې ځايه موږ دَ نيږدې درياب په لور ورچپ شولو ، چرته چي په وړو کشتيانو کي خلګو له موسمه خوندونه داسي اخيستلو لکه جوړه چي سپرلی وي دَ سپرلي په شان - نه چي داسي يخجن سپرلی- دَ سن باتهه په نيت ځيني سپيني سرې ښځې مي هم تر سترګو شولې- خو وخت لږ وْ ، ځکه بيرته په تېزو قدمونو تر بس پوري ورسېدلو- او بس چي مخته تللو ، نو بيا له شا خوا ښخه دَ لارا ګُوک ګونډې وې او زه - چي دَ هغې په انتقامي جذبې مي په زړه زړه کي خندلو- او کله کله به مي ښه په زوره دَ ونيسا نوم هم دَ هغې تر غوږو تېر کړو او لا ښه به مي په اور کباب کړه-

هرڅه هرڅه- خو دَ پيلار چرچ له نا چاوْدلو بمونو ښخه مي سوچ دَ ساراګوسا دَ هديرې په باب څه، چي په دې څو ورځو کي ځای په ځای ليدلو نورو ښائيسته هديرو په رڼا کي داسي خيال دَ " دَ سرِيتوب په اړه پړه وروره " نظم کړو او په دائرې چي مي ښنګه واړَولو ، نو په سپيکرونو کي مي دَ ميرنا ژغ تر غوږه شو-

" په سپين کي خلک چي څه ګتې ، هغه خوري يا په ځان يې لګوي "

" ګوا دلته هم دا خلک له پښتنو ښخه ښيل دي، ولي ، پښتانه چي يې ښنګه په خوارۍ ګټي، نو هغسي يې له ځانه ليري هلته پټې هم ساتي "

Khyber.ORG

ما چي دَ هغې له رائې سره خپله دا رائې هم څنګه په ډائرۍ کي خوندي کړه، نو ونېسا ګوره چي زما له ښه او دَ لارا ګوک له بد قسمته بیا راغله او راسره کښېنسته په څنګ کي او واي-

" ته خفه يې ماته روني اوس وئيلو "

" داسي خبره هم نه ده - بلکې ته خفه خفه ښکارې "

ما چي دا ورته وئيلو، نو هغې لاس زما په لاس کي څه راکړو، چي دَ شا له خوا مي چوکۍ ته دَ لارا ګونډې بیا راسمي شولې- لاکن ما غوښتلو، چي له ونېسا سره نوري خبري وَکړم- خو هغه وه ، چي وزر يې الوتلو ته تللو او چي کله والوتله ، نو مي مخ دَ لارا په خوا ور اړَولو ورسته په موسکا کي ورته وئيلو-

" زما خيال دا دی، نن لکه چي ته شرط بائيلې لکه چي "

" مائي ڤټ "

دومره وئيلو ورسته يې زما چوکۍ داسي په ټُوک دَ شا له خوا وَ وهله ، لکه اوس چي يې پوره په -- اور پوري شوی وي-

يو وخت چي بس په وچو مځکو کي روان وْ، نو زما په ياد دي، چي زياتره ملګرو ورته په ډېر حسرت کتلو- دلته داسي کلي هم يونيم شاته پاته شولو، چي دَ ماجت په رنګه زړې ميناري په کي ولاړي وې- اريزا نامي ټاوْن ، چي زياتره په کي عربي وزمه ودانياني او زړې ماڼياني برېښېدلې هم په وړو غونډيانو باندي جوړ شاته پاته شو- او عجيبه خبره دا وه، چي پاوْ بالا ځلور بجې خواته چي موږ په نيکو هوټل باندي دَ نيمي ګنټهې دپاره تم شولو، نو هغه په مدينه سيلي نامي علاقه يا ټاوْن کي وْ-

له دې ځايه چي مخته رهي شولو ، نو کله کله به مي دَ پوُسونو رمې هم تر سترګو شولې، چي په شنو مځکو کي به غړېدلې- او بيا چي مازيګر پاوْ بالا شپږ بجې، موږ دَ ګوالاخار ټاوْن څخه تېرېدلو، نو ګائيډ وئيلو-

" دا ټاوڼ په دويم نړيزجنګ کي دوه ځله مکمل وران شوی دی- هن چي دَ 1966ع په خانه جنګي کي لا هم "

زړه مي وئيلو ، چي دا خو وران نه ښکاري ؟ ګوا دا سي روغ جوړ کلی بربښېدلو- هو ، دا هغه ځای وْ، چي دَ افغانستان دَ بيا جوړېدلو په باب مي هيلي لړ ډېري په ملا ټينګي شوې- خو بيرته مايوسه ځکه شوم ، چي دَ پښتنو جنګي خوئيو ماته هر هر پښتون په سرو سرو داړُو لکه لېوه وَ بربښولو- هو- په کومو کي چي ما خپل ځان هم ورشمېرلی وْ-

لنډه دا ، چي شپږ بجي موږ دَ سپېن په دارالحکومت مېډرډ ، چي دَ فرنانډو او اسابيل دَ تاج پوشۍ تقريبات يې دَ تاريخ زينت شوي دي ته ځنګه پېښنه وکړه، نو دَ سوربخونو او دنګو دنګو پلازو او جديدو ماڼيانو او ودانيانو پرته زړه دا ګواهي کوله- چي دا ښار دَ سپينو، ژېړو ، تورو او شنو شيشو ښار دی- که څه هم دَ اروپا زياتره غټ ښارونه يو بل ته سره شوي دي، خو دا مېډرډ هغه ښار دی ، چي ځانګړتياوي لري او دَ نورو عالمي ښارونو په مقابله کي دَ خپل نوعيت زړه‌خوښياني هم-

بس چي په تورو هوارو روډونو باندي يوې بلې خواته منډي وهلې، نو ميرنا وئيلو-

" دا ګورئ ، دَ آسمان په لور غزېدلي دنګي پلازې اوپه خپل طرز کي ځانګړی جوړښت - ځکه خو ورته هسپانيان دَ سپېن زړه هم واي "

ميرنا چي دا خبري کولې، نو موږ دَ کولمبس سکوائر په څنګ کي تېرېدلو ، چرته چي په فټ پاتهونو باندي خلګ داسي په غټو ګامونو يوې بلې خواته روان وْ، چي سړی ورڅخه دَ هغوئ دَ بېخي زيات مصروفيت اندازه ښه کولی شي- مخته دَ يوه هسک بلډنګ، چي شيشي يې ځرکېدلې سره په څنګ دَ مېټرو سټېشن مخې ته تېرېدلو ورسته زموږ بس اوس دَ Mendez Alvaro شاپنګ سېنټرپه خوا روان وْ- او ميرنا وئيلو-

" په مېډرډ کي بې شمېره تاريخي مقامات دَ کتلو وَړ دي ، لکه دَ پراډو مشهوره عجائب ګهر، قصر شاهي، مېډرډ يونيورسټۍ او په خاص توګه " دَ مېډرډ ټاوَر، چي دَ سپېن تر ټولو هسک بلډنګ بلل کېږي په کال 1700ع کي باچا فلپ پنځم جوړ کړی وْ او دا په 38 بامونو پوري اړه لري "

میرنا لا ژغېدله ، چي دَ کاسموس بس دَ مېدرې دَ یو څلور خالیزه هوټل پراګا ، چي په Antonio Lopez نامي روډ باندي جوړ وْ مخي ته برېکونه وَنیولو ، چرته چي به موږ دوې شپې کولې -

---

" په مېډرډ کي دَ نورو بُتانو رواج که نه هم شته، خو وزر داري اسپي او زمریان ځای په ځای جوړ لیدل کېږي "

دَ ماخستن دَ ډوډۍ خوړلو ورسته دَ هوټل پراګا په پراخي او ښایئسته لابي کي له فلیپینو ملګرو او دانیال او میرنا سره ناست، چي کله ما دا سوال پورته کړو ، نومیرنا خپل خیال داسي څرګند کړو-

" کېدلی شي، چي دَ فلائینګ هارس تصور دې خلګو له عربیانو څخه اخیستی وي "

" ګوا دَ بُراق یعني جنتي آس تصور-؟ "

اوس به لا ما خبره سرته رسوله، چي دانیال واي -

" دا فلائینګ آس خو دَ یو بل شي سېمبل هم دی "

خبره یې ښه وه، خو چا غور نه ورباندي وکړو- ځکه خو مخته داني واي-

" په عیسائیت کي هم داسي وئیل کېږي لکه شوق چي واي "

خبري لا بُوږ نه وْ اخیستی، چي روني په غوږ کي راته وئیلو-

" هغه ګوره ونبسا دباندي روانه ده - ځه ورپسې، چي لاراکُوک شکي شي درباندي "

" لاکن لارا به ما څنګه ویني؟ هغه خو دلته نه شته "

ما چي څوکه غوندي داسي ورته وَوئیلو ، نو میرنا پوښتنه وکړه،

"څه خاص خبره ده ، چې له موږ څخه يې پټوئ ؟ "

"يَه خاص خبره نه ده - زه غواړم ، چې دباندې په چکر شم "

"لاکن خيال کوه ، داسې نه چې - "

ميرنا دومره وئيلو ورسته ماته اجازه راکړه او زه په تېزو ګامونو دَ هوټل له غټې دروازې څخه وَوتم- او په هغې خوا روان شوم ، په کومه چې ونېسا روانه وه- اوس هغه له مخه زه ورپسې لکه جاسوس او شاشاته هم ګورم ، چې لارا کُوک هم راپسې سترګې لګولې دي او که مازې وخت خرابَوم- يو وار لا په زړه کې دا خبره راغله ، چې بيرته غبرګ شم- بيا مې وئيلو ، هغه دَ لارا دَ غولولو پلان به مې خطا شي- نو ځکه روان وم په مخه او شاوخواته مې هم کتلو لګيا وم- يو وخت چې مې ګهړۍ ته پام شو ، نو څه ګورم ، چې له هوټله راوتلو ورسته ما قريبًا درې پاوْه مزل کړی وْ او دې وخت زما په چپه دوه سړيان نور وْ ، چې په دې بل فټ پاتھ روان وْ- نور هيڅوک تر ليرې ليرې پورې نه ښکاره کېدو- ځکه بيرته راغبرګ شوم په خپلو پلونو-

اوس به هوټل ته رسېږم - - اوس به رسېږم- په دې هيلې کې مې په تېزو قدمونو که دا وَ وايم، چې تر ګنتهې زيات مزل وکړو ، نو غلط به ځکه نه يم، چې دې وخت زه يوې داسې کېفې ته رسېدلی وم، چې ورسره خواکې يې يوه ډسکو هم وه- ډېر ستړی شوی وم- په دې سوب خو مې کېفې ته پېښې ورسمې شوې او هلته په يوه کونج کې مې توده کوفي چې څيښله ، نو يو څو مېزونه مخکې درې سړې او يوه ښځه دومره په زوره زوره ژغېدلو ، چې دَ نرې موزيک خوند يې هم ګار کړی وْ- ژر ژر مې کوفي غړپ کړه او په کاوْنټر ولاړ ځوان په رانښول شوې سمت مخته روان شوم- نو زما له ښه بختته چې زه څنګه هوټل ته ننوتمه ، نو ونېسا هم دغه وه ، چې ګوره له کومه راروانه وه په هوټل پراګاکې تر ما له مخه ننوتله-

"شوقه ! تاسو چرته دا ټوله شپه تېره کړه ؟ "

لارا کُوک دَ شپې دولس بجې خواته په ټېليفون ، چې دا پوښتنه وکړه، نوما په رسېور لاس ږدلو ورسته زما په خونې کې ناستو فليپينو ملګرو ته څوکه وئيلو-

"لارا ګوک ده په لائن - تاسو چپ کښېنئ - او ګورئ چې څه تماشې وربانديې کوم "

او بیا مې ورته په فون کې له سرې ساه ایستلو ورسته وَوئیلو -

" له ما دا مه پوښته ، چې څه مې کولو ؟ بلکې دا پوښتنه وکړه ، چې چرته چرته لاړو او څه څه مې نه وکړو "

" ما ډېره هڅه درپسې وکړه، خو تاسو مې رېښ هېنډډ نه وَ نیولاست او راڅخه ورک شولاست "

"ښه نو ته راپسې لکه جاسوسه ګرځېدلې ؟ "

"هو - له ما سره یو بل هم وْ "

" مبارک - چې تا هم آخیر یو پیدا کړو - څوک وْ، هغه بدقسمته، چې له تا غوندې بدې انجلۍ سره یې - "

او زما پوره خبره یې لا نه واورېدله ، چې فون یې بند کړو - ما وئیلو ، چې خود لکه چې خفه شوه - او ملګرو ته مې مخ را واړَولو - اوس به موږ تبصره په دې اړه کوله ، چې بیا یې فون راغلو او په خندا کې واې -

" له ما سره وېلینا وه او اوس هم راسره ناسته ده - خبرې ورسره کوې؟ "

" هو - ولې نه؟ "

او بیا وېلینا په لائن راغله او په خندا خندا کې واې -

" ته په رښتیا له هغې سره مینه کوې؟ "

" له چا سره - "

"ښه اوس يې پېژنې هم نه"

مخته يې ګوره چې په خندا کې څه وَ وئيلو، چې دَ دواړو پېغلو خوږې او له مستۍ ډکې کړيکې مې تر غوږه شولې- او بيا يې فون، چې څنګه بيرته وَلارا ته ورکړو، نو ما هم بدله په داسې وئيلو کې ورڅخه واخيسته-

"ستا په ياد دي، چې ما او تا شرط لګولی وْ؟"

"شرط؟ هو- نو بيا"

"بيا- نو هغه جرمانه راکړه، چې ما غوښتې وه"

دومره چې مې ورته وئيلو، نو هغې په ځای دَ غصې په خندا کې وئيلو-

"ډېر اړام يې شوقه"

او ټېليفون يې بند کړو- ما چې رسيور ږدلو، نو روني رامخته شو-

"وايه په آخير کې يې څه درته وئيلو او کومه جرمانه تا غوښتې وه؟"

ما چې څوکه غوندې هغه دَ جرمانې په باب ورته حال څنګه تېر کړو، نو هغه داني په ډېره حېرانتيا تپوس وکړو -

"نو بيا هغې څه وئيلو؟"

"هغې فون بند کړو او بس"

"يَه يَه حال راکړه، چې په دې باب يې څه وئيلو"

روني چې ضد شروع کړو، نو مې په ټوکې کې ورته وئيلو، چې

"هغې وئيلو - ډير شوق ! دَ سر په سترګو "

او له دې سره سم درې واړه ملګرو تر يوه نيمې بجې پورې ناست يوې بلې خواته خبرې کښېَولې - بيا چې هغوئ کله بيرته خپلو خونو ته ستون شولو ، نو ما دا واقعه په ډائرۍ باندې اړَولو ورسته دَ نن ورځې دَ انساني همت او صلاحتونو په رڼا کې دَ "معجزه" تر عنوان دلاندې يو وړوکی نظم هم په کاغذ واړولو -

---

"واې چې هسپانيان بوره ډېره خورې او په خواږو کې يې خوړلت زيات وي "

راسره په څنګ چوکۍ کې ناست پاتې لېن ، هغه بل اړخ ته په چوکۍ باندې ناستې مائينې شېلا اوډلې ته چې دَ بس روانېدلو په وخت دا وئيلو ، نو ما هم ورسره خبره منلو ورسته وَ وئيلو -

"هو - خواږه خو يې خواږه دي او خپله خو هم دا خلګ بد نه دي "

"ښه خندني او دَ ښې روئيې خلګ دي ، خو که دا دَ پيسو دپاره يې هر څه په داوْ باندې دَ ږدلو خوُيي نه درلودلی ، نو نور به هم ښه وی-- "

اوس به لا ما مخته دَ هغه خبره کښولې ، چې دَ ميرنا دَ سهار سلام ورسته مې دا تر غوږو شولو ، چې

"دا دَ مېډرډ زړو ټاوْن دی "

"دومره ژر بيا راوَرسېدلو ؟ "

ما چې دا خبره دَ ميرنا دَ اعلان ورسته له خلې وتله ، نو موږ دَ انتونئيو لوپيز روډ څخه ښه مخته راغلي وْ - او اوس زموږ بس دَ زاړه ټاوْن ، چې سېنټرل ټاوْن هم نومېدو کې دَ مئير پلازه په يوه تنګه کوڅه کې پارک کېدلو لګيا وْ -

Khyber.ORG

په مئير پلازه، چي په کي په سلاوْ دوکانونه وْکي شاوخواته گرځېدلو ورسته په دي پلازه کي دننه موجود ټوْرزم سېنټر ته ورچپ شوم او دَ ستي مېپ تر لاسه کولو ورسته ، چي ورڅخه دباندي راوتم، نو مي دَ فليپينو ملگرو سره سم کائيکو هم ملگري شوه- او ټول دَ يو نيږدې چرچ کتلو په نيت مخته روان شولو- چرچ که څه هم ډېر پخوانی وْ، خو داسي بې غوره بيا هم نه وْ، لکه زموږ دَ لاهور تاريخي ورڅه ، چي زياته په خاوري کېدو ده- له چرچ څخه وتلو په وخت کائيکو پوښتنه وکړه،

" دا چرچونه تاسو ته څه درکوي؟ "

" هغه چي شوق ته يې ماجتان ورکوي "

داني چي په ځواب کي داسي وئيلو ، نو دَ هغې سر لکه چي نه شو خلاس او بيا پوښتنه کوي -

" ما او شوق خو دَ چرچ ننداره کوله- تاسو دوْ هلته مخته په بېنچونو باندي ناست څله سرونه ځنولي وْ ؟
" عبادت مو کولو "

داني چي دا توري له خلې ايستلو ، نو داني ورته په فليپينو کي گوره چي څه وَوئيلو ، چي دواړو وَخندلو- او خبره په هغه ځاى ځکه پاته شو ، چي موږ دَ اوپېرا سره جوخت لاندي په مېټرو سټېشن کي وَ گرين لائن ټرېن ته ختلو لگيا وْ- او دا زيرزميني ټرېن دَ Chueca , Gran Via , Callao نامي درې سټېشنانو څخه تېرېدلو ورسته چي په Alonso Martinez سټېشن کي ځنگه تم شو ، نو ورڅخه گُوز شولو- او بالا مځکي ته راوَختو- دا علاقه په اول نظر نوي علاقه راته وَمونېدله-

يو وخت دَ برطانيه دَ سفارت خانې سره په څنگ کي دَ تېرېدلو په وخت داني واي -

" په اروپا کي دَ ايشيا په شان بازارونه نه شته ، تشي پلازې دي يا بيا دَ يوې نيمي کوڅې په سرکي چرته جوړ دوکان يا کېفې "

" هم ځکه خو په سکون دي "

ما چي لا دومره وئيلو ، نو روني واي -

" او بل پرېشر هارنونه هم ما په اروپا کي چرته نه وا اورېدلو "

" دا پرېشر هارن څه ته واي؟ "

کائيکو چي جاپانۍ وه په حېرت پوښتنه وَ کړه ،

" دا هغه شی دی ، چي تا کله هم نه دی اورېدلی- نو ځکه به دي سر هم نه شي ورباندي خلاس "

او په دې خبره چي هغوئ ټول کله خندا ته وَجوړېدلو ، نو ما هم خپل ښکار پيدا کړو- ګوا دَ مطالعې دَ ضرورت په سمه يو ډله ، چي په کي درې پېغلې او څلور ځوانان وْ راڅرمه شو- خو عجبه خبره دا وه ، چي په هغو اووْ کسانو کي تش دوه داسي وْ ، چي يو څو ټکي لکه ګوډ مارننګ- نو-يس- ګو-کم- زده وْ- او خوند خوېې لا هغه وخت وکړو ، چي کله يوه ځوان له ما زما دَ ملګرو په مخ کي دَ نوم پوښتنه داسي وکړه-

" وټ از مائي نېم سر ؟ "

زما په ځای روني ورته را مخته شو او زما په لور اشاره کولو ورسته ورته واي -

" مائي فرېنډ -- يور نېم شوق شوق "

مخته هغوئ په خپلو او مورږ په خپلو کي کړيکي ګډوَلو ورسته مخته ښنګ په ښنګ روان شولو - څه مخته دَ هغه ګروپ يوه انجلۍ ماته په اشارو واي -

"دلته په هسپانۍ ژبه کي چي څوک له چا پوښتنه کوي ، چي " ستا انګلسي زده ؟ نو داسي وايه

" Habla Usted Ingles ?

بس بیا نو څه وُ، چي مورِ تولو دا فقره په هر چا باندي چسپَوله او خوندونه مو ورباندي اخیستلو- ګوا ، چي چا به لږ ډېره وئیلی شوی، وئیل به یې-

" Si Usted Ingles " ګوا " هو- زما زده ده انګلسي "

دَ چا چي به نه وه زده، نو هغه به وئیلو-

"No Comprehendo Ingles" " یَه زما نه ده زده انګلسي "

لنډه دا ، چي په دې علاقه کي چي ښه ستړي شولو ، نو بیرته دَ Martinez په مېټروکي په ګرین لائن ترېن کي یو غټ ستېشن ، چي Munez de Balbao نومېدو کي بالا مځکي ته څنګه ورچپ شولو- نو یوه پېغله هسپانۍ کوچۍ وَ داني ته داسي ورځرمه شوه ، چي که څه هم بیا بیا هغه ورته لاسونه جوړه کولو- خو هغه وه، چي په خبره نه پوهېدله او ورسره سره روانه وه او څه یې ورځخه غوښتلو لګیا وه- څه ؟ په دې مورِ نه وُ خبر ، خو دَ داني خوار په ماشومه روئیه مو خندلو او بلکې روني به لا داسي هم ورته وئیلو-

" دي وَ پېژندلي -او خود ته لکه چي چرته په اروپا زمورِ په پته ملاوُ شوی یې ورسره "

داني به هم وَخندلو او وئیلو به یې-

" لاکن اوس خو مي ورځخه خلاس خو کړئ "

ښه ډېر چي مي دا مېله انجوای کړه، نو کائیکو ورمخته شوه او هغې انجلۍ ته دیکه ورکول ورسته یې دَ داني تر ملا لاس داسي تېر کړو لکه دا چي وَ هغې هسپانۍ ته داسي احساس ورکوي- چي دا ځوان دَ هغې بوائي فرېنډ دی- نو ځکه هغه ښځه هم وَدرېدله او په برګو برګو یې وَ داني ته کتلو ورسته په هسپانۍ ژبه کي یوه کلکه ښکنځا وکړه او شاته پاته شوه-

" مبارک مبارک ، داني خلاس شوې- "

روني چي دا خبره لا سمه نه وه کړي ، چي کائیکو دَ خندلو ورسته وای-

Khyber.ORG

" اوس خو په کار دی - چي داني موږ ته يو ترېټ راکړي "

" هو-هو - درځئ، يو ځای څه وَخورو "

او دَ داني له دې خبري سره سم موږ وَ يو رېستورېنټ ته وردننه شولو -

---

" هغه انجلۍ په حق باندي وه "

" ولي؟ "

داني چي دَ روني دَ خبري په ځواب کي پوښتنه وکړه، نو روني ماته سترګه وهلو ورسته ورته واي -

" ښائسته هم وه او بل چته پېغله هم "

روني لا په ګرانه دومره وئيلي وْ، چي داني په خندا سر شو او واي -

" تاسو له ما دا پوښتنه نه وکړه، چي هغه څله وَماته روژد بدلي وه ؟ "

" څله ؟ "

موږ ټولو چي په يوه صلاح ورڅخه پوښتنه وکړه، نو هغه بيا له خندا شين شو او شاوخواته يې کتلو ورسته څو که خوندي وئيلو -

" هغه کوچۍ خو زما واقعي شناخته وه "

داني چي دا خبره وکړه، نوموږ ټولو يو بل ته کتلو ورسته په حېرت ورڅخه اوس لا په دې اړه سوالونه کولو ، چي هغه خپله کيسه شروع کړه -

" خبره داسي وه - اوس چي موږ له دې ستېشن څخه شاته دَ آخيري مېټرو په پوړيانو باندي بالا راختلو ، نو زه خو تر تاسو له شا راروان وم او ځانته مي په خلګو کي لاره جوړَوله لګيا

Khyber.ORG

وم، چي يو وخت مي لاس دَ سائيډ پائپ نيولو په هڅه کي دَ هغې کوچې په سينه پوري چي ښنګه په خطائي راتپينګ کړو ، نو انجام يې داسي وَوتلو ، چي هغې ته آسره پيدا شوه "

" هغه به سينه نه - بل ځای وْ ؟ ته يې ښه په زړه کړه داني "

او داني دَ روني په دې خبره دومره غټه کړيکه وَلګوله، چي په دې بل مېز ناستو خلګو هم يو بل ته دَ کتلو ورسته له موږ سره شونډي ويړي کړې خندا ته -

يو وخت چي موږ په مجلس مجلس کي په ونټاس نامي مېټرو ستېشن کي وَ رېډ لائن ټرېن ته وختلو ، نو روني وَ داني ته واي -

" خيال کوه - چي دلته بيا په چا لاس نه وَنيسې "

" هو - اوس خو يې لاسونه عادت شوي دي "

ما چي داسي وئيلو ، نوکائيکو هم واي -

" داني داني - اوس بيا له سړيانو سره په ښنګ کي ولاړ يې - پام کوه چي - "

او مخته يې هغه خبره وکړه ، چي زه يې په نره ځان لا دلته ليکلی نه شم - ځکه خو موږ درې سره نرينه ملګرو يو بل ته بيا تر ډېره پوري کتلو څه؟ چي په سترګو سترګو کي مي دَ کائيکو دَ آزادي روئيې په باب خبري هم پئيل کړي وې -

دَ Becerra ورسته دَ Goya نامي ستېشن راغلو ، چرته چي ډېر کسان ټرېن ته راوَختلو او موږ يې په يو کونج کي داسي تخته کړو ، چي داني څوکه غوندي ماته په غوږ کي واي -

" دا کائيکو خو به تر دې هم زياته در-- شوي وي "

که څه هم ما هيڅ نه وئيلو ، خو هغه دا خبره داسي کوله لکه جوړه چي يې يقين وْ په خپله دې رائي باندي -

Khyber.ORG

" دَ ایمسټرډم هیرو خو شوق وْ - اوس داني ته دي هیرو آف مېډرډ ټائیټل ورکول بده خبره نه ده - څنګه؟ "

روني چي وَکائیکو دا خبره کوله ، نو هلته نیږدې یوه هسپاني ځوان پوښتنه وکړه -

" څنګه دی دا زمونږ هېواد سپېن؟ "

" ډېر ښه دی "

کائیکو چي دا خبره له خلې ایستله ، نو داني ورته واي-

" خلګ يې هم ډېر ښه دي او- "

" کوچیاني هم "

روني چي څنګه دَ داني خبره سرته وَرسوله ، نو په داني دا خبره بده وَلګېده او په فلیپینو کي ورته ګډ څه شو ، چي هغه انګلش ویونکی ځوان او دَ هغه سوال نیمګړی پاته شو ، او ټرېن هم دَ Principe de Vergara څخه مخته روان شو- په دې ډبه کي دَ لګېدلي چارټ په سمه مونږ Retiro ، Banca de Espana ، Sevilla او Sol نامي سټېشنانو څخه تېرېدلو ورسته مونږ دَ ګرین لائن ټرېن نیولو په غرض په Toledo کي کُوزېدو ورسته په بل ټرېن کي او پېرا سټېشن ته ورسېدلو-

دلته مونږ San Isidro ورسته په یوه چائینیز رېسټورېنټ کي دَ غرمې ډوډۍ خوړلو سره سم بیرته په هغو لارو دَ Antonio Lopez په لور ورسم شوي وْ ، چرته چي زمونږ هوټل پراګا وْ-

---

لمر لا نه وْ پټ شوی، چي زه دَ هوټل په لور بیرته را روان وم ، یو نیم سړي یا ښځي به ماته ډېرپه غور ځکه کتلو ، چي زما په لاس کي هغه خالي بېګ وْ، چي دلته په شا دوکانو کي مي په ډېرو ګرانو پیسو رانیولی وْ- اوخلګو لکه چي په دې راته کتلو ، چي زه دغه وم ، دَ هغو وَښار ته راچپ شوی وم-

"خود لکه چي پيسې وبښل کېږي يا جنګ دی دننه "

په زړه کي دا خبره راتللو سره سم ما هم قدمونه په هغه لور تېز کړو، چرته چي دَ يو غټ دوکان مخته ښېخي زيات خلګ ولاړ وْ، اوهر يوه غاړه پورته پورته کوله، چي هلته دننه وګوري- ما چي هم ځان دَ يو ځو سرونو څخه پورته وَغزولو، نو څه ګورم -؟ چي هلته دننه يوه وړه ټي – وي پرته ده او په کي Bull Fighting ( هغه لوبه ، چي يو سړی نه يوازي له يو مست غوئيي څخه ځان په سره ټوکر باندي ژغوري ، بلکې په هغه غوئيي کي نېزي هم ټومبي ) لوبه ښکاره کېږي- او کله چي به هغه لوبغاړی تېره نېزه په غوئيي کي ور وَټومبله، نو ټول ولاړ تماشايان به داسي له خوشالۍ پورته پورته کېدلو ، لکه په فټ بال لوبه کي چي دَ خوښي ټيم ګول کوي-

"که چرته موږ خواته داسي لوبه کېدلی، نو به دُنيا دَ ظلم بلا ظلم نارې وهلي- لاکن نن ځکه هيڅ نه وئيل کېږي دَ وينو په دې لوبه ، چي يو مهذبه قام خپله کړي ده "

لا کېدلی شو، چي انسان دَ بربريت دا لوبه ما نوره هم کتلي وی ، که چا له شا ټومبلی نه وی ، او هغه هم لاراګوک ، چي خپلو خوندکيانو ، وېلينا ،لوري ويوار کائيکواو بلينډا سره زما شاته ولاړه وه او واي -

"شوقه ! ته هم دا لوبه ګورې؟ "

"په دې نه ، چي خوند ورباندي اخلم - بلکې په دې ، چي انسان څومره ظالم دی؟ "

ما چي دا خبره په ځواب کي ورته کوله ، نو وېلينا په مستۍ کي راته واي -

"هغه ستا خوږه ملګري چرته ده؟ "

"ملګري -کومه ملګري؟ "

او بيا مي لارا په لور کتلو ورسته په کائيکو لاس اچولو ورسته بيرته وار داسي لاس ته کړو-

"دغه ملګري ، چي دَ خلګو په ما نه پيرزو کېږي ؟ "

"هو - دغه ملګري"

لارا داسي دَ زړه له سوختهوَوئيلو ، لکه چا چي يې په حق يرغل کړی وي- خبر، چي له هغو سره په ګډه هوټل ته دننه کېدم ، نو په دروازه کي مي داسي څوکه غوندي لاراکوک ته وَ وئيلو-

"هغه دَ شرط بائيللو جرمانه دي څه کړه؟ "

هغې ښه تود څوک را څنډلو ورسته په خندا کي وَ وئيلو-

"جرمانه هم له هغې واخله ، له چا سره چي هره ورځ ليدل کتل کوې ښه "

"لاکن هغه خو تا نظر کړه "

"خفه شوه او که بل چا وربانديقبضه وکړه؟ "

"يَه - ستا دَ سترګو بد نظر وَخوړله "

"ښه - نو زما سترګي دومره بدي دي؟ "

"له بدو سره سره ډېري اغېزناکي هم - خاص په زړه وينښتل کوي "

دا مقالمه چي مو سرته څنګه ورسوله ، نو په لابي کي وَ هغه کونج ته ورسم شوم ، چرته چي روني او داني له ډېني هاوْ او دَ هغه له فېميلي سره ناست وْ-

" مورِ خواوس لا دَ وتلو اراده کړي وه او ته بيا له خوږو دُښمنانو سره له چکره بيرته هم راغې "

"نو بيا څه ګوری - ورځئ ، ناوخته نه دئ "

"ولي ته نه راځې؟ که څه؟ "

ما ورته وئيلو-

"هو- زه اوس دَ رېستې کولو په موډ کي يم"

"رېستې- که دَ بل څه په موډ کي؟ "

داني چي دا وئيلو، نو ډېني هاوْ هم ورسره داسي په "هو "کي "هو "ورګډ کړو، لکه هغه چي هم خبر وي او واي-

"شوق او دَ شپې رېستې-؟ زما زړه دا خبره نه مني"

دومره وئيلو ورسته هغوئ دَ لابي دَ لوي دروازې او ما دَ لفټ په لور مخه وکړه-

ډوډۍ ته مي زړه نه کېدلو، ځکه مي بسترې ته په اول ماخستن ځان وسپارَلو- بيا که څه هم يو دوه ځله دَ يونيم يار په فون مي سترګي راخلاسي شوې، خو بيرته به ويده شوم- ولي، چي دا دَ نن شپه خو وه، چي خوب مي په صحيح مانا کي دَ سکون تر ټاکه رسولَو لګيا وم-

---

دَ ديارلسم اپرېل **1996**ع په سهار دَ ناری کولو ورسته مو دَ هوټل پر اګا څخه په مېډرډ بنار کي تېرېدلو په وخت، چي کله له دريابه وَدې بلي څنډي ته اوبښتلو، نو ميرنا واي-

"دسهار سلام ملګرو او غوارِم، چي ټول به خوشاله هم ياست"

"هو- يُو خو- لاکن "

دَ اېډرين په دې يو څو تورو ميرنا دَ هغه په لور ورچپه شوه او په اوږه يې لاس ورته رډلو ورسته ګوره چي کوم زېری په غوږ کي وکړو، چي هغه په زوره وَخندلو- او دلته روني، چي

نن زما په ښې لاس کې دَ شا په چوکۍ کې ناست وْ او داني یې هغه بل لاس ته هم پورته شو او واي -

"میرنا ! هغه کومه خبره وه، چې ایډرین دي داسي وَخندولو ؟ "

ګوره، چې هغې وانه وربدلو او که څه ، چې روني ماته مخ راارَولو ورسته واي -

"خود لکه چې وېلینا ورځخه خفه ده "

"هو ماته هم داسي محسوسېږي، ولي چې له پرونه دواړه ببل ببل لیدل کېږي "

داني چي لا خبره سرته نه وه رسولي، چې وېلینا له یو بل سیټه پورته شوه او ایډرین سره په خلاس سیټ کې څه کښېنستله ، چې ما او روني وَخندلو - داني یو دم لکه خفه چې وْ،

"ځله خاندئ -؟ ما ټوکه نه سئیریس خبره درته وکړه "

روني دَ دې خبري په ځواب کې چې په فلیپینو کې اصل خبره څنګه دَ هغه له غوږو سره تېر کړو ، نو هغه په حریاني کې واي -

"ښه- کله ؟ ما ورته هیڅ پام نه دی شوی "

موږ چې دا خبري کولې ، نو بس دې وخت له مېډرډ ځخه ښه ډېر وتی وْ او اوس یې په ځنګلي سیمه کې دَ بورګوس نامي ټاوْن په لور لاره لنډوَله لګیا وْ -

پاوْ بالا نهه بجې موږ دَ شنو اوبو دَ غټ کړوم ځخه تېرېدلو ، چې شاته یې دَ غره په لمن کې واوره هم لا پرته وه- او لږ مخته بیا آستړېلین توري سپیني غواګاني هم غړېدلې، او ونېسا چې یو دوه سیټان مخته ناسته وه - منظرونه په کېمره کې خوندي کولو لګیا وه او ورسره ناست توشي چې اوس دَ هغې پوخ دوست جوړ شوی وْ هېډ فون په غوږو کې لګولی وْ او سندري یې اورېدلې -

Khyber.ORG

لس بجې خواته موږ دَ لوي لاري په يو هوټل، چي نيږدې يې غټ پټرول پمپ هم جوړ وْ مخې ته چي څنګه له بس څخه راکښته کېدلو، نو ميرنا موږ درو ته څوکه غوندي وَوئيلو-

" خپل خپل حاجت هم پوره کړئ او په هغه مخه مخامخ ټرالر کي بې پيسو شو هم خامخا وګورئ "

"بې پيسو شو...؟ "

دا سوال زما په مزغو کي ځواب ببخې ژر هغه وخت وَموندلو ، چي دَ هغه ټرالر په مخ سيټ کي، چي پړدې ورباندي راايله وې- خو له کونجه يې يوه سپينه پښه لړه لړه په هوا کي الوتې را ښکاره شوه او زما ملګرو هم هغه پښه وَليدله- نه يوازي دا ، بلکې لږ لږ ټرالر هم ښورېدلو -

"خود لکه چي هغه ټرالر دَ زلزلې په زد کي وْ ؟ "

له دې سوچ سره سم په رېستورېنټ کي کوفي څيښلو ورسته چي بيرته دَ بس په لور له ملګرو سره ور روان شوم، نو په سائيډ کي له ولاړ هغه ټرالر څخه دې وخت يوه چټه ژېړسري ښځه او نرى ځوان اُستاد داسي راګوزېدلو ، لکه مېړه او مائينه چي وي - نور مختنه خداى خبر-

" څنګه وه مېله ؟ "

ميرنا چي موږ دَ بس په لور وربللو ورسته دا پوښتنه وکړه، نو روني ورته واي-

"ښه وه، خو دومره هم ښه نه - "

هغه به لا نور څه وئيلو ، چي ميرنا هغه دَ بس په لور وَدېکلو او په خندا کي ورته واي-

"په داسي حال کي دغوني مېله هم ډېره ده "

او بس يو ځل بيا دَ Somosiera Pass په تنګو او پراخو ناوْکي مخته منډه وهله او بنه مخته ، چي مورِ دَ lerma نامي دَ تکو ژېړو بامونو ټاوْن څخه مخته وتلو ، نو ميرنا وئيلو -

"بورګوس ټاوْن له دې لېرما څخه په 35 کلو ميټره واټن باندي دی- بورګوس سورِ ټاوْن دی- او ګرمي يې په خوا لا نه راځي - او که راځي هم، نو په 25 جولائي کي راځي او په 26مه جولائي بيرته ځي"

يو ځل بيا بس په ځنګلي سيمه کي رهي وْ- چي ميرنا ژغ وکړو-

"کوټونه او مفلران تيار ساتئ - زياته بورګوس ټاوْن را رسېدونکی دی "

بيا نو څه وْ، ملګرو دَ يخو هواګانو په زد داسي تياري شروع کړه، لکه اوس چي به په سائبېريا کي ورګوزېږي- او مورِ چي دا تيارياني کولې، نو کينِ لاس ته Madrigal Town هم شاته پاته کېدو لګيا وْ-

*****

# هغه ښار وْ- که مات بنګړی ؟

دَ ګهړۍ ستني چي څنګه دَ غرمې يولس بجو ته وَرسېدلې ، نو دَ بورګوس ټاوْن ، چي دَ شمالي سپېن په اولډ کېسټيل نامي سيمه کي آباد دی پئيل شو- دَ وړو غټو او هسکو پلازو دې ښار له روډونو سره په څنګ څنګ چمنيان هم داسي په خوند لګولي شوي وْ، چي په لومړي نظر کتلو بيا سړی په دې وئيلو ، پارَوي ، چي

"واه - څومره دَ خوند ښار دی؟ "

اوس موږ دَ دې ښار وَ منځني ټاوْن ته لاره لنډَوله ، چي ميرنا وئيلو-

" تاسو دَ بورګوس ښار تاريخي عظمت دَ دې ځای دَ ړزَو کلا وزمه ودانيانو او ماڼيانو څخه ښه لګولی شئ- دا دَ کېسټيل صوبې صدر مقام دی او دلته په دولسمي صدی کي دَ ګاتهک ګرجا غوندي بلډنګ جوړېدل څه کمه خبره نه ده ، چي په درستي جنوبي اروپا کي تر ټولو ښائيسته ګرجا بلل کېږي "

دا خبري په کېسټ باندي ځپ کولو سره سره مي په هغو تورو تمبو کي هم چُرت بند وْ ، چي دَ بلبونو په ځای په کي څراغونه راځنېدلو- له دې څخه داسي برېښېدو ، لکه دلته چي ډېر پخوا هم دَ سټريټ لائټ انتظام وْ-

" زموږ وَ کيڼ لاس ته چي کوم کلاوزمه بلډنګ وْ ، هغه پخوا قېدخانه وه او اوس دَ يو هاسټل په توګه په کارَول کېږي "

هو ، ګائيډ هم سمه خبره کوله ، ګوا هغه کلا اوس هم جېل ته مونېدله- دَ زاړه شي څومره اهميت دی؟ دَ دې سوال هر ځواب که څه هم په پښتني سيمو کي چرته او کله هم نه - خو دلته په اروپا کي په هر دويم ګام پيدا کېږي- ګوا دلته زوړ شی ، په زاړه حالت کي دَ ساتلو رواج دَ اروپايانو قامي خوئيه ده او هغوئ له خپل پرون سره مينه کوي او هڅه کوي ، چي خپله رښتنه وَشلوي ورځخه-

Khyber.ORG

" دَ ژوندي قام لويه نخښه هم دغه وي، چي غړي يي له خپل پرون سره اړيکي ساتي- نه چي دَ پښتون په رنګه-- کوم چي په زړَو باندي خاوري اچَوي او نوي په کارَوي نه- ځکه خو له قامه قوميت او له قوميته دَ قبيلو په لور روان دی "

دا سي خبري چي مي په مزغو کي ګردانولې، نو موږ دَ ګاتهک کلا له دننه څخه کتلو ورسته دباندي خواته دَ ميرنا په رهنمائي کي په پښو باندي تنګ کولو ته وَجوړېدلو لګيا وْ- او بيا ډېر ژر په تنګو کوڅو کي هغه له مخه او موږ ورپسې وْ- هلته شاپنګ سېنټران وْ ، چي په زاړه طرز جوړو دوکانو پوري يې اړه لرله- نو دغه وجه وه ، چي دلته زموږ په چپه هم په درځنو نور سپلانيان ګرځېدلو-

يو وخت چي موږ په دې کوڅو کي يوې بلي خواته وَ وېښل شولو، نو زه په ابهرين او وپلينا ، چي دې وخت ونېسا هم ورسره وه کي ور وختم- ما نه غوښتلو، چي ورسره ملګری شم ، لاکن ابهرين په کلک ست مي غړی ورته واچولو او ورسره روان شوم- او لږ ساعت ورسته بيا موږ په يو زاړه طرز جوړ رېسګټورېنټ کي دَ يوه مېز شاوخوا ناست وْ-

" مينو ستا په خوښه ده نن "

" ولي؟ "

" هغه ځکه چي ته نن زموږ مېلمه يې "

وپلينا ، چي دَ ابهرين دَ خواست په ځواب کي زما دَ سوال ورسته داسي وَوَئيلو ، نو ما مينو ونېسا ته وړاندي کړه -

" نو بيا دَ ونېسا خوښه زما خوښه ده "

او ونېسا که څه هم ځان پېچلو ، خو آخير يې منلو ورسته وېټر ته خوراکي مينو ور تېره کړه -

" ماته داسي ښکاري ، لکه ته چي دَ سپلاني طبعيت سره سره دَ دوستيانو کولو هم شوق لرې؟ "

"هو - لاکن نن سبا دوستان ډېر ټائم پاس غوندي روئيږي لري "

ما چي دَ وېلينا دَ يرغل په ځواب کي دَ توپ خله دَ ونېسا په خوا ور واړوله ، نو هغه وَموسېدله او دَ څه ردعمل ښکاره کولو په ځای يې خبره که څه هم بلي خوا ته واړوله ، خو په خبره کي يې زما دَ خبري ځواب هم مستور وْ- وئيلو يې،

"کائيکو نه برېښي نن سبا ، ګوره چي چرته ده ؟ "

که څه هم دې خبري ښه ډېر زور راکړو ، خو همت مي وکړو او ورته وئيلو مي -

"وي به چرته - دَ دوستانو کمی خو په دې ټرپ کي نه شته "

"ځکه خو ته دوستان بدلوې "

ګوره چي نن بيا دَ وېلينا څه--کېدو ، چي په وار وار يې ګوزارونه راباندي کولو -

"دوستي دَ ايثار نوم دی او هر څوک داسي نه شي کولی ، ځکه خو دوستان بدل رابدل شي څنګه شوقه؟ "

"ولي ته هم ګرځې په نوي دوست پسي که څه ؟ "

او دَ وېلينا دَ دې سوال برسېره چي دَ هغې خپل بوائ فرېنډ اېډرين داسي پوښتنه ور څخه وکړه ، نو موږ ټول خندا ته داسي وَجوړېدلو ، چي بيا خبري هم په بله ولاړې او په خوند خوند مي ډوډی وَخوړله او له رېستورېنټه وَوتلو- هو ، بيا په هغو تنګو کوڅو کي، چرته چي موږ ځانونه تر ډېره پوري دَ بورګوس په ماضي کي سنجَولو لګياوْ-

---

بورګوس ښار چي شاته پاته کېدلو ، نو هر يوه بيا بيا شاهد چي په دې وجه ورته کتلو ، چي زړه دَ هيچا نه منلو ، چي بيا به ورته راچپ شي- اوس يو ځل بيا موږ دَ شنو وړو او دَ غټو غونډيانو په لوړو ژورو کي مخته رهي وْ اودَ قدرت په حسينو نندارو مو خوندونه اخيستلو -

څه مخته دَ Mirando نامي ټاوْن ، چي په يوې ناوې کي جوړ وْ، څخه په ځنګ چي تېرېدلو ، نو ميرنا وئيلو-

"دَ سپېن خلګ هم دَ غواوْ ساتلو په پرته دَ مالدارۍ ډېر زيات شوق لري - او اسان هم ساتي خو دومره نه ، چي انګلش خلګ يې لري"

له دې ميرانډو ورسته ځنګلي سيمه بيا په رقم رقم ونو باندي زموږ سترګي خوږَولې- او يو نيم ځاى مو دَ پوُسونو رمې هم تر سترګو شولې- او اوس سان سباشئين نامي ساحلي ښار چرته چي به موږ نن شپه تېروْ ، دَ ګائيډ له قوله اوس نيږدې دى او ډېر ژر به ورته وَرسېږو- نو ځکه خو هغې مخته وئيلو-

" په سان سباشئين کي چي په کوم هوټل کي موږ استوګنه کوْ ، هغه دَ سمندر په څنده آباد هغه ساحلي ښار دى ، چي ورته خلګ په ګرميانو کي له ليري ليري راځي او دې ته شاهانه ښار هم وئيل کېږي- لاکن دا خيال کوئ ، چي دَ لمر پُټېدلو ورسته يوازي هلته ساحل ته ورنه شئ- ولي چي دَ ګنډکپانو پرته نوري پېښې هم ممکني کېدلى شي "

او بيا چي په ناوْ کي يوې بلي خواته دَ کاسموس بس يو وخت رک دَ سان سباشئين په ښار ورګډ شو ، نو ميرنا په سپيکرانو کي واي-

" مسټر شوق ! دا خبره ښه نوټ کړه ، چي يوازي به هلته دَ سمندر څنډې ته نه ځې- خو که ځې هم نو راته وه وايه ، زه به درسره لاړه شم يا به بل څوک درسره کړم -- "

دې لا خبره سرته نه وه رسولې، چي اراده مې هلته دَ شپې وَ خواته دَ ورتللو په دې باندي پخه کړه ، چي ما خپل ذهني تجسس ليري کول غوښتو- هو ځکه چي داسي موقعې خو بيا بيا نه راځي-

"واه - دا خو شاعرانه ګودر دى"

له بس څخه چي له ملګرو سره کښېته کېدم ، نو مي په زړه کي داسي خيال سر راپورته کړو او زه هم هوټل کوډينا ته وردننه شوم- دَ خوني کيلۍ اخيستلو ورسته داني راسره په څنګ شو او واي -

" که ځې هم هلته ، نو موږ به درسره لاړ شو "

"ګورو به ، چي څه کېږي -لا خو اول مازيګر دی "

ما به لا دا وئيلو ، چي جاپانۍ پېغلي کائيکو چي دې وخت زموږ په مابېن کي راسره روانه وه ، په وړه غوندي لهجه کي موږ ته واي -

" اوس که تاسو ځئ ، نو ما هم له ځان سره بوځئ "

" هو ځو به - "

روني هم ورسره خبره خوږه کړه ،

" لاکن اوس به يې څه خوند وي ؟ خو ، خېر لاړ به شو "

او بيا په هوټل کي بېګونه خوندي کولو ورسته موږ څلور سره ملګري هلته هغه مات بنګړي وزمه ساحل ته ورچپ شولو ، چرته چي په اوبو کي دننه دوې وړې جزيرې داسي ښائيسته برېښېدلې، لکه دا چي حقيقت نه،بلکې دَ يو آرټسټ په لاس جوړ منظر وي-يا دَ ښکلا مات بنګړی-

دلته په ژېړ او پاسته رېګ باندي دَ غزېدلو او تر خپلو ښه ډېره ګپه کولو ورسته ، چي بيرته روان وْ، نو ما شا شا ته ځکه کتلو ، چي ځانته مو له اوسه دَ سبل او ناستي ځايونه غوره کولو- او له دې ساحل څخه دَ کائيکو په خوښه دَ ټاوْن په خوا ور روان شولو او تر لمر لوېدلو پوري په کي ګرځېدلو ورسته چي څنګه خپل هوټل ته ورسېدلو- نو کائيکو په ډېر ضد باندي موږ درې واړه له هوټل کوډينا سره جوخت ګرين بار( کېفې) ته ورکښ کړو او هلته يې دَ خپلي خوښي په مينو زموږ سترِيا داسي راليري کړه ، لکه موږ چي مزل کله کړی نه وْ- او روني خو لا داسي هم وئيلو ، چي

"درځئ چي بلي خواته په چکر شو"

که څه هم زما دواړو ملګرو ورسره خوښه کړه ، خو ما يې اختلاف په دې وجه وکړو ، چي نن ما خپل ضد پوره کولو ته ملا تړلي وه- نو ځکه هغه مي په لاېي کي لاندي پرېښولو او زه بالا خپلي خوني، چي 409 نمبر وه ته ور وختم- زما له ښه قسمته دَ هغې خوني له کهړکۍ څخه هم سمندر صفا ښکاره کېدلو- نو ځکه ما هم غسل کولو ورسته پړدې ليري کړې او دَ مخامخ مات بنګړي وزمه ساحل په ننداره شوم-

---

"لاخو دَ ماخستن ډوډۍ ته نيمه ګنټهه ګوري ، ولي اېکړ دې سره جوړي کېفې ته نه شم لاړ- څه خلک به وَوينم دَ مطالعې په سمون"

او بيا زه وم او په بار کېفې کي هغه ډله، چي ورسره په ګپه اخته وم- که څه هم هغوئ دَ انګلسۍ ډېر خلاف وْ ، خو ما غوښتلو چي نور نور يې اندرون وَ څېړم- نو په دې خو مي دَ انګلسۍ په حق کي ورته چي څومره څومره خبري کولې - هغوئ هغومره خپلي رائيې دَ خپلي ژبي او ژوند په حقله ټينګولې- او يو وخت ، چي ما په خپل يو دليل کي دا وَوئيلو ، چي

"انګلسي خو دَ نړۍ ژبه ده ، په کار ده چي تاسو يې هم زده کړئ"

نو په هغو کي يوه تکړه ځوان له ډېره خشمه داسي وئيلو-

"موږ دا انګلسي څه او څه کوْ- خپله ژبه لرو او ويارو وربانديّ"

دا خبره چي يې وکړه ، نو ماته خپل هغه په غېرت او پښتو مړه پښتانه را مخي ته شولو ، چي دَ ژبي په وار يې هر وخت ملا ماته وي- او تر خپلو دا ننګيالان دَ بل په وار شغالان که نه هم دي ، خو مرئيان او تابعداران ضرور دي- ولي ، چي تر پرونه پوري چي دور دَ جسماني طاقت وْ، نو دوئ په کي زمريان بلل کېدو او اوس چي وخت دَ سيالۍ راغلو او خبري قلم لاس ته کړې- نو دغه زمريان په خپلو کي دَ سپيانو غوندي داړلو ته ځکه وَجوړېدلو- چي دَ

Khyber.ORG

مشرانو په خوښه بې سواده پاته شو- خيال مي نه کېږي ، چي دا مارشل پښتون به سبا په خپله بې سواده ورځ په دې نړۍ کي دَ غوئيانو هومره حېثيت هم پيدا کړي که يَه -- که دغه رنګه به دَ بادارانو په خوښه له وينو سره دَ لېوانو غوندي لوبې تر هغه دمه کوي ، چي دم په کي وي-

هو- دا هغه احساس وْ، چي نن يې بيا دننه دننه ژړَولوته پارَولم- داسي ځکه ، چي په لابي کي مي هم له چا چا سره په دې باب خبري کولې- نو هغو هم دَ خپلي ژبې ډهول دومره په مړانه او لوړو سترګو وهلو ، چي ماته دَ پښتنو په حال له ژړا په چپه بل خيال ذهن ته ګرسره نه راتلو -

---

ما لا سم له خواړو لاس نه وْ راټول کړیْ ، چي دَ هوټل بټياني مړې شوې- ما په زړه کي وئيلو ، چي خود لکه چي دلته هم لوډشېډنګ کېږي- لاکن بيا چي موزيک سره سم ډيم لائټونه وَلګېدلو ، نو ماحول روماني او شاعرانه غوندي شو- او هغه هم دومره زيات ، چي يو وخت داني سره په څنګ کي ناسته مئي ربنارډ پورته شوه او ايکړه دَ نړۍ موسيقي سره سمه په ډانس اخته شوه- ميرنا چي هلته ليري ناسته وه رامنډه کړه او هغه يې يوې خواته چي يُوړه ، نو داني ته هم دَ خپلي غلطۍ احساس وَشو او واي-

"ماته نه وْ، داسي کول په کار"

"لاکن په دې کي خو ستا قصور نه وْ ، هغې خپله لاس نه ټولولو"

"خو ماته دَ هغې دَ ښځيتوب احساس کول په کار وْ "

او بيا يې وېټر ته ورژغ کړو ،

"دا بوتلان درټول کړه"

ما شاوخواته وَکتلو او دا موقعه مي غنيمت وګڼله او دَ غله غوندي پټ دباندي وَوتم- او نبغ دَ ساحل په لور روان شوم- لس بجې وې او زه شاهد چي يوازي کس وم ، چي هلته په

رېګ باندې ناست وم او هغو دوْ سمندري ټاپوګانو ته مې ځکه کتلو ، چې په يوه ټاپو تکه شنه رڼا ورسمه کړل شوې وه او په بل باندې تکه سره-

داسې ښکاره کېدلو ، لکه هغه ټاپوګان چې دَ جنت منظرونه وي- ځکه مې زړه شاعرۍ ته که څه هم غوښتلو ، خو موږ مې ژړا ته کېدلو- هو ، په پښتنو باندې وَ ژړلو ته -- يا په هغو انساني روئيو ، چې ځناورې کېږي لګيا دي- نو ځکه مې بلا بلا سوچونه مزغو ته تلو راتلو- او څنګه څنګه چې شپه مخته تېرېدله ، نو يو نيم سړی يا جوړه لاس په لاس يوې بلې خواته تېرېدله - دومره مې په ياد دي ، چې له کومې ساې به زه څومره وېرېدلم ، نو هغه ساې به خود لکه چې له ما هم هم وېرېدلې- ولې چې زما دې يوازيني حېثيت زه دَ هغو سايو په وړاندې هغه رنګه زړَور کولم- لکه هغوئ چې خپله وْ-

يو وخت چې دَ ګهړۍ ستني دولس بجو ته ورسېدلې ، نو زما وَ ښې لاس ته په څه فاصله باندې دوې ناستې ساې څه زياتې په يو بل کې ورګډېدلې لګيا وې او هلته ليرې هم دوْ سايو بوتلان په غاړو اړَولو- خو يو زه وم ، چې دَ مشرق رنګ مې دَ خپل وَس په سمه په دې مغربې ښکلا کې ورګډَول غوښتلو- لاکن سوچونو ماته دا احساس په بيا بيا راکولو ، چې زه دَ يو داسې ټولني او قام سره اړه لرم ، چې په ځای دَ مخ دَ تګ - شا شاته په داسې تادۍ روان دی ، چې وېرېږم او فکر کوم چې بيرته دَ ځنګلونو په لور لاړ نه شي- که څه هم هڅوال دې ورته-

کله کله به مې داسې سنجَولو لکه زه چې خوب وينم ، لاکن بيا چې به مې په ځان نُوکري جګې کړې ، نو راته محسوسه به شوه- چې دا خو زه ويده نه ، بلکې وينښ يم او زما مخته هره ښکلا او رڼاګانې هم حقيقې ښې لري- ګوا نور خو نور ، زه هم هغه او هغسې په حقيقې ښه کې موجود وم-

که څه هم اوس يخ ښه ډېر شوی وْ ، لاکن ما نه غوښتلو ، چې دا شپه او داسې وخت له لاسه ورکړم- نو ځکه مې نور نور په دې جنتې او مات بنګړې وزمه ساحل باندې دَ ماندهٔ احساس پرته لکه ماشوم دَ يادونو کورَکيان له رېګ څخه جوړَولو لګيا وم- او بل ، نن خو زما دَ يو يار دَ زوکړې ورځ هم وه-

Khyber.ORG

بیا داسي وخت هم راغلو ،چي زه په دې درست ساحل باندي یوازي ناست وم او ګهړۍ هم یوه نیمي بجې خواته مزل لنډ کړی وْ- نو ځکه راپورته شوم او دَ هوټل په لور روان شوم- چرته چي دَ یو واچ مېن په چپه ټول ویده وْ- نو ځکه ما هم خوب ته ځان سپارلو دَ پاره خپل ژوندی،خو مړی غوندي وجود په پلنګ باندي دَ سهارکېدو په نیت وَغزَولو -

---

" شوقه ! برایه خبر یي - چي دَ توشي او کائیکو تر منځه غال وشو ؟ "

" دای نو کله وْ؟خو له اول ماخستن بیا چرته تللی وْ "

دَ داني دَ پوښتني په ځواب کي چي روني هم خبره سمه سرته نه وه رسولي، چي ما چوکۍ مخته کړه او ورڅخه مي دَ نور وضاحت غوښتلو په نیت سوال وکړو-

"ګوا دواړه جاپانیانو په خپلو کي -- "

" هو ،اېله یې لاسونه نه واچولو "

زما خبره ماتَولو ورسته چي روني دا وئیلو ، نو یې وَهم خندلو او بیا واي

" یوځل خو ستا ذکر هم په کي راغلو "

" هغه ثنګه او چا وکړو ؟ "

دَ روني دَ ځواب ورسته داني وئیلو-

" نور نه یم خبر ، خو توشي چي ډېر نشه وْ ، په یوه موقعه ستا په رېفرنس ترخه خبره هم وکړه "

" خبر نو ثنګه نه یې داني - ولي چان او بلنډا نه وئیلو ، چي توشي په ډانس کي کائیکو ثپ کړي وه- نو ځکه خو هغې دا دومره هنګامه جوړه کړي وه "

Khyber.ORG

روني لا دومره وئيلو ، چي ميرنا را وَرسېدله او زما په اوږه يې زور راکولو ورسته لږ په سخته لهجه کي پوښتنه وکړه-

" چرته وې برايه ټوله شپه؟ "

" ولې-؟ غلا مي نه ده کړي ، چي داسي راته يشېږې "

زه چي لږ ورته پښتون شوم ، نو هغې هم سرې شونډي وَموسولې او زما له خُنګه کښېنستلو ورسته ډېر په مينه راته واي-

" خفه کېږه مه - برايه شپه يوچا ليدلى وې، چي ته په يوه نيمه بجه باندي له بيچ څخه هوټل ته راغلې "

" يوه نيمه بجه او هغه هم دَ شپې او يوازې؟ "

داني داسي دَ حېرانتيا اظهار وکړو ، لکه لويه توره چي مي وهلي وي اويا مي ډېر غلط کار کړى وي- نو زه ورته کرار غوندي وَموسېدم او دَ هغو په لور مي کتلو ورسته داسي ژبه وکړه -

" ميرنا ! زه بيا دا خبره درته کوم ، ګوا دا زه چي هر څه کوم - هغه زما په وَس کي نه دي "

" نو دَ چا په وَس کي دي "

روني چي په محفل کي خوږلت راوړلو دَپاره داسي وَوئيلو ، نو ميرنا هم دَ خندلو سره زما په ځيګر باندي په زوره لاس راوهلو ورسته واي-

" دغه وران زړه خو يې په داسي کارونو پارَوي همېش "

او په دې ځاى روني هم داسي وار راباندي وَکړو ،

" دا خُنګه زړه دى ، چي -- "

هغه به لا زما ښه او بد دَ هغې مخته ږدلو ، چي ما په څنګلي وَ وهلو او خله مي غوږ ته ورنيږدې کړه ،

" روني خيال کوه - داسي نه چي هر څه وَ واې "

نو ځکه مخته روني خپله هغه خبره داسي ټوله کړه -

" دومره غټ او له هر قسم ويري څخه لاس په سر زړه -- "

" او ښکلا خوښونکي هم "

ميرنا يې خبره مکملولو ورسته بيا راته وئيلو -

" ګوره - زه خبره يم ، چي ته غواړې چي زيات څخه زيات حقائق ټول کړې - لاکن لږ ډېر خيال خو هم ساته "

" هو - کله کله سړی له ژونده په داسي ځايونو کي لاسونه پرېمنځي "

داني چي هم ورسره خبره خوږوَلو ورسته داسي وئيلو ، نو ماته يې سترګه هم دَ چپ پاته کېدلو له پاره وَوهله - نو ځکه بيا زه هم چپ وم او ميرنا لکه مور راته په نصيحتونو سر شوه - او ما لکه ماشوم سرخوځولی وْ او دَ هغې خبري مي اورېدلې - خو څه وخت چي يې تقرير سرته وَرسولو ، نو پورته شوه او دَ توشي دَ مېز په لور ور روانه شوه - کېدلی شي ، په دې نيت چي هغه ته هم دَ برابه شپې په حقله دَ هغه تېروتني ورپه زړه کړي او يا نصيحت ورته وکړي - او دلته چي موږ څنګه هغه پخوانۍ خبره منځ ته راوړله ، نو کائيکو هم راورسېدله او کښېنستلو ورسته واي -

" توشي راڅخه نن سهار وختي په فون باندي مافي واخيستله او خپله تېروتنه يې ډېره احساس کړي هم وه "

" څه ښه وَشو - "

ما چي دا وئيلو ، نو هغه هم واي-

"ښه نو ته برايه شپه چرته وې؟ "

"ولي هلته نه وم ، چرته چي - "

"تا يو وار له اپډوين او بيا له توشي سره ډانس کولو "

"او څنګه مي توشي وَغالولو ؟ "

"هو ، لاکن هغه خو هم -- "

"هو - ځکه خو مي ورسره غال وکړو ، چي هغه څله له زوره کار واخيستلو او زه يې څپ کړم "

زه ورسره داسي ژغېدلم ، لکه دا هر څه چي ما په خپلو سترګو ليدلي وي او بلي خواته روني هم زما وَ دروغو ته ډېري په خوند اورېي ورکولې لګيا وْ - ما او روني به اوس په دې ګپه نور خوند اخيستلو ، چي کائيکو مخته په موسکا کي واي -

"برايه شپه ډېره ښه او دَ خوند شپه وه "

په زړه کي مي وئيلو ، چي له دې هر څه پرته هم لا شپه ښه ګڼي - او بيا مي په ځان باندي خندلو ورسته سوچ کولو ، چي دا خو پښتانه نه دي ، چي په معمولي خبرو لکه غويان ښکرونه دېوال ته نيسي - دا خو هغه انسانان دي ، چي لوي لوي تېروتني لا په Sorry وئيلو معاف کوي وَسړي ته -

لنډه دا ، چي دَ پروګرام په سمه دَ کاسموس بس په پاوکم نهه بجې دَ سان سباشئين له هوټل کوډينا څخه مخته پېښه وکړه - او ميرنا هم دَ خپل معمول په شان دَ سهار سلام کولو ورسته وئيلو -

" زما خوږو ملګرو- له دې ځایه دَ سپېن او فرانس بارډر فقط **15** کلومیټره لیري دی- ګوا دا هغه ورستنۍ دقیقې دي ، چي موږ یې په سپېن کي تېرَوْ- نو ځکه زه لتاسو څخه دا خواست کوم ، چي دا یو څو ورځي ټرپ لا پاته دی- نو ځکه غواړم ، چي تر خپلو یې په خوند او په مینه مینه تېر کړو "

زړَه آسټرېلین کېرولین کېنیډي چي نن له ما سره ناسته وه دَ میرنا دَ خبرو په ځواب کي له ځان سره داسي وَ بُونېدله-

" مینه او انسان- هیڅ نه ، بس ځانونه خطا باسل دي ؟ "

په زړه کې مي وئیلو ، چي دا مورکۍ هم لکه چي ډېره انساني روئیو کړَولي او چیچلي ده لکه چي، نو ځکه مي ورڅخه پوښتنه وکړه-

"ولي انسان او مینه دوه بېل شیان دي؟ "

"چا وئیلو داسي؟ "

دَ هغې په یو دم پوښتلو ما غاړه تازه کولو ورسته ورته وَوئیلو ،

"لاکن زما نېږدې خو انساني روئې وار په وار ځناوري کېږي لګیا دي "

زما په دې خبري هغې یو وار ماته ښه راوکتلو او بیا موسېدلو ورسته وای

"ته بالکل صحیح وای ځوانه"

او بیا دَ نري ټوخي ورسته په کېېدلي رېېدلي ، لاکن ډېر په شوخ اندز کي دې خواپاکي بوډهۍ مخته وئیلو-

"زه دا یم زړَه شوم ، لاکن ما په انساني رښتو کي هغه خوږلت نه کړو محسوس، کوم چي په کار وْ- او ما دَ میرنا دَ میني په توري ځکه وَخندلو ، چي انسان دَ میني په ځای نفرت ته جوړېدلی دی نفرت ته ، هو- "

او بیا یې سره ساه اخیستلو سمدستي په مخ لاس داسي تېر کړو ، لکه هر څه چي اوس اوس له هغي څېرې څخه څنډي ، چي کېدلی شي په خپله ټولنه یا کورنۍ کي ځانته نوم لري- نو ځکه ما وار لاس ته کولو ورسته داسي ورته وَوَئیلو-

" داسي ځکه ، چي انسان له اصله ځناور خو دی او دا لږ لږ چي دَ انسانیت دمامې وهي - هغه له یو بل څخه دَ سر امان کولو په سوچ- ګني چرته چي هم انسان په چا باندي وار پیدا کړی دی ، هلته یې حېوانان شاته پرېښي دي "

ما چي دا خبري کولې ، نو هغې ماته کتلو او دَ تندي په ګونځو کي یې راڅخه داسي پوښتني کولې، لکه

" ځوانه ! تاته خو لا بلا عمر ګوري-چي نن ته وَدې نتیجې ته رسېدلی یې- نو ګوره چي سبا به دي دا کرکه کومه بڼه اغوندي؟ "

اوس به یې خپلو سوچونو ته ژبه ورکوله ، چي میرنا زمورږ پام دَ هغې په خوا وارَولو او وای-

" دَ سپین دَ خلګو روئیه دَ اروپا له نورو خلګو سره ځکه هم نه ګډوځي ، چي دا خلګ دغه دي چي خپل مخي ته ابله کړل شوي دي- ګوا دلته ژوند تېرَول یو فن ګڼل کېږي او په دې فن کي حقه خبره ده ، هغه خلګ به بریالي وي ، چي هنرمن وي - نه چي سُورتمن "

داخبري چي یې کولې ، نو دَ Irun نامي ټاوْن له دې ځایه دَ سړک دَ یوه بوږه په سمه فقط **9** کلومیټره لیري وْ- ګوا اوس مورږ دَ پکاسو له هېواده په وتو وْ- نوځکه هر ملګري دَ دې هېواد ورستنۍ ننداري کولو په نیت یوې بلې خواته دَ بس له شیشو دباندي کتلو-

دا سیمه دَ ډبرینو غرونو په چپه په شنو غرونو کي هم وریته وه- کله کله به غټ غټ هوار او سپېره میدانونه هم مخي ته راغلو- کومو چي نه یوازي ماته عربیان راپه زړه کولو ، بلکي دَ هغوئ دَ حکومتي انداز په حقله یې په داسي سوچونو پارَولم هم ، ګوا

"خود به دلته هم دَ هغوئ هغسي دَ رائیلتۍ ټولولو او شپه او ورځ خوبونه کولو خوُیونه پاته شوي وي؟ ګني داسي په آسانه هم دَ صدیانو قبضه نه ختم کېږي "

دا خبري چي مي سوچ کولې، نو يو دم ماته دَ سپين دَ خلگو څبري راپه زړه شوې او په زړه کي مي وئيلو-

" څومره چي عربيانو دا دَ سپين خلک دَ څبرو په نقشونو کي ځانته موئولي دي ، بس که يې دغومره لاس وهني دَ هغوئ دَ ژوند په کړو وړو کي وهلي وی- نو نن به دَ هسپانيانو په باب دا خبري نه کېدلي ، چي گني هغوئ بدنونه خپل نه ، بلکې دَ بل امانت گڼي "

ما چي دا خبري په ډائرئ اړَولې ، نو کېږولين مي دَ ډائرئ په لور کتلو او څنگه چي ما ډائرئ بنده کړه ، نو هغه واي-

" دا خو عربي رسم الخط دی- ته عرب يې؟ "

" يَه- زه پښتون يم پښتون "

" پښتون ؟ "

په پښتون يې ستن درېدلو ورسته پوښتنه وکړه ،

" دا نوم ما په لومړي ځل اورېدلی دی- دا قام چرته اوسېږي؟ "

دا سوال که څه هم زما په سر دَ ټکي تر رالوېدلو کم نه وْ، خو ما همت وکړو او په ځواب کي مي ورته داسي په مړه خله وَوئيلو-

" دا هغه قام دی ، چي ورته په پاکستان کي پښتون او افغانستان کي افغاني وئيل کېږي "

" ښه ښه ته افغان يې- "

بيا که يې څه هم زړه خبرو ته غوښتلو ، خو ما مخ په بله ځکه واړَولو ، چي دې وخت زه له هغې سره دَ برابرئ په بنياد نه ، بلکې دَ يو مانده تول لرونکي انسان په حېث ناست وم- او ما

Khyber.ORG

نه غوښتلو ، چي نور نور په دې سوچ زما په بدن کي وینه وچه شي- ګوا زما قام تر او سه دَ قام په بڼه لاهم نه دی پېژندل شوی او نغاري یې په خپلو کي تر لیري لیري دَ پښتونولۍ ځي-

او دا هغه لمحه وه ، چي زما په روئیه او سوچ کي یې یو طوفان رابرسېره کړو او زه دَ خپل قام او ننګ او ناموس په حقله دَ نورو نړیوالو په سترګو کي له خپله سوچه وَلېدم- او زه داسي له پښتنو زړه ماتی شوم ، چي بیا مي هڅو په ذهن کي لا دَ بل سره دَ سېلالۍ سوچ نه راغلو- که څه هم حقیقت خو دا وْ ، چي زه دَ هغه قام غړی وم ، چي پرون ورته مارشل قام بلل کېدلو- خو تاریخي المیه دا ، چي نن یې څوک پېژني لا نه -- چي دا هم قام وْ او که دَ ډائیناسور یو قسم ، چي له وخت سره ترخاورو دلاندي شو ؟

" دلته په دې بارډر کېدلی شي ، چي پاسپورټونه وګوري ، ولي چي فرانسویان په دې معامله کي څه سخت دي "

اوس ټولو ملګرو خپلو خپلو بېګونو کي پاسپورټونه لټولو لګیا وْ- او یو روني وْ، چي په بس کي یې داسي یوې بلي خواته چکرونه وهلو ، لکه دا چي بس نه ، لاره وي- او وه هم داسي کیسه ، ولي چي په موټروې باندي بس اوس داسي روان وْ، لکه ولاړ چي وي- او بیا چي روني تر ما را ورسېدلو ، نو په غوږ کي راته واي-

"هلته مخته ګوره نن میرنا څومره ښائیسته برېښي؟ "

" لاکن زه په غور ورته ځکه نه ګورم ، چي هغه خو ستا دَ مستقبل -- زما مطلب مائینه ده "

" لاکن که یې هغه دانیال دَ -- زوی راپرېږدي "

" له هغه بې غمه شه ، بس خپل وس کوه "

" لاکن دا وس چي مي له لاسه نه کېږي، نو بیا به څه کوم ؟ "

" بیا نو خپل خوبونه کوه او په خوبونو کي ورسره وینه را وینه "

"ستا په خيال چي دا زما عمر دَ هغه رنګه خوبونو ليدلو دی ؟ "

"ښه ښه -- نو داسي وَوايه چي زوړ شوې ، لاړي "

"زه او زوړ ؟ "

او بيا يې له لستوڼي چي لېچ څنګه راښکاره کړو ، نو دَ ميرنا سترګي ورباندي وَ نښتلې ، نو ځکه يې خو يې وه هم خندلو او بيا په سپيکرانو کي له يُوهو کولو ورسته واي -

" هو ، چپ له هغه ځوان او تکړه روني - چي دې وخت شوق ته دَ خپلي ځواني زور ور ښئيي لګيا دی "

او بيا په بس کي ناست هر ملګري شا شا ته زموږ په لور داسي کتلو لکه مېله چي لګېدلي وي ، نو ځکه خو روني هم سپين سترګي و کړه او په ولاړو يې ټولو ته چي خپل لېچ بيرته دَ پالوان غوندي ښکاره کړو ، نو ميرنا ورباندي داسي ټوکه وکړه -

"له بدو سترګو په امان - کښېنه کښېنه، چي نظر نه شې "

دا خبره چي يې څنګه وکړه ْ نو که څه هم ټولو ورباندي وَخندلو ، خو ما ځکه نه ، چي ما په زړه کي وئيلو -

"ښه ښه نو دَ دې مانا دا شوه ، چي دا خلک هم دَ سترګو په بد نظر يقين لري "

دَ ښې ډېري هنګامې او ها هو کولو ورسته ميرنا له مخه زُلفي په شا څنډلو ورسته وئيلو -

"داسي ملګري به هم وي ، چي له دې هبواده په وتلو خوشاله وي؟ "

"زما په خيال چي هيڅوک هم نه - "

ډېني هاوْ چي داسي خبره له خلې وَايستله ، نو ټولو يې په خپرو کي تائيد وکړو او بس دَ سپين فرانس دَ پُولي پلازو مخته برېکونه وَنيولو -

*****

# دَ مونا ليزا په موسکا مورِ هېواد

تر اوسه که څه هم هيڅ توپير دَ فرانس او سپېن دَ مځکو تر منځ نه وْ سترګو ته راغلی- خو نری باران ، سړه لاکن دَ سهلو ورِ هوا ، او دَ غونډيانو په سرونو او په لمنو کي په شنو بُوټو باندي پرته واوره هغه څيزونه وْ ، چي مورِ يې په سوچ کولو او کتلو ته ورپاړَولو- نن دَ اپرېل څوارلسمه اوکال 1996ع ، چي دَ کاسوس کاروان ګوا دَ نړئيز سپلانيانو بس فرانس ته پېښبه وکړه- او دَ معمول په شان ورسره جورِ ببنک مخي ته وَدرېدلو- فرنچ فرېنک تر لاسه کولو دپاره ټول کښته شولو- بيا چي څوک هم له ببنک څخه راوتلو ، نو دَ هغه مخه دَ ټائيلټ ، چي دلته ورته Bouchi واي په خوا ځکه وه، چي له سهاره راهسي دا زمورِ لومړنی سټاپ وْ-

"نن سبا له ونېسا سره نه ليدل کېږي - څه وجه ده؟ "

"تاته مي در پرېښبوله "

ما بهلا دَ توشي دَ سوال په ځواب کي مخته خبره کښبَوله ، چي هغه داسي وار لاس ته کړو او واي-

"زه منم ، خو هغه زما دَ تاش کولو او هېلو هائي تر هانده دوست ده ، نه چي - "

او بيا يې خندلو ورسته خبره داسي مکمله کړه -

"زما مطلب دا ، چي ته خپله ښه پوهېږې "

"ولي - هغې تاته زما په باب هر څه وئيلي دي ؟ "

"يَه داسي خبره هم نه ده بلکې هغه خو- "

توشي په ونېسا باندي داسي پړده څه اچوله ، چي زما شک يې په يقين هم بدلولو لګيا وْ- او مخته خبره ځکه نه لاړه ، چي روني هم دَ ټائيلټ له خوا راوَرسېدلو او موږ له نورو ملګرو سره بيرته بس ته وَختلو- توشي چي زما تر شا را روان وْ ، وئيلو يې -

"ونېسا خو ستا دوسته هم ده او تاته احترام هم لري"

په زړه کي مي وئيلو ، چي چرته دَ برايه دَ واقعې له سوبه خو ونېسا له هغه څخه خفه شوي نه ده ، چي نن داى داسي نيږدې نيږدې کېږي- ما لا دا سوچ کولو ، چي ونېسا ته مي پام شو ، چي بيا خپلي چوکۍ ته رسېدلي وه او نبغ نبغ يې راته کتلو- څنګه چي زما ستر ګي ورسره ځلور شوې ، نو هغې ستر ګي داسي ګُوزي کړې لکه په ځان ځان کي چي پښېمانه وي-

بيا چي بس څنګه مخته رهي شو ، نو ګائيډ واي-

" يو هو - که څه هم زموږ دا دريمه دوړه ده وَ فرانس ته ، خو دې ځل زه دَ کاسموس ټوْرنګ کمپنۍ له خوا په فرانس کي باقاعده هرکلی درته وايم- دلته به تاسو دا ليدلي وي ، چي په بېنک کي دَ فرانسويانو روئيه سخته او ډېره شکمنه وه- دا مي ځکه وَ وئيلو ، چي په فرانس کي له چا دَ موسکنۍ روئيې هېله مه لرئ- دا خلګ په ځان کي غره خلګ دي"

خبره چي يې تر دې ځايه را ورسوله ، نو ونېسا شاته وکتلو ، او بيا زما ورپام شو- ګوا بيا بيا مي دَ هغې په لور ستر ګي وراړوَلې- خو مخته هغې نه راکتلو -

" دا امريکائيان هم عجيبه خلګ دي- چي په کار يې شې، نو ځان درباندي جاروَي- خو بيا چي يې کار تر سره شي، نو اول يې په تا زده کوي- هو لکه دا ونېسا ، چي دَ دين او ايمان پته يې نه لګېږي- خوشالي يې په خوشالي نه او خفګان يې خفګان نه ګڼېږي "

خو ما هم له ځان سره دا کست کړى وْ، چي بيا به يې په دام نه کنېبوځم که خداى کول- ولي زه خو هم آخير هغه پښتون يم ، چي په هوډي کي مشهوره دی- سوچ مي تر دې ځايه رسَولو ورسته ميرنا ته غوږ ونيولو ، چي وئيلو يې-

Khyber.ORG

" دَ فرانس په حقله مي مخته هم ډېر Tips درکړي وُ، خو نن به دا درته وَ وايم ، چي له دې خلګو دَ انګلش وئيلو توقع ګرسره مه کوئ او زه درته وايمه ، چي ډېره انګرېزي ورسره وايم هم مه- بې له خپلي ژبي يې په دَنيا کي بله ژبه نه خوښېږي- او وجه يې شاهد چي يوه دا هم وي ، چي فرانسيسي ژبه له انګلسۍ سره سمه په نړۍ کي مقابله کوي او قريبًا په کم او زيات 62 هېوادونو کي دا ژبه لږ يا ډېره وئيل کېږي "

او بيا يې داني سره په خپلي ژبي کي څو خبري کولو ورسته وئيلو-

" په دې هېواد کي به درې شپې کوُ- نن شپه په Saintes کي کوُ، خو دَ غرمې ډوډۍ به په Bordeaux کي خورو او سبل به يې هم کوُ "

ميرنا لا لګيا وه ژغېدله ، چي له ما سره ناسته بوډهۍ کېرولين کېنيډي راته واي -

" فرنچ له ليري ښه او له نيږدې بد خلګ دي "

" دا متل دی - که ستا رائيه ده؟ "

ما چي پوښتنه وکړه ، نو هغه په سيټ کي دَ سمبدلو ورسته واي-

" وئيل کېږي داسي - نوره نه يم خبره "

" آسټرېلين څنګه خلګ دي؟ بخښنه غواړم ، په دې مي پوښتنه وکړه ، چي ته خپله هم له آسټرېليا سره اړه لرې "

هغې اول ماته وکتلو او بيا موسبدلو ورسته واي -

" زما رائيه کېدلی شي چي مانا نه ولَري ، لاکن بيا هم وايم چي هغوئ دي خو ښه او پاسته خلګ ، مګر هغه هم دَ انګلسيانو خوئې لري "

" څنګه خوئې؟ "

Khyber.ORG

ما سوال وربیا کړو-

" دا چي هر څه خپل ګڼي او په بل يې هيڅ هم نه پيرزو ْ کېږي- لاکن بيا هم دا خوئيه يې دَ منلو ګڼم ، چي څوک ياني پرېدي وربانديِ پوهېږي هم نه- دَ مزې خبره دا ده ، چي هلته هم دننه دننه له انګلسيانو څخه کرکه دا سي کېږي لکه دلته چي يې فرانسويان کوي ورڅخه - خو خبره هغه ده ، چي انګلسيان يې په ځان پوهـ کړي هم نه دي "

يو ځل مي لا په زړه کي دا خبره راغله ، چي ورته وَوايم ، چي دَ دې مطلب دا دی ، چي آسټرېلين منافقان دي- که څه هم ماته ډېرخنده رُويه ښکاره کېدله- خو زما له خوا چي هيڅ قسم خبره دَ هغې دَ رائي په باب نه وره غله ، نو هغې ماته راکتلو ورسته پوښتنه وکړه-

" دا حال راکړه ، چي ستاسو خواته خلګ څنګه دي؟ "

" دي ډېر ښه او ساده ، لاکن مثالي انسانان بيا هم نه شم ورته وئيلی- ولي ، چي هلته هم اوس روئيږي --- "

که مي څه هم مخته دا وئيل غوښتلو ، چي

"--حېواني شوي دي "

خو وئيلی مي نه شو ، ولي چي خپله پښتون وم- ځکه مي خبره دا سي پوره کړه ، ګوا

" دا حال هر ځای دی - بس توپير دا دی ، چي چرته ډېر په موسيدلي انداز او چرته په خشم خشم لکه ځناور "

" هو - انسانان ځناور شولو ځناور "

او دا دَ ځناور توری ، چي يې له خلې ايستلو ، نو يې دَ زمری غوندي بُوبُوبُوبُو غوندي لفظونه هم ايستلو او بيا يې کلک وَخندلو- ما هم ورسره خله خندا ته ويره کړه او دواړو چي په ګډه خندلو ، نو هلته له شا روني را ژغ کړو-

"زما دوسته ! خیال کوه ، چي دا بیا ځان نه درباندي واړَوي "

دا خبره که څه هم ډېرو واورېدله ، خو څوک په دې اشاره پوهـ ځکه نه شو ، چي دَ هیڅا نومونه یې په خبري کي نه وُ اخیستي- خو زه خبر وم ، چي دا یې ماته وئیلو- او دا هغه لمحې وې ، چي اوس ونېسا هم بیا بیا شاته سردوباره کتل راته پیَیل کړي وُ- لاکن ما به هم په هر وار سترګي ورڅخه په بله اړَولې-

" دَ فرانسیسي انقلابي ډغرو ، دَ فرانسوي آرټ، تعمیراتو او ویاړمني روئیې څخه پرته په فرانسوي ادب کي رزمیه سندري، چي ورته ( شانسون دی ژست ) وئیل کېږي اوس تاسو په دې سندره کي اورېدلی شئ ، چي دَ ( شانسون دی رولان ) په نامه مشهوره ده- ګوا په دې کي دَ عربیانو سره دَ پخواني جنګ کیسه بیان شوي ده- او داسي رنګه سندري او نظمونه په فرنچ عوامي ادب کي خورا ښه مقام لري "

او بیا دَ بس په سپیکرانو کي دَ قوالۍ یا کورس په طرز سندري وې ، چي تر ډېره پوري ژغېدلې- که څه هم هیڅوک نه ورباندي پوهېدلو ، خو خوند یې ورباندي ځکه اخیستلو ، چي دغه یوازیني دَ میوزک ژبه خو ده ، چي ټوله دَنیا ورباندي پوهېږي- او بس په تور هوار سړک باندي مخته رهي وُ په داسي علاقه کي ، چي که څه هم غرونه شاته پاته شوي وُ، خو ځنګلي ونې نوري نوري ګڼېدلې لګیا وې او باران هم تم شوی وُ-

---

" مورِ له یو بل سره دومره ښه ملګري وکړه، چي اوس فکر کوم ، چي تا به په کومو تورو څو ورځي ورسته رخصتوم؟ "

دَ لوي لاري په رېستورېنټ کي زما مخته ناست ملګري داني چي داسي وئیلو، نو ورسره ناست روني هم خبره خوږوَلو سره سره سر پورته کښېنته کولو -

" زه به هم ډېر خفه یم ، چي تاسو بیا هلته په برطانیه کي نه یاست راسره "

" کېدلی شي ، چي ما او داني کله ستا هېواد ته هم درشو- وایه - وژلي خو به مي نه هلته خلک؟ "

Khyber.ORG

روني چي دا خبره وکړه، نو که څه هم په ما لږ بده ولګېدله ، خو بيا مي هم په موسکا ورته وئيلو-

"زما دَ سيمي خلګ او موږ هلته او سېدونکي ډېر مېلمه پالونکي خلګ يُو "

او مخته په دې چپ شوم ، چي کائيکو او ونېسا دواړي راورسېدلې او بې سته له موږ سره څه کښېنستلې، چي زه دَ روني په خبري کي ورک شوم او ځان سره مي وئيلو-

"دا ځکه خو څوک موږ سره ربښتې نه هوارَوي - چي زموږ نوم دَ مرګ ژوبلي کونکو په حېثيت پېژندل شوی دی- او دا حقيقت خو هم دي ، ولي چي زما په قام او هېواد کي بې له مرګه بله کومه داسي لوبه ده ، چي کېږي دَ ژوند- ګوا نن مسلمان او دهشت په يوه نامه يادېږي- که څه هم اسلام دَ امن دين دی- مقصد او مرام يې امن دی - لاکن دا نن يې له انساني وينو تويَولو سره څله منسوب کوي دُنيا ؟ "

دا هغه سوال وْ ، چي کېدلی شو ، چي ما يې ځواب موندلو ته نور سوچ کړی وی ، که ونېسا زما پام دَ ځان په خوا نه وی ګرځولی-

" شوقه ! تا خو ډېر څه دَ مطالعې دپاره ټول کړو "

"ولي ته خو هم لګيا يې "

" هو- لګيا يم ، لاکن داسي نه ، لکه ته چي لګيا يې "

" ستا دَ ستهړي انداز خوند راکوي "

ونېسا چي څنګه دَ خوند خبره وکړه ، نو کائيکو را وَدانګلو ، او واي-

" مهرباني وکړئ - تاسو دا ستهړي ستهړي يو خواته کښېږدئ او دا کوفي در واخلئ ، سړېږي لګيا ده "

لاکن ونېسا وه ، چي چپ کېدله نه او داسي ژغېدله لکه مورِ چي کله هم خفه شوي نه وْ- لاکن ما بیا دا هڅه کوله ، چي زیات څخه زیات له کائیکو سره خبري وکړم- ولي ، مخامخ ناست روني دَ سترګو په اشاره داسي کولو دپاره راته وئیلي وْ- بیا چي کله پورته کېدو ، نو مي کائیکو ته وئیلو-

"که ما او تا هم هلته دَ شا په خالي سیټونو کښېنو ، نو به ښه نه وي؟ "

دا هغه خبره وه ، چي په ونېسا ډېره بده لګېدلي وه ، هو که یې څه هم هغه وخت ظاهره کړي نه وه ، خو په بس کي چي زه او کائیکو هلته شاته په یو سیټ کي ناست خندلو ، نو هغې به دَ ټیپي زمرۍ په شان بیا بیا په سرو سترګو راته کتلو- او ماته یې سکون په دې وجه راکولو ، چي هغه دې وخت دننه دننه سوځېدله ، ویلېدله او څوڅکېدله لګیا وه- او دلته زه وم ، چي نوره نوره مي انتقامي جذبه ګ پرې سړَوله- منم ، چي زه هم دې وخت تاواني کېدمه او کائیکو په زړه کي ورنقش کېدمه ، خو کولی مي هم څه شو؟ پښتني هوډي چي په داسي کولو پارَولمه-

"ابشئین که څه هم دَ ژوند په لوبه کي له اروپا او امریکا څخه شاته پاته دي ، خو جذبې یې لا هغسي تودې او اخلاصمني دي"

دَ کائیکو دې خبره که څه هم په سوچ کولو مجبورَولم ، خو ما ځان یو دم هم دَ هغې په لاس کي نه ورکول غوښتلو ، ولي چي زړه مي بیا هم دَ هغې په لور ټالی وهلې، په ځا چي مي اوس اورونه ورتاوَولو-

کله کله به مي دَ بس له شیشو دباندي هم وکتلو او هغه کورونه ، چي له یو بله لیري په پټیانو کي یو بامیزه جوړ وْ به زما په زړه کي داسي حسرت هم راژوندی کړو ، چي

"کشکې دلته مي کور وی- دا کور نه -هغه کور هم نه - هو هغه کور زما وی"

خو کائیکو وه ، چي هیڅ کار ته یې نه پرېښولم او په دې دومره ساعت کي یې بلا قولونه په ما وکړو- په کوم کي چي یو قول له هغې سره بیا دَ یو بل ډنر خوړَلو هم ورکړ وْ-

Khyber.ORG

څه مخته چي تلو ، نو هلته يو غټ ټرالر چپه شوی وْ او روډ بند وْ، په دې خو بس په يوې نرۍ لارې باندې ورسم شو- دا لاره که دَ پنجاب دَ کلو له لارې بده نه وه، خو ښه هم نه وه- او په لومړي ځل مورِ په دې ټوَر کي ديکې خوړلې لګيا وْ- ځکه په نورو نه يم خبر، خو دلته کائيکو څه زياته ځنګېدله او بيا بيا يې په ما ځان رااچولو ، او خندلو بې هم- په زړه کي مې وئيلو ، چي دا جاپانۍ به له ما ونېسا ، چي اوس تياره امريکه برېښېدله دا سي خفه کړي ، چي بيا به يې زما بې وژلو زړه نه سړېږي-

" دا سي کله کله کېږي- ډېر ژر به مورِ په دې ښکاره ټاوْن راګرځېدلو ورسته موټروې ته پېښه وکړو- ښه به دا وي ، چي هغه کلی به هم وګورو- څنګه؟ "

" هو دا خو ښه خبره ده "

ما چي دومره وئيلو ، نو هغي را روژدېدلي جاپانۍ پوښتنه وکړه-

" کومه خبره؟ "

سر مي وَښورَولو او بيا مي ورته وئيلو-

" که ته لږ لاره راکړي ، نو زه به دَ يو څو دقيقو دپاره روني سره کښېنم - که ستا خوښه وي "

" ولي نه ولي نه "

او بيا يې ماته دَ تېرېدلو لاره جوړه کړه-

" نن خو دي له ونېسا ډېري بدلې واخيستې- مورِ اوس هم دا خبره کوله "

" پاکستانۍ دی آخير "

زه چي لا سم دَ داني او روني سره دَ شا شا په اوږده سيټ کي کښېنستی نه وم ، چي هغوئ دا رائې راباندي پاس کړې- نو ځکه ما هم له کښېنستلو سره سم ورته وَوئيلو-

"دا خو منم ، چي ښه کار کوم لاکن - "

او بیا یودم سوچ راغلو ، چي یاره دَ چا پرده نه ده اخیستل په کار ، نو ځکه مي خبره واړَوله او داسي مي سرته ورسوله،

"لاکن ځان راته ظالم ښکاري او زه ظُلم کولی نه شم "

"ولي هغې لږ وکړو ظُلم "

او بیا خبري پاته ځکه شولې ، چي میرنا وئیلو-

" دلته فرانسویان چي څومره په ښارونو کي ځانته څه وئیلو په موډ کي دي- هم هغسي په دې وړو کلو کي هم خلګ په حېثیت دَ فرانسوي ډېر ویاړ کوي "

"دې ته واي ننګیالی او غېرتي قام "

زما له خلې چي دا خبره یو دم وَوتله ، نو روني واي -

"تا څه وئیلو ؟ "

"هیڅ نه - بس لږه خپله ژبه راڅخه وَوتله "

"هو خپله ژبه خو خپله ژبه وي "

"ښشکه - چي خپله ژبه خپله پېژندګلوي وي "

او دومره وئیلو ورسته مي په زړه کي راغلو ، چي اوس به په دې خبره خپل هغه پښتانه څنګه پوهـ کوم ، چي تر خپلي ژبي یې عربي زیاته په دې خوښېږي، چي هغه جنتي ژبه ده- لاکن په دې یې سر بیا نه خلاسېږي، چي دا ژبي او قامونه خو هم دَ خدای جوړي کړي دَ پېژندګلوۍ لاري دي- او له قامه یا له ژبي انکار له پلاره انکار بللی شي- که یَه پښتون

Khyber.ORG

کېدل ګرسره دا مانا نه لري ، چي ګوندي بیا به هغه پښتون دوزخ ته ځي- دوزخ او جنت په عمل تر لاسه کېږي ، نه چي په عربي کولو او پښتو نه کولو -

دَ ګهړۍ ستني چي څنګه دولس بجو ته ورسېدلې ، نو موږ هم په یوه غټ او خپور وور ښار کي ورګډ شولو ، چي میرنا یې په حقله وئیلو-

" دا دی بورډیاکس هم راورسېدو- کوم چي دَ روائیتي فرنچ دروازو او کهړکیانو په اړه نوم لري- او دلته په کي وائن ډېر دَ خوند جوړېږي- بل دا ، چي تاسو فرنچ سوپ، سېنډویچ او فرنچ مخصوص برېډ څخه خوند اخیستلی شئ- بلکې که وَغواړئ ، نو له هغسي فرنچ کیسنګ څخه هم "

دا ورستۍ خبره یې ځکه وکړه ، چي بس دَ کوم غټ مارکېټ وَ مخته پارک کېدو لګیا وْ، نو هلته مخامخ په لمرکي ولاړي جوړې خلې په خپلو کي سره ورکړې وې -

---

دَ ګرېنډ تهېټر، Esplanade de Quinconces چي دَ دې ښار Bordeaux تر ټولو لوی اسکوائر بلل کېږي باندي راګرځېدلو ورسته Mosee des beaux Arts سره په څنګ تېرېدلو او Place de La bourse او St- Andre چرچ کتلو پسته په شاپنګ ائیریا کي چي څنګه خپلي خوښي ته خوشي کړل شولو ، نو دَ فلیپینو په چپه کائیکو هم راڅرمه شوله- خو ونېسا چي دې وخت زموږ مخته په څه فاصله باندي یوازي روانه وه هم دَ داني په ست راسره ملګري شوه-

" دلته هم داسي کېږي؟ "

دا سوالیه خبره مي له خلې یو دم هغه وخت وَوتله، چي ما تر یو درځن هم زیات سړي او ښځې په هغه امبار باندي شیان ټولولو کي بوخت وَلیدلو ، چي دوکاندارانو ورباندي کچره غورځولي وه- زما دپاره که څه هم دا نوي خبره وه او ما داسي سوچ کله هم نه وْ کړی، چي ګوندي په ترقي یافته هېوادونو کي به هم ځیني خلګ خپل رزق لکه دَ هغو افغانانو ، چي په خپلو کي جهاد ته جوړېدلي دي ، خو واړه زامن او وړې لُوڼي چي یې ټولوي- لاکن زما ملګرو ته دا خبره نوي ځکه نه وه ، چي دَ کائیکو له قوله ، نور خو لا نور- په جاپان کي هم یو نیم ځای داسي خبري په نوټس کي راځي-

" هر کس دي خپله خپله خوري ، چي څه يې زړه غواړي "

روني چي دا خبره کوله ، نو کائيکو چي نن ښځي خوشاله وه، وئيلو-

" نن زما له خوا تاسو ټول زما مېلمانه ياست "

لاکن هيڅا چي نه ورسره وَمنله ، نو هغې ماته مخ راواړَولو ورسته وئيلو-

" ته يې نو وَخوره "

" ځه مړه وَبه يې خورم "

داسي مي بيا دَ چا په زړه مالګي دُوړَولو دپاره وکړو، خو هغه وه، چي که يې څه هم په څېرې باندي هيڅ نه ښکاره کېدلو- خو په زړه يې يو خداى خبر وْ-

" دا هغه انجوني نه دي؟ "

دوې پېغلي، چي هلته يو بل ځاى هم په مخه راغلي وي ، چي په دې رېستورېنت ځنګه رادننه شولې، نو داني زمونږ پام دَ هغو په لور داسي واړَولو، لکه هغه چي يې تر اوسه لاره کتله- هو هغه دواړي دِ ېري چټي پېغلي او سپيني سرې هم وې- اوس لا مونږ دوډۍ خوړله ، چي هغه دواړي راورسېدلې او روني ته واي-

" مونږ هم لتاسو سره په دې خالي چوکيانو کښېنتلی شو ؟ "

" ولي نه ولي نه - راځئ راتېري شئ "

هغه چي ځنګه لار ورکولو دپاره ولاړ شو، نو يوي ورسره اوږه له کسته وَموږله او واي-

" سوري سوري - او په خندا خندا يې ځنګ ته لاکښېنستي نه وې ، چي داني په خپله ژبه کي روني ته ځنګه يو څه وَ وئيلو، نو روني سپک ولاړ شو او په دې بله خوا زما له اړخه په خالي

Khyber.ORG

چوکۍ کي زما او دَ ونېسا تر منځه کښېنستو- انجونو، چي خپله دا حربه ناکامه وَليدله ، نو بيا په سوري سوري وئيلو پورته شوې او دَ هغه مېز په لور لاړې ، چرته چي نور غېر ملکيان ناست وُ-

"ګوره- ما وئيلو ، چي هغوئ غلې دي"

داني دَ روني په خوا کتلو ورسته چي دا سي وئيلو ، نو ونېسا واي-

" ماته نه ښکاري ، چي هغوئ غلې وې، ولي چي دَ دواړو په لاسو کي کتابونه هم وُ- خود لکه چي کالجياني وې "

"کېدلی شي، لاکن ما دَ هغوئ په سترګو کي لا هغه وخت دا سي وليدلو ، لکه هغوئ چي له مونږ سره په يوه نا يوه بهانه نيزد بکت دَ شوکمارۍ دپاره غواړي "

داني چي دا خبره کوله ، نو هغو انجونو هلته په هغه بل مېز باندي هم له هغو نورو ځوانانو سره خبري په خندا خندا کي کول پئيل کړي وې او هڅه يې کوله ، چي په داوْ کي يې ورګېر کړي-

له دې ځايه پورته کېدلو ورسته بيا زه وم او زما په يوه نا يوه بهانه له خلګو څخه پوښتني او هغه هم دَ انګلسۍ په باب- نو حقه خبره ده ، چي ماته به له ډېرو ستونځو سره سره دَ فرانسويانو دَ ښېخي سخت ردعمل مخامختيا هم شوي وي- دغه ورځ ما وَمنل ، چي دې خلګو دَ کرکي تر هانده له انګلسۍ څخه بد کېږي- او يو نيم ځاى خو يې انګلسۍ ته ښکنځا هم وکړې- خو زه وم ، چي نوره نوره تلنه مي دَ هغوئ دَ روئيو کوله او ځانته مي حقائق دَ خپلي تسلي په سمون راټولو لګيا وم-

غرض دا ، چي دَ پروګرام په سمه ماښپښين دوه نيمي بجې زمونږ بس مخته رهي شواو څه وړاندي دَ عدليه دفتر سره په څنګ کي تېرشولو- بيا دَ يو راوْنډ اباوْټ په منځنۍ برخه کي جوړ دَ شاپېرۍ بُت يو اړخ ته پرېښولو ورسته دَ بورډياکس له درياب سره سره مخته روان وُ- دغه رنګه دَ Ley Peper نامي دوه باميزه پلازه او بيا ښه وړاندي دَ مېګډونلډ پلازه شاته پرېښولو ورسته دې وخت مونږ موټروې ته ور سمېدلو لګيا وْ او ميرنا وئيلو-

" له دې ښاره تر سېنتهس پورې لاره دَ يوې ګنتهې او لس منتو ده او په لار کې به تاسو دَ وائن فيلډز په چپه دَ سبزيانو پټيان او پالېزونه هم وَوينئ "

دا خبرې چې يې سرته رسولې، نو دَ روډ دَ بورډ په سمه سېنتهس ته 98 کلوميټره لار پاته وه- او لمر هم دې وخت له اوريځو څخه خپله ژېړه څېره ښکاره کړې وه- او په څه څه واټن يوې بلې خواته واړه ټاونونه شاته پاته کېدلو- ځای په ځای خلګو په مځکو کې کارونه هم کولو- دلته دَ ډائرۍ پاڼې تورَولو پرته مې دَ "پټې څېرې" تر عنوان دلاندې خيال هم په مزغو کې دَ نظم کولو په نيت پخولو لګيا وم ، کوم چې بيا ما په سېنتهس کې ډائرۍ ته سپارلی وْ-

يو وخت چې موږ دَ Montendere نامې ټاوْن او Bioserdom څخه په څنګ کې تېرېدلو ، نو داني راته واي -

" دا ګوره شوقه ! څنګه په ترتيب يې فصلونه لګولې دي "

" هو- ما هم دغه کتلو ، ګوا زرعي ماډرن تکنيک يې باقاعده په کار راوړی دی "

که مې څه هم دَ خپلو خلګو ذکر په دې خبرې کې نه وکړو ، خو مطلب مې دا وئيل وْ، چې موږ لا هم هغسې په زړو لارو ليکو مځکه کرو او هر کال سرونه ځکه هم ټکوْ ، چې فصلونه ښه نه دي شوي-

مازيګر څلور بجو ته څو منټه پاته وْ، چې دَ سېنتهس غټې او سپينې ګهمبدې موږ شاته پرېښولې او دَ ګاډيانو دَ دوْ شورمانو او ځينو کارخانو ورسته په ښې لاس دَ سېنتهس وَ منځنې ښار ته رهي وْ، چرته چې په Hotel Ibis کې زموږ دَ استوګنې انتظام شوی وْ-

---

دَ سترېيا وساکولو او تياري کولو ورسته زه دَ فليپينو ملګرو، پېغلې کائيکو او لورې کورنۍ سره پنځه بجو خواته په يو زيژ فټ پاتهـ ، چې جوګنګ ټرېک برېښېدلو باندې دَ سېنتهس دَ مرکز په لور رهي وم- په درسته لاره باندې هيڅا خبره ځکه نه کوله ، چې موږ دې وخت تېز تېز جوګنګ کولو او په پنځويښت منټه کې دننه دننه بيا کاروباري سېنټر ته

Khyber.ORG

وَرسېدلو- خو له بده مرغه داسي ښکاره کېدلو، لکه دا چي مرکز نه ، بلکې هديره وي - ګوا داسي چپه چپيا وه په کي-

" په دې دنګو او وړو پلازو کي به اوس څه کوْ "

" هو درځئ بيرته هوټل ته ، چي آرام وکړو- نن خو هغسي بيا په لس بجې هغه دَ ميرنا له خوا دَ ګرېنډ نائيټ لمانځلو ستړيا هم راته ګوري "

دَ لوري اوګرېک دَ رائې په ځواب کي چي څنګه لوري ويوار خپله خبره وکړه ، نو کائيکو واي-

" هو ، ميرنا خو داسي وئيلو- لاکن خبره دا ده، چي په ګرېنډ نائيټ کي وي څه؟ "

" وي خو ډېر څه په کي - لاکن دلته نه يم خبر، چي څه به وي په کي- خو دومره خبر يم ، چي په داسي موقعو کي خلګ له ملګرو سره ليدل کېږي "

روني دومره څه وَوئيلو، چي کائيکو راته تر څنګه شوه او څوکه واي-

" بل چا سره چي بيا قول نه وکړې ښه "

او بيا مي په درسته لاره دَ ګرېنډ نائيټ په باب سوچونه کولو- چي څنګه موږ خپل هوټل ته وَرسېدلو، نو څه ګورو، چي زياتره ملګري دَ هوټل په پراخ چمني کي ټولۍ ټولۍ داسي ګرځېدلو لکه دَ امتحان تياري چي يې کوله- او بيا موږ هم ورګډ شولو- خو ونېسا نن يوازي يوازي په کونجونو کي ګرځېدله- شاهد په دې چي څوک يې دَ دې راتلونکي موقعې دپاره پيدا کړي- او بل دلته موږ خبر شولو، چي نن به هر يو خپل دَ خوښي يو Statement هم تېروي ، چي دَ کاسموس په ريکارډ به راځي- نو ځکه ما هم تياري شروع کړه-

" دري هفتې څنګه تېري شوې - نه شوم په پوهـ ، خو اوس چي له ملګرو څخه دَ جلاکېدلو ورځي راغلې، نو پوهـ شوم ، چي دا ټرپ زما دَ ژوند هغه ياد دی ، چي نه يې شم هېرولی "

Khyber.ORG

ماخستن په لابي کي چي ډېني هاوْ دَ خپلي درستي کورنۍ له خواداسي وئيلو، نو خور يې دا خبره هم په ريکارډ راويستله -

" دَ يورپ کړه وړه هغسي نه دي ، کوم چي په فلمونو کي ښکاري "

او بيا وېلينا او ابډرين پورته شولواو وئيلو يې -

" دَ يورپ هره ښکلا په خپل ځاى ، لاکن دَ اروپايانو سره مي خبري کول ارمان پاته شوې- او دا قصور زما او دَ وېلينا دى ، چي - "

" هو - که مونږ غوښتلی، نو دَ ونېسا ، کائيکو ، فليپينوز او ملګري شوق غوندي مونږ هم له هغو سره زياتي خبري کولی شوى "

ورسره څنګ کي ولاړي وېلينا چي دَ خپل بواى فرېنډ خبره سرته رسوله، نو شېلا اوډلې راپورته شوه او واي -

" مونږ ته په کار دى ، چي له خپلو خپلو هېوادونو هم يو بل ته وليکو - نو به منم چي دا ټوْر ښه وْ "

نئيل ويلئيم وئيلو-

" دَ اروپا خلګ ښه دي - له ټوْرستانو سره يې روئيه بده نه ده "

" ولي هغه اتالويان ؟ "

ابډرين چي دا خبره ورته سوال کړه، نو ټولو وَخندلو او په دې خندا کي دَ انډين ابس – ټې – باکسواله لور زينت داسي دَ خپلي رائي وړاندي کړه -

" زمونږ خو له اروپا څخه ګرسره زړه نه غواړي ، چي وَوځو- او بل دا وايم ، چي دا خو دَ ميرنا او دَ کاسموس مهرباني ده چي په ښخي لړو پيسو يې دا دومره دَنيا راباندي وَکتله "

مخته بلنډا وئيلو-

"زه اوس داسي محسوسوم لکه تاسو ټول چي زما دَکور غړي یاست "

لا به يې څه مخته وئيلو ، چي روني ور ژغ کړو ،

"وئ خدايه دا دومره لويه کورنۍ-؟ "

او بيا نو څه وْ، ملګرو په بېلابېلو نومونو بلل شروع کړه- چا ورته خور خور، چا مور او ماما ماما ، چا انټي انټي او تر دې هانده ، چان ورته ډارلنګ هم وَوئيلو- خو ميرنا وه ، چي له خندا تکه شنه شنه کېدله- او په دې وخت بيا دَ بيکن هلز آسټرېليا مسته لارا کوک پورته شوه او واي-

"زه هيڅ نه وايم - زه خو له دې دوْ کلونو مسافره يم دلته په انګلېنډ کي - "

او مخته يې ژغ چي ژړَغونی شو ، نو ميرنا ورته وئيل کښېنه- او سوزېن بارټ پورته شوه او غاړه تازه کولو ورسته واي-

"دا لويه خبره ده، چي په لږ وخت کي مورِ دومره يو بل ته نيږدې شولو ؟ "

لوري ويوار چي له خپلي مور لوري اوګرېک سره له امريکا راغلي وه وئيلو-

" خوند به يې لا نور هم کړی وی ، که مي دَ اروپا دَ سمندرونو څنډي هم انجوای کړي وی- نور ټرپ ښه وْ- "

"زما خو يې تاوده ماښامونه خوښ شول"

دَ لوري ويوار خبره پرې کولو سم دستي يې مور دا خبره په خندا کي داسي په چټکۍ وکړه ، لکه دَ دې ځای وَ ماښام ته چي يې هم تياري کړي وي- او بيا داني پورته شو-

"که په روم کي لُوټ شوي نه وی ، نو مورِ به دا ټوْر نور نور لا ښه ګڼلی وی "

او بيا ورپسې روني وئيلو-

" دَ میرنا او دانیال په ملګري او دَ شوق ، کائیکو او ونېسا په دوستي کي مي په دې
ټرپ ډېر خوند واخیستلو "

او بیا زما وار وْ، نو ځکه مي وئیلو-

" علاقه ، خلګ ، موسمونه او دَ ژوند طورطریقې هر څه بېل وْ، لاکن دلته ما دا خبره ولیدله
، چي انسانان دَ درستي نړۍ یو رقم دي او- "

لا به مي نور څه وئیلو ، چي کائیکو له ما وار داسي واخیستلو-

" ربښتې دلته هم شته ، لاکن دَ ایشیا په خلګو کي څه مضبوطي دي او دا ټوْر نور هم ښه
کېدلی شو ، چي که دَ هوټلونو په ځای په کي کېمپنګ وی "

ونېسا وئیلو-

" ما دلته دَ خپلي مطالعې دپاره ډېر څه تر لاسه کړي دي ، لاکن دَ شوق هومره نه - زه وایم
چي دا زما دپاره ښه تجربه ده "

کرسټینا وئیلو-

"دَ هر چا خپله خوښه - لاکن ماته دا سیمه دَ اروپا ډېره خوند راکوي "

کېنیډین پېغلي مارئین وئیلو-

" دَ اروپا خلګ ژوندي وزمه دي خو په دې خبره زه حریانه شوم ، چي دا ښاریان څله له
کوچیانو کرکه کوي؟ که څه هم ښه خلګ دي کوچیان "

او دغه رنګه بیا چاوْ چیا جانګ ، ایډنا بریل او له نورو سره سره کېرولین هم چي دَ اروپا
قصیده وَوئیله ، نو مسټر چان پورته شو او واي-

"مورِ او تاسو ټول بېوقوفان یُو؟ "

"ولې؟ "

میرنا چې په حېرت پوښتنه وکړه ، نو هغه لکه چې نشه وْ واي-

" شپه لاړه تېرېږي - راځئ ، چې ډانس وکړو "

او بیا یې لاسونه یوې بلې خواته ښنډل څه شروع کړو ، چې روني او ابډرین سره له وېلینا هم ورپورته شولو- بس بیا نو څه وْ، لاسونه یو بل ته غزېدل پئیل شو او په بېخي لږ وخت کې دَ هوټل رېسټورېنټ په ډیسکوټیک بدل شو-

"دا نو اوس ماته څه واره خوري؟ "

شاو خواته مې سترګې وَځغلولې او هلته خالي کونج ته تللو په نیت ورپورته شوم - لاکن سم لا ناست نه وم ، چې کائیکو هم داسې راڅرمه شوه ، چې بیا ورڅخه چرته پټ نه شوم- هو که څه هم هلته لیرې دوې نورې پیښنو وزمه سترګې مې هم په تعاقب کې وې- خو زه وم ، چې که یوې خواته مې له یو چا څخه بدله دَ خپلو تېرو کړاونو اخیستله - نو بلې خواته مې ځانته په لاره کې خپله ازغې هم کرلو لګیا وم- او څنګه څنګه چې مخته ورباندې په لُوخو پښنو تلمه ، نو هغومره هغومره مې په زړه کې خوارېه پُرهارونه دَ سبا دَ پاره دَ ترخو یادونو په څیر رقم کولو - رقم کولو او نور نور رقم کولو -

---

دَ اپرېل په **15** مه نېټه کال **1996**ع سهار اووه بجې چې لمر لا نه وْ راختلی، چې دَ کاسموس بس دَ Hotel Ibis څخه مخته رهي شو او دَ رش دَ کمبوت له سوبه دَ دنګو پلازو په منځ کې په تور هوار سړک باندې دومره ژر دَ سېنټېس ښار شاته پرېښولو ،چې ګرسره پرې پوهـ نه شو- او یوځل بیا مورږ په شنو میدانونو او ځنګلي سیمه کې لاره وهله-

دَ اووه نیمو بجو خواته ، چې مورږ دَ روډ بالا جاروتو پلونو دلاندې تېرېدلو ، نو دیو لیکلي بورډ په سمه تاریخي Poitiers ښار له هغه ځایه **108** کلومیټره لرې وْ او پېرس دَ**445** کلومیټره په واټن باندې- داهغه سیمه وه ، چې ما وَمنلو ، چې وَ فرانس ته ولې دَ پرفیوم

هېواد وئيل کېږي- ګوا دومره په زيات شمېر دَ بېلابېلو قسومونو او رنګونو ګلانو پالېزونه يا پټيان دَ روډ دواړو خئيو ته په څه څه فاصله ليدل کېږي- چي سړی ورته حريان شي-

دَ ګهړی ستني چي نهو بجو ته اوښتلې، نو بس په Poitiers Region کي جوړ دَ Poitiers په نامه مشهوره تاريخي ټاوْن ، چي له يولسمي صدی بيا تر ديارلسمي صدی پوري په انګلېنډ کي ورګډ وْ څخه په کيڼ لاس تېرېدلو په وخت ميرنا وئيلو-

"دا هغه ټاوْن دی ، چي بلېک پرنس نامي شهزاده ، چي هر وخت يې توري جامې اغوستلې په کي استوګنه کوله او دا هم درته وَ وايم ، چي دا پرنس ډېر خوش مزاج او رنګين طبعيته هم وْ "

ميرنا چي دا خبري کولې، نو بس دَ لوي لاري په يو هوټل چي دَ لومړي سټاپ په نيت برېکونه نيولو ، نو Tours نامي ټاون 66 او پېرس 300 کلوميټره ليري وْ او په ګهړی کي لس منټه بالا نهه بجې وې-

دلته چي څنګه له بس څخه راکُوز شوم ، نو مي ډېر داسي سړي تر سترګو شولو ، چي سپيني سپيني ټوپياني يې په سرو پرتې وې يوې بلي خواته ګرځېدلو-

"دا لکه چي تبليغيان دي "

نو ځکه چي دَ حاجت ځي په لور ور روان وم ، نو مي له يوه ځوانه پوښتنه وکړه -

"مسلمان يې ؟ "

"هو- دَ خدای احسان دی "

"پاکستانی يې؟ "

"يَه دا موږ ټو ل له انډيا راغلي مسلمانان يُو ، چي دَ خدای په لاره وتي يُو "

"پاکستانیان هم درسره راغلي دي؟ "

"هو - دا پاکستانی دی "

او نيږدې ولاړ هغه دَ کونډې ژيري پاکستاني ما ته لاس راکولو ورسته حال حوال په أردو کي څه وکړو ، چي باکسوالا هم راورسېدو او موږ په أردو کي تر ډېره پوري په خپلو کي ګډه وْ- خبري نو څه وې -؟ هغه دين او دَ دين غم ، چي دې خلګو يې کور کور ته دَ رسولو هڅه کړي وه- خوښ مي په دې شولو ، چي ټول لوستلي راته ښکاره کېدو او په خبرو کي يې وزن درلودلو- ځکه خو يې په زړه اغېزه کوله-

"دا څوک وْ؟ "

"دَ اسلام خواخُوږي او خپرونکي "

دَ کائيکو دَ سوال په ځواب کي چي مي داسي ورته وئيلو ، نو هغې راته سرتر پايه کتلو ورسته وَکتلو او بيا واي-

"ته هم مسلمان يې؟ "

"هو - ولي اوس خبره شوې "

ما چي تر هغې زيات دَ حېرانتيا اظهار وکړو ، نو هغه په موسکا کي واي-

" دا مسلماني او عيسائيت يا بدهـ مت - دا ټول دَ يوې نظريې درې نومونه دي ، خو بس طريقې يې جلا جلا دي - زه چي څوني په پوهېږم "

يو وار مي لا ورسره څېړله ، خو بيا مي بهتره دا وګڼله ، چي چپ پاته شم او چپ پاته شوم- بس فقط ورته وور غوندي وَموسېدم او مخته دَ بس په لور تېر شوم-

Khyber.ORG

دَ نیمي ګنتهې دَ مزل کولو ورسته دَ ټال پلازې څخه ورتېرېدلو سره سم Village Brule خپل ښي خواته پرېښولو ، نو یو ځل بیا په ځنګلي سیمه کي چي مخ مخته رهي وْ، نو میرنا وئیلو-

" چي دَ ټوْرز نامي ټاوْن څخه څنګه مخته تېر شو ، نو دَ فرانس غټ دریاب چي ورته River Loire وئیل کېږي به له موږ سره سره مخته لکه مار غزېږي "

او چي څنګه هغه دریاب راڅرمه شو ، نو په څه څه فاصلو باندي کلي او ځای په ځای کلاګاني هم ولاړي لیدل کېدلي- دَ میرنا له قوله دا لوري وېلي ( ناوه ) دَ دې castles له سوبه ډېر نوم لري- او بیا یو ځای بس درَولو ورسته میرنا واي -

" درځئ درګوز شئ - چي له دې ځایه درباندي دَ مونا لیزا کلی وَوینم "

" دَ مونا لیزا کلی-؟ دا څه واي ، هغه خو یو فرضي جنۍ وه "

له ما سره ناستي کائیکو داسي وئیلو ورسته ماته هم دَ ولاړېدو اشاره وکړه او درست ملګري لاندي ګوز شولو- هر یو میرنا ته نیږدې نیږدې ځکه کېدلو ، چي دَ میرنا هغه خبره یې تصدیق کول غوښتله-

" هغه کلی چي دَ دې دریاب په هغه بله څنډه هلته په غونډۍ باندي آباد دی ، دَ یو روایت په سمه دَ مونا لیزا کلی ځکه بلل کېږي ، چي لئیونارډو ، چي دَ مونا لیزا تصویر یې جوړ کړي وْ په دې کلي کي اوسېدلو او وئیل کېږي ، چي په دغه ښه یوه انجلۍ بلکې واده شوي ښځه په هغه کور کي اوسېدله "

او بیا یې په هغه لیري کلي کي یو اوچت بام راښکاره کولو ورسته ګروپ تصویر واخیستو او بیرته بس ته ټول ملګري وختلو-

بس چي څوځو مخته لاره لنډوله هغومره زما په مزغو کي دَ دې ناوې دَ ښېخي زیاتو کلاګانو په لیدلو دَ اروپا په اړه دې سوال سر پورته کولو ، چي اروپا له موږه څومره مخته ده؟ دَ ځواب په تمه یې زه له خیاله په پښتني سیمو کي ګرځولم او ما دا هڅه کوله ، چي که نور نه

Khyber.ORG

، نو يوه داسي تاريخي نخښه خو به چرته وي ، چي ورته ځواب يې کړم- خو هرڅو هرڅو چي مي دَ سوچ نيليان تېز وَځغلولو ، خو ماته په پښتني سيموکي داسي يوه هم نخښه په مخه نه راغله ، چي مي ورته دَ تاريخي اثاثې نوم ورکړى وى- نوځکه مي سر وَښورَولو او له کائيکو سره په ګپه شوم فقط دې دپاره ، چي سوچ په بله واړَوم-

دَ لوري درياب، چي يوې بلي خواته راته وشېدلو راوشېدلو اوس مونږ نېغ وَ Blois نامي ټاوْن په لور ورګرځولي وْ-

---

دَ غونډيانو په لوړو ژورو کي آباد ټاوْن Blois چي دَ بلاوْس کاسل له سوبه په نړۍ کي نوم ليري شاوخواته ګرځېدلو ورسته دَ روني په ست ميرنا او دانيال پرته زه، ونېسا ، کائيکو او توشي ټول له هغه سره ملګري يوه رېستورېنټ ته ورسم شولو ، چرته چي ټولو دَ روني په ضد دَ ميرنا په خوښه خواړه خوړَلو ته چمتو کېدلو -

" دا دَ ايشيا خلګ ولي په مېلمستيا کي خوشالي محسوسوي؟ "

دَ ماهي بوټۍ خلې ته وردننه کولو ورسته چي ميرنا دا پوښتنه وکړه، نو ونېسا په موسکا کي واي -

" دا خلګ پيسې ډېري لري "

" خبره دَ پيسو نه ، مېلمستيا زمونږ روايت دى او- "

دَ روني خبره مي پرېکولو ورسته ورته وئيلو-

" -او کله چي څوک زمونږ مېلمه کېږي ، نو خوشاله کېږو هم "

" لاکن جاپان خو هم په ايشيا کي دى - هلته خله داسي خبره نشته ؟ "

کائيکو چي دا وئيلو ، نو داني ورته واي -

"چاپان دی ، خو په اېشیا کي، خو مغرب وزمه هېواد دی"

ونېسا چي دې وخت له خنګه راته ناسته وه ، څوکه غوندي وئيلو-

"کائيکو ښه او مخلصه انجلۍ ده"

"هو ده خو- او ته هم"

"اوس نه يم-"

"ولي-؟"

"ځکه ، چي هغه اېشين ده او بل-"

لا به يې نور څه وئيلو ، چي ميرنا يې پام خپلي خواته اړولو ورسته وئيلو-

"امريکن سيستم زما خوښ دی"

"هو هغه ډېر ښه دی ، هيڅوک په چا نه بار کېږي او هر کس خپل بل خپله ورکوي"

روني چي يې خبره داسي سرته رسَوله ، نو ونېسا راته بيا څوکه واي-

"برابه ښه شپه وه"

"ښه خو وه لاکن--"

"ولي لا دي په زړه کي جاپانۍ ته څه پاته دي که-؟"

دَ بس په لور تللو په وخت زما او دَ ونېسا تر منځه چي دا مقالمه کېدله، نو کائيکو هم اورېدله ، خو هغه په ځای دَ خفګان خوشاله کېدله او هوسېدله لېونۍ-

Khyber.ORG

خبر په يوه بجه ، چي بس له دې ټاوْن څخه مخته تللو، نو موږ له غريزو سيمو څخه څوکه څوکه هوارو علاقو ته ېښنه کوله لګيا وْ- او دَ يوې ګنټهې دَ سفر ورسته چي له Marniers نامي ټاوْن څخه مخته وتلو ، نو تر شا روني په زروه واي-

" زه نن ډېر خوشاله يم ، چي دَ زړه ارمان مي آخير هم پوره شو "

"کوم ارمان-؟ "

کائيکو داسي وَ وئيلو لکه هغه چي له روني نه له ما پوښتنه کوي ، نو ځکه ما ورته وئيلو

" هغسي ارمان لکه تا چي په يو چاته په ډنر ورکولو کي پوره کړی وْ "

هغې ماته راکتلو ورسته داسي په نرۍ موسکا په ځنګلي وَ وهلم ، لکه زما په خبره چي يې واقعي سرخلاس شوی وي- او له دې سره سم ميرنا وَ پېرس ته دَ رسېدلو زېری هم په موږ وکړو او بس په يو دريابي او ښائيسته ښار کي هوټل کواليټي اِن پېرس، چي ورته Parke de Bercy هم واي مخي ته چي درېدلو ، نو دَ باران څاڅکي هم ورېدل پئيل شو -

*****

# دَ ائيفل ټاوْر تر سيوري لاندي

که څه هم دَ ټولي ورځي دَ مزل ستړيا له سوبه مي زړه دَ آرام دپاره په هغه پستې او تودي بسترې کي وَ سملاستو ته تخنېدلو ، خو دَ سستۍ په وړاندي مي همت غړۍ ځکه نه اچولو - - چي دې وخت زه دَ هغه پېرس په ښار ، چي دَ ميرنا په قول هر سېلاني ورته نوی نوم ورکوي په کواليټۍ اِن ، چي Parc de Bercy هم ورته واي او په Charenton نامي علاقې کي جوړ دی کي دَ ضروري تياری ورسته په صوفه کي ناست وم- په ټي- وي کي مي فرنچ چېنلان اړول راړول ، چي دروازه وَټکېدله او فليپينو ملګري هم راغلو دننه او زه هم ورسره بازار ته تللو په نيت ملګری شوم-

"ډنر به هم دباندي چرته کوْ "

داني دا خبره هغه وخت وکړه ، چي موږ په لابي کي دَ لوي دروازې په لور روان وْ- او اوس به دباندي وتلو ، چي تر شا لوري اوګرېک ، چي پېغله لور لوري ويوار هم ورسره ګامونه راپسې تېزولو ورسته ژغ وکړو ،

" اې ځوانانو ! چرته روان ياست ؟ که مېن بازار ته ځئ ، نو موږ هم درسره بوځئ "

موږ يو بل ته وکتلو ، که څه هم په موږ کي دَ هېچا نه وه خوښه ، خو دَ اېشيائي فطرت له مخي مي ورته يَه هم نه شو کولی او روني ورته واي -

" راځئ - راځئ ، مګر دا يوه خبره واورئ ، چي چکر به زموږ په خوښه وهئ "

" هو هو - تاسو له مخه موږ درپسې ، لاکن ديغ کوئ به مو نه "

دَ لوري ويوار زړې ، لاکن ډېري چسپې مورکۍ داسي وئيلو ورسته په نره له موږ سره قدمونه سم کړو- مګر دا څه ؟ چي له چا پُټېدو ، هغه (کائيکو ) له تائيوانۍ چاوْ چيا جانګ سره هم په منډه منډه تر موږ پوري راوَرسېدله- او په ګيلې کي واي -

"ښه نو تاسو زه پرېښولمه-؟ "

Khyber.ORG

او دَ ځواب انتظار کولو له مخه يې بيا دَ خپل عادت په سمون ځوک راسره کړو او دا ډله دَ هوټل وَ ښې لاس ته په څه واټن لېبرټي مېټرو سټېشن ته لاندې ورګوزه شوه -

په رنګونو ښائيسته ، آرام ده ، او دَ ګولې په رفتار تلونکې ټرېن په يو بل پسې Porte de Charenton او دَ Porte Doree څخه مخته تېرېدلو ورسته چې په Michel Bizot نامې باندې دَ لس دقيقو دپاره چې څنګه تم شو ، نو تائيوانې پېغله واي-

" په پېرس کې Opera او Cabaret Show دَ کتلو دي ، تاسو يې ګورئ که --؟ "

" هو ولې نه ، هلته مورږ ته دَ فرانسوي کلتور ، چې دوی ورباندې په درسته نړۍ کې لوی نوم لري دَ کتلو او تللو موقعه په لاس راتلې شي "

ما چې داسې خبره ورسه خوږه کړه ، نو روني هم زمورږ دَ خوائيش په باب خپله رائې چې راکړه، نو هغو نورو هم راسره دا خبره ومنله- لا به مو په دې باب نوري خبري کولې ، چې لوري اوګرېک خپله لُور دَ ځان په خوا ورکښولو ورسته واي -

" ويوار رادې خواته شه ، هغه خلګ ما او تاته ډېر په برګو برګو ګوري "

هو هغه غلطه نه وه ، زمورږ ښې لاس خواته يو درو مستو ځوانانو خپلې سترګې ډېري په ګوني انداز دَ لوري ويوار په سينه او بدن ښخې کړې وې، چې دې وخت په بېخي تنګو جامو کې پټېه وه او کله کله به يې يو بل ته په غوږو کې هم څه سره وئيلو -

" ګوا زمورږ په دې ښځو کې دغه ويوار داسې انجلۍ ده ، چې دَ هغو ځوانانو خوښه شوه "

" هو- خود ، په دې کائيکو او چاوْ کې نو دې څه ؟ دوې دوې لوستې خو دې دواړه "

دَ روني دَ خبري په ځواب کې چې مې داسې وَوئيلو ، نو که څه هم کائيکو په ښنګلي وَوينښتم ، خو چاوْ هم په لومړي ځل وَموسبدله او واي -

" په ما کې منم ، چې هيڅ کشش نه شته- دا کائيکو خو دَ ډېرو په زړونو حکمراني کوي "

Khyber.ORG

دا خبره چي يې کوله ، نو يې ماته داسي کتلو ، لکه ماته چي واي- هم ځکه خو داني هم په غوږ کي دغسي خبره راته کړي وه-

په Chatalet نامي ستېشن کي کښته کېدلو ورسته چي بالا مځکي ته ورسم شولو ، نو ګورو چي دلته زياتره بلډنګان په زاړه طرز جوړ او خورا رش دی په کي- دَ River Seine په څنډه باندي آباده دغه علاقه څه څه ټاپو وزمه ځايونه هم لري- دلته په سائن درياب باندي جوړ پلونو باندي يوې بلي خواته اوښتلو را اوښتلو- او دَ نورو زړخوښيانو سره سره دَ هسکي ميناري سېل کولو ورسته، چي يو وخت يو زاړه هوټل ، Hotel de Villeنومېدو مخته تېرېدلو ، نو داني وئيلو-

" فرانسويان ، چي څومره په خپله ژبه مئين دي ، هم دغسي له خپل پرون سره رښتې هم ښې مضبوطي لري "

" هو ، دې ته خو قامي مينه واي "

دومره ورته وئيلو ورسته يوځل بيا زه وم ، چي دَخپل قام دَ هغو خواخُوږو په پښتو او پښتني سوچ کي ګډ وم ، چي پښتو خوري ، پښتو ځيښي او هن چي پښتو اغوندي هم- لاکن دَ پښتو کولو په وار يې ملا ځکه ماته وي ، چي پښتو کول خو قربانياني غواړي او هغوئ دا کار کولی نه شي- ولي، چي بيا به نو په پښتنو باداري څوک کوي --؟ زما اشاره دَ پښتو په نوم سياسي دوکاندرانو ته وه-

---

څنګه څنګه چي په پېرس ښار باندي دَ شپې تياري خورېدلې، نو دَ رنګارنګ بتيانو په رڼاګانو کي پېرس جنت وزمه کېدلو لګيا وْ او دا خبره مي په زړه زړه کي منلو سره تکرارَوله هم ، چي دا خو واقعي دَ رڼاګانو ښار دی- او بل موږ وْ، چي دَ پتنګانو په رنګه داسي په خوند او تادی باندي يوې او بلي خواته په په رڼاګانو کي ګرځېدلو ، لکه سبا له چي به بيا دَ رڼا يوه بخرکه هم نه وي- او يوځای په ولاړو برګر خوړَلو ورسته مو دوْه ټېکسيان ودَرولو ،

" دلته نيږدې يا بيا place de L , Europe په خوا کي چي کومه ښه Cabaret Show وي ، هلته مو بوځئ "

دَ روني په دې پوښتني ډرائيورانو له يو بل سره خبري کولو ورسته وئيلو-

" لاکن په پېرس کي تر ټولو زياتي نوموړي دوې کېبېرټ شوګاني کېږي- يوه په Paradise Latin کي دَ Le Cabaret de Paris په نوم او بله دَ La Nouvelle Eve په نامه کېږي- او دا دواړه په منځني ښار کي دي- که غواړئ ، نو يُو به مو شو "

دَ صلاح کولو ورسته مو ورسره La Nouvelle Eve نامي کېبېرټ شو ته دَ تللو خبره جوړه کړه او مخته رهي شولو -

"دلته دَ شپې ژوند نوري کومي زړخوشياني لري؟ "

" دا قسماقسم شوګاني، اوپېرا ، سېنماګاني او کلبونه هم "

دَ داني دَ پوښتني په ځواب کي هغه ټېکسي ډرائيور، چي دَ فليپينو ملګرو او زما په مخ سيټ کي چاوْ هم ورسره ناسته وه ، چي دا سي وئيلو ، نو روني ورته واي-

" له دې پرته هم -؟ "

ډرائيور شاته مخ وراړَولو ورسته وئيلو-

" هو - ولي نه دلته هر څه شته ، که غواړئ نو به مي ورته ورسوم اوس اوس "

" هو ، چي وره غلي واى ، نو به ښه وى - ځنګه شوقه "

هغه بهلا نور څه په ټوکي کي وئيلو ، چي چاوْ يو دم واي -

" ما وَکېبېرټ شو ته ورسَوه ، بيا که دوئ په کومه ځي، هلته دي لاړ شي "

په خندا کي يې دا خبره چي کوله نو يې شاشاته کتلو ، ځکه خو داني ورته واي -

Khyber.ORG

" زما خیال نه کېږي ، چي ته او په هغه بل موټر کي رواني زمونږ ملګري کائیکو به په یکړه دا شو وګورئ "

او بیا ټېکسي ډرائیور، چي اوس زمونږ په طبعیت پوهـ شوی وْ، په خندا باندي داسي وار وکړو،

" نن سبا خو ښځي ډېري تکړه دي او- هو لکه هغه انجلۍ ته ګورئ ، چي یوازي روانه ده په فټ پاتهـ باندي "

" لاکن دا هم ګوره ، چي دوه ځوانان خو هم ورپسې روان دي "

دَ ډرائیور له خبري سره هلته دَ فټ پاتهـ په خوا لاس غزَولو ورسته چي روني دا خبره وکړه ، نو چاوْ واي-

" لاکن هغه سړي به څه وکړي؟ "

" هغه دَ بیا خبره ده ، چي څه به کوي؟ "

او بیا یې سم دستي ورسره داسي خبره لا ببله ورسره وَتړله-

" بلکې نهه ماشتي ورسته به درته ریزلت هم مخي ته راشي- هغه دَ ټوکي په چم "

روني چي دا خبره وکړه، په ټېکسي کي ناستو ټولو ملګرو وخندلو او عجبه دا ، چي چاوْ هم دَ خفګان په ځای له خندا شنه شنه کېدله- که څه هم هغه ما په دې درست تورْ کي په غاښونو سپینَولو باندي نه وه لیدلي- خو نن یې په درسته لاره کي خندا تمکېدله نه او په هره خبره یې خله تر غوږونو پوري خلاسَوله-

ټېکسي مخته روان وْ او کله کله به چي ما شاته وکتلو، نو لکه شاته چي دَ رڼاګانو سېلاب راپسې راروان وي او مونږ ورڅخه ځغلو، ځان ژغورو- ډېر خوند یې کولو، ګاډۍ په روډونو داسي پسته پسته مخته رهي وه لکه کشتۍ، چي په اوبو باندي روانه وي-

Khyber.ORG

او بلي خواته په ټېکسي کي روني بيا په دې هڅه کي وْ، چي دَ ډرائيور څخه نور نور دَ دې ځای دَ شپې ژوند په حقله معلومات ترلاسه کړي- او ډرائيور هم داسي په خوند خوند ورته ګډ وْ، لکه هغه چي يې ډېر زوړ شناخته وي او يا په رښته کي يې دَ ماما زُوی- لاکن يو وخت چي ما دَ هغه دَ ښه انګلش وئيلو په ستائيني کي څنګه دا ورته وَ وئيلو، چي -

" انګلش ښه ژبه ده "

نو هغه زما په لور داسي را وَکتلو، لکه ما چي ښکنځا ورته کړې وي- او بيا يې مخته په پاتي لاري کي سُر مردار هم وْ، بلکې ډېر کم او په احتياط ژغېدلو -

---

کېبېرټ شو څه وه ؟ وايم، چي دَ وړَو وړَو ډرامائي خاکو په پرته دَ سرو او سپينو بدنونو يو نمائيش وْ- چي په اتهمي صدیٰ کي جوړ په دې زاړه بلډنګ کي يې زمونږ په چپه دَ سلاوْ نورو سپلانيانو زړونه په اورونو کړَولو لګيا وْ-

" دا خو شو نه، بلکې لږ په پړده کي پيپ شو ده "

" داني په پيپ شو کي له هرڅه څخه لاسونه پرېمنځل کېږي او دلته خو ګوره هغه پېغلي مخ او شاته نيمه نيمه لوسته ټوکران خو لري "

ما چي دَ روني دَ خبري په ځواب کي داسي وئيلو ، نو هغه له ما داد غوښتلو دپاره سر بيا راغزَولو سره سم واي -

" څنګه، صحيح وايم مسټر شوق "

او ما يې هم زړه ساتلو دپاره داسي تائيد وکړو،

" په داسي شوګانو کي وي هم دغه رنګه او بله دا، چي په کېبېرټ شو کي تر کلچر زيات هغه تهيمونه څېړل کېږي، چي ذهنونو ته تفريح ورسپاري "

" ګوا دلته هم چيټنګ ؟ "

Khyber.ORG

چاوْ دَ داني له هغه بلي خوا مخ راغزَولو ورسته چي دا وئيلو ، نو روني ورته واي -

" يَه دې ته چيټنګ نه مارکېټنګ وئيل کېږي "

مورِ چي څنګه وَخندلو ، نو تر شا راباندي يو زاړه سړي ، چي پښې يې په ګور کي ځنېدلې ژغ وکړو ،

" که تاسو چپ کړئ ، نو مهرباني به مو وي "

او بيا ټولو هلته په غټ ستېج باندي له ګروپ ډانسونو سره سره خاکې کتلې لګيا وْ- خو ما هم که يوې خواته هلته مخامخ کتلو ، نو بلي خوا ته مي سوچ په څنګ کي ناستي لوري ويوار کي ځکه بند وْ، چي هغې بيا بيا ګوره چي ځله خپله سينه موړِله؟ په زړه کي مي وئيلو ، چي چرته کېکه خو يې په ګرېوان کي نه ده ورننوتي ؟ هو داسي مي په سوال پسې سوالونه مزغو ته راتلو- خو تر آخيره مي ځواب نه کړو تر ګوتو- او شو په داسي حالت کي راباندي ختمه هم شوه-

مورِ چي کله دَ کېبېرټ شو په ختمېدو دباندي وتلو ، نو کايئکو په ما پوري ځان داسي راچيخلو ، لکه اوس چي به يې له مورِه څوک غلا کړي- او دباندي چي راوَتلو ، نو روني په ټوکي کي واي-

" زړه مي غواړي چي اوس هلته لاړ شم "

" چرته؟ "

زړې لوري اوګرېک چي پوښتنه وکړه ، نو روني دَ خندلو ورسته وئيلو-

" هلته ، چرته چي ښځې نه ځي "

په دي خبري باندي پېغلي چاوْ روني ته وړه ديکه ورکولو ورسته وئيلو -

" ته خو ډېر خراب يې "

"ښه - ته اوس خبره شوې؟ "

لوري ویوار چي داسي له خلې وَوتلو ، نو ټولو په کلکه وَخندلو او هوټل ته بیرته تللو په نیت دَ ټېکسیانو نیولو دپاره هغې خواته روان شوْ، چي دَ ټېکسیانو کتار ولاړ وْ- او بیا څه مخته کائیکو له فلیپینو ملګرو څخه په دې خبره نه ښېلولم، چي زما نیږدې ښکت ته یې زړه کېدو ، بلکې وېرېدله- چي په کوم ټېکسي کي له ما او لوري فېمیلي سره روانه وه، دَ هغه ټېکسي ډرائیور دومره غټ غټ برېتونه درلودلو ، چي که پښتون وی ، نو له غېرته به په ملا غوټ ماتېدو- لاکن هغه فرانسوی وْ، چي درسته لار یې لکه برِوا دَ ښځو دَ اډو او کاروبار په حقله خبري کولې- هو که څه هم ښه خبر وْ، چي دې وخت دَ هغه په ټېکسي کي چپ له ما بل نر وْ هم نه- او زه هم په خپله هوډه بیا پښتون نر--

---

دَ شپاړسم اپرېل کال **1996**ع په سهار چي مي ناری کولو ، نو ونېسا مي مخامخ په مېز راته ناسته وه او داسي په مزه مزه یې خبري کولي ، لکه مورِ چي په دې درست ټرپ کي یو بل ته اورېې ورکړې وي -

" چرته خو یې بیا--؟ "

لاکن بیرته به مي زړه ورته صفا ځکه کړلو ، چي دا نن خو زمورِ ورستۍ شپه وه- نو ځکه زه هم ورباندي تر نورو ورځو زیات مهربانه شوی وم- هو که څه هم کائیکو هلته لیري ناسته په برګو یې راته کتلو ، خو ما نه غوښتلو ، چي دَ هیڅا زړه هم له ځانه خراب یا مات کړم- هن دا چي تر بس پوري هم ګډ ګډ سره ولاړو -

" زه دَ کاسموس له خوا تاسو ټولو ملګرو ته په دې ښائسته پېرس کي ښه راغلی وایم ، چي که ورته هر څوک څه نوم ورکوي ، خو زه یې خپل کور ګڼم- که څه هم زما هېواد او کور نه دی- هغه ځکه چي دلته ماحول خپل خپل لګي ، که څه هم خلګ یې پربېدي پربېدي کېږي او خپلوۍ ته فرانسویان په ګرانه تیارېږي- خبر دا خو وه زما رائې- لاکن داښار چي دَ سائن دریاب شاوخواته تر لیري لیري پوري خپور دی- او څومره چي په دې ښار کي ورځي ځانګړتیاوي لري- نو دغه رنګه دَ پېرس شپې هم کوم هغه شیان دي ، چي نشته په کي "

میرنا چي دا خبره وکړه، نو ورسره مخته ولاړي لوکل فرنچ ګائيډ خبري دَ Sneme نامي بلډنګ په حقله څو توري وئيلو ورسته ، چي دَ فرنچ ټېليويژن T - F - A دَ ګېړدۍ ماڼۍ چي ټوله شيشه شيشه وه، څخه په څنګ کي تېرېدلو په وخت چي خپل تعارف او دَ فرانس په حقله خبري کولې، نو Safital Plaza او Edfgdf چي دَ يوې بلي پلازې په سر ليکل شوي وُ زموږ دَ سترګو مخته وُ- دلته که څه هم دَ موټرانو رش زيات وُ، خو چرته هم دَ ټرېفک جام مسئله مخي ته نه راغله- دَ يو څو اوورهېډ پلونو لاندي وتلو ورسته ، چي سائن درياب زموږ کيڼ لاس ته بهېدلو او زموږ مخه دَ ائيفل ټاوَر په لور وه- نو لوکل ګائيډ وئيلو-

" په پېرس کي دَ ائيفل ټاوَر پرته Versailles ، ګېټ ، Les Champs Elysees ، Musee du Louvir ، Nappoleon Tomb ، La Pyramide ، دَ مونا ليزا فوټو ، چي لئيونارډو په **1503**ع او **1506**ع په مابېن کي جوړ کړی وُ ، Notre Dame او Saint Chapalle چرچ هغه ځايونه دي ، چي پېرس ته راغلي سېلانيان يې دَ کتلو هڅه خامخا کوي "

نو زما کوشش به هم دا وي ، چي دا ټول ځايونه درته ډېر له نيږدې درته ښکاره کړم- دَ سائن درياب چي موږ يې په پلونو باندي يوې بلي خواته کېدلو ، نو ائيفل ټاوَر له هره ځايه هم ښکاره کېدو -

" دا ګورئ زموږ ښي لاس ته په سائن درياب کي جوړ ټاپو وزمه ځای ، چي ډېر پخوا جوړ وُ ، خو لا اوس هم سترګي ګټي "

بيا يې Notre Dame ماڼۍ راښکاره کولو ورسته موږ دَ پوليس سټېشن څخه مخته دَ درياب وَ بلي څنډي ته چي راغلو ، نو څه څه وختونو پس يې Musee Du Leavre او دَ نېپولين مقبره راښکاره کولو ورسته زموږ مخه دَ La Pyramide په خوا وه، چرته چي به دَ هغې ګائيډ په قول دَ موناليزا اصل عکس ګورو -

دَ Louvre نامي غټ ميوزيم ، چي دی خو ارومرو دَ احرام مصر په رنګه ، خو دَ اوسپندو په تمبو جوړ، چي په کي شيشې سرتر پايه لګېدلي وې- دلته دَ Department of Sculpture په پرته زېر زميني يو غټ ميوزيم هم وُ- موږ چي کله لاندي ورګوز شولو ، نو هلته مي بلا غټي مجسمې تر سترګو شولې- په کومو کي چي په " آس ناسته دَ مارلي مجسمه " ، دَ " فلپ

Khyber.ORG

پاټ تابوت "، چي پېغلو پهلاسو کي اخيستی وْ سره سره دَ Milo of Crotono" " لغړسری زمری ، چي له زمري سره په جنګ وْ هم وَ کتلو-

په دې ميوزيم کي دَ دُنيا ، هن چي دَ اسلامي آرټ نمونې هم بېشمېره ليدل کېږي کتلو ورسته دَ فرنچ ، فلېمش او جرمن پېنټېنګ او په درځنو لغړي ، چي زياتره په کي ښځي وې هر لور په غټې هال يا کاريډورونو کي لګېدلي ښکاري سره عکسونه اخيستلو ورسته لاندي تللي منزل ته کوز شولو- او هلته دَ رومن ، يوناني او مصري آثار خلګو ته ښکاره کولو دپاره داسي ږدل شوي دي ، چي هر يوه ته سترګي ورکږېږي- خو په دې ميوزيم کي تر ټولو زيات رش هلته ليدل کېږي، چرته چي دَ مائيکل اېنجلو په لاس جوړي مجسمې دي- چي په کي دَ The Dying Slave نامي مجسمه ځواب نه لري- او بل په دې هال کي دَ مونا ليزا عکس هم دَ يوه دېوال په فرېم کي موجود دی- او هر سېلانی دلته هڅه کوي، چي ورسره څنګ کي فوټو جوړ کړي- نو ځکه ما هم ځان په غازيانو کي ليکلو ته په ډېره ګرانه تر موناليزا پوري لاره وکړه او ځان مي امر کړو- او بيا چي مي ښه په غور ورته وکتلو ، نو ماته يې ګوره چي هومره خوند خله نه کړو را ، څومره چي نوم لري- خو دَ دې پرته مي هم داسي په غور ورته کتلو ، لکه هغه چي ما چرته ليدلي وي- هم په دې خو مي بيا تر ډېره پوري ورته ولاړ کتلو او تر هغو پوري چي دَ دې نظم "موناليزا " تهيم مي په مزغو کي ځانته دَ ليکلو دپاره لاري هواري کړي نه وې-

زما په ياد دي ، چي کله زه بيرته بالا راروان وم ، نو پېغله چاوْ، چي برايه يې په کېببرټ شو کي دَ آرټستانو په لغړو ادمونو باندي نيوکي کولې دې وخت دَ اېنجلو دَ يو داسي مجسمې مخي ته حق حريانه ولاړه وه، چي مکمله لغړه او دَ نر مجسمه وه- نو ځکه مي راسره څرمي ونېسا ته چي دَ برايه دَ شپې کيسه په لنډه تېره کړه ، نو هغې يو دم کېمره آن کړه او پټه پټه تر هغې وَرسېدله او بيا چي يې څنګه فلش لائټ ورباندي وَغورځولو ، نو هغه لکه له خوبه چي راويښه شوه او چي زمونږ په لور يې راوَکتلو ، نو په ونېسا پسې يې داسي ور وَدانګلو ، لکه هغې چي دا وَ ځراغ ته په توره تياره کي درَولي وي- نو هم ځکه خو هغې په بس کي له ما سره بيا سترګي نه شوې ځلور کولی- او زه هم ورته دَ حېرت ګوته په خله په دي وم ، چي اوس دا هغه غاوره او حياناکه چاوْنه ، بلکي يوه هوسي ښځه ، چي يوه بله غاښوره ښځه هم په اندرون کي پټه لري زما وَ مخي ته ناسته وه- ولي، چي دَ برايه دَ سبل اثر په سمه اوس هغې په خپل څنګ کي ناست توشي سره دَلاسوخبري هم پېئيل کړي وې-

"دَ سياحت له لاري ، چې څومره پيسې هر کال فرانس تر لاسه کوي ، په هغو کې تر ټولو لويه برخه دَ موناليزا دَ موسکااو دَ هغه دنګ ائيفل ټاوْر ده، چې دَ دُنيا په اووْ غټو عجائباتو کې شمېرل کېږي "

دَ Concords Monument څخه مخته وتلو او دَ Champs , Elysees , Chemenceou نامي بلډنګانو ، چې دې وخت زموږ وَکېنۍ لاس ته ولاړ وْ څخه بيرته دَ سائن درياب په لور په جوړ شوي پُل باندې چې لوکل ګائيډ دا خبرې کولې، نو هغه هسک ټاوْر، چې دَ ائيفل په نامه باندې لوړ نوم ليري زموږ دَ سترګو وړاندې ولاړ وْ- بيا چې کله بس دَ هغه ټاوْر مخې ته تم شو ، نو ګائيډ وئيلو-

" دَ نړۍ په اووْ عجائباتو کې ورګډ دا ټاوْر په کال **1889**ع کې ائيفل آلکسانډر ګوستاوْ نامي انجينئر جوړ کړی وْ، دا **984** فټه هسک مينار دی- او تر اوسه پورې **17** کسانو دَ دې مينار له سره مځکې ته راټوپ کړې دي او ځانونه يې مرګ ته سپارلي دي- نو ګورئ ګورئ، چې تاسو کې هم څوک - "

او تر دې ځايه يې خبره چې څنګه وَرسوله، نو دَ بس دروازه هم دَ هغې ګائيډ او ميرنا له خوږو کړيکو سره سمه خلاسه شوه -

---

" تاسو بيا له څه ميانه دلته را وَرسېدلاست؟ "

ما چې دَ ائيفل ټاوْر په لفټ کې دَ قدم ږدلو ورسته څنګه سترګې په ونېسا ، کائيکو او چاوْ وَنيښتلې، نو مې دا خبره له خلې ځکه په حېرت وَختله ، چې دا ډله خو چې زه دَ ټاوْر په لور په غټو ګامونو راتلم، نو زما تر شا روان وه- نو ځکه خو ونېسا وئيلو-

" ولې - يو ته يې، چې له دې ائيفل ټاوْر څخه پېرس ليدلو تازيله لرې او که - "

" دا زموږ غوندې په ښکلا مئينان هم "

Khyber.ORG

کائیکو ، چي دَ ونېسا خبره څنګه پرې کړه، نو يې په نره مُتهی راته ښکاره کولو ورسته چي داسي وئيلو ته څنګه خله جوړه کړه ، نو لفټ هم بالا ختلو ته چمتو شو او موږ يې په نه ساعت کي بيا لومړي تمځي ته وَرسولو- چرته چي دَ يوه رېستورېنټ په پرته شاوخوا ته دَ کتلو او ګرځېدلو ترېک هم جوړ وْ، چي دې وخت څو درځنه ټوْرستان په کي يوې بلې خواته ګرځېدلو سره سم په توده کوفي او برګر خوړلو کي هم بوخت وْ-

موږ به لا بيرته په لفټ کي بالا ختلو، چي روني او داني هم را وَرسېدلو او راسره ملګري شولو- په دويم تمځي کي هغه نور پاته ملګري هم راورسېدلو او دې وخت په دې فلور باندي دَ کاسموس ملګري دَ نورو سپلانيانو په مقابله کي زيات ښکاره کېدلو- له دې ځايه پېرس که پوره نه ، خو تر ليري ليري پوري دَ سترګو وړاندي ښکاره پروت وْ- دلته هم يو څو دقيقې ګرځېدلو ورسته ، چي زه او فليپينو ملګري دَ دريم فلور( تمځي ) په لور تللو دپاره دَ لفټ په خوا ورغبرګېدلو، نو دَ ونېسا او ځينو نورو ملګرو په چپه نور ملګري بګاوه شوي وْ، او دلاندي تللو ته يې ارادې کولې-

دَ ائيفل ټاوْر له دريم تمځي څخه پېرس داسي ښکاري ، لکه سړی چي له جهازه ورته ګوري- داسي محسوسېدلو لکه اوس چي به دا ټاوْر وَنړېږي ، ولي چي ټاوْر يوې خواته کږېدلو لګيا وْ- خو په رښتيا نه ، بلکې دې وخت په آسمان کي دَ اوربځو غټې غټې خړوسکي دَ هوا په رُخ رواني وې او داسي برېښېدلو، لکه موږ چي سره له ټاوْره لاندي دَ مځکي وَخواته روان وْ-

" داسي راته ښکاري لکه زه چي الوځم "

" هو- زه هم داسي سنجومه لکه په اوبو کي چي دا ټاوْر روان وي "

دَ ونېسا له خبري سره چي داني هم خبره خوږه کړه، نو روني دَ خندلو ورسته واي -

" ځه- يو مارغه شو او بل ماهی "

هغه به لا خبره مخته وړله ، چي تر شا ولاړي شيلا وار لاس ته کړو او واي-

"زما خو سر ګرځېدل پئيل شو ، زه خو ځم - داسي نه چي زه اتلسم مړی شم "

او بيا چې له ما ټول ملګري لاندي په لفټ کي ګوزېدلو لګيا وْ، خو زه وم ، چي بيا تر څو دقيقو پوري هلته ولاړ په دې سوچ کي ورک وم ، چي ائيفل دا ټاوْر څله او په کوم نيت جوړَولو ، او چا چا چي هم له دې سره مځکي ته خپل مړي لېږلي دي ، هغوئ په کوم نيت داسي کړي دي -؟ غرض دا ، چي دَ ائيفل ټاوْر په دريم تمځي کي ولاړ دَ قسماقسو سوچونو او وسوسو ورسته مي دَ " هسکه غاړه وَ ائيفل ټاوْر ته غم شوه " تر عنوان دلاندي نظم خپلو ورستنئيو واټنونو ته په رسېدو وْ- او بيا څه وخت ورسته چي بيرته په لفټ کي لاندي راروان وم ، نو داسي خيال مي په مزغو کي پخېدلو لګيا وْ- چي

"انسان نخښي پرېږدي شاته او ځي په مخه- هم ځکه خو ترشا راتلونکي ورپسي که څه هم ځي- لاکن تر مخته تللي سړيانو پوري ګوره ، چي څله نه شي رسېدلی- هو ، لکه دَ نن پښتون ، چي دَ پرون دَ پښتنو پېښي هم نه شي کولی- که څه هم ځي هر پښتون په خپلو پښو او هغه هم په دوْ پښو "

ائيفل ټاوْر ليدلو ورسته ، چي موږ مخته په بس کي روان وْ، نو دَ شا په اوږدې چوکۍ کي له ملګرو سره دَ هغوئ په فرمائش ځکه کښېنستم، چي دَ هغوئ په چپه ونېسا او کائيکو هم ناستي وې او ټولو په تېرو شوْ ورځو شپو خپلي خپلي رائې وړاندي کولې- او هر يوه دا وئيلو ، چي نن هغه ورستۍ ورځ ده، چي سبا به موږ مازيګر خواته له يوه بله بېل هم کړي- دا مجلس وْ، چي موږ تر مېګډونلډ پوري تر رسېدلو څه ، چي هلته يې په مېګډونلډ کي هم يو بل ته څنګ په څنګ دَ غرمې ډوډۍ خوړلو ته پارَولي وْ-

نن ونېسا هغه ونېسا نه ، بلکې دَ ميني ټوټه برېښېدله او خورا خوږې او درنې خبري يې کولې- نه يوازي دا ، بلکې نن يې دَ خپل امريکائي فطرت په چپه هم هيڅوک وَ پيسو ورکولو ته ګوره چي څله نه ابله کولو- او بل يې داهم غوښتلو ، چي نن پېرس تر پښو زموږ په ملګري کي وَباسي-

---

له Trodadero مېټرو سټېشن څخه چي موږ Ch- De Gaulle نامي علاقې ته ورسېدلو ، نو هلته دَ يو غټ او زاړه ګېټ وزمه راوْنډ اباوْټ ، چي څه نيم درځن روډونه ورڅخه بېلېدلو

Khyber.ORG

سره خوا کې کائیکو له یوه دوکان څخه دَ ائیفل ټاوْر واړه ماډلان واخیستلو او موږ ته یې په داسې وئیلو راکړو ، چې

" دا زما له خوا تاسو ته پیرزئینه ده، او کله چې به هم تاسو دې ټاوْر ته ګورئ ، نو زه به درته په زړه کېږم "

دغه رنګه ونېسا دَ مونالیزا کارډونه ، روني دَ مائیکل اینجلو دَ یوې مجسمې ماډل سره سره دَ نېکو خوائشاتو کارډونه ، داني دَ ګاولي ماډلان او ما هم دَ بېلا بېلو عنواناتو په سمه معني خېز غوندي کارډونه په دې وېښلي وْ، چې سبا ته هم یو بل یاد وَساتو-

دَ ګاولي څخه په رېډلائن روټ باندې موږ دَ Saint Augustin نامې مشهوره ستېشن شاته پرېښولو ورسته وَ Possy نامې علاقې ته ځانونه وَرسولو ، چرته چې دَ پېرس مشهوره او غټه Opera ده- کې یو وخت چې دَ ائیرلائنونو دَ دفترونو مخې ته روان وْ ، نو کائیکو یو ځل بیرته ځکه په موږ پورې وار په وار راچیخېدله، چې یوه سړې یې پرس ته لاس اچولی وْ- خو دَ هغې له ښه بخته یې ورڅخه تر لاسه کړی نه وْ- دلته مو ښه ډېره سودا وکړه او هر ملګری له غټو غټو کڅوړو سره ، چې بیرته دَ مېټرو په لور روان شولو ، نو داني په یوه فټ پاتهـ باندې خپلې درې کڅوړې رېدلو ورسته په یوې اوږدې ساه کې واي-

" تاسو که په مېټرو کې ځئ ، نو لاړ شئ- زه خو په ټېکسي کې ځم- ولې، چې دا غټې کڅوړې خو به خلګ په موږ پسې کړې او دَ کائیکو چم به راباندې وشي "

دا یې لا سم نه وْ وئیلي، چې کائیکو یې ملګرې شوه او موږ هم یو بل ته کتلو ورسته دَ هغوئ په صلاح شولو او په دوْ ټېکسیانو کې دَ خپل هوټل په لور ورچپ شولو او لمر لا ولاړ وْ، چې بیا خپلو خپلو خونو ته رسېدلي وْ-

---

" ته څه لټوې؟ زه ستا کومک کولی شم "

دَ هوټل کوالیټي اِن په څنګ کې جوړ څلور بامیزه پلازې کې دَ خوراکې شیانو اخیستلو په وخت، چې یوې پېغلې تر ما ځان رارسَولو ورسته څنګه دا پوښتنه وکړه، نو مې په زړه کې

Khyber.ORG

وئیلو ، لکه چي خود هېلپره ده- نو ځکه ورسره تر خپل مطلبي شیانو پوري، چي مي څنګه ځان رسولو ، نو هغې دَ خوږې موسکا ورسته پوښتنه وکړه،

"ته یوازي یې؟ "

"هو یوازي یم -ولي؟ "

ما چي داسي پوښتنه وربیا کړه ، نو هغې مي لاس نیولو ورسته په سترګو کي سترګي داسي را واچولې ، لکه زه او هغه چي په دې درست ډیپارټمنټل سټور کي یوازي وْ- لاکن حقه دا وه ، چي دې وخت سټور له درځنو خلګو ډک وْ-

"دا څه کوې؟ "

لاس مي ورڅخه کښولو ورسته چي دا وئیلو ، نو هغې ځوکه غوندي راته هغه خبره وکړه ، چي زه یې دلته لیکلی ځکه نه شم - چي داسي نه دَ بداخلاقۍ تور رابانديوَتپلی شي- نو هم ځکه خو دا کیسه په دې لاندېنئیو خبرو تمامَوم-

" ما خو دا ګڼلو ، چي دا په ښکاره غاوره فرانسویان به ځانته تول دروند لري او په نه څه به تول نه سپکوي- خو دلته په پېرس کي دَ درستو فرانسوي روئیو په باب تر ډېره هانده که خبر نه ، نو دومره وئیلو هڅوال ضرور کړم ، چي وَوایم - فرانسویان که څه هم ښه خلګ نه یاد بېږي ، خو دَ پیسو په بدله کي شونډي موسولو کي هم ساري نه لري"

نن شپه که څه هم دَ ټولو ملګرو په چنده یوه الوداعي ډنر اهتمام شوی وْ- لاکن زه ځکه نه وره غلم ، چي ماته خوب راتلو او ما نه غوښتلو ، چي لباسي شم او خله دَ زړه دَ خوښي برعکس وَرغوم- نو ځکه ما نن دَ زړه منله - نه چي دَ مزغو- او دا ورستی شپه مي دَ رقم رقم خوږو او ښائیسته خوبونو په ټاپوګانو کي دَ سهار په لور دَ خپلو خوائشاتو په سمه دیکه کوله لګیا وم-

"زه څومره په ملګرو ګران یم؟ "

Khyber.ORG

دا هغه سوال وْ ، چي که څه هم تر خوب کولو پوري يې ځواب زه زړه ماتی کولم ، خو بيا چي مي دَ ټېليفون په زنګونو درې ځله سترګي خلاسي شوي، نو مي ځانته څه هيله پيدا شوه او دَ ورستي ټېليفون، چي دَ ملګري روني وْ ورسته مي بيا تر سهاره سترګه هم ځکه نه کړه پټه ، چي خوبونه مي تکميل ته رسېدلي وْ او زه نيمي شپې وخواته په کارډونو باندي دَ ملګرو په نوم په ورستئيو پېغاماتو ليکلو روږدېدلی وم- ولي چي دې وخت ماته هم له دروازې لاندي څو پېغامونه راسپارل شوي وْ- چي په کي دَ کائيکو او ونېسا دَ تفصيلي محبت نامو په چپه دَ لاراګوک او لوري ويوار له مسخرو ډک کارډونه هم ګډ وْ-

لنډه دا ، چي کله ما هم ټول پېغامونه وَليکلو ، نو کاريډور ته راوختم او رامعلومو خونو دَ دروازو دلاندي مي ملګرو ته پوسټ کړلو- هو- داسي لکه ماته څه، چي هر ملګري ته دَ ميرنا دَ خوښي په سمه سپارل شوي وْ- دلته دَ يو نامعلومه ملګري له خوا زما په نوم يو کارډ داسي هم ليکل شوی وْ-

"های شوق ! "

ته کېدلی شې ، چي غلط پوه شوی يې- چي هرڅه ډېر په زړه اخلې- ګني حقيقت خو دا دی ، چي موږ فقط دَ يو څو ورځو دپاره سره ملګري شوي وْ- او سبا چي دَ يو بل له سترګو ليري شو- نو دا هر څه او وختونه به دَ يادونو په چپه بل هيڅ حېثيت هم وَنه لري-

ستا ملګری

نوم که څه هم نه وْ ورباندي ، خو زما شک په روني باندي کېدلو- ولي، چي سهار دَ ناري کولو په وخت روني داسي خبري په اشارو کي کولې- لاکن چي بيا به مي هلته زما مخامخ په بل مېز ناستي ونېسا ته سترګي ور واړَولې، نو په زړه کي به مي دا خبره بيا بيا راتله ، چي کېدلی شي- چي هغه ډېر بامانا ليک ماته هغې ليکلی وي، ولي چي هغې نن دَ نورو ورځو په مقابله ډېر ډېر او ډېر په مينه راته کتلو- خو بيا هم زه شکي ځکه وم ، چي هغې ته خو ما هم ډېر مطلبي او ژور ليک ورسپارلې وْ - هو په خپل نامه- نو کېدلی شو ، چي هغه زما دَ خوږو تورو له سحره نه وه راوتلي-

Khyber.ORG

چا وئيلو، چي هغه پنځه کارډونه برايه ترلاسه کړي وْ - چا وئيل، چي هغه ته داسي داسي ليکلي شوي وْ - او چا او چا خو لا داسي هم وئيلو، چي فلاني دا او فلاني داسي راته ليکلي وْ- خو زه او زما نيږدې ملګري وْ، چي هيچا هم هيڅ نه وئيلو- ولي، چي موږ چي هرڅه کړي وْ- هغه موږ دَ احساساتو په رڼا کي کړي وْ- دغه خو وجه وه، چي هر يوه وَبل ته په وار وار ځکه کتلو، چي دانن خو هغه ورځ وه، چي موږ يې ببلولو -

---

دَ پروګرام په سمه پاوکم اتهه بجې سهار چي په بس کي کښېنتلو، نو په شمېر کم وْ، ولي چي څو ملګري، چي ونېسا هم وه په کي دلته په فرانس کي له موږ څخه ببېل شوي وْ- او چي څنګه بس مخته روان شو، نو مي په آخيري ځل شاته ځکه وَکتلو، چي څو لاسونو موږ ته دَ خداى په اماني وئيله- بيا چي مي په څنګ کي ناست روني ته پام شو، نو زما له سترګو هم اوښکي رااېله شوې- ولي، چي هغه په سرو سترګو باقاعده لکه ماشوم ژړلو- په چا پسې او څله؟ دا هغه سوال وْ، چي ځواب يې نه وْ- او عجبه دا، چي نن هر ملګرى چپ ناست وْ-

" اوس به موږ په يوڅو ګنټهو کي دَ فرانس مشهوري بندرګاه ډنکارټ ته ورسېږو- له کومه ځايه، چي به دَ لندن په لور ېېښه کوْ- "

دَ ميرنا دا اناوْنسمنټ څه وْ، چي ټولو ملګرو يو بل ته سره وَکتلو- که هيچا هم هيڅ نه وئيلو، خو زړونه دَ ټولو په دې بېلتون خراب-ضرور خراب وْ-

ډنکارټ پورټ لا ليري وْ، چي روني زما له لاسه زما وړوکى ټېپ ريکارډر غوټه کړو او په ډېر جذباتي انداز يې چي خبري زما په نوم ټپ کړې- نو يې وَ داني ته حواله کړو او هغه هم زما په نامه مينه په تورو کي داسي رقم کړه، چي اوس يې هم کله اورم، نو داسي محسوس کړم لکه هغوئ چي له ما ليري نه- هر وخت له ما سره سره ګرځي- هو دَ سايې غوندي-

کائيکو هم په خپلو ماتو ګوډو تورو کي زما په نوم، چي کله خبري ټپ کولې، نو ميرنا واي
-

Khyber.ORG

" بس اوس موږ په يو څو دقيقو کي زياته ډنکارټ پورټ ته په رسېدلو يُو- خو له دې خوابه کېدلی شي، چي زموږ دَ سامان تلاشي واخيستلی شي- ولي چي فرانس په دې وار سخت هېواد او خلګ يې شکي مزاجه دي"

او بيا چي بس ډنکارټ پورټ ته وردننه شو، نو په لومړي ګېټ دَ عسکرانو په اشاره وَدرېدلو او درې عسکران بس ته راوختلو-

" څوک يې؟ "

" پاکستانی يم"

پاسپورټ ورکولو ورسته چي ما دا خبره څنګه وکړه، نو ټول په ما داسي راجمع شولو- لکه زه چي يې له ورکو غوښتلم او دا يم چي پيدا يې کړم- مخته څه وْ، هر يوه سوالونه شروع کړو، يوه وئيل-

" چرته تللی وې؟ "

بل وئيلو-

" څله تللی وې؟ "

دريم خو تر دې هانده هم پوښتنه راڅخه وکړه، چي

" ډرګ دي راوړي وْ؟ "

نه يوازي يې داسي چپه او راسته پوښتني راڅخه کولې، بلکې زما سامان يې له پلټلو راپلټلو سره سره دَ سپيانو غوندي بُوی کولو هم او په خپلو کي داسي په پسخوندي انداز ژغېدلو، چي زما نوم او هغه ټول جوړ شخصيت يې زما دَ ملګرو په وړاندي خاوري ايرې کړو راته-

Khyber.ORG

نو ځکه ماته ځان دې وخت دَ خپل هېواد په حواله يو غل او ډاکو مونبدلو- ولې، چي په بس کي ناستو ټولو ملګرو ماته ځکه کتلو ، چي زه هغه يوازينی سړی وم ، دَ چا تلاشي چي داسي په سپَکاوي کېدله- او بيا چي هغوئ څنګه له بس څخه خالي لاسه کښته شولو ، نو دَ ميرنا همدرديانو او دَ ملګرو سوالونو زه دومره وړوکی کړی وم ، چي په په چيغو چيغو وَوايم ، چي-

" زه دَ هغه هېواد غړی نه يم ، چي تاسو يې په ما پوري تړئ- بلکې زه دَ هغه ځنګل اوسېدونکی يم، چي تر اوسه نوم لا نه ليري- خو دی په دې ګلوب باندي او زه ځان دَ هغې دُنيا غړی ګڼم- چي په کومي دُنيا کي تاسو اوسېږئ "

لاکن دې وخت هر څه زما له لاسه وتلي وْ او زه يو ځل بيرته له خپل نړيوال حېثيته دَ ځان په لور راغبرګ شوی وم-

که مي څه هم دې وخت ځان يکړ خوښ وْ او له ملګرو مي بېلېدل غوښتلو -- خو هغو ملګرو بيا بيا ماته ځانونه دَ خپلوۍ په احساس رانيږدې کولو څه ؟ چي زه يې له خپل ذاته بېرته دَ نړۍ او نړيوال سوچ په لور له ځانونو سره بوتللمه لګيا وْ- هو ، دَ هغوئ دَ زړونو دپاره به لا ما وه هم خندلو --خو حقه خبره دا وه ، چي دَ زړه ماته شيشه مي بيرته رغېدله نه- بلکې نوره نوره کړيچي کړيچي کېدله او ما له يې ببل ببل مخونه را اغوندلو -

منم ، چي زما هېواد او خاوره هم زما په رنګه دَ هغو سخنو خلګو په سوبه تول په نړۍ کي سپک لري،چي دَ خپلو اغراضو پوره کولو دَ پاره هرڅه هرخه څه ؟ چي دَ قام او ملت په تندي داغ هم ږدلو ته چمتو ښکاري- خو دې وخت زه دَ بادار وَ لمسيانو ته هم ببخي حريان په دې سوب وم، چي دَ يوه بد سړي په ګناه کي سل ښه سړي نيسي- هو ، ملامت نه دي ، هم دغو خو دَ انصاف تول چي وَ کوم عادل ته په لاس کي ورکړی دی - هغه خپله ړوند دی، لا يې په سترګو پټۍ ور تړلي ده-

*****

Khyber.ORG

# دَ برمنګهم پېلس په لور ازغني درومي

غل نه وم ، خو دَ غله غوندي مي ځان دَ ملګرو له سترګو پُټولو- او ځکه خو دَ سبل څخه رابېل شوي مارغه غوندي يو بلي خواته ټپربدمه لګيا وم - او بيا بيا مي ګهړۍ ته په دې سوب کتلو ، چي ما ژرتر ژره غوښتلو چي دغه سپلي لائن نامي فېري ډوْر پورټ انګلېنډ ته وَرسېږي- که څه هم په لانچ کي دننه هر لور زړخوښياني وې او دباندي دَ انګلش چېنل دَ سمندر مستي څپې - خو زړه مي هڅ شي ته نه کېدو- ولي ، چي په ډنکارټ پورټ باندي چي کوم سلوک له ما سره دَ پاکستاني کېدلو په سوب وَشو ، هغې واقعې زه دومره دننه په ذات کي مات کړی وم ، چي دا نن که څه هم دَ کاسموس دَ ګرېنډ يورپئين ټوْر ورستۍ ورځ وه او په ځای دَ رخصتۍ مي له ملګرو ځان پُټولو- ولي چي چا به هم چي څنګه راسره سترګي څلور شولې، نو به يې دا پوښتنه راڅخه کوله-

" په دي درست بس کي عسکران تاته څله وَدرېدلو ؟ دا يې زياتوب وکړی "

او يا به يې وئيلو-

" زه افسوس کوم ، لتا سره بد وَشو "

خو په داسي خبرو به مي دَ شخصيت هغه کړيچي کړيچي هنداره بيرته نه رغېدله- بلکې لا به نور زهير شوم- نو ځکه چي به مي ملګري په نورو شوغلونو مشغول شولو ، نو زه به يوې بلي خواته ورڅخه وَتم-

" ستا دَ هېواد خلګ پاخه مسلمانان دي ؟ "

يو وخت له ما هلته په يو کونج کي دَ واړه تعارف ورسته چي راسره په څنګ کي ناست زاړه ملې(دَ ملائشيا باشنده ) دا تپوس وکړو ، نو که مي څه هم "هو " ورته وکړو- خو په زړه کي مي وئيلو-

" مسلمانان دي نه بلکې ښکاري- ولي چي دَ اسلام په نامه يې دوکانداري ته ملا ترلي ده- او که داسي وَنه کړي ، نو ډوډۍ نه شي پيدا کولی "

Khyber.ORG

لاکن زما دَ زړه په حال هغه ملې څه خبر وْ؟ ځکه خو يې مخته وئيلو-

"زړه مي غواړي ، چي ستا هېواد وَوينم"

"لوی خدای دي راوله"

ما داسي ست خو ورته وکړو ، خو له ځان سره مي وئيلو ، چي

" راخوبه شې - لاکن دغه دَ اوس ايمان به هم وَبائيلې ، چي له مورِ سره دې ناسته ولاړه وَشي "

ما به لا نور په ځان کي ټُوکلو ، چي هغه پوښتنه وکړه ،

"دا څوک دي چي هلته جنګېږي؟ "

"دغه خو دي- "

لاکن دای څه خبر دی ، څوک-؟ دا خو ما له ځان سره خبري کولې، نو ځکه مي غاړه تازه کړه او ورته وئيلو مي-

" هلته په تخريب کي دَ بهرنئيو قواوْ لاس دی "

خو بيا مي په زړه کي په دې خپله خبره ښه ډېر وَهم خندلو ، او ولاړ شوم- ولي چي ما نه غوښتلو ، چي دَ اغيارو مخته هغه قام رسوا کړم ، چي ماته همېش دَ رسوائي سوب جوړېږي- دا نه ، چي ګني دا قصور زما دَ هېواد دی- بلکي دا هغه هېوادوال دي ، چي په نړۍ کي دَ خپلو ځاني ګټو دپاره هر هغه سخن کار کولو ته جوګه ښکاري- چي نن ورباندي زه او زما په رنګه نور قاموال په نړۍ کي سترګي نه شو پورته کولی- ګيله که مي بيا هم راځي له خپل هېواده، نو هغه دا ، بايد چي دا عالمي خواستګر او شوکماران چي دَ وطن په تندي داغ ږدي بيرته هېواد ته نه پرېښول شي- ولي دا وطن جوړوَي نه - دَ وطن نوم خاوري کوي-

"هرڅه هرڅه شته ، خو لا نشته بیا هم -"

دا هغه نظم دی ، چي ما يې مصرعې په مزغو کي رک په هغه وخت چسپَولې، چي لانچ دَ ډوْر پورټ په لور لاره په انګلش چېنل نامي سمندر کي زياته سرته رسوله لګيا وه- ګوا که څه هم ملګري يو بل ته نيږدې کېدلو- خو زه وم ، چي دَ دې ځای رښتې مي دَ دې خلګو له روئيو سره تللې او دَ مغرب موسکاګاني مي دروغجني ګڼلې- هن دا چي ،کائيکو هم په وار وار ځنګ ته راتلله او په وړې جاپانۍ انګلسۍ کي راته دانې داسي اچولې او وئيلو يې ، چي

"مخته به هم له يو بل سره اړيکي ساتو په ليکلو "

نور خو لا نور- يو وخت، چي زموږ لانچ دَ ډوْر پورټ له پلېټ فارم سره وَلګېدو ، نو واي -

"په لندن کي به ته چرته اوسېږې؟ "

دا سوال يې په داسي انداز کي وکړو ، لکه هغه چي هلته هم ملګري کول غواړي- او ما به ورسره خوښه کړي وی، که چرته مي دَ هغې تېري واقعې له سوبه حېثيت وړوکی شوی نه وی- نو ځکه مي ورته په ځواب کي وَوئيلو-

"نه يم خبره ، چي چرته به ځم"

او بيا مي خبره په بله واړَوله- نو ځکه هغه پوهئ شوه ، چي زه نور له هغې سره اړيکي نه ساتل غواړم- هم په دې خو يې بيا بيا راته په سترګو کي سترګي اچولې-- هو ، کېدلی شي په دې وجه،چي زما دې نابېري بدلي روئيې وَ هغه محرک ته په ځير شي ، چي زه يې له ځان او جهانه ايستلی وم- لاکن زه وم ، چي له هر څه په چپه مي يکړي فقط يکړي غوښتله او بس-

---

موږ دَ لندن دَ وخت په سمه درې نيمي بجې ماښپښين له سبلي لائن فېري څخه دَ انګلېنډ دَ ډوْر نامي سمندري څنډې دَ Rams Gate له پلېټ فارم څخه دباندي راوتلو -

Khyber.ORG

" یا ربه ! که به دا وخت هم دَ قبولو وي ، نو زما دَ یارانو په برخه دَ ستورو په شمېر خوشالیاني او سوکالیاني وَلیکې "

دا هغه دُعا وه ، چي زما له خلې په وار وار ځکه ختله ، چي روني او داني سم په ژړا وْ راته او بیا بیا یې وئیلو-

" مورِ ته دَ تورْ دَ ختمېدلو هیڅ غم نشته- که غم لرو ، نو هغه دا چي مورِ له درو ملګرو څخه دوه کېږو "

او داسي نوري نوري خبري یې دومره په ژړَغوني انداز کولې، چي ما هم خپلي اوښکي نه شوی تم کولی- هو ، دې وخت مورِ په بس کي ناست دَ لندن په خوا روان وْ- میرنا او دانیال په دې سوب خوشاله وْ، چي خپلو کورونو ته بیرته ورغبرګېدلو لګیا وْ- لاکن په بس کي ناستو ملګرو په خبرو کي نن هغه ژوند ، خوند او پند نه برېښېدلو ، کوم چي په تېرو شوْ څو هفتو کي وْ-

ولي نه - داسي هرکله کېږي، ګوا چي اول ځل انسانان له یو بل سره ویني ، نو که څه هم نابلده وي ، خو روئې او خواهشات یې یو بل ته ورڅکوي- خو بیا چي کله دغه انسانان له یو بله لیري کېږي، نو دَ یوبل دپاره یې دَ بېلتون تریخ احساس ژړَوي هم -

مازیګر خواته چي بس دَ رومانتېک ښار لندن، چي دَ انګلېنډ دارالحکومت هم دی ته څنګه پېښنه وکړه، نو میرنا وئیلو-

" هرڅه داسي اختتام ته رسېږي ، لکه دا زمورِ دَ کاسموس ټرپ- هیله کوم ، چي تاسو به زما او دَ دانیال ملګري انجوای کړي وي- خوند به هلته وکړي ، چي دَ ژوند په یو بل تمځي کي سره وَوینو "

میرنا چي دا خبري کولي ، نو بس په لندن کي دَ تهېمز دریاب له ځۍ سره مخته روان وْ او دې وخت کائیکو هم راڅرمه شوي وه او له ما سره دَ وخت تېرَولو په حقله یې خوارِه او درانه توري داسي ترِلو ، لکه دا ټرپ چي کاسموس والاوْ ما او هغې دپاره اهتمام کړی وْ-

Khyber.ORG

" په مخه مو ښه - په مخه مو ښه "

دَ ګهړۍ ستني لا سمي دَ مازيګر پنځو بجو ته نه وې رسېدلي، چي بس په Russel Square نامي علاقې کي دَ رائل هوټل مخي ته بربک شو او له دې سره سم دَ کاسموس ګربنډ يورپئين ټوْر پای ته ورسېدو - خودَ نورو په شان زما سترګي هم له ټولو ملګرو سره دَ خدای په اماني کولو په وخت له اوښکو داسي ډکي وې - چي هيڅ شی مي مخته نه ښکاره کېدلو ، چپ له هغو ګڼو اوريځو ، چي مور ېې له يو بله په ګړذونو کي ورکولو -

هو - زما په ياد دي چي کله ما دَ خپل ببګ ټرالۍ مخته کښولو، نو مي بيا بيا شاته ځکه کتلو ، چي ځيني لاسونه په هوا کي دَ خدای اماني وئيلو په نيت بيا بيا راته ښورېدلو - لاکن چي کله خپل ښي لاس ته په روډ کي ورچپ شوم ، نو مي له سترګو هغه ټولي راغونډي شوي اوښکي وَبهېدلې - کومي چي تر اوسه پښتني غېرت تم کړي وې او وَدرېدم - سترګي مي په ټشو پېپر پاکي کړې او مخته روان شوم -

په نيږدې کنګزکراس نامي علاقې کي مي لاندي دَ مېټرو سټېشن په پلېټ فارم جوړ تهامس کوک دفتر ته ځان وَرسولو او په يو نيږدې هوټل کي مي دَ خوني دَ کرايه کولو خواست ورته وکړو - هلته ناست کلرک سر ښورَولو ورسته وئيلو -

" دلته نيږدې خو هوټلان ټول بُک دي - که غواړې نو پهPaddington نامي علاقې کي به درته خونه بُک کړم "

دَ څه سوچ کولو ورسته مي ورسره خوښه کړه او **30** پونډه مي ورته وَ سپارلو - او بيا دَ کنګزهل هوټل ووچر په لاس کي دَ مېټرو په Yellow Line ټرېن کي ورسپور شوم او ګاډۍ په نيم ساعت کي Eusten , Great Port Land Street , Baker Street او Edgware Road شاته پرېښولو ورسته Paddington ته ورسېدله -

په دې علاقې کي مي له يو دوْکسانو پوښتنه کولو ورسته چي ځان کنګزهل هوټل ته څنګه ورسَولو ، نو مي له خلې وَ هغه شوکمار هندو ته ښبرې وَوتې، چا چي تېره مياشت ماته په

شېرنګ بنياد خونه په 25 پونډه راکړي وه- داسي ځکه ، چي دَ دې هوټل دَ معيار سره سره سنګل کوټه هم ترې ډېره صفا او ښه وه- کوټې ته رسېدلو ورسته مي بېګ يوې خواته وَغورځولو او په پلنګ باندي وَغزېدم-

---

"پاسپورټ نمبر دي نه دی راکړی - که يې راته په فون وَښئيلو ، نو مننه به وايم"

په دې خوارېه ښځينه ژغ اورېدلو که څه هم خوشاله نه شوم ، خو چي ګهړۍ ته مي پام شو ، نو دا دَ ماخستن لس نيمي بجې وې او ښه ډېر وږی هم وم- نو ځکه مي ورته وئيلو-

"دَ کال دپاره مننه ، زه خپله لاندي درځم"

او بيا مي په منډه منډه ځان لاندي کاونټر ته ورسولو- پاسپورټ نمبر ورکولو ورسته دَ هغې په راښول شوَلارو باندي مي ژر ژر ځکه ځان يو رېسټورېنټ ته وَرسولو ، چي دلته په اول ماښام بيا خلګو ډوډۍ خوړلې وي- خو زما له بخته په دې رېسټورېنټ کي مي خوارېه په نصيب شو -

"ته هم عرب يې؟ "

ما لا دويمه ګوله خلې ته نه وه وړې ، چي مخامخ راته ناست يو ځوان چي ترما لا هم ډېر وږی برېښېدو دَ غټې ګولې کولو ورسته چي داسي پوښتنه وکړه ، نو مي ورته وئيلو-

"يَه عرب نه يم ، زه پښتون يم او- "

او مخته مي دَ خپل هېواد نوم ځکه په خله نه راغلو ، چي ما په زړه کي وئيلو- چي داسي نه ، بيا سپک شم او په ځای دَ نورو خبرو ورته فقط وَ موسېدم- او هغه هم داسي هېر کړم ، چي بيا يې راته وَنه کتلو- دلته دَ خپتي غم خوړلَو ورسته چي مي بيرته دَ هوټل په لور مخه وه ، نو مي داسي سواليه سوچونو کولو- چي

" دا خلګ دلته څله کورونو ته ځانونه تر لمر پُټېدلو مخته رسوي ؟ چرته له تيارو خو وېرېږي نه ؟ مګر له چا او څله يې وېره کېږي ؟ دوئ خو په بلاګانو هم ايمان نه لري- نو څله پټ پټ کېږي؟ اوبل دوئ خو تر موږ مهذبه هم دي ، بيا څله داسي وېره؟ "

هو- زه هم په خپل سوچ غلط ځکه نه وم ، چي دې وخت که څه هم دَ شپې پاوْ بالا يوه بجه وه ، خو له ما سره په ګډه په روډ باندي مخ او شاته فقط څلور سايې وې، چي په بېلابېلو سمتونو رواني برېښېدلې- وْ ښار او هغه هم رومانټک ښارلندن - خو هيڅ قسم ژغ نه وْ په کي- هر څه دَ کلي په شان ويده وْ- بس که يو نيم ژغ کله کله تر غوږو راتلو ، نو هغه دَ سپيانو غپا وه يا په روډ دَ يو نيم موټر دَ انجني آواز-

---

دَ تېرو څو هفتو دَ سترِيا وسا کولو ورسته چي مي څنګه سترګي سهار په شپږنيمي بجې خلاسي شوې ، نو له روني ، داني ، کائيکو ، توشي، لاراګوک ، ډېني هاوْ، ميرنااو ونېسا څخه واخلې - بيا رک تر زاړه ويلئيم پوري ملګري مي په زړه داسي راوربدل شروع شولو ، چي دې وخت ما ځان ښخي يوازي او له انسانانو بېل چرته په يوه وران ځنګل کي سنجَولو -

"بيا به هم کله داسي ورځ راځي، چي دا ملګري به وينم؟ "

دا هغه سوال وْ، چي بيا بيا يې زما په مزغو کي غزَوني کولې او زه يې دَ ځواب په تمه مايوسه کولم- او کله کله به مي ځان ته هم په زړه کي بد رد ځکه وئيلو ، چي دَ خدای په اماني په وخت نور خو نور، بلکې کائيکو ته مي هم په دې ښارکي دَ بيا وصال نه کولو دپاره چي څنګه بهانه کړې وه- هغې بهانې دې وخت زه په دې مجبوره کړی وم ، چي په چيغو چيغو وَژاړم او دَ لندن په کوڅو او بازارونو کي ورپسې دَ مجنون غوندي دَ ملنګۍ کچکول واخلم- لاکن اوس ما څه کولی شو؟ هرڅه خو مي له لاسه وتي وْ- ځکه له پلنګ څخه راګوز شوم او دَ نن ګوا اتهلسم اپرېل **1996**ع تياري مي په مات زړه شروع کړه او دا فېصله مي وَکړه ، چي بيا به يو خواته له دغسي ګروپ سره په چکر وَځم-

دَ هوټل کنګزهل په رېسټورېنټ کي دَ چټو پېغلو دَ لاس ناری کولو ورسته په نهه بجې دَ خپل سبجن سيوري په چپه دَ ابکړۍ احساس په ملګري کي دباندي وَوتم- او دَ نيږدې مېټرو څخه په ټرېن کي دَ Victoria نامي علاقې ته تللو په نيت ورسم شوم- ټرېن په ډ سټرکټ

Khyber.ORG

لائن باندي دَ لومړي ستېشن Bayswater په لور رهي شو او پنځلس شل منټه کي دَ High Street Kensington , Notting Hill Gate او Gloucester Road نامي ستېشنان شاته پرېښودلو ورسته Earl's Court ته چي څنګه ورسېدلو ، نو زه ورځخه ګوز شوم او په دې بل اړخ پلېټ فارم کي دَ سرکل لائن په ټرېن کي لا سم کښېنستی نه وم ، چي رېل ګاډی Sloane Square شاته پرېښودلو سم دستي Victoria ستېشن ته ورسېدله -

دَ وکټوریا مېټرو څخه دباندي راوَتلو ورسته په وکټوریا سټرېټ کي ورسم شوم- او دَ پېري غوندي په برج روډ او دَ بکنګهم پېلس روډ په فټ پاتهونو ګرځېدلو ورسته په یوې وړې کېفې کي په کوفي څېښلو باندي سُر برابرَولو په نیت ورچپ شوم- څه وخت ورسته چي دباندي له کېفې څخه څنګه وَوتم ، نو په دویم ګام بیا شړک باران زه دَ نیږدې Trafalgar Travel Ltdنامي دفتر ته په ننوتلو وَپارَولم -

" های ګوډ مارننګ سر "

سم لا مخامخ کاونټر ته رسېدلی نه وم ، چي دَ کاونټر تر شا ناستي سپیني پېغلي راته سلام وَکړو او ما هم ګامونه دَ هغې په لور اوچت کړو-

" وایه ! زه ستا څه خدمت کولی شم؟ "

" زه لویه برطانیه کتل غواړم "

" ولي نه - ولي نه - هان دا واخله بروشر او راته وَوایه ، چي چرته چرته او دَ څو ورځو په ټرپ باندي تلل غواړې؟ "

او بیا مي یو نظر په Insight نامي بروشر اچولو ورسته ورته وئیلو-

" دا دَ یوې هفتې British Vista سېل به څنګه وي؟ "

هغې دَ موسکا ورسته وئیلو-

"دا خو هغه ټرپ دی ، چي زياتره ټوْرستان يې خوښوي او دا به په يوويشتم اپرېل پئيل کېږي- لاکن زما په خيال چي په دې ټرپ کي به ګنجائش نه وي "

او بيا يې څه سوچ کولو ورسته وئيلو-

"لاکن زه بيا هم هڅه کوم ، چي تا ته په کي ځای مونده کړم سر "

له دې خبري سره سم يې اِن سائيټ آفس ته فون وکړو ، او ورسره ږغېدلو ورسته ماته واي -

" ما دي بُوکنګ وکړو- زه به تر سبا سهاره حال درکړم- بس ته مازي ماته دَ خپلي رابطې نمبر راکړه "

ما هم ورسره خوښَولو ورسته دَ هغې په طلب دَ هوټل ټېليفون نمبر ورکولو سره سم **330** پونډونه هم وَسپارلو- او کله چي هغې پيسې شمېرلې ، نو يې راته وئيلو-

" هيله کوم ، چي ستا دا ټريپ کنفرم شي ،او بل دا هم کېدلی شي ، چي په دې ټرپ کي تاته درسته هفته په يوازي خوني کي دَ اوسېدلو چانس هم په ګوتو درشي- ولي، چي په دې ټرپ کي زياتره فېميلياني رواني دي- او ستا دَ ايج ګروپ خلګ به هم يا خو له نورو سره شئير کوي او يا نه شته "

" دا خو به لا نوره هم ښه خبره وي- زه به ستا له خوا دَ ښه زېري اورېدلو په تمه يم "

او بيا يې زما لاس کلک په لاس کي نيولو ورسته وئيلو-

"زه به خپله حتمي هڅه کوم ځوانه "

---

دَ ټرېول اېجنټ له دفتر څخه دباندي راوتلو ورسته مي ځان وَ وکټوريا سټريټ ته وَرسولو- ولي چي دَ راسره نقشې په سمه دَ Big Ben پرته West Minster Abbey نامي نوموړي او تاريخي ځايونه له دې ځايه دَ پيدل تګ په واټن دي- نو ځکه ډېر ژر زه بيا دَ يو غټ زاړه محل وزمه بلډنګ مخي ته ولاړ وم-

" دَ وېسټ منسټر ابېې، دَ لندن مزار چي دَ صليب په طرز جوړ دی دَ ويلئيم اول دَ وخت يادونه تازه کوي- دلته دَ انګلېنډ دَ ټولو باچهانو تاج پوشي شوي ده- او دَ ځينو باچهانو پرته په کي دَ قامي شاعرانو قبرونه هم جوړ دي- دَ دې ابېې غټې ګهمبدي تر ليري ليري پوري ښکاره کېږي "

له دې تاريخي او ښېخي ځانګړي ودانۍ څخه په ښي لاس بيرته په وکټوريا سټريټ کي ورسم شوم او دَ لندن ښار دَ شاپنګ سېنټرانو او بارونو سره سره مي په فټ پاتهونو روانو سرو لمبه وزمو انګلسۍ پېغلو په حُسن دَ قدرت شان ستائيلو ورسته زه يو وخت وَ تاريخي Big Ben ته وَرسېدم-

" دا ګهړيال، چي دَ ډائيل قطر يې دوه ويښت نيم فټه دی او ستن يې يولس فټه ده په هغې غټې ميناري لګول شوی دی ، چي 316 فټه اوچت دی- نو ځکه خو له ليري څخه هم ليدل کېږي "

هو چي ما کله Marsham Road ولانګلو ، نو دا ګهړيال ښکاره کېدلو- او له دې ځايه که څه هم هغه ميناره نېغه ولاړه ښکاري، خو وئيل کېږي ، چي اوس 15 انچه يوې خواته کږه ده او لا نوره نوره هم کږېږي لګيا ده- په زړه کي مي وئيلو ، بيا خو به يې اهميت هم دَ پيسا ټاوْر غوندي شي-

مخته دَ پارليمنټ عالي شان او هسک دفترونو سره سم زه اوس دَ تهېمز درياب په څنډې باندي روان وم او زما په چپه په درځنو نور ټوْرستهان هم ليدل کېدلو- موسم دومره سوړ نه وْ ، خو دې وخت ناوخته تېز او ځوکه باران لږ ډېر زهير کړی وم- ولي چي سم به لا وچ شوی نه وم، چي بيا به آسمان راباندي سُوروی شو- هرڅه هرڅه - خو ماحول شاعرانه او عاشقانه وْ- هو ، دغه خو وجه وه، چي يوې بلې خواته ټکنۍ غوندي ګرځېدلمه او دَ دُنيا جهان خوندنه او رنګونه مي دَ يادونو وَ ټاپوګانو ته سپارَلو لګيا وم-

يو وخت چي بيا باران تېز شو ، نو په يو نيږدې ريسټورېنټ کي وردننه شوم او فاسټ فوډ مي دَ غرمې دَ ډوډۍ خوړَلو په نيت تر لاسه کړو- خو دننه په کي زما دَ ناستي ځاي څه، چي دَ

Khyber.ORG

ولاړي ځای لا نه وْ- نو ځکه بیرته دَ دریاب له څنډي سره سره مخته دَ خپلي وړې چهترۍ په سوري کي روان شوم-

" انګریز، لکه څنګه چي ځانونه په چا نه تلي ، نو دغه رنګه دَ بل نازونه هم نه اخلي- ګوا په خپل خپل حال کي مست خلک دي "

داسي خبري چي مي سوچ کولې، نو زه په سپل کولو کولو کي داسي ستړی شوی وم ، چي دَ نور تګ توان نه وْ را په کي پاته- نو ځکه قضا ماخپښین خواته، چي ژبړی لمر له اوریځو راښکاره شوی وْ ، زه Lambeth North مېټرو سټېشن ته لاندي کُوز شوم او په Barkerloo لائن ټرېن کي له یوې تکي توري او غرتي پېغلي سره څنګ کي ودرېدم- دغه رنګه دا زېر زمیني ټرېن لکه مار Water loo , South Walk , Embankment , Charng Cross , Picacadilly , Oxford Circus , Regent's Park , Baker street , Mary lebone Baker او Edgware Road باندي دَ لس لس سېکنډه سټاپ کولو ورسته چي دَ منزل مقصود Peddington په لور څنګه څنګه غزېدلو ، نو له هغې توري خرتي فېرنګۍ سره زما ګپه هم نوره نوره خوږېدله لګیا وه-

---

دَ فون په ژنګ مي سترګي خلاسي شوې- دَ مازیګر شپږ بجې وې، چي دَ ښځي خوږ ژغ مي په رسیور کي تر غوږو شو-

"بخښنه غواړم لکه چي ویده وې؟ "

"هو ، وم خو- "

"سوري سر- دَ بې وخته تکلیف دپاره "

او بیا یې دَ سرې ساه اخیستلو ورسته وئیلو-

"ستا دپاره یو پېغام دی "

"پېغام -؟ "

په حېرت مي پوښتنه وکړه،

"هو پېغام - که غواړې نو بالا به يې خوني ته درولېږم"

"لاکن څنګه پېغام؟ "

"نوره نه يم خبره - کېدلی شي ، چي ستا دَ يو دوست پېغام وي"

"دَ دوست پېغام ؟ "

او بيا په مزغو باندي دَ يو څو لمحو دپاره زور ورکولو ورسته مي ورته وئيلو -

"يَه يَه -- زه خپله لاندي درګوزېږم"

دَ فون رسيور ږدلو ورسته مي دَ تندي خولي په لاس وچَوي کړې او په نه ساعت کي مي بيا ځان لاندي لابي ته داسي وَرسولو ، لکه هلته چي څوک زما وَ ملاقات ته راغلی وي- خو دا دَ ويښي سترګو خوب مي هغه وخت درې ورې شو ، چي هغې مستي او شوخي کاوْنټر کلرکي ماته يو پرچۍ په موسکا راوَسپارله او وئيلو يې -

"دا واخله خپله پرچۍ "

او په پرچۍ باندي ليک وْ -

"ډئير شوق ! "

ستا ټريپ دَ برطانيه کتلو دپاره کنفرم شو - له ما سره سبا ليدلی شې په دفتر کي --

ريټي ( ټرېفلګر )

که څه هم دا خبر زما دَ خوشالۍ خبر وْ، خو ګوره چي زه څله پرې خوشاله نه شوم او په مات زړه په پوړيانو بالا ختلو ته چمتو شوم- داسي نه چي ماته دَ چا دَ راتګ تمه وه ، بلکې له

Khyber.ORG

پرونه راهسې زه ابکړې دومره ځورَولی وم ، چې اوس راته دَ چا یاد په زړه کې راتلل هم لویه خبره وه -

" انسان دَ انسان خوراک دی - "

څومره ښه خبره هوشیارانو کړې ده- دا خو راته نن پته وَلګېدله- هو زه نن یوازې وم ، ځکه خو په لندن غونډې ښار کې هم دیغ وم او ځانته مې زړخوښیانې لټولو سره سره دا هڅه کوله ، چې وخت دَ برطانیې دَ سېل ترورځې لنډ کړم- لاکن وخت وْ ، چې ګرسره مخته کښېدلو نه- او بل دا چې دَ تېرو څو هفتو یادونه ، لکه خوب اوس داسې بې تعبیره شوې وْ- چې په ځای دَ تسکین یې نور نور لکه وران شوی پُرهار پژلم او په رقم رقم رنځونو یې رورېدولم-

هو - زما په یاد دي ، چې هغه عکسونه چې ما په تېرو ورځو کې دَ کاسموس له خوږو او ښېخې خوږو ملګرو سره اخیستې وْ نن زه په ژړا پارَولم- خو ما ژړلی هم ځکه نه شو ، چې آخیر پښتون خو هم وم او پښتون په ډېر څه اوښکه له سترګو نه راباسې- بس په زړه به مې کانړې رېدلو او دننه دننه به کړېدم راکړېدمه-

" څه چې هر وخت شته ، هغه قدر نه لري او څه چې نه شته ، هغه څه سړی په ځان پسې کړَوي "

دا هغه حقیقت وْ ، چې ما نن په زړه منلو او کله کله به په خپلې سختې روئې باندې غُصه هم راته راغله ، او په زړه زړه کې به مې وئیلو ، چې ماته داسې نه داسې کول په کار وْ له ملګرو سره- خو اوس وخت او ملګرې دواړه له لاسه وتې وْ- نور خو نور ، اوس مې لا هغه تائیوانۍ پېغله چاوْ چیا جانګ ، چې ما به کرکه ورځخه کوله - هم داسې په زړه راورېدله ، لکه هغه چې زما دَ کورنۍ برخه وي- چرته کائیکو ، ونېسا ، رونې ، دانې او لاراګُوک ، چې زما به ورسره وخت ښه په خوشالۍ تېرېدلو -

---

دَ نولسم اپرېل **1996**ع په سهار ناری کولو ورسته په نهه بجې له هوټل ځخه دباندې وَ وتم او نیږدې مېټرو سټېشن ته ورګوزېدو سره سم په ټرېن کې دَ Piccadilly Circus په لور ورچپ شوم- چرته چې دَ بارونقه بازارونو ، مارکیټونو او دَ ژوند له نورو زړخوشیانو په چپه رائل

اکېډمي، Museum of man kind هم شته- خو زه دَخپل زړه په صلاح وَ Tracodero Centre ته وره غلم ، چرته چي ځيني هغه شيان هم ږدل شوي دي ، چي په ګينيز بُک آف ورلډ ريکارډ کي خوندي شوي دي- دا سپنتېر هره ورځ دَ سهار له لس بجو دَ ماخستن تر لس بجو خلاس وي او له ليري ليري خلګ په ښه ډېر شمېر ورته راځي-

دَ ميوزيم کتلو ورسته چي څنګه دباندي راوَوتم، نو په ټېکسي کي دَ کنګزکراس په لور ځکه ورسم شوم ، چي يو خو مي دَ لندن په دې زړَو ماډلانو ټېکسيانو کي دَ سېل کولو شوق سرته رسولو ، او بل مي هلته Ryan Hotel هم کتل مقصد وْ ، ولي چي سبا نه بل سبا مي له هغه ځايه دَ برطانيه ټوْر پېيل کېدو- ما وئيل - ښه دی ، چي سهي خو يې کړم- داسي نه چي په هغه ورځ بيا ورپسې ټکنۍ ګرځم-

"تا څوني تعليم کړی دی"

ټېکسي چي څنګه مخته روان شو ، نو ما له ډرائيور څخه پوښتنه وکړه-

"له يونيورسټۍ څخه فارغه شوی يم - تر څو پوري چي بل ښه جاب ترلاسه کوم، نو دا ټېکسي به چلوم"

هغه چي دا وَوئيلو ، نو مي دَ خپلي مطالعې په سمه خبره داسي واړَوله ،

"په لندن کي ژوند ګران دی؟"

هغه يو ځل شاته زما په لور وَکتلو او بيا يې دَ خندلو ورسته خله وکړه،

"زما په خيال چي ته هم دې وخت دَ سټډي کولو په موډ کي يې؟"

"هو يم خو- ولي چي رائټر يم او خپل دا سفر هم په کتاب کي خوندي کول غواړم"

دومره چي مي وئيلو ، نو هغه شاته راوَکتلو او واي-

"نو بيا څه چي پوښتې- هغه وَ پوښته ، زه به دَ هر سوال ځواب درکوم"

او بیا ما دومره پوښتني ورځخه وکړې، چي هغه کله زه دَ ریان هوټل سره جوخت دَ اِن سائټ ټوْر دفتر مخته ګوزَولم، نو یې راته وئیلو-

"ستا له سوالونو مې دا اندازه وه شوه ، چي ته سوشیالوجسټ یې- څنګه صحیح وایم-؟ "

"هو بالکل صحیح پوهـ شوی یې "

دومره مې ورته وئیلو ورسته پیسې ورکړې او زه له ټېکسي ګوز شوم- نېغ مې په هغه دفتر کې انفارمېشن ډېسک ته ځان ورسولو -

"تاسو دې سره مېز ته ورتلی شی سر "

او بیا دغې کلرک وَ هغې بلي تکې سپینې پېغلي ته ور ژغ هم کړو ،

"ساندرا !دا ستا کلائنټ دی "

هلته ورتللو ورسته مې په وړه خله پوښتنه ورځخه وکړه،

"زه افضل شوق یم او ما پیسې هم دَ بل سبا دَ برټش ویسټا ټوْر دپاره جمع کړې دي- اوس دا معلومول غواړم ، تاسو به بل ووچر راکوئ او که دغه رسید ډېر دی؟ "

په یوه ساه کې دومره خبرې کولو ورسته چي مې رسید ورته وړاندې کړو، نو هغې رسېد کتلو ورسته وئیلو-

"یو منټ سر- زه به یې کنفرم کړم او ووچر به هم درکړم"

او بیا یې یو منټ په پنځو منټو بدلولو ورسته ووچر چي راکولو، نو یې خواست راته وَکړو، چي تر ټوْر روانېدلو به **15** منټه مخته ځان دلته رارَسوې- ما هم ورسره منلو ورسته ووچر خپل وېلټ ته اچولو ورسته دَ دې دفتر سره په څه واټن جوړ رېسټورېنټ ته ځان په غټو

Khyber.ORG

ګامونو وَرسولو- او هلته په چوکۍ لا سم کښېنستی نه وم ، چي چتې وېټري ځان راوَرسولو -

" ته يوازي يې سر؟ "

هغې له ما دَ کوفي آرډر اخيستلو ورسته چي دا پوښتنه وکړه، نو ما هم سر تر پښو ورته کتلو ورسته که څه هم په زړه کي وئيلو ، چي

"دا مال ښه دی "

خو بيا مي هم داسي په ډېر ښه او ښائيسته انداز ورته ځواب کي وَ وئيلو-

" هو ډېر يوازي يم او- "

ما به لا خبره مخته کوله ، چي هغې زما له خلې داسي زما دَ زړه خبره غلا کړه او واي-

" اېکړي ګرانه نه ده سر؟ "

" څه وکړم؟ مسافر يم- خپل هيڅوک نه لرم دلته او نه څوک خپلوی ته غاړه ږدي "

داسي وئيل څه وْ، چي هغې په سترګو کي سترګي را اچولو ورسته شونډي وَ موسولې او بيرته شاته ګام اوچتولو سره سم واي-

" سوري سر ! زه به کوفي درته راوړم "

او بيا چي له ما ولاړه ، نو مي ورته پام شو او چرته چرته چي تلله، هلته مي سترګي ورپسې کرېدلې لګيا وې- هو ځکه خو هغې هم بيا بيا راته کتلو سره سم خله هم کرَوله څه ، چي په موسکا به يې ښی سترګه هم نيمه پټه کړه- لاکن دا سترګه وهل دلته هغه مانا نه لري، کوم چي زما دَ قام او وطن خلګ يې ګڼي- نو ځکه مي زړه نه ورباندي غولولو -

" زه ايم- بي -اې کوم لګيا يم "

Khyber.ORG

چي کله يې دَ کوفي دويم کپ زما مخې ته رېدلو ، نو يې داسې راته چې وَوئيلو ، نو ما هم په حېرت نه ، بلکې په پسخوند ورځخه پوښتنه وکړه -

"ګوا دلته په دې رېستورېنټ کې هم -؟ "

هغه وَ موسېده او يو ځل يې شاوخوا ته سترګې وَځغلولې او بيا واې -

"که دا نه وَکړم ، نو زه به خپل تعليم څنګه کوم په دې هېواد کې ؟ "

"ولې ته دَ دې هېواد نه يې؟ "

"يَه- زه ساوتهـ امريکن يم او ماته چوې واې "

"دا نوم دې چائنيز ښکارې "

"هو- زياتره خلک "داسې واې "

"او لږه لږه خو بربښې هم ورته "

زما په دې ټوکې له خوږې موسکا سره هغه په بله تېره شوه- مختنه څه وْ ؟ هغه وه ، چې دَ رېستورېنټ له هر کونجه يې په ما هغه دَ ملګرې رحمت شاه سايل دَ يو شعر په چم دَ نظر غشې راباندې ورَولو او دلته يې زما په زړه هم خپل راجرګه شوې خيالات او خواهشات زخمې کولو لګيا وه-

هو- په داسې وار خو زه هم پښتون وم- پور مې په ځان چرته پربښولو او ځوابې غشې مې ورتاوْولو په ډېره اخلاص او مړانه باندې- نو ځکه چې کله يې دَ کوفي خالي کپ وړلو ، نو يې زما دَ درک معلومولو په باب پوښتنه هم وکړه- بيا چې په آخيري ځل پيسو اخيستلو ته راتله ، نو ما ورته دَ خپل هوټل په کارډ باندې نوم او دَکوټې نمبر نوشته کړې وْ- نور نه يم خبر ، خو چې کله له دې رېستورېنټ څخه وتم ، نو دې هلته له کونج څخه لاس راته ښورَولو ورسته دوه درې ځله دَ لاس پنجه داسې خلاسَوله لکه هغه چې ماته ټائم راښئې -

دَ کنگزکراس مېټرو سټېشن دَ يو غټ چوک په منځ کي ( چي تر ډېره هانده په ګيرډي بلډنګ پوري يې اړه درلودله ) داسي جوړ دی، چي دلته دَ هر يوه روډ له خوا ورته لاره لاندي ګوزه شوي ده- دومره غټ ځکه دی، چي له دې سټېشن څخه دَ برطانيه دَ هر ښار او علاقې په لور رېل ګاډياني وَځي-

لنډه دا ، چي ورته دَ ګوزېدلو ورسته بيرته په بله لاره ورڅخه وَوتم او Euston Road ته مي ځان وَرسولو او بيا دَ Gray Inn Road په فټ پاتهـ تر ليري پوري تللو ورسته په زېر زميني رېل ګاډۍ کي په نارتهن لائن باندي زما مخه دَ کامن سټريټ په لور وه- ګوا اېنجل، اولډ سټريټ ، مورګېټ او سېنټ پاوْل نامي سټېشنان شاته پرېښولو ورسته کامن سټريټ ته وَرسېدم-

دلته هم څه کم رش نه وْ- ځکه خو زه يې هم برخه شوم او ما په کوئين سټريټ کي ښه ځان سټړی ځکه کړو ، چي دَ زړه خوشاله کولو دپاره په دې علاقې کي موقعې هم کمي نه وې- خوند يې ځکه کولو ، چي دَ دې روډ وَ يوه سرته تهېمز درياب هم بهېدلو- يو وخت زه هم په هغه درياب باندي جوړ پُل باندي تېرېدلو ورسته چي دَ ساوتهـ ورک بريج په لور چېپېدم ، نو مي دَ درياب په څنډوباندي ناستو خلګو ته پام شو-کوم چي وْ په نيکرانو کي ، خو لمبېدلی ځکه نه شولو- چي دلته په تهېمز درياب کي دَ لمبېدلو جرمانه سل پونډه ده- په زړه کي مي وئيلو ، چي ښه دی - چي دا درياب هلته زما په هېواد کي نه دی- ګني دَ پوليس والاوْ به خورا مزې وی-

دَ تهېمز په څنډه په يو اوپن رېسټورېنټ کي برګر خوړلو ورسته تر نيم ساعته پوري په Ludgate Hill روډ باندي ګرځېدلو ورسته په زېر زميني کي په سېنټرل لائن باندي تر Notting Hill Gate پوري او له هغه ځايه تر يو بل سټېشن پوري په سرکل لائن او مخته په سېنټرل لائن باندي په ترتيب Chancery Lane , Melborn , Tottenham , Oxford Circus , Marble Ark , Lancaster Gate , Queenway , Bays water نامي سټېشنان دَ يوه بل شاته پرېښولو ورسته چي Peddington او بيا خپل هوټل ته رسېدم ، نو دَ مازيګر څلور بجې شوي وې-

" سر ! ستا دپاره دا ټېليفونک مېسيج دی "

Khyber.ORG

له کاونټره دَ کوټې کیلۍ را اخیستلو سره سم کاونټر کلرک یو وړوکی سلپ هم راکړو ، چي ورباندي لیک وْ -

ملګریه -

زه په شپږ بجې ستا انتظار ستا دَ هوټل سره نیږدې

دَ مېټرو سټېشن په خله کي کوم - خامخا به راسره

وینې ---- چُوي

سلپ په لاس کي چي بیا مخته روان وم ، نو مي بدن ګوره چي له ډېري خوشالۍ رېږدېدلو او که په رښتیا وېرېدمه له هغې بلا ، چي دَ دې چُوي په نامه به یې په دې ژړي لمرکي خوړلم- لاکن دَ هرڅه پرته هم دَ حېرانتیا خبره دا وه ، چي تیاري مي هم ورته کوله- ګوا دَ ټاکلي وخت په سمون چي کله له کوټې دباندي راوتم ، نو زما په تن باندي هرڅه نوي وْ- هم ځکه خو چي ما کله کیلۍ په کاونټر باندي جمه کوله ، نو هغې کاونټر کلرک چي خپله هم چټه پېغله وه ډېر په موسېدلي انداز زما دَ های په ځواب کي های وئیلو ورسته ګوډلک هم وئیلو-

---

شپږو بجوته لا لس منټه پاته وْ، چي زه دَ نیږدې مېټرو سټېشن وَ خلې ته وَرسېدم او سم لا دربدلی نه وم، چي لاس زما په اوږو باندي چا کښېښبولو- شاته چي مي وَکتلو ، نو چُوي په شنه جینز او لېدر جېکټ کي په خلاسو ویښتو ولاړه وه-

"های فرېنډ "

فرېنډ ؟ دومره ژر بیا داسي پېشرفت- په زړه کي مي لا دا خبره سمه سرته نه وه رسولي، چي هغې له لاسه وَنیولم او لاندي یې مېټرو ته ګوز کړم په داسي تازیله ، لکه هغه چي ژر تر ژره ما هلته رسَول غواړي ، چرته چي دَ خوبونو تعبیرونه رښتیا کېږي- او خبره وه هم دغه رنګه ، ولي چي زه او هغه بیا په نه وخت کي په ټرېن کي ناست ګوره چي په کومه روان وْ- که څه

Khyber.ORG

هم زه دې وخت په ګاډۍ کې ناست او هغه راسره په څنګ کې ولاړه وه ، خو لاس يې څوکه څوکه زما له اوږو دَ سر په لور د اسي بيا بيا غزېدلو ، لکه زه او هغه چې -

خبر- چې څنګه څنګه وخت تېرېدو ، زه هم زړَور کېدم لګيا وم- او کله چې ما او هغه هلته په يو سټېشن باندې له ټرېن څخه ګُوزېدلو ، نو مې له مزغو سره سره سترګو هم کار شروع کړی وْ- ولې چې دَ لګېدلي بورډ په سمه دا کنګزکراس سټېشن وْ-

"له دومره ليرې ته راغلي وې ؟ خو ماته به دې فون کړی وْ- زه به دلته راغلی وم "

هغې ماته سرتر پايه کتلو ورسته په موسکا کې وَوئيلو-

"لا خو نوې يې، چې کله په دې لارو لاړ را لاړ شې، نو به بيا خپله راځې "

دا خبره يې چې کوله، نو لاس يې په اوږه راته ايښی وْ-

"زه دلته درې کاله مخ کې دَ تعليم په غرض راغلي وم او- "

په يوې کېفې کې مخامخ ناستې څُوي ، چې دومره وئيلو ، نو يې سره ساه داسي واخيستله ، لکه جوړه چې دلته چا په کې زړه اوبه کړی وي- او بيا يې خپله خبره داسې مخته کښ کړه ،

" - هو تر شپږ مياشتو مې تعليم وَکړو ، خو بيا دَ يو چا په مينې کې دومره لېونۍ شوم، چې هرڅه راڅخه پاته شو "

"هغه اوس هم تا سره اوسي؟ "

" يَه سائمن اوس له ما سره نه ، بلکې بلې پېغلې سره هغه لوبې کوي -کومې چې يې له ماسره وکړې "

ما ځان مخته ورڅکولو ورسته پوښتنه ځيني وکړه- هغې هم خلاس ژېړ وېښته له تندي ليرې کولو ورسته په ډېر ژړَغوني انداز کې وَوئيلو-

" اوس زه دَ يوې بچۍ مور يم - "

او مخته يې هيڅ هم نه شو وئيلی ، ځکه يې نيږدې تېرېدونکي ټېبل بوای ته ورژغ کړو ،

" يو کپ کوفي بل هم - "

که څه هم اوس دواړه چپ ناست وْ ، خو ما په زړه کي وئيلو -

" شوقه ! دغه لا موقعه ده ، دَ اروپا او مغرب په حقله دَ خلګو دَ روئيو دَ پېژندني او کېدلی شي، چي دا هر هغه څه وَواي ، چي ما ته مطلوب دي "

نو ځکه مي خبره داسي وا ړَوله -

" نو دَ دې مطلب دا دی ، چي دَ دې ځای خلګ دومره بې وفا دي "

" هو بېخي زيات - بلکې دلته بې دَ کاروباره بل هيڅ داسي انساني احساسات او جذبات نشته ، چي انسان وَ انسان ته نيږدې کوي "

" لاکن په ښکاره خو دومره - "

" ستا مطلب ، ګوا ښه دي؟ "

" هو دغه مي مطلب دی "

ڃُوي دَ کوفي له دويم مګ څخه غوړپ کولو ورسته په پسخوندي غوندي موسکا کي واي -

" دا چي ښکاري - داسي دننه ګرسره نه دي، منافقت دلته بېخي ډېر دی او بلکې دلته چپ له ذاتي لالچه بل هيڅ نشته- که شته ، نو هغه ده دهوکه - فقط دهوکه او لا دا ، چي غېرانساني خويونه ، لکه سېکس او نفس ته ما ته خوړَل "

"ستا مطلب له برطانيه دی که -؟ "

"يَه په تشه برطانيه کي هم نه ، بلکې هر هغه هېواد ، چي دَ ترقۍ دعوه کوي "

چوي چي دا خبره کوله ، نو ماته هغه خپله هم دَ هغو په کتار کي ولاړه وَبرېښېدله ، چي په شُوکماري کي ساري نه لري- خو بيا چي به مي ورته ښه په وړو وکتلو ، نو به يې راته په څېره کي څه معصوميت هم ښکاره شو- ما به لا نور خپل دغه سوچ مخته دېکلو ، چي هغې بيا خله وَکړه او واي-

" زما دَ ايشيا خلګ او په تېره مسلمانان ځکه خوښېږي ، چي سپين زړي او تر ډېره هانده مخلص دي په انساني روئيو کي "

او بيا يې زما په سترګو کي سترګي را اچَولو ورسته پوښتنه وَکړه،

" ته خو مسلمان يې؟ "

" هو مسلمان يم دَ لوی خدای شکر دی - لاکن "

" لاکن دا ، چي مسلمان ته له بلي ښځي سره داسي په آزادۍ نه دي کښېنستل په کار- ستا دا مطلب دی؟ "

" يَه دا هم نه بلکې - "

اوس به مي لا داسي ورته وئيلو ، چي مسلمان يم ، خو کارونه مي اسلامي نه دي ، چي هغې وار لاس ته کړو او واي-

"کله مي زړه راته واي ، چي مسلمانه شم، خو "

" خو څه - نو بيا مسلمانه شه - ځنډ څله ؟ دا خو نېک کار دی- او په اسلام کي امن دی ، سوکالي او دَ دواړو جهانونو خوشالي هم لا جلا - "

Khyber.ORG

دا خبره چي مي کوله، نو دَ دننه سړی مي څه غوندي مطمئين شو او ما هڅه شروع کړه ، چي بس اوس اوس وربانديِ دَ حق کليمه وَوايم- لاکن هغې راسره ګوره ، چي څله نه منلو-؟ او خبره يې يوې بلي خواته اړَوله- بيا بيا يې وئيلو-

" شم به مسلمانه او حتمًا به شم ، خو دا يې لا وخت نه دی- ولي چي زه اول اسلام او مسلمانان ستېډي کول غواړم ، بيا به- "

هغې چي به داسي وئيلو ، نو مابه په زړه کي وئيلو ، چي

"بيا خو ، نو نه شوې مسلمانه- ولي چي اسلام به دي خوښ شي که دي وَلوستلو- لاکن دَ نن مسلمانان او مسلماني روئيې به دي زړه مات کړي- ولي چي - هو ، هغوئ خپله خو هم دَ مغرب په غېږه کي په خوارۀ خوب ويده شوي دي او دُنياوي خوبونه ويني لګيا دي "

مابه لا نور سوچ کولو ، چي هغې راته په لاس چونډۍ راکولو ورسته وَ وئيلو-

" څه سوچ کوې - ولي ته غواړې چي اوس اوس مسلمانه شم؟ "

ما به لا اوس ورته يو بهانه له خلې وتله، چي هغې زما په سترګوکي سترګي را ښخولو ورسته ژبه په سرواو نرئيو شونډو داسي تېره کړه ، لکه زه چي هغه دَ حق په لاره نه ، بلکې هغه ما په چپه لاره بوتلل غواړي- ځکه خو زه هم محتاط شوم او بيا چي له کوفي شاپ څخه دَ هغې دَ کور په لور تلمه ، نو ما په لمنه هيڅ قسم داغ هم نه پرېښودلو- هو ، که څه هم - چي بيا خپل هوټل ته بيرته رسېدم ، نو نيمه شپه وه او لا ماته خوب نه راتلو- ګوره چي له ډېري ستړيا او که له داسي خيالاتو، چي سهارګا خواته مي " حقه دا، چي که حق وايم - خفه کېږي "تر عنوان دلاندي نظم هم کړو-

مخته بيا څه وخت خوب په غېږ کي اخيستی وم ؟ نه يم خبر ، خو دا مي په ياد دي ، چي په دې بله ورځ مي سترګي په يولس بجې راخلاسي شوي وې- او دَ تياري کولو ورسته مي يوځل بيا دَ شپې له يادونو سره سلسله ګنډلو په نيت دَ کنګزکراس په لور مخه کړي وه- ګوا ، که مي څه هم دَ سبا ټرپ کنفرم وْ، خو دَ تيارۍ په باب دَ ځينو نورو پوښتنو دَ پاره ځوابونه ترلاسه کولو په بهانه او له ملګري چُوي سره دَ بيا ملاقات په غرض هم-

Khyber.ORG

نن چوي ، که څه هم ډېره خوشاله وه ، خو دا يوه خبره يې بيا بيا ګوره چي څله کوله ، ګوا

" قسمت دَ انسان په لاس کي دی ، نه چي انسان دَ قسمت په رحم و کرم "

خو ما چي به هر څو ورته دَ قسمت په حق کي خبري په غټو دليلونو کولې، لاکن هغه وه ، چي يوه يې هم نه منله- نو هم ځکه خو ورځخه ورو ورو مايوسه کېدم په دې سوب ، چي هغې اوس يوه نيمه خبره څه ، چي ډېري خبري دَ حق دَ لاري دَ خلګو په باب داسي په واز ګومي کولې ، لکه هغه چي يې په هر څه خبره وي- هم ځکه خو ، دَ پرون هغه مئينه نن په ما باندي وار په وار غمېدله لګيا وه- او ما غوښتلو ، چي ژر تر ژره يې بېرته په هغو لارو پربږدم ، چي دا پرې روږدېدلي وه- لاکن داسي په آسانه هم نه، بلکې دَ دې هر څه پرته يې هم په تلکو کي ورګېرولو دپاره هڅي که څه هم هغسي پرونۍ وزمه کولې، خو نن زه ورته بېداره شوی وم- او نه مي غوښتلو ، چي نور نور يې په دام کي ورګېر شم- ګوا که څه هم دَ فرار لاري نه راته ښکاره کېدلې، خو هڅوال يې حتمًا تر هغه ساعته وم، چي مي ورځخه خلاسون نه وْ موندلی-

*****

# انګلېنډ--که دَ شېکسپئير دَ ډرامو کردارونه

دَ 21م اپرېل **1996**ع سهار وختي چې ما دَ باتهـ روم په هنداره کي خپلې څېرې ته کتلي وْ ، نو بېه راته هغسې پخوانۍ ښکاره شوی وه- ګوا هرڅه مې وَ زاړه حال ته مونبدو ، خو بس که بدل وْ-- نو هغه وْ دَ اِن سائيټ ټرېول کمپنۍ غټ او دغه ښائيسته بس ، چې په کې دَ ډرائيور او اسکارټ په چپه له ما سره 34 انټرنېشنل ټوْرسټان ، چې دَ نړۍ دَ بېلابېلو هېوادونو څخه يې اړه لرله دَ خپلو ځانګړو څېرو سره په چوکيانو باندې ناست وْ او ټولو يو بل ته لا خو دَ حېرت په سترګو کتلو -لا بيا دَ سترګو په جنګولو کې هر چاته دَ يوْ نا يوْ سره دَ خپل خپل نوعيت تړون مطلوب وْ-نو ځکه ما هم په بس کې شاوخوا سترګې ځغلولې-

چپ له يوې زَړې غنم رنګې هندَوي ، چې نوم يې تر دې وخته لا زما نه وْ زده - نور ټول يا خو پيتان وْ، يا بيا سرهْ سپين-او هغه هم زياتره په کې لا دَ مخه جوړه شوي وْ–

خبر- دَ غوره شوي پروګرام په سمه دَ اِن سائيټ بس په لندن ښار کې دَ کنګزکراس نامې علاقې دَ ريان هوټل څخه مخته روان شو - نو دَ سرخرېلي ډرائيور سره مخته په کېڼ لاس خوا کې ناستې اسکارټ مائيک خلې ته وَنيولو او واي-

" زه Darke Joana ستاسې ټوْر منېجر يم او ډرائيور مسټر رچرډ دَ Insight له خوا په دې اووه ورځني British Vista ټوْر کې تاسو ته دَ سهار سلام ورسته ښه راغلی وايم - دا ټوْر چې کوډ نمبر يې **A/036/1257** دی او دا له لندن څخه تر لندن پوريې ترپ به دَ عظيمې برطانيه دَ درو رياستونو لکه انګلېنډ ، سکاټ لېنډ او وېلز په سېل باندې اړه لري- او دا مې خوائيش دی ، چې تاسو دا ټوْر انجوای کړئ "

دومره وئيلو ورسته يې بنډل دَ نقشو راواخيستلو او هر ګس ته يې يوه يوه نقشه ( Map of Great Britain & Ireland ) په لاس کې چې څنګه ورکوله ، نو په بس کې ناستو هم خلې وَکړې او دَ نقشې په بهانه تر خپلو خبرې هم پئيل شوې-

په خپل وار چې تر ما راورسېدله ، نو نقشه راته وړاندې کولو په وخت واي -



ليک: افضل شوق

Khyber.ORG

" ستا نوم ؟ "

" افضل شوق - خو ته راته شوق وئيلی شې "

" شاک مسټر شاک "

او زما دَ نامه له داسي موسکني تکرار سره مخته تېره شوه ، لکه زه چي شوق نه - هغه شارک يم ، چي دا به رک هغه وخت خورم، چي کله هغه دَ نورو وړو ماهيانو په ښکار کي بوخت وي- ولي چي ماته يې په تندي باندي هغه ګونځي دَ ورايه ښکاره کېدلې ، چي دغه رنګه ښځي يې زياتره وخت دَ سړيانو دَ ښکار کولو دپاره دَ جال په توګه په کارَوي-

---

" په لندن کي نن چي څومره ښه موسم او لمرينه ورځ ده ، نو بلي خواته اتوار او دَ لندن مېراتهن (دَ منډي مقابله هم) ده ، چي سهار له جنوبي لندن څخه راپئيل شوي ده - خبر، دَ معلوماتي خبرو سره سره به زه تر خپله وسه ستاسي مسئلې هم هوارَوم او هڅه به کوم ، چي دا ټوْر ستاسي يادګار اوکټور وګرځي- لاکن لومړی دا زما موبائيل ټېليفون نمبرله ځان سره وليکئ - "

موبائيل نمبر، چي042-5579-29 وْ رابنئيلو ورسته واي -

"څوک چي هم چرته بې لاري کېږي ، نو هغه دي له ما سره تماس په دغه نمبر نيسي- که څه هم تاسي زياتره دَ عمر په لحاظ تر ما غټ يا زما همزولي ياست ، خو دې وخت دَ اسکارټ په حېثيت زه ستاسي ټيچره يا مور يم- نو ځکه خيال کوئ - په وړو غلطيانو هم درڅخه خفه کېدلی شم "

او بيا يې دَ دې شوخي خبري ورسته يوه خوږه کړيکه دَ خندا له خلې څخه چي څنګه وَوتله- نو په بس کي ناستو ملګرو په شونډو باندي هم موسکاګاني وَغوړېدلې- او بس چي کله دَ Hoover نامي غټ بلډنګ څخه په کيڼ لاس دَ هغه پخواني او تاريخي ملټري ائيرپورټ په خوا مخه کړي وه ، چي په دويم نړئيز جنګ کي ببخي زيات په کار راويستل شوی وْ- نو جوْنا هم داسي په ژغا شوه -

Khyber.ORG

" په دې هېواد کې دَ ببخي ګرانۍ پرته هم ستاسو دپاره دَ ډېرو ښو هوټلانو اهتمام شوی دی- کوم چې زياتره درې خاليزه هوټلان دي- خوني که يې څه هم غټې نه دي ، خو باته رومان غټ غټ لري- او بل چې کوم هوټل ته به هم رسېږو ، نو هلته به په هري خوني کې دَ لائټ رېفرشمنټ په توګه دَ مېوو پرته دَ بجلۍ چائيدانه ، بوره ، چائي پاڼې يا کوفي سره دَ څو بسکوټونو موجود وي- کوم چې ستاسو ستړيا وسا کولی شي- "

پېغله جوْنا چې ژغېدله ، نو موږ هم زياته دَ لندن ښار شاته پرېښولو لګيا وْ- دَ روډ دواړو څنډو ته دَ شنو ميدانونو او ځنګلي ونو په چپه واړه واړه ټاوْنونه هم مخې ته راتلل پېيل شوي وْ- دلته زياتره ودانياني ډوپلېکس ټائپ دي،ګوا تر يوه غټ بام دلاندي څوڅو او دوه باميزي خوني جوړي شوي وې- دَ دې ودانيانو شاوخوا که څه هم دېوالونه نه وْ ، خو ګېرچاپېره يې پوُسونه په ډېر شمېر باندي غرېدلو او يو نيم ځای مي اسپي هم تر سترګو شولې-

دلته هم دَ اروپا دَ نورو هېوادونو په رنګه حکومت دَ ببلابېلو قسمونو دَ پائن وني ځای په ځايکرلي دي ، چې دَ فطري ځنګل ښائيست لا نور نور زياتَوي څه ، چې دا شنېزه او تر ليري ليري پوري هر اړخيزي رنګيځي ننداري دَ سېلانيانو مزغو ته دَ سفرکولو توان وربخښي- ګوا يوې خواته دا او بلې خواته اسان ، پوسُونه لا جلا- په ټاوْنونو کې دَ زياترو ښځو ګڼي انګلسي جامې داسي څرګندوي ، لکه په دې خاک باندي اوسېدونکي چې دَ هر څو پرمختګ سره سره دَ ژوند ژواک طريقې نه بدلوي-

دا پورتنۍ خبري مي لا سمي په ډائرۍ کې نه وې اړَولي، چګې زما وَ مخته په چوکۍ باندي ناست دَ پاخه عمر سړي مخ راواړَولو او پوښتنه يې وکړه -

" ته لکه چې يوازي يې -؟ "

ما به لا اوس ورته په ځواب کې په "هو " وئيلو باندي غاښونه سپينَولو، چې ورسره ناستي خواپاکي زَړه ملګري واي -

Khyber.ORG

" زه وېلما يم ، دا زما مېره هېري او هغه زموږ وَمخته ناست ځوان زموږ کېوين او ورسره ناسته پېغله اېلن مي لور ده ...موږ دَ کېنېډا دَ اونټېريو اوسېدونکي يُو "

"له تاسو سره په ملاقات کي خوشاله شوم - لاکن "

ما لا دغه لاکن تر سره نه وْ رسَولی ، چي پېغلي لُور اېلن دَ هغوئ پام دَ هغو شنو ميدانونو په لور واړَولو ، چرته چي ببخي ډېري غواګاني غرېدلي- ځکه زه هم دَ حېرانتيا سره سره په دې سوچ کي ډوب شوم ، چي دا خلک دَ خپلي زَړې زمانې دَ کاوْبواى کلتور سره سره اړيکي ساتلو کي وياړ محسوسوي- سوچ چي مي تر دې ځايه راورَسولو ، نو دَ هېري او وېلما ځوان زوى کېوين له خپله ځايه راولاړ شو او شاته راغلو- زما په څنګ کي په خالي چوکۍ باندي چي څنګه کښېنستلو ، نو واي -

"بخښنه غواړم - زه دلته کښېنم "

"ولي نه - ولي نه ، راځه کښېنه "

دَ کهړکۍ په خواته دَ ځکېدلو سره سم چي مي څنګه ست دَ ناستي ورته وکړو ، نو هغه لاس راوغزَولو او واي -

" ستا نوم څه دی؟ او دا راته وَوايه ، چي دَ ليکلو سره سم لګيا يې په ريکارډر باندي خپلي خبري هم ثَپ کوې "

او بيا زما او دَ کېوين تر منځ خبري دَ پېژندګوى څخه دَ انګلېنډ ترغواګانو پوري راورَسېدي- دَ کومو په حقله چي هغه وئيلو-

" داسي راته ښکاري لکه دَ برطانيې خلک چي ترانسانانو زيات دَ بودګانو سره مينه کوي- ولي چي دَ کورونو شاوخوا يې انسانان کم او پوُسونه ، غواګاني او اسپي ډېري ښکاري "

که څه هم هغه ټوکه کوله ، خو دَ حېوانانو سره دَ فېرنګيانو مينه له جهان څخه پټه نه ده- او هغه هم تر دې هانده ، چي که چرته دَ يو انسان او دَ سپي يا يو بل ځناور تر منځه دَ يوه دَ ژوند

Khyber.ORG

دَ ساتني خبره راشي -- نو ممکنه دا ده ، چي انسان به پرېږدي او ځناور به وَ ژغورلی شي- ولي چي يو خو دَ هغوئ له ځناورو سره ډېره جوړه ده او بل په داسي کارونو هغوئ نوم هم ګټي-

---

پاوْ بالا نهه بجې سهار چي دَ يو نوشته بورډ په سمه برمنګهم فقط 32کلومېټره باندي وْ او لينګټن دَ 10 کلومېټره په واټن ، نو بس دَ لوي لاري وَ کينۍ لاس ته په يو ښائيسته هوټل باندي وَدرېدلو- او دلته مورِ دَ نيمي ګنټهې سټاپ کولو ورسته مخته روان شو- اوس په آسمان کي ځای په ځای اوريځي هم راغونډي شوي وې او کله کله به دَ ژېړ او بې سپکه لمر ځېره هم په کي دَ څه وخت دپاره پټه شوه- دَ لس منټه دَ مزل ورسته په يوه واړه درياب باندي برسېره تېرېدلو سره سم دَ سټراټ فورډ ښار په لور وګرځېدلو او پنځه منټه بالا لس بجې مورِ دَ ستر شاعر او ډرامه نګار ويلئيم شېکسپئير وَ وړې نړۍ ته ورسېدو-

په دې واړه ، زاړه او ډېر ښکلي سټراټ فورډ ښار کي په ايوان نامي درياب باندي تېرېدلو په وخت دَ جوْنا ژغ دَ بس په سپيکرانو کي خپور شو او وئيل يې-

"دَ انګلسی ژبي ببخي نامتو ډرامه نګار او خورِ شاعر ويلئيم شېکسپئير په کال 1564 کي په دې ښار ياني سټراټ فورډ کي زېږېدلی وْ- دلته يې ورځي شپې تېري کړي دي- او دَ دغه درياب په څنډو او ورسره خوا کي په دې تنګو کوڅو کي يې په ماشوموالي کي بازۍ او په ځوانۍ کي چکرونه هم وهلو سره سره دَ خپلو ډرامو دپاره کردارونه لټولي دي- اوس هم داسي ښکاري لکه دَ دې ښار هره ننداره چي دَ هغه دَ ډرامو ننداره وي "

جوْنا چي دا خبري کولې ، نو دَ بريج فُوټ څخه دَ بريج سټريټ په خوا وګرځېدو او په دې سټريټ کي چي زياتره ودانياني په کي له تراشل شوْ کاڼو څخه جوړي وې مخته وتلو سره سم دَيوه غټ چوک څخه ښي لاس ته په هينلې سټريټ کي ورسم شولو -

"دا هغه کوڅه ده ، چي په کي دَ ستر شېکسپئير کور له مورِ څخه په څه واټن باندي دَ شېکسپئير سېنټر سره جوخت جوړ دی- چرته چي به هغه دَ مور او پلار او په تېره دَ ګراني لور سُوزانه سره اوسېدلو "

Khyber.ORG

جوْنا لا په سمه دا خبره سرته نه وه رسولي ، چي زموږ بس دَ Shakespeare's Birth Place نامي ښېخي زاړه سراى ، چي په دېوالونو کي هوډل شوي خښتي او لرګيان يې په سپين او تور رنګ رنګول شوي وْ مخته ودَرېدو- دَ ملګرو سره زه هم کښته شوم او دَ شېکسپئير وَ کور ته ورننوتلو په نيت چي څنګه دَ زړې هندَوي بانو ، چي پوره نوم يې بانومدون وْ تر شا ودريدم ، نو هغې په تورو لغوَړنو اوورئيو کي پېوند لاکن سپين غاښونه په ډېرکمه مينه راښکاره کولو ورسته وئيلو-

" داسي ښکاري لکه شېکسپئير چي دَ هغه وخت په مَړو خلګو کي يَو وْ ، چي دَ پخوانۍ زمانې دَ لحاظه دا کور-کور نه ، بلکې بنګله وه "

ما به لا اوس موسکا ورته دَ ځواب ځاى وړاندي کوله ، چي جوْنا زما مسئله راحل کړه او وئيل يې-

" شېکسپئير دَ جېمز اول په خاص درباريانو کي يَو درباري وْ - او هغه که ډرامه نګار نه هم وى ، نو دَ نقادانو له قوله هغه ډېر ښه شاعر هم وْ- دَ هغه نوم چي له دې هېواده ليري کړل شي ، نو هيڅ نه پاتېږي "

" ښېشکه -- څومره نوم چي شېکسپئير وَ انګلسيانو ته ورکړى دى ، نو دَ يو ژوندي او وفاداره قام په خير دې انګلسيانو هغه مرګ ته نه دى پرېښى - بلکې هغسي ژوندى ساتلى دى "

دَ ګائيډ له خبرو سره چي څنګه ما خپلي جذبې دَ احترام په توګه دَ دې پېرنګي قام په نامه دَ سوچ په نيلي سپرې تر دې ځايه راوَ رسوَلې ، نو دَ جوْنا په مشرى کي موږ دَ شېکسپئير بېډ روم ته ور دننه شولو- او دغه رنګه دَ هغه ډرائنګ روم ، سټډي روم ، دَ ډاکټر او دَ سوزانه خوني کتلو ورسته موږ چي څنګه دَ دې کور سره جوخت شېکسپئير پېس سېنټر په لور روان شو ، نو زَړه لاکن په خوئيو ځوانه بانومدون راڅرمه شوه او داسي راته ګډه شوه - لکه جوړه چي زه دَ هغې په کوڅې کي اوسېدم- لاکن کولى مي هم څه شو- ولي چي زما هم ژبه شله شوي وه- ځکه خو ورسره په خبرو باندي اخته شوم-

Khyber.ORG

" زما په خيال چي په شېکسپئير سېنټر کي به هم تش دَ هغه دَ استعمال دَ شيانو په چپه هيڅ هم نه وي- نو ځکه درځه چي په دې نيږدې دوکانو کي وګرځو "

لا به يې څه نور وئيلو، چي په دې خبري مي مازغه ورته وګرځېدلو او په نېغه مي ورته وَوئيلو-

"بخښنه غواړم- زه دلته دَ شاپنګ په نيت نه ، بلکي دا څيزونه کتلو ته راغلی يم"

بس بيا نو څه وْ ، ژر مي جند هم ورڅخه خلاس شو او په شېکسپئير سېنټر کي دَ هغه په ژوند کي استعمال شوي شيان لکه جامي ، ګوټونه ،کوټونه ،دَ خوراک لوښي، کتابونه او يو څو دَ ډرامو کلمي نسخې هم دَ هغه په وَړې لائبرېرۍ کي دَ کتلو او عکسونه اخيستلو ورسته له دې ميوزيم وزمه سېنټر څخه چي بس ځنګه روان شو، نو جوْنا وئيلو-

" څومنټه ورسته به تاسو په سټرات فورډ سېنټرل ائيريا کي دَ څو ګنټهو دپاره په دې نيت خُوشي کړو ، چي په خپله خوښه سېل وَکړئ- هو، تاسو هلته دَ شېکسپئير دَ تهېټر، ورلډ آف شېکسپئير سره سره دَ هغه دَ ډرامو کردارونه هم ليدلی شئ- خو دا ياد ساتئ ، چي موږ به په يوه بجه له دې ځايه مخته کوچ کوْ "

جوْنا چي دا خبري سرته رسولَي ، نو بس دي ورلډ آف شېکسپئير نامي ځای ته بيا رسېدلی وْ- او په خپل خپل وار ملګري له بس څخه کښته کېدو-

دلته دَ يو غټ چمني پارک سره جوخت رائل شېکسپئير تهېټر، چي په زاړه روائتي انګلش وزمه طريقه جوړ وْ دَ کتلو ورسته بيرته دې چمني پارک ته ورچپ شوم- چرته چي په کي دَ شېکسپئير دَ غټي مجسمې پرته دَ هغه دَ ټولو مشهورو کردارونو، لکه هېملټ، فالسټاف ، لېډي مېکبتهـ او داسي نور نور بُتان نه يوازي ولاړ دي، بلکې دَ ټورسټانو پام غلطَوي-

خوند او پند يې دَ کتلو په خپل ځای ، خو دلته دې هرڅه زما په زړه باندي هغه خپل بې قدره ستر خوشحال خان په وار وار ځکه راورَولو- چي زموږ بابا په يوه مانا هم له شېکسپئير

Khyber.ORG

ځخه که زيات نه - نو کم هم نه وْ او نه دی- لاکن دَ پښتون قام ، چې دعوې دَ مارشلټوب کوي په دې وار دَ پيل په غوږ کي پروت څه، وايم چي ويده دی او خرکېږي-

دَ خوشحال په نامه په پاکستان کي څه ، چي په پښتني افغانستان کي لا داسي نامي يادګارونه نه شته ، چي دَ پښتو او پښتنو پلار ورباندي ياد شي- هم دغه وجه وه ، چي دَ شېکسپئير دَ مجسمې سره خوا کي ناست يو وخت ما خپل زړه دَ "دَ شېکسپئير دَ مجسمې وړاندي " تر عنوان دلاندي وَ خو ژړولو- لاکن چي به مي دَ خپل قام وَ بې غورۍ ته پام شو ، نو به مايوسه شوم- ولي، ما چي دَ کومي هستۍ دَ ګُمنامۍ په باب سوچ کولو- دَ هغه ستر مشر ننګيالي لمسيان دَ پيسو په چپه چي نور څه خوښوي ، هغې ته مانده ورځ وئيل کېږي-

"شېکسپئير په انګلېنډ کي دَ يو ليکوال په حېثيت څه ، بلکې دَ دې هېواد يو سُنهري تاريخي باب هم ګڼل کېږي او دَ شهرت يې دا حال دی- چي انګلينډ ته "دَ شېکسپئير انګلېنډ "وئيل کېږي او اوس هم دا خلګ په هغه باندي داسي وياړي ، لکه هغه چي مړ نه - ژوندی وي "

په ډائرۍ کي دا ليکلو ورسته دَ ساړه او واورين موسم خوندونه اخيستلو په نيت چي له پارک ځخه وتم ، نو هېري او وېلما له خپلو بچيانو سره په مخه راغلو-

" تا لنچ کړی دی ؟ "

" يَه - اوس مي لا اراده ده دَ خوړَلو "

ما چي ځنګه داسي ورته ځواب بيا کړو ، نو وېلما راته وئيلو-

" درځه - نو بيا له موږ سره ملګري وَکړه - ځوان سړئيه "

او هېري هم واي -

" هو درځه ، چي څه خبري هم سره وَکړو "

نو ځکه ما هم ورسره خوښه کړه او بيا دَ رېستورېنټ په لټون کي دَ شېکسپئير په ښار کي (چي په زياترو چوکونو باندي دَ شېکسپئير په اړه مجسمې يا نور يادګاري ځايونه وجود لري) دَګرځېدو ورسته دَ پېغلي ايلن په خوښه مونږ په يوه واړه لاکن ښائيسته او صفا رېستورېنټ کي ور دننه شولو-

"دا ته ولي هر وخت په ډائرۍ ليکلو کي مشغول ښکارې؟ "

"ليکوال او شاعر يم-"

ما به لا دَ ايلن دَ پوښتني په ځواب کي دَ ځان په حقله نور څه وئيلو ، چي هېري واي -

"زما هم دغه خيال وْ ستا باب- لاکن ليکوالان خو ټول-"

"پوهـ نشوم"

ما چي پوښتنه وَکړه، نو هېري په موسکا کي داسي وار راباندي لاس ته کړو-

"مطلب دا ، چي ته يوازي ولي يې ؟ "

"دَ دې مطلب دا دی ، چي شاعران خو په مينې باندي زياته اړه لري-او ته يوازي يې؟ "

او بيا دَ ايلن دَ خبري دَ وضاحت په ځواب کي دَ ځان او دَ کار په حقله دَ خبرو سره سره مي دَ سياحتي ضرورت په باب هم څه خبري وَکړي- مختته څه وْ -؟ ګپه خلاسه شوه او هر يوه تر ضرورت زياتي خبري کولې او لنچ مو هم په ګډه باندي په مزه مزه خوړَلو- بس چي کله له رېستورنټه وتلو ، نو دَ وېلما په دې خبره باندي دَ هر يوه خله له خندا ډکه وه-ګوا

"ښار هم دَ شاعر دی او ډوډۍ مي هم له شاعر سره وَخوړَله - خُدای دي خېر کړي، داسي نه چي هېري هم شاعر نشي"

---

دَ پروګرام په سمه ، یوه بجه ماښپښین چي څنګه دَ سټراټ فورډ څخه مخته روان شولو ، نو په پنځلس منټه کي دننه دننه بیا دَ واروېک ټاوُن ، چي زیاتره په کې دَ پخوانۍ زمانې جوړي ودانیاني دَ دنګو دنګو برجانو سره ښکاره کېدلي څخه په څنګ کي تېرېدو په وخت اسکارټ جوُنا واي -

" تاسو به وَ دې زَړو بلډنګانو ته کتلو ورسته یقینًا دا اندازه کړي وي ، چي ګوندي فېرنګیان دَ زَړو او تاریخي شیانو سره څومره مینه کوي او هڅه کوي ، چي دَ موسمي اثراتو څخه یې ژغورلو په نیت هر کال رنګوي هم- "

جوُنا لا دَ واروېک ټاوُن په باب خبري سرته نه وې رسولي، چي ټاوُن شاته پاته شو- او په لس منټه کي یو بل زاړه ټاوُن کوېنټري ، چي په دویم نړئیزجنګ کي دَ ګرجا سره درست وران شوی وُ ته پېښبه وکړه- تعمیر که یې څه هم سر له سره شوی وُ، خوموئُولی یې هغسي وَ پخوانۍ او اصلي بڼي ته وُ- دَ دې ښاردَ کارخانو په مابین کي دَ تېرېدو په وخت اسکارټ واي -

" له نوي سره آباد شوی دا ښائیسته ښار، ګوا کوینټري له اصله دَ هغي مخامخ ګرجا له سوبه مشهوره شوی دی "

دَ کوینټري کیتهاډرل دَ کنډوالي، چي بامونه او اکثره دروازي یې لا نه شته دَ غټ ګېټ سره نیږدې په دېوال باندي دَ شیطان او دَ فرشتې بُتان چي دَ توري فولادي اوسپني څخه ساز کړل شوي وُ، داسي لګول شوي وُ - چي شیطان پکي دَ فرښتې په پښو کي پروت وُ- دلته ورسره جوختي یونیورسټۍ او دَ دې چرچ وَ مخته فقط دَ عکسونو اخیستلو ورسته په دې ښارکي دَ موټروې په خوا روان شولو-

" دا هري خواته چي عسکران په ښائیسته وردیانو کي ښکاري - دا خو نن دَ ملکه برطانیه دَ زوکړي ورځ ده ، چي دَ ملي ورځي په توګه لمانځل کېږي "

جوُنا چي دا خبري کولې ، نو غټ موړک دَ یوه تک شنه چمني ګراوُنډ په څنډه کي په منډه تېرېدلو لګیا وُ او دَ خوند خبره دا ، چي هلته دَ فټ بال مېچ شروع هم وُ- په نندارہ کونکو کي دَ ښځو شمېر راته دَ نرانو هومره ښکاره شو- لاکن بیا هم زه حېران دَ دې ستېډیم وَ مانۍ ته

Khyber.ORG

ځکه شوم ، چي دبوالونه او چهت يې دَ رنګ به رنګه پلاستيکي شيشو څخه جوړ وْ- لاکن يوه شيشه هم په کي ماته نه وه- په زړه کي مي وئيل ، چي اوس که دا بلډنګ زموږ په هېواد کي وی ، نو دا يوه شيشه به يې لاهم روغه نه وی پاته شوي-

لا خو موږ په کوينټري ښار کي روان وْ او اسکارټ زموږ پام يوې او بلي خواته اړَولو- خو زما دا ښار چي تر ليري ليري پوري خپور وور پروت وْ کي چي کوم شی زيات خوښېدلو- هغه وْ ، تک شنه او ښېخي غټ غټ دَ لوبو ميدانونه ، چي په کي دَ ځوانانو سره سره پېغلو هم ځای په ځای لوبي کولې-

" دغه خو دَ دې خلګو دَ ښه صحت او ښائيست راز دی- چي صفا خوري او په صفا چاپېريال کي ژوند کوي- ځکه خو دې تندرستیۍ دا خلګ په موږ باندي باداران کړي هم دي "

دَ شاوخوا دَ ښائيسته ماحول په اثر کي فقط دومره قلم ژغولو ورسته چي ما ښنګه سر پورته کړو ، نو دَ روډ په څنډي باندي دَ نوشته ليک په سمه نونيټان نامي ټاوْن له موږ څخه فقط په نهه کلوميټره باندي وْ- او بلي خواته زموږ بس وْ ، چي دَ دې سيمي ښائيسته منظرونه يې په ډېره تېزۍ باندي شاته پرېښولو-

---

ماخپښين دري بجې خواته موږ دَ شنو توربخونو وَنو په ځنګل کي دَ ډربي ټاوْڼ په خوا مخه کړي وه- کوم چي دې وخته راڅخه **21** کلوميټره ليري وْ- دلته ما داسي وَ سنجَولو ، لکه په دې سيمه کي چي زړَې پخوانۍ درختي دَ منځ څخه وړل شوي وي او اوس حکومت له نوي سره ځنګل کرنه ( Reforestation ) کړی وي- او خبره وه هم دغه رنګه ، ولي چي درختي دَ سړک دواړو څنډو ته په ډېر ترتيب لګول شوي وي- نو ځکه ما هم دا يو ځو خبري ډائرۍ ته وَ سپارَلې -

" دا خلګ که څه هم زموږ دَ عالمانو له قوله کافران دي او دا کافران تش دَ دې جهان دَ عياشۍ خلګ دي- ګوا موږ هم بس په دې خبرو باندي خپلي هډ ارامۍ ته جواز جوړَولو سره سره زړونو له تسلياني ورکوْ- هرڅه هرڅه ، لاکن حقيقت دا دی ، چي دوئ خو هم زموږ رنګه انسانان دي- څه وجه ده، چي دوئ ژوند دَ ژوند رنګه او موږ ژوند فقط وَ مرګ ته لاره لنډَولو په نيت تېرَوْ-؟ "


ليک: افضل شوق

له ډائرۍ څخه چي مي څنګه سر پورته کولو ، نومونږ دَ ډربي ټاوْن دَ يوه پلانټ شپږو غټو ګرډئيو او هسکو دُود کشانو سره په څنګ کي تېرېدلو سره سره دَ دې ټاوْن په آبادیانو کې ورګډېدلو لګيا وْ- اوس مونږ دَ وړو غټو ودانيانانو په څنګ څنګ کي له دې ټاوْن څخه تېر شولو-

دَ ګرينېډ نامي سروس سټېشن ، چي درست تک سُور جوړ وْ څخه مخته وتلو ورسته دَ نوټينګهم نامي ښار له مونږ څخه په څه واټن باندي وْ او ډېر ژر بيا له دغه ښار سره په کيڼ لاس چي تېرېدلو ، نو دَ ګڼو ځنګلونو سلسله هم پېيل شوه او دَ جوْنا په قول -

"دې ته شاور ځنګل يا رېن فارسټ هم وئيلی شو- او دا ځنګل دَ يو مشهوره تاريخي کردار روبن هوډ په دور کي لګول شوی وْ "

ځنګل څه وْ ؟ دَ خوبونو يوه نړۍ وه - چي زه او زما زړه ئي په شاعرۍ پارَولو- شاعري خو مي نه وکړه- لاکن وَ ډائرۍ ته مي دا يو څو خبري دَ زړه له سوخته داسي وَسپارَلي-

" دا خو ښه وَشو ، چي پېرنګيانو زمونږ په علاقو کي داسي ځنګلونه نه وْ لګولي- ګني اوس به مي په رېبلو باندي وَ خپلو خلګو ته دَ هغوئ په ځناوري روئيو لا نوره خوا شنه کېده "

دَ شېفيلډ ټاوْن څخه 25 کلوميټره رادې خوا ته چي مونږ دَ يوې غونډۍ په سر باندي دَ جوړ ټاوْن څخه مخته وتلو ، نو جوْنا زمونږ پام دَ شنو مځکو په غټو غټو ميدانونو کي دَ غړېدونکو پوُسونو په لور اړَولو په باره کي وئيلو -

" دَ سوَر دَ غوښو سره سره دَ پوُسونو غوښه دَ دې هېواد دَ خلګو دَ خوښې خواړه بللی شي- ځکه خو دلته چي کوم شی زيات ليدل کېږي، هغه پوُسونه دي "

دَ جوْنا دَ خبرو اورېدلو سره سره بس ځای په ځای دَ کوټلې دَ غټو غټو بارُو سره دَ لوي لاري په يو ښائيسته او مشهوره مارک رېسټورېنټ چي ګرانېډا ورته وئيل کېږي يا بيا وېلکم برېک هم مخي ته ودرېدو-

Khyber.ORG

دَ واش روم څخه دَ فراغت ورسته چي څنګه دَ دې رېستورېنټ په لويه دروازه کي مي پښه رېدله ، نو دَ يو مېز شاوخوا ناستي فليپينو فېميلي چي دَ ماريلو او رامون په چپه په دووْ غټو هلکانو باندي يې اړه درلودله سره مخامخ شوم او دَ هغوئ دَ مشر په ست ورسره کښېنستم-

سم لا کښېنستى نه وم ، چي رامون چاکلېټ رامحته کولو سره وئيلو-

"دا واخله فليپېنو چاکلېټ ، چي زمونږ په هېواد کي ډېر خوښَول کېږي"

او بيا پوښتنه کوي-

"څه به څيښې- چائ که کوفي ؟ "

" زړه خو مي کوفي ته کېږي - لاکن بيا هم ستاسو خوښه - خو زه غواړم ، چي دا بل زه ادا کړم "

ما چي داسي وئيلو ، نو دَ رامون يو زوى په موسکا کي واي-

"مونږ به تا څنګه پيسې ورکولو ته پرېږدو ، ولي چي ته زمونږ په خوښه مېلمه شوى دى "

"مېلمستيا--؟ "

اوس به مي په دې خبره باندي دَ خلې څخه څه وتلو ، چي ماريلو پوښتنه وکړه -

" ستا په هېواد کي اوس هم هغسي حال دى، که امن دى؟ "

دا يې لا بله - حريان شوم ، چي زما په هېواد کي نو کله داسي بد حال وْ- ؟ لاکن بيا مي هم دَ هغې دَ زړه دَ پاره وَوئيلو-

"هو- هر څه په خپل حال دي- لاکن وايه ستاسو په خوا څه حال دى؟ "

Khyber.ORG

ما هم چي دا پوښتنه کوله ، نو واړه غوندي مي خندلو ، ځکه خو رامون دَ ټوکي په انداز کي واي -

" تاسو دواړو څه دَ امن او دَغال ګېم دَ سیاستدانانو غوندي پئیل کړو- په تودو ځیښلو خپل خوند واخلی- "

او بیا یې دَ کوفي کپ زما په خوا را واړَولو-

---

دَ نیمي ګنټهې دَ سټاپ کولو ورسته چي بس دَ شېفیلډ ټاوْن په لور لاره لنډول شروع کړه ، نو تر موړ دَ مخه په یوه روان موټر کي دَ یوې ځواني جوړې تر منځه دَ بیا بیا مشوکو جنګولو په وخت جوْنا واي -

" واوْ- هغه ګوری ، چي انګلسي مچي سره اخلي ، او څومره دَ یو بل په میني کي غرک دي؟ هو ، که څه هم دا مچي فرنچ وزمه نه دي "

ګوا دَ دې مطلب دا وْ ، چي که څه هم دَ فرنچ په مچو کي جنون دی ، خو دا مچي هم دَ میني دَ اظهار ښه وسیله ګڼلی شي -

دَ نیم ساعت دَ مزل کولو ورسته بس دَ ډیوبوري په خوا وَګرځېدو او بیا دَ دې ټاوْن دَ تنګو او زړو بلډنګانو تر منځه دَ تېرېدو سره سره چي څنګه بیرته په موټروې باندي دَ برېډفورډ په لور منډه پئیل کړه، نو جوْنا وئیلو-

" نن شپه لکه څنګه چي تاسو دَ شېډول په سمه خبر یاست به موږ په برېډفورډ کي تېرَوْ- په هوټل کي هر رقم سهولتونه شته- خو ځوک که وَغواړي ، نو وَ ښار ته هم تللی شي- لاکن که په ټولیانو کي ورشئ ، نو به دَ بې لاري کېدو امکان کم وي "

او په بېخي کم وخت کي بیا زموږ بس دَ نووټل نامي ښائیسته هوټل مخي ته وَدرېدو-

---

Khyber.ORG

دَ څه آرام کولو ورسته له خپلي خوني، چي نمبر يې 228 وْ څخه راوَوتم او لاندي لابي ته وره غلم-

" ته هم لکه چي ډاوْن ټاوْن ته دَ تلو اراده لرې؟ "

" هو زړه خو مي غواړي - لاکن ملګرى نه لرم "

دَ سنګاپورين ملګري اېډوين ټان دَ خبري په ځواب کي مي ورته داسي څه وَوَئيلو ، چي دَ هغه چټي ملګري اېليسن واي -

" مونږ هم روان يُو - که وَغواړې ، نو له مونږ سره راتلى شې "

وئيل کېږي ، چي ړوند څه غواړي -- دوې سترګي- نو ځکه ما هم ورسره خوښه کړه او درې واړه دَ ټاوْن په خوا ورچپ شولو- که څه هم زياتره دوکانونه بند وْ، خو بيا هم بارونه او کېفې ګانې خلاسي وې-

" هاى جاپاني فرېنډز "

دَ نشي په بد حالت کې يو پېرنګى، چي په خپلي ملګري يې لاس ور اچولى وْ زمونږ تر مېزه په ځنګېدلو کي راغلواو دَ اېډوين ټان په اوږه يې لاس چي ښنګه ږدلو ورسته دا پوښتنه وکړه-

"دې وخت تاسو په دې ټاوْن کي څه غواړئ؟ "

نو دَ اېډوين ټان په ځاى دَ هغه پېرنګي سرببري ملګري ورته واي -

" دوئ خو هم انسانان دي "

دا خبره يې چي لا سمه له خلې ايستلي نه وه ، چي زه ورپورته شوم -

"ولي - دلته راتګ جرم دی ؟ "

"يَه - يَه زموږ مطلب دا نه دی "

زما دَ سختي روئې په ځواب کي چي ښځي دا وَوئيلو ، نو نشه سرې يې خله وَ بارخو ته ورنږدې کولو ورسته ورته وئيلو -

" راځه راځه سپنډې ډارلنګ - دا خلګ خو په ټوکو باندي هم نه پوهېږي "

او هغوئ چي څنګه له موږه په بله غائب شولو ، نو پېغله اپليسن واي -

" څنګه بې لحاظه خلګه وْ "

او بيا زموږ تر منځه دَ پېرنګيانو دَ پرون او نن په باب خبري تودې شولي-

لنډه دا ، چي په دې ساړه ټاؤن کي دَ ښه ګرځېدلو ورسته چي دَ هوټل په لور روان شولو ، نو په ځای دَ درو ، موږ په شمېر کي اوس څکه پنځه شوي وْ- چي په لاره کې مارک هېلي(ځانته چي يې آرټست هم وئيلو ) دَ سپين سري ملګري لينا ، چي اړه يې دَ آسټرېليا څخه وه هم راځرمه شولو- بيا نو څه وْ ؟ باقي مانده لاره ما او دَ مارک هېلي په خبرو کي تر هوټله داسي په تادۍ ورسېدله ، چي ګرسره پوهـ نشولو-

---

دَ ډوډۍ خوړلو ورسته ماځُستن ملګري جوړه جوړه په لابي کي کښېنستلو او زه هم دَ آسټرېلئين جوړې بارلې او سوليوان سره دَ مستي کښېنډين ملګري جرميلا پېک سره دَ تاش په پټو کي ورګېر شوم- که څه هم کمزوره وم ، خو بازۍ مي تر سره ورسره په تودو او سړو ګپو کي دَ رسَولو هڅي کولې- او تر نيمي شپې پوري ورسره ناست وم- کله کله به له خوبه وَ هم ځنګېدم ، خو ګوره چي ځان مي په ګوتو ولي نه ورکولو - هرڅه هرڅه خو دَ ډائرۍ دغه ليکل شوي پاڼه ما په سوچ کولو اوس هم پارَوي- ګوا

Khyber.ORG

"مشرقي ټولني ته دَ لمر رڼاګاني چي څومره محرومياني ورپه ګوته کوي ، نو هم دغومره دَ اروپا خلک دَ شپو په تيارو کي خوشاله کېږي- او هر يو وس کوي ، چي دا تيارې په بېلا بېلو زړخوښيانو باندي سهار کړي- هو- کېدلی شي په دې، چي په ورځو کي دَ دې خوارانو دَ لمر څېره ډېره کمه په ليدو کي په نصيب کېږي- نو ښکاره خبره ده ، چي که څه هم يو چا دَ لمر له کوره ورته کوچ کړی وي- خو دَ دې ځای دَ شپو په زد بلي کمزوري رڼاګاني يې دَ ورځې له اهميته تر څه وخته پوري بې خبره کړې "

نور نه يم خبر، خو کله چي مي دَ خپلي ډائرۍ دا پاڼه وَ دې کتاب ته نقل کوله ، نو دَ هغې شپې دَ نورو ملګرو په چپه مستته او چټه جرميلاپېک سره دَ شوخو اداګانو او بې کنټروله حرکتونو داسي په مزغو راورېدله- چي په خپل ژوند کي مي ورسره دَ بيا بيا ديدن خوائش په زړه کې سرغزَوني کولې-

---

دَ درې خاليزه نووټل نامي هوټل برېډفورډ څخه دَ 22م اپريل کال **1996**په روڼ او لمرين سهار، چي څنګه مخته روان شولو- نو دَ سهار دَ سلام کولو او دَ نېکمرغي ورځې دَ هيلو سره سره جوْنا مائيک خلې ته وَنيولو -

" تاسو به پام کړی وي ، چي زموږ په هېواد کي دَ لويو لارو، لکه دااوس چيورباندي روان يُو، ګوا (M 1 ) خو دَ دې په چپه دلته دا دَ روانو اوبو دريابې ويالې او دريابونه هم دَ تګ راتګ دپاره په کار راوړل کېږي - او په وړو وړو کشتيانو کي دَ شيانو دَ وړلو راوړلو کار تر سره کېږي "

دَ ټورسټ ګائيډ دا خبري چي موږ اورېدلې، نو يوه غټه دريابې وياله، چي درياب ته زياته مونېده له وړو کشتيانو ډک ښکاره کېدله او تر ليري ليري پوري يې په دواړو څنډو باندي خلک دَ سېل کولو په نيت ښکاره کېدلو-

دَ ګهړۍ ستني لا سمي وَ اتهه نيمو بجو ته نه وې رسېدلي ، چي زموږ بس دَ يو بلي ښخي غټي دريابې ويالې سره په څنګ څنګ کي دَ برطانيې تر ټولو پراخي موټروې (A 1) باندي مخته روان وْ- دَ دې موټروې شاوخواته ځای په ځای په شنو او هوارو مځکو کي ځان ځانته

Khyber.ORG

ښلي جوړي شوي ودانياني داسي ځرګندَوي ، لکه جوړه چي دَ دې خلګو له يو بل سره ژوند کول نه دی خوښ- او بل دا ، چي سړي يا ښځي په کي خال خال چرته ښکاره شي- ما سوچ کولو ، چي دلته دا حال دی ، چي خلګ په دُوربين کي نه ښکاري او بلي خواته زموږ په مشرقي هېوادونو کې بيا دَ يکړي دَ پاره په دُوربين کي خلاسه ګوشه نه ښکاري-

اوس چي موږ دَ ليډز نامي خواره واره ښاردننه په روډونو باندي روان وُ ، نو جوْنا واي -

" دا هغه ليډز نامي دَ برطانيې ښار دی ، چي دَ وړئيانو دَ غټي منډی، غټ رېلوې جنکشن او دَ هوائي جهازونو دَ پارټ پُرزو جوړَولو دَ غټ صنعت په توګه په دُنيا کي اوچت نوم لري "

دلته لور په لور کارخانې ښکاري او ترشا پاته شوْ ځايونو په مقابله کي دَ زيات ترېفک سره سره خلګ هم زيات ليدل کېږي- که څه هم دلته زموږ ځينو ملګرو ، چي اکثريت په کي دَ ښځو وْ په اُستاذ باندي ژغ وکړو- ګاډی وَدرَوه دَ حاجت پوره کولو دپاره- لاکن اُستاد که څه هم ښه اورېدلو ، خو ځان يې ورباندي اچولی وْ- او داسي له دې ښاره په تېزی وَتو لکه دلته چي هغه دَ چا پوروَړی وي-

اوس دَ يورک شائر نامي ښار هم زياته په څه فاصله باندي وْ او بس په لوړو ژورو کي دَ مار غوندي غزېدلو لګيا وْ-

"دَ يورک شائر زاړه او نامي تاريخي ښار ته وال ستيي ځکه وئيل کېږي ، چي ورباندي غټ او ډېر پلن دېوال شاوخوا ګرځېدلی دی- دَ ځيني وړو او غټو دروازو په چپه نوري لاري ځکه نه لري ، چي ډېر په خوا دا ښار دَ دُښمنانو دَ حملو څخه دَ ځان ساتني په غرض جوړ شوی وْ "

جوْنا چي ژغېدله ، نو موږ دَ يوه ببخي پلن دېوال سره په څنګ څنګ کي روان وْ- او کله چي مخته په يوه درياب وزمه وياليې باندي تېر شولو ، نو زموږ وَ ښي لاس ته يو غټ او زوړ بلډنګ ولاړ وْ، کوم چي دَ جوْنا په قول دَ رومن دَ زمانې تاريخي جېل وْ-

Khyber.ORG

پاوْبالا نهـه بجې دَ دې وال ستيې يورک شائردَ يو مشهوره ګېټ مونک بار مخې ته په بائل بينز نامي ځای کې څوشي کړل شولو- او مونږ ټول ډله ډله وَ دې کلاوزمه ښار ته په ګېټ ور دننه شولو او په بېخي تنګو کوڅو او بازارکي تر ډېره وګرځېدو- زه دَ څه سپل کولو ورسته په يوې کېفې کې کښېنستم او توده کوفي مې وَڅيښله- دلته هر څه داسي دَ پخوانۍ زمانې برېښېي څه ، چې سړی لا ځان هم کله کله داسي وَسنجَوي - لکه جوړه چې هغه هم په خپلې ماضي کې اوسي -

دَ يورک شائر ميوزيم دَ کتلو ورسته چي مونږ ټول ملګري دَ برطانيې تر ټولو غټ Gothic Cathedral شاوخوا ګرځېدلو ، نو جوْنا او رچرډ اُستاذ راسره په څنګ شولو-

" سګرېټ شته درسره؟ "

" هو- هو ولي نه "

ما چي دَ جوْنا دَ غوښتني په ځواب کې دَ يوه سګرېټ په ځای دَ 555 سګرېټو يو بند پېکټ ورته وړاندي کړو- نو هغې پوښتنه وکړه -

" دا ټول پېکټ دي لکه چي ماته ځاني راکړو؟ "

دَ جوْنا خله لا دَ خوږې موسکا څخه سمه ټوله شوي نه وه ، چي ما ورته وَوئيلو-

" هو ، لاکن داسي پېکټان نور هم لرم - که دي په کاربدلو ، ژغ کوه "

او بيا يې پېکټ دَ اړَولو را اړَولو ورسته په حريانۍ وئيلو-

" واوْ- دا خو زمونږ دَ هېواد جوړ سګرېټ دی- خو عجبه دا چي ما په لومړي ځل دا دی اوس وليدلو "

دومره وئيلو ورسته هغې ډبی وَ رچرډ ته دَ تصديق دپاره وَغزَولو او بيا دواړه زما په ست وَ نيږدې رېستورېنټ ته راسره روان هم شولو-

Khyber.ORG

" ته ډېر خوش قسمته يې، چي يوازي خونه به په هر هوټل کي درنصيب کېږي - ولي چي په دې کاروان کې زموږ دَ پاليسۍ په سمه له تا سره دَ سېکس او ابج په سمه بل يو ملګرى هم سمون نه خوري "

دَ کوفي په لومړي ګوټ دَ خوند اخيستلو ورسته چي جوْنا زما په لور سترګي اړَولو په وخت په شوخۍ کي دا خبره وکړه ، نو ما هم په خندا کې ورته وَوئيلو -

" دا زه هم منمه ، چي قسمت مي ښه دى - لاکن دا يکړي خو هم عذاب دى "

ما چي دا وئيلو ، نو مسټر رچرډ وار لاس ته کړو -

" بيشکه ، چي مسافري بې ملګري ګران کار دى - څنګه جوْنا صحيح وايم که غلط ؟ "

که څه هم هغې په دې باب هيڅ نه وَوئيلو ، خو ماته دَ دې او دَ رچرډ تر منځه دَ تعلق شک په يقين کي بدل شو - غرض دا ، چي دَ ايمانداري په خاصو مشهوره دا مغربي مخلوک څومره لالچي دى - دَ دې اندازه راته نن وَشوه - ولي چي دَ جوْنا او رچرډ دَ غرضي او شُوکماري روئيو په رڼا کي ما په دغه ورځ دا سي ليکلي وْ -

" دَ اغراضو دَ تکميل په نيت انګرېزان کله کله دَ خپل عزت جنازه په خپلو لاسو باندي ايستلو ته که څه هم دَ دوستۍ نوم ورکوي - خو په زړه کي غابنونه هر وخت تېره لري "

---

پاوْکم دولس بجې دَ يورک شائر څخه زموږ بس مخته وَوتو او تر دولس بجو دَمخه موټروې ته ورسېدو - يو ځل بيرته هغه دَ قدرت ښکلاګاني وې، چي دَ انګلسيانو دَ ژغورني دَ مثبتو نيتونو له سوبه يې زموږ وَ سترګو ته سکون رابخښلو -

په دورهام نامي ټاوْن کي دَ غرمې خواړه خوړلو او دورهام چرچ کتلو ورسته چي په موټروې باندي مخته روان وْ ، نو کېټېس هېډ نامي ځاى مخي ته راتلونکى وْ - او ورو ورو دَ دې ښار غټې او وړې پلازې رانيږدې کېدلي هم - او څنګه چي وَدې ښار ته وَرسېدو ، نو دَ يوه چرچ په لور دَ لاس اشاره کولو وخت جوْنا وئيلو -

" ځومره زيات چرچونه چي په دې هېواد کي دي ، نو دَ هغه په مقابله کي مذهبي جنون هم هغومره کم دی- او بل دلته وَ چرچونو ته هغه خلګ زيات ځي، چي دَ مايوسۍ ښکار وي "

اسکارټ چي دا خبري کولې، بس دَ دې خواره واره ښار تر غټو پلونو دلاندي تېرېدو لګيا وْ او چي ځنګه ځنګه دَ ښار وَ منځنۍ علاقې ته ورنږدې کېدلو ، نو دَ کارخانو او پلازو په ځپه يو نيم پارک سره دَ بېلابېلو زړخوښيانو سترګو ته راتلو-

لنډه دا ، چي ګېټس هېډ ځخه مخته وتلو ورسته بيا په نه ساعت کي موږ په نيوکاسل کي دَ ډاوْن ټاوْن سره مخته دَ وتلو په وخت چي دَ ائيرپورټ وَ يو لاس ته تېرېدلو ، نو ښي لاس خواته سمندرچي انګلش چېنل نومېدو راسره سره خپله شنه ځنډه غزَوله- او چي ځومره ځومره مخته تلو ، نو ځنګل هم وَدې بلي ځنډې ته دومره ګڼېدلو سره سره غريزه علاقه پيېل کېدله- او اوس سکاټ لېنډ هم رانيږدې شوی وْ-

زما ښه په ياد دي ، چي کله زموږ بس دَ دوْو غټوکانو سره په ځنګ کي وَدرېدلو- نو ګمان مي تر هغو پوري دَ بارډر ورباندي نه کېدو- چي خپله مي په يوه کاڼي باندي ليکلي وَ نه ليدلو ، چي

"دا بارډر دی -؟ "

"هو-دا دَ سکاټ لېنډ بارډر دی "

زما دَ پوښتني په ځواب کي تر ما دَمخه له بس ځخه کښته کېدونکي مارګرېټ نامي ملګري وَوئيلو -

"واو -دا خو تر منځه پُولي لا نه لري او نه عسکران ولاړ دي "

ما چي له خلې دا خبره کوله،نو زما تر شا راکوزېدونکي پېغله اېليسن واي

" هو ، دا خو که په هغې غټې ډيرې باندې نه وی نوښته ، نو ورباندې دَ بارډر شک کول ګران کارو ْ "

" هرکار آسانه دی - تاسو کوم کار ته جوړېدلي ياست ؟ "

بس سره څنګ کي ولاړې مستي جوْنا چي دا سيِ وَ وئيلو ، نو مي ورته کرار غوندي په ټوکه کي دا سي خبره تر غوږ ورتېره کړه -

" په نورو نه يم خبر - زه لکه چي زَړېږم لګيا يم، چي په پوړيانو ختل څه ؟ چي ورځخه ګُوزېدل هم راته ګران شوي دي "

خو هغه ډېره سيانه وه ، زما په ټوکه باندي پوهـه شوه ، ځکه خو يې په ځُک ويښتلو ورسته راته وئيلو

" ځه تېر شه مخته - ماته خو ته ډېر مست ښکاريِ "

*****

# دَ دوزخي حُورو په جنت کي

دَ هوا سړوالی په خپل ځای ، خو کوربنادي دومره په تېزی ګلېدله ، چي دَ نریناوْ ملګرو سپلانیانو له سرونو څخه که یې خولیاني او له اوږو مُفلرونه اولوځولو- نو بلي خواته چپ له هغو ښځو چي جینز پتلونان یې اغوستي وْ، نورو ټولو لانګ او مني سکرټ اچَونکو خپل خپل شرمونه دَ سړیانو له تږو نظرونو څخه ژغورلو په غرض لاسونه ورباندي مخ او شاته ایښي وْ- دَ دې هر زیار پرته هم کښېښدېن ټین ابجري ابلن او دَ هانګ کانګ پېغلي بلیندا وانګ دَ خپل خپل وَس برسېره هم سکرټونه له الوتلو نشو ژغورلی- هم ځکه خو دَ زیاترو نرګاړو سترګي په غلو نظرونو دَ هغو په لور کتلو-

دلته ، ګوا دَ سکاټ لېنډ په غریئز بارډر باندي دَ واړه غوندي سټاپ کولو ورسته چي مورِ څنګه څنګه په سکاټ لېنډ کي ورننوتلو ، نو دَ ناوْ په منځ کي جوړ سړکونه که څه هم ځای په ځای لږ ډېر مات وْ ، خو نور نورتنګېدلو هم لګیا وْ- او داسي راته محسوسېدلو ، لکه دَ دې ریاست سره چي پېرنګی روئیه څګه څه دَ مېرنی مور غوندي وي- ځکه خو مي دا یو څو خبري وَډائری ته په دې اړه داسي وسپارلې-

" څومره چي دا یو منل شوی حقیقت دی ، چي دَ سکاټ لېنډ ببلابېلي سکاچ ویسکیاني دَ انګلسیانو سترِي مازغه وسا کوي - نو هغومره پېرنګیان دَ سکاټ لېنډ او نورو برطانیانوي ریاستونو په حق کي ناحقه ګڼلی شي "

ما لا دَ ډائری له سپین کاغذه دَ قلم څوکه سمه پورته کړي نه وه ، چي دَ جوْنا ډډن او دَ دې سیمي په شرابو کي وینځل شوی ژغ دَ بس په سپیکرانو کي داسي خپور شو-

" دَ برطانیه دغه شمالي هېواد سکاټ لېنډ ، چي دارالحکومت یې ایډنبرا دی ، دَ ټویډ او لائیډل نامي دریابونو ، کوئستان شیویاټ او سالوي فارتهله انګلېنډ څخه بېلوي- دَ ماهي ګیری او دَ پُوسونو دَ روزَلو په چپه دلته سبزیاني، رقم رقم مېوې او نور نورفصلونه هم زیات کرل کېږي- په صنعتونو کي دَ شرابو او دَ کاغذ دَ جوړَولو په چپه اُوني او رېشمي ټوکران هم شهرت لري- قانون په کي هغسي زوړ رومن وزمه او څه غوندي آزاد هم دی- که څه هم دَ دې ریاست سرکاري مذهب عیسائیت دی "

دومره وئیلو ورسته جوْنا په بس کي شاوخوا کتلو ورسته په خوږې موسکا کي مخته وئیلو-

" په دې هېواد کي دَ خپلواکۍ په غرض یو قامي تحریک هم وجود لري- چي ګای ګای حکومتي چارو ته لاري تړلو سره سره کله کله ډېري ستونځې هم پیدا کوي "

جوْنا چي څنګه په دې خبرو کي توری ( ډېري ) دَ غلول دَ پاډې غوندي کش کړو- نو زه څه غوندي په دې سوچ کي ورک شوم ،

" چي چرته دَ روس په شاني دغه بادار او دغسي نور غټ دُنیاوي بادار وزمه هېوادونه خو هم په رښتیاوْ ورو ورو دننه نه خوړل کېږي -؟ "

بس دَ سکاټ لېنډ په تنګو ځنګلي ناوْ کي دَ مار غوندي غزېدلو او دَ جوْنا په قول ، په دې ځنګل کي 700 کلنه درختي هم شته چي شاته پاته کېدلي-

" دا څه نوي خبره خو نه ده - داسي زَړې درختي خو په هرهېواد کي شته "

آسټرېلین ملګري ډېفني ، چي پاوْي نامي ملګري یې هغه بل اړخ ته په چوکۍ باندي ناسته وه چي داسي وَوئیلو ، نو ما هم دَ خبري په تصدیق کي دَ زیارت دَ ځنګل حواله ورکړه- چرته چي دَ یو اندازې په سمه زر یا اتهـه سوه کلني درختي بېخي زیاتي ولاړې دي- خو دا مي نه ورته وَوئیل، چي دَ حکومتي بې غورۍ له سوبه دَ منځه په ډېره تېزۍ وځي هم له ریکارډه-

"ښه ښه ، ستا په هېواد کي هم ځنګلونه شته ؟ "

هغه زما دَ خبري په ځواب کي که څه هم حیرت اظهار وکړو ، خو ګوره چي څله مي خشم ورته راغلو؟او ورته مي وَوئیلو-

" ولي نه - هلته دَ ځنګلونو په چپه سمندر، غرونه ، دریابونه او غرض دا چي څلور سره موسمونه لا هم شته "

Khyber.ORG

" لاکن تېر کال چي زه په جهاز کي ستا له هېواده تېرېدم ، نو چپ له وچو مځکو او غرونو مي بل هيڅ شی تر نظره نشو "

زما دَ وضاحت برسېره دَ ډېفني دا خبره به اوس لا ما دَ ځان خلاف اعلان دَ جنګ ګڼله ، چي جوړنا وئيلو-

" زما دَ مشاهدې په سمه ټوړستان دَ برطانيې په ټوړ کي دَ سکاټ لېنډ درستي ښکلا ګاني ډېري ستائې "

او خبره وه هم دغسي- ولي چي دَ سکاټ لېنډ تکي شنې ناوې او شنه غرونه ، په تېره بيا دَ غرو په لمنو کي ځای په ځای بهېدونکي شنې اوبه د هېرېدلو وړ نه دي-

دَ ګهړۍ ستني چي څلورنيمو بجو ته ځنګه ورسېدلې ، نو زموږ وَ ښې لاس ته دَ غونډۍ په سر باندي جوړه زړه مانۍ چي ډوګلس کاسل نومېدله سره مخته تېرېدو نو اسکارټ وئيلو-

" ګورئ ګورئ چي په هېره هم دَ دې هېواد کرنسۍ وانه خلئ- ولي چي په بل هېواد کي څه ، چي کله کله په هم دغه هېواد کي لا نه چلېږي "

او بيا يې دَ سر والټر سکاټ چي دَ انګلسۍ ژبې يو مشهوره شاعر او ناول ليکونکی يادېږي په باب معلومات راکولو ورسته دَ چرچ آف سکاټ لېنډ په حقله وئيلو-

" هر قانون په خپل ځای ، لاکن دَ عيسائي مذهب په رڼا کي شوي دَ چرچ فېصلې دلته حتمي ګڼل کېږي "

چي څه مخته موږ دَ لېمرمئيور نامي غرونو په منځ کي روان وُ ، نو پاته هېڼ ټاوُن له موږ څخه په څه فاصله باندي وُ- او په دې ټاوُن کي ټائيلټ دَ سهولياتو څخه فائده اخيستلو ورسته دَ ډالکئيت نامي ځای څخه مخته وتلو سم دستي بيا دَ دې رياست وَ دارلحکومت اېډنبرا په ښائيسته ښار کي وردننه شولو- او دَ دې تورچکو او خړبخونو بلډنګانو په ښار کي په ساوُته روډ باندي تللو ورسته په فورت ريور بريج چي د استنبول د باسفورس پُل په

طرز جوړ وْ باندي تېرېدلو ، نو پاوکم شپږ بجې وې- چي موږ دَ تهیستهل زوړ ياک په علاقه کېکنګ مالکون نامي هوټل کي کښته کړلی شوْ-

---

" زما پېغله لُور شاملين سندرغاړي ده او په کلبونو کي هره شپه سندري واي "

دَ زوړ ياک بار چي دَ دباندي له خوا تک سور او دننه په کي فرنيچر بيخي زوړ او انګلش وزمه وْ کي بار لېږدي مارګرېټ د پېپسي بوتل زما مخي ته ږدلو په وخت چي زما دَ يوې پوښتني په ځواب کي څنګه دا خبره کوله، نو تر شا په دروازه باندي دَ يوې انجلۍ په ننوتلو دې يو دم وَوئيلو-

" هغه ده شاملين راغله "

او چي هغې له دې سره هېلو هاى وکړو ، نو دا سم دستي ورته واي -

" دا شاعر دى او دَ ټوْرسټ سره سره سفرنامه نګار هم "

" زه خوشاله شوم له تا سره په ملاقات -- ماته شامي واي "

لاس راکولو سره چي يې دا سي وَوئيلو ، نو ما په ځواب کي ورته وئيلو-

" ماته شوق واي شاملين "

"شاملين-؟ "

دا به لا اوس په دې حريانېدله ، چي زه څنګه دَ هغې نوم پېژنم ، چي مور يې وَخندل او ورته واي -

"شامي - ما دغه وْ، چي ستا په باب ورسره خبري کولې "

Khyber.ORG

مخته نو څه وْ ، چي ګپه خلاسه شوه او زما له شاعرۍ او دَ سياحت څخه دَ دې تر ګلوکارۍ پوري په ګپه کي څه ورسېدلو ، چي دَ يو بل دَ قسمت له ستورو سره سره مو لاس کتنې هم پېيل کړې- نور خو نور، په يوه موقعه باندي زما په سترګو کي ژوَري لټولو ورسته هغه واي-

" اوه- مائي ګاډ ،لتا سره لکه چي زه مخکي هم ملاوْ شوي يم "

خو چي څنګه يې دا خبره وکړه ، نو زما په مزغو کي دَ خطرې ټلۍ وګړنجېده- او اوس به مې ځان دَ هغې په لاس کي غولولی سنجَولو ، چي مور مارګرېټ دَ هغې دَ دعوې په تائيد کي په مکرجني خندا کي وَ وئيلو

" هو - ماته هم داسي ښکاري ، لکه تاسو چي يو بل په خوبونو کي وينئ "

او بيا چي په دې خبره دواړو وَخندلو ، نو شک مي په يقين بدل شو- ځکه مي دَ فرار دَ لارې غوښتلو فېصله وکړه او ورته مي وَ وئيلو-

"زما زړه غواړي ، چي لتا سره ډېري خبري وَکړم لاکن"

" لاکن څه-؟ "

زما په " لاکن" پېغله شاملين يو دم داسي حېرانه شوه ، لکه زه چي يې دَ مور او يا دَ دې څه او څه يم- ځکه خو يې راته دَ شپې دَ ډوډۍ ست هم وَکړو- خو زه وم ، چي په خپل ضد ولاړ له باره دباندي راوَوتم او په غټو ګامونو دَ هوټل په لور داسي روان شوم لکه جوړه چي بلا راپسې وي- ولې چي لمر پټ شوی وْ او تر ليري ليري پوري هيڅوک نه ښکاره کېدو- ځکه خو به مي شا شاته هم په وار وار کتلو-

"يا خُدايه پاکه - دا نن څه پېښي دي چي راسره کېږي "

دا مي له خلې څخه پدې وَوتلو ، چي زه څنګه هوټل ته سامَولی وردننه شوم ، نو يو پيټ پوزي غا ښَوره انجلۍ مخته راوَدانګلو -

"لا ئتېر لرې ؟ "

"هو ، دا واخله "

چي هغې ښنگه سګرېټ بل کړو ، نو دَ مننې وئيلو ورسته واي -

" زه ملائشين يم- سوزي زما نوم دی او نن نن راغلي يم- دلته زما دوست دی "

دا خبري يې په يوه ساه کي داسي وَکړې ، لکه هغه چي هم يوې نا يوې بلا وېرَولي وي- او شُکر مي وَايستلو ، چي هم په دغه وخت يې يار هلته په لابي کي ښکاره شو او دې هم داسي ورمنډه کړه ، لکه دا چي بل نه ، بلکي ما راګېر کړي وي-

ماځُستن که څه هم دَ تېوْر دَ ملګرو سره تر ډېره پوري دَ هوټل په لابي کي په ګپو باندي بوخت وم ، خو دَ نن په ماشامنۍ خطا باندي مي ځان ملامَتولو ځکه ، چي دَ مغرب ښه په ښو کي نه او بد يې په بدو کي نه شمېرل کېږي- ګمان به وربانديِ دَ دوست کوې ، خو هغه به دي ترټولوغټ دُښمن وخېږي- هم دغه وجه وه، چي دَ نيمي شپې وَ خواته مي دَ "لرې په زړه باندي غاښونه "تر عنوان دلاندي نظم په ډائرۍ کي واړَولو-

---

دَ 23م اپرېل کال 1996 په وختي سهار قريبًا شپږ بجې مي سترګي خلاسي شوې، پورته شوم ، شېو او غُسل مي وکړو او دَ خپلي خوني په وړوکي بالکونۍ کي په پرتې چوکۍ باندي کښېښستم- ښنګه ښنګه چې رڼا کېدله، نو دَ اېډنبرا ښار مي سترګو ته ښه او ښکلي منظرونه راسپارلو- که شنه پارکونه وْ، کورونه او که په لوړو ژوَرو کې جوړي کړې وړې کوځې او روډونه وْ- ځان ځانته يې زړه ښکوني کولې- که څه هم باران نه وْ شوی، خو تېره شپه په ښار باندي دومره پرخه شوې وه، چي هر څه لامده لامده او صفا ښکاره کېدلو- او دا هغه دَ ښکلا افسون وْ ، چي په ډائرۍ کي يې په ما داسي نوښته کړو-

" په دې کي شک نشته ، چي دا مځکه هم زموږ دَ مځکي په شان جوړه ده ، خو دَ اروپا خلګو په خپل هُنر او محنت باندي وَ جنت ته مونَولي ده- ځکه خو دلته سترګي ښکلا مومي ، زړه خوشالي او روح سکون "

دَ هوټل کنګ مالکون په ريسټورينټ کي له هېري فېميلي سره په مېز ناست دَ سهار په ناری کولو باندي بوخت وم ، چي جوْنا او رچرډ هم راغلو کښېنستو-

" تاسو خپله کښېنئ -که مو دَ هوټل او پکنګ کال کښېنوي؟ "

" زه خو نن خپله کښېنستم که څه هم - "

ما ورته په ځواب کي چي څنګه وئيلو ، نو هغه واي -

" منم - لاکن زما مطلب دَ نن دَ سهار څخه نه بلکې - "

جوْنا چي لا خبره سمه سرته نه وه رسَولي، چي ځوان کېوين په خندا کي واي -

" که زه ستاسو فېصله در وکړم نو څنګه به وي؟ "

" دَ کوم شي فېصله ؟ "

پلار يې په خندا کي خله ورته څه وتړله، چي ټولو وخندلو-

---

سهار پاوْ کم اتهه بجې، چي نری نری باران هم وريدلو کي چي دَ اِن سائټ بس مختهه روان شو ، نو دَ ايډنبرا ښار په لوړو ژوَرو کي ځای په ځای دَ روډ دواړو څئيو ته دَ لوبو لکه فټ بال، هاکي او دَ ګالف غټ غټ شنه ميدانونه دَ باران له سوبه ډېر ښائيسته ښکاره کېدلو- او موږ دې وخت دَ فورتهـ روډ برج په لور دَ يو غټ تراشل شوي پاڼ سره سره روان وْ-

دَ ګهړۍ ستني چي دَ اتهو بجو څخه څنګه واوبښتلې، نو زموږ بس دَ سرو او سپينو ګاډرانو څخه جوړ قفس وزمه پُل څخه تيرېدلو په وخت جوْنا وئيلو-

Khyber.ORG

" سکاټ لېنډ دارالحکومت ایډنبرا دی او دې وخت مونږ دَ دې ښار په کوئین فېري روډ باندي ځو که ځکه روان یُو چي دَ هېوي ټرېفک له سوبه مخته په تېزۍ لاره وهل آسانه کار نه دی "

یو وخت چي قریبًا نیم درځن په هالف سکرټونو کي ملبوسي پېغلي انجوني دَ بس مخته په منډه ځنګه تېري شوي ، نو جوڼا وئیلو-

" أو للا- دلته که هر څومره یخني وي ، خو ښځي یې محسوسوي نه "

او له دې سره سم په بس کي دَ شپېلکیانو او خپرو سره هاهو هم پئیل شو-

---

دَ وېورلي بریج ، چي دَ Princess street سره جوخت جوړ وْ څخه دَ ایډنبرا ستېي ټوْر په پاوْبالا نهه بجې سهار پئیل شو او دَ بس دَ روانېدو سره سم جوڼا مائیک خلې ته نیولو ورسته وئیلو -

" دَ ایډنبرا ښار، چي جارجین ستېي هم ورته وئیل کېږي- ګوا دَ جارجینو هُنرمندانو په محنت نن ځانګړی حېثیت لري- دا ښار په دوْو ټاوْنونو باندي اړه لري- یو زوړ ټاوْن دی او بل نوی ټاوْن- او هغه مخته په ښي لاس ، چي کوم بلډنګ ښکاري تر ډېره عمره دغسي خالي ولاړ وْ، خو اوس دَ هالي ووډ مشهوره فلم ستار مسټر ټام والس چي اصل نوم یې شون کانري دی په **1950** کي په استعمال کي راویستلو- "

ګائیډ چي دا خبره کوله ، نو بس په دې پرنسز سټریټ کي په اسپه باندي سپور یو سړي مشهوره مانومنټ په خوا روان وْ، چي C ity Observatory and Nelson’s monument نومېدلو- او چي څنګه ورسره په څنګ کي دَ نوي ټاوْن په خوا وګرځېدو، نو اسکارت وئیلو-

"که په تاسو کي څوک چرته بې لاري شي ، نو هغه دي دَ دې بېولري بریج ، چي یو سر یې دَ دې پرنسز سټریټ سره هم ګډ وځي پوښتنه وکړي- ولي چي دَ ستېي ټوْر ورسته به ټول دلته راغونډ ېږو- "

Khyber.ORG

دا خبره یې لا سرته نه وه رسولې ، چې دې دَ مخامخ جوړ غټ او ښکلي ښائیسته مارکېټ په باب وَوئیل ، چې دا به ډېر ژر دَ دُنیا په یو څو غټو او ښائیسته ډیپارټمنټل سټورونو کې شمار شي- مارکېټ څه وْ ؟ دَ ښائیست او غټوالي په چپه دَ خلګو دَ لاسه په کې لاره نه کېدله-

دَ پرنسز سټریټ څخه په کیڼ لاس وَګرځېدو او څه مخته بیرته وَ ښي لاس ته غبرګېدلو سره سم دَ ایډنبرا او دَ سکاټ لېنډ دَ ځینو هیروګانو ، چې په کې شاعران ، انجینئران او لږ ډیر پارلیمنټېرین هم وْ په کې کورونه لرې راښکاره کولو ورسته یې زموږ پام دَ انګلېنډ ښېنک مخې ته ولاړو هغو دوْو پولیسانو په خوا وګرځولو ، چې دَ جوْنا په قول-

"که څه هم په انګلېنډ کې ګشت یو پولیس کولی شي ، خو دَ سکاټ لېنډ دَ قانون له رویه به خامخا دوه دوه ګرځي "

لنډه دا ، چې دلته په دې ښار کې دَ ځینو مشهورو بلډنګانو سره سره شاهي باغونه، آرټ ګېلرۍ، عجائب ګهر، نېشنل لائبرېرۍ،( چرته چې دَ پخوانۍ زمانې قلمي نُسخې هم په شوکېسونو کې خوندي پرتې وې) ، ایډنبرا یونیورسټۍ( چې په کال **1853** کې جوړه شوې وه ) او دَ ځینو قامي هیروګانو(چې دَ لیکوالانو په کې ډېره برخه وه ) راښکاره کولو ورسته چې دَ پروګرام په سمه په وېورلي بریج نامي پُل سره نیږدې څنګه دَ خپلې خوښې وَ سبل ته خوشي کړلی شولو ، نو تر ډ یپارټمنټل سټوره دَ رسېدو دَ مخه ماته دَ دې ښار دَ خلګو ښې او روئې څه څه کندهارۍ یا لکنهو وزمه وَبرېښېدلې- ولې چې په هر څه کې دَ دې ځای دَ ژوند او ژواک کلاسیکي ښې مونېدلې- او ولې نه - دې ښار ته دَ علم او عالمانو ښارخو هم وئیل کېږي-

دَ ډیپارټمنټل سټور په هراړخیزه ښکلاګانو کې ځان ښه سترۍ کولوورسته په نیږدې رېسټورېنټ کې دَ برګر خوړلو پسته چې وَ راښول شوي وېورلي بریج ته مې ځان ورسولو- نو زما په چپه که نور څوک وْ ، نو هغه وْ درې موالیان ، چې ورته هیپیان هم واي- ګوایوه چټه سرببري پېغله او دوه ځوانان- خو دومره سخني او خیري جامې یې اغوستې وې، چې په دې یخ کې یې لا هم بدَنونه ځای په ځای ښکاره کېدلو- او یخني به یې کېدله هم څله چې دَ چرسو سګرېټونه او چولمونه یې داسې په مزه مزه څکولو ، لکه هغوئ چې په یو ملک کې

Khyber.ORG

نه ، په ځنګل کي ناست وي- ځکه خو به يې يو نيم داسي حرکت هم وکړو ، چي که هغوئ نه، زه او زما په رنګه نابلده ترې شرمېدلو خامخا- هرڅه هرڅه ، خو بيا هم له هغه ځايه ښوربېدلی پدې نشوم ، چي هم دغه خو وْ دَ ملګرو دَ راغونډېدلو ځای-

دَ پروګرام په سمه له دې ځايه قافله دَ ټورستانو ماښپښين دَ ايډنبرا په صنعتي علاقې کي مختهدَ وتلو سره چي دَ ځناورتون په څنګ کي روانه وه، نو مي روډ وَ ڤټ پاتونو ته پام شو- چرته چي تر نرانو سکاټش ښځي يو په دوه زياتي ښکاره کېدلې- او خاص خبره دا هم، چي دا پېغلي دَ برطانيې دَ نورو سيمو دَ ښځو په مقابله کي څه زياتي سرې او سپيني هم وې-

ګوره چي ما به لا دَ نظر ستني د هغو پېغلو تر بدَنونو نوري نوري ا يستلې، چي يو ژغ مي تر غوږه شو-

"دا ستا سګرېټونو خو بده عادت کړم - شوق سګرېټ لري ؟ "

دا ژغ دَ بل هيچا نه ، بلکې دَ جوْنا ژغ وْ- او دَ سګرېټ دانه ورسپارلو ورسته چي يې په څو غټو لُوخړکو کي څنګه ختم کړو ، نو بس ته ختلو ورسته راته واي-

"راځه هلته شاته به کښېنو "

"ولي نه - درځه "

او دواړه دَ شاته په دوْو سيټانو باندي کښېنستو- تر ډېره پوري دواړه چپ وْ ، خو چي ځينو ملګرو بيا بيا شاته کتل شروع کړو، نو هغه واي-

"دا خلګ څله تر شا ګوري ؟ "

"کېدلی شي چي هغوئ تا زما -- ګڼي"

ما چي څنګه دَ هغې دَ تنګولو په نيت دا خبره وکړه، نو دې په اوږه باندي دَ ناز څوک راکولو سره سم په خندا کي وَ وئيلو-

Khyber.ORG

" شاعر يې ، ځکه خو- "

لا به يې مخته څه وئيلو ، چې بس نابېره په يوې جټهکې باندې دَ يو بل بس وَ شاته وَ درېدو او مسټر رچرډ اورمرو زمونږ دَ ډرائيورانو په رنګه له ځان ځان سره دَ هغه بس والا ته شکنځاوې څه شروع کړې ، چې جوْنا هم وَرته وَرسېده-

دَ ابېډنبرا څخه دَ وتلو سم دستي ورسته اوس زمونږ بس په فورتهـ روډ باندې مخته روان څه وْ ، چې په شنو لوړو ژوَرو کې په تک تور روډ باندې ګولۍغوندې رهي وْ- دَ ليوګېسټن نامي ټاوْن سره په څنګ کې دَ تېرېدو په وخت جوْنا دَ يوې کړيکې ورسته وئيلو-

" هېلو مائي ډېر سليپنګ چلډرن "

دا خبره څه وه ، چې په بس کې غوغا جوړه شوه او چا په کې دَ ماشومانو غوندې دَ ژړا چيغې، چا شپېلکې او چا خپړې -، خو زياترو ښځو په کې " ممي ممي- ډئېر ممي " غوندې نارې دَ کورس په انداز کې هم وهلې- لاکن جوْنا هم له چا کمه نه وه - سمه به راپورته شوه او له هکلو سره به يې دَ ورې انجلۍ غوندې ټوپونه وهل- غرض دا ، چې په موټروې M 8 باندې په يوې ګنټهې کې دننه دننه ګوا درې بجې خواته مونږ دَ ګلاسکو ، چې دَ برطانيې دريم نمبر غټ ښار دی په دنګو پلازو او دَ جديدو بلډنګانو تر منځه په هوارو او پراخو سړکونو باندې مخته روان وْ

" ګلاسکو ، چې دَ يوې غټې بندرګاه په چپه دَ فولادو او کېمياوې ادوياتو دَ کارخانو سره سره دَ مشهورو يونيورسټيانو ، لکه ګلاسکو يونيورسټۍ او سټرېتهـ کلائيډ يونيورسټۍ له سوبه په درستې نړۍ کې لوی نوم لري "

جوْنا چې دا خبرې کولې، نو بس هم دَ يو ښائيسته هوټل چې کنګز ډين پارک هوټل نومېدلو وَ مخې ته وَ درېدو- هو دا وْ زمونږ دَ نن دَ شپې استوګنځای-

" په کال **1450** کې جوړ شوی دغه تاريخي ښار ګلاسکو په ځان کې دننه ډېرې زړخوښيانې لري "

له بس څخه دَ کوزېدو په وخت، ګوره چي دا خبره جوْنا څله دَ يو ملګري دَ پوښتني په ځواب کي وکړه او که يې موږ دَ دې ښار دَ ترلو ګنډو په پرانستلو پارَولو-

---

" دَ ګلاسکو مېن اومشهوره ټاوْن ، چي ورته دَ ګلاسکو زړه هم وئيل کېږي St-Enoch Centre نومېږي- چرته چي دَ غټو شاپنګ پلازو، مارکېټونو او په فټ پاتهونو باندي دَ رش په چپه هرقسمه زړخوښياني وَ دې ښارته راغلو مېلمنو ته ښه راغلی واي-له دې خبري دَ دې علاقې دَ اهميت اندازه کېدلی شي، چي هلته دَ 750 موټرانو دَ پارکنګ پرته هم ګاډياني دَ روډونو په څئيو باندي پارک شوي ښکاري او دَ ښار دَ هري برخي ټرېن ورته راځي "

دا هغه خبري وې ، چي دَ هوټل يو مزدور له ما سره زما بېګ تر خوني پوري وړلو په وخت وکړې- خو اوس چي لا لمر ولاړ وْ، نوما غوښتلو، چي دَ دباندي تر تګ له مخه دَ خپل مات او ټوک ټوک بدن دَ ښېخي ضرورت په سمه دَ دې هوټل په بيوټي تهراپي سېنټر کي مساج په چا وکړم- لاکن زما له بده بخته دَ هوټل يوازينی سېنټر چي " Karen Anne At The Dean Park Hotel" نومېدو نن بند وْ- که مي څه هم دَ کېرن سره دَ هغې په فون خبري وَ شوې، خو وخت يې نه راکولو- نو ځکه دَ خپلي پښتني هوډي په سمه دَ هوټل څخه کيڼ لاس په هغې لور روان شوم ، چرته چي دَ هوټل دَ يو Receptionist له قوله نيږدې يو دوه مساج سېنټران په کي شته-

په نيمه لاره کي چي مي ځنګه دَ روډ په هغه بله څئ باندي يو ښېخي زوړ او روائتي سکاټش طرز جوړ يوازينی بار، چي په ځنګل کي ولاړ دَ پريانو کور ښکاره کېدو دَ عکس خوندي کولو ورسته چي مخته ګامونه اوچتَولو ،نو دوې پېغلي چي يوې شين جينز او بلي لانګ سکرټ برسېره پراخه توده ګنجی اغوستی وه زما لاره ونيوله او راته واي -

" زموږ فوټو اخلې-؟ "

" دَ څه دپاره- ؟ "

Khyber.ORG

دَ هغوئ دَ پوښتني په ځواب کي چي مي لږ په سخته روئيه بيرته له هغوئ پوښتنه وکړه، نو په هغو کي په درختي وړه پېغله واي -

"بيا به موږ ورباندي يادَوي "

"دا نو اوس کمه داسي لويه خبره ده ؟ "

او چي ځنګه مي په کېمره کي خوندي کړې ، نو هغه بله دنګه انجلۍ رامخته شوه او واي -

"يو تصوير له ما سره يوازي هم - "

په زړه کي مي وئيلو ،چي دا لا نوره ښه خبره ده- کېمره مي هغې بلي ته ورکړه او دا راسره داسي چيخلی وَدربدله ، لکه زه چي دَ هغي که نور هيڅ نه،نو "هغه" خو يې خامخا يم- او دغسي له هغي بلي سره چي هم په ريکارډ باندي ځنګه راغلم،نو دنګي پېغلي لاس راکولو ورسته وئيلو

"زه نتاشا سارا يم او دا زما فرېنډ کېلي نومېږي "

"ماته شوق واي "

لاس مي سم ورځخه راټول کړی لا نه وْ، چي دنګي نتاشا پوښتنه وکړه-

"چرته روان يې ؟ "

"دي نيږدې ټاوْن ته مي دَ چکر وهلو نيت کړی دی "

"لاکن دې وخت خو دلته دَ بارونو او کېفوګانو په چپه هر څه بند دي -- ولي له موږ سره په هغه مخامخ کېفې بار کي توده کوفي نه څيښې ؟ "

دا خبره چي يې ښځګه کوله ، نو زما دَ خوښي ناخوښي معلومولو بغېر دواړو تر لاس وَنيولم او دَ هغه کېڼې په لور يې بوتلم- که څه هم ماته معامله څه ګړېينه محسوسه شوه- خو په نره ورسره ځکه ولاړم ، چي ځان سره مي وئيلو-

" ځه شوقه ! دغه لا ښه موقعه ده دَ دې پېرنګيانو دَ فطرت تلني "

خو په زړه زړه کي مي له لويه خُدايه دَ پړدې او دَ سر او ساماني تاوان ژغورنه هم غوښتله- لاکن چي ښځګه وخت تېرېدو شوق دَ ننداشا په اوږدو او دَ ګڼو زولفانو په دام کي ورګېرېدلو لګيا وْ-

دَ کېڼې بار څخه دَ راوتلو ورسته درې واړه ملګري په يو بس کي دَ ډاوْن ټاوْن په خوا بيا روان وْ- لاکن دَ کېڼو ، سنېک بارونو او برګرکېڼو په چپه بله داسي زړخوښي نه شوه رانصيب ، چي خپلي دغه حُوري مي پرې هبري کړي وی- نو هم ځکه ډېر ژر بيا هغوئ بيرته له ما سره په يو بل بس کي زما دَ هوټل په خوا په دې سوب راروانی وي ، چي کېلي زما دَ خوني واش روم دَ حاجت له لاري په کارَول غوښتلو-

" زه به خامخا په اوويشتمه نېټه په لندن کي دَ خپلي خور سره ليدلو ورسته ستا دَ راښول شوي پتې په سمه تا سره دَ ليدلو هڅه کوم "

دَ هوټل په لابي کي دَ خدای په اماني کولو په وخت باندي چي يې خپل بارخو زما له غوځي سره ومُوږلو ، نو دا خبره يې داسي وَکړه ، لکه دا چي هم اوس دَ زړه په رنځ اخته شوي وي- او بيا له کېلي سره له هوټله چي وتله ، نو بيا بيا يې شاته دَ کتلو سره داسي لاس راته شورَولو لکه هغه چي دَ دي هر څه پرته هم دَ همېش دپاره رخصتېږي-

---

او کيسه وم هم دغسي- ګوا چي زه ښځګه خپلي خوني ته راغبرګ شوم ، نو دَ څو لمحو ورسته مي په منډه منډه بيرته دَ لابي تر کاونټره ځان ورسوَلو او اوس به مي لا وَ کاوْنټرکلرک ته دَ هغوئ په حقله دَ غلا رپورټ ورکولو- چي ننداشا له ډکي خلې خندا سره دَ هوټل په لويه دروازه باندي په غټو ګامونو راننوته او راباندي يې ژغ وکړو-

Khyber.ORG

"هاى - بحبنبه غوارړم ، هلته ستا په خوني کي زما يو شئى پاته شوى دى "

او دَلاس څخه يې نيولى خوني ته په تېزو قدمونو بوتلم- بيا راته واي -

"يو شئى مي هم نه دى پاته شوى - مازي مي دا ستا دَ خوني واش روم په کارَولو "

او په خندا خندا باندي وَ باتهـ روم ته ننوته- که څه هم دَ دې بيرته راتگ دَ ځان په هغه شک باندي خندَولم، خوله حقيقته يې هم انکاري کېدلى نشوم- ولي چي زما دَ گهړۍ او پاس پورټ په چپه لا نور نه وم خبر، چي څه څه پورته کړل شوي وُ- نوځکه چي دا له باتهـ رومه راوَوته ، نو مي په سخته لهجه کي ورڅخه پوښتنه وکړه-

" تاسو هم غلا کوئ ؟ چي ځانته دَ نيمي نړۍ باداران وايا ست - هله شاباش زما شيان را وارَوه "

"دا څه واې ،کوم شيان زما دوسته ؟ "

هغه چي په ډېر اعتماد ښنگه انکاري شوه ، نو له څُوسې ورته سور او شين شوم-

" لعنت دي ستاسي په دې نامه شي - زه نور نه يم خبر- بس زما گهړۍ او پاسپورټ را وارَوه "

خو دا وه، چي راته موسېدله او واي -

"دا دواړه شيان خو ستا په واش روم کي اوس اوس ما وَليدلو ، چي پراته وُ "

"په واش روم کي --؟ "

ما په حېرانتيا چي دومره له خلې وتلو ، نو هغه واش روم ته ننوته او درې سره شيان يې په لاس کي اخيستي له ځان سره راوړل او په سخته لهجه کي يې په کټ را وَغورځول او واي -

"د ا څه دي ؟که ستا نه دي ، نو دَ چا دي؟ "

" لاکن - لاکن دا خو ما په دې سائېډ ټېبل باندې ايښې وْ - غُسلخانې ته څنګه وَرسېدلو؟ "

هو، که څه هم په خپل ګمان کې زه صحيح وم، خو معذرت مې ورځخه وَغوښتلو او ژر ژر مې دَ پېپسي ډک ګلاس مخې ته ورکښېښولو - دا که څه هم اول دَ ځيښلو په مُوډ کې نه وه، خو بيايې زما په زد په غاړه باندې واړَولو او دَ څو ارژيانو ايستلو ورسته دَ مودو مودو دَ يو اشنا په رنګه په مينه مينه رُخصت شوه - او زه يې شرمنده غوندې په خونې کې يوازې پرېښَولم - خو چې تله، نو بيا يې هغه خبره داسې وکړه -

"زه بل سبا له خور سره ملاقات دپاره لندن ته خامخا ځم - هڅه به کوم، چې درسره وَ وينم په ټاکل شوي نېټه "

او دا چې څنګه لاړه، نوما نور نور ځان په خيال کې ورته ملامتَولولګيا وم، چې يو دم شپږم حِس زه دَ يو بل شک په سمه باندې په خونې کې سردوباره په ګرځلاوْ او خپلو نوروڅيزونو په کتلو مجبورکړم - له واش روم څخه دَ شېمپوګانو په چپه چې کوم شې زه په سر نيولو مجبوره کړم - هغه زما بتوه وه، چې دَ سفري وړوکې بېګ څخه غائبه وه - لاکن ښخې زيات پرېشانه ځکه نه شوم، چې ما نن مازيګردَدباندې وتلو له مخه پيسې ورځخه ايستلې وې -

شکرا ايستلو سره سره مې سرکه په دې ناروا پېښې يوې بلې خواته ښورَولو، نوله خلې څخه مې چک چک دَ نتاشا په چټ پېغلتوب او دَ هغې دَ حُوري وزمه ښائيست باندې هم وتلو -

او زما په ياد دې - چې که يوې خواته دَ نتاشا مينې او حُسن زه وَ خوب ته نه پرېښولم، نو بلې خواته يې غلو اداګانواو په موسکاګانو کې دَ داړَلو پېرنګې روئيو زه دَ نيمې شپې وَ خواته دَ "دَ نتاشا په نوم" نامې نظم باندې دَ ليکلو سره سره په دې لاندېنئيو څو خبرې ريکارډ کولو باندې هم وَپارَولم - ګوا

" انګرېز که په خوی هر څومره ښائيسته او په خُلې باندې خوږ شې، نو هم په ايمان کې شک لرې - ګوا دَ تاريخې او روائتې فطرت په سمه دَ لستونې دَ مار په شان چيچل کوي - دا اوس ښبله خبره ده، چې په زهرو يې سړی مرې کم خو مرګې حاله زيات وې - هو، لکه په تاريخ کې

Khyber.ORG

چي يې دَ هر هغه قام سره په پټه او چل وَل کي نه هېرېدونکي بدکړي دي- کوم چي دَ دوئ ښه دوستان ياد شوي دي "

---

" نتاشا -- نتاشا ، اې نتاشا "

په زوره زوره مي نارې ورپسې وهلې- خو دا وه ، چي له سوربُوږي کېلي سره سمه په منډه منډه مخته تښتېدله -

" په ما پسې مه راځه ، زه په لاس نشم درتلی - ستړی به شي- مه راپسې ځغله "

کله کله به نتاشا تر شا مخ را واړَولو او ژغ به يې راباندي وَکړو- لاکن زه هم په خپل ضد کي پښتون وم ، ماته مي نه منله او ورپسې تښتېدم لګيا وم- هم تر دې هانده ، چي هغې دَ ملګري کېلي سره په ګډه دَ خپل فرار دَ ورستني وَس ورسته زما دَ لېونتوب مخې ته ماته خوړَلي وه او اوس به يې زياته دَ خپلو غلطيانو اعتراف کولو په لړ کي لاسونه راته جوړه کولو ، چي ژغ راباندي وَشو-

" مسټر شوق- دا ګوره ستا دَ هغه کتاب ټائټل چي دَ دې ټوْر په اړه به يې ليکې "

نو څه ګورم ، چي زه په بس کي ناست يم او دَ شا له سيټ څخه آسټرېلين آرټسټ ملګري مال پارک چي دَ لينا سره ناست وْ ، يو کاغذ چي ورباندي په بال پېن ځوکرښې راکښل شوي وې رامخته کړو -

" ښه دی ، ډېر ښه دی - مننه "

دې جوړي خاکې ته مي لاسم نه وْ کتلي،چي ستائينه مي دَ آرټ ورته وکړه- او هغه سپين سری دومره سپين زړی هم وَ وتو ، چي وَيې منل او راته واي

" دا خاکه به په لوی کارډ درته ژر واړَوم "

او کاغذ چي يې بيرته راخخه اخيستلو ، نو زموږ بس دَ هېميلټن نامي ټاوْن ښي لاس ته پرېيَښي وْ او په موټروې M 74 باندي دَ مُوفات نامي ځای په خوا روان وْ- چرته چي به دَ پروګرام په سمه نن ګوا په**24**م اپرېل **1996**موږ لومړی سټاپ کولو- خو زه وم ، چي دَ پرون دَ ويښو سترګو دَ ناواړه او نه هېرېدونکي خوب په لور مي دَ سوچ او فکر اسپي ورځغلولو هځي کولې- او زموږ کاروان دې وخت دَ وړو ، غټو شېلو او په هوارو مځکو کي په غزېدلي تک تور روډ باندي روان وْ- لانارک او ابينګټن مو شاته پرېښي وْ او اوس کرافورډ په خوا روان وْ- لنډه دا ، چي شل بالا نهه بجې سهار بس دَ ځنګلي او غرَيز، خو دَ وړَئيو دَ کاروبار په باب مشهوره ټاوْن مُوفات کي دَ يو وولن مل مخي ته وَدرېدو- دَ ملګرو سره چي ښنګه کښته شوم ، نو جوْنا راڅرمه شوه او راته واي-

" درځه چي له هغه شوروم سره جوړ شپېږ دلاندي سګرېټ وَ څکوْ "

" زما هم دغه خوښه ده "

او دواړه په هغې خوا ور روان شولو-

" ستا يخ نه کېږي؟ "

سګرېټ ته دَ لائټر اور پوري کولو په وخت چي هغې داسي پوښتنه وکړه، نو ما ورته وئيلو-

" يخ مي کېږي خو- "

" يوازې يې "

زما خبره سرته رسولو ورسته يې په خندا باندي په اوږه داسي ټک راکړو، لکه زه چي پښتون نه او هغه پيرنګۍ نه وي - بلکې دواړه خپل يُو سره- نو ځکه مي بيا وار داسي لاس ته کړو-

" ما پرېږده، دې ځانته دي وګوره --او بيا خپله فېصله وکړه، چي دَ چا يخ نه کېږي "

"دا زه خو ښځه يم او ښځه -- "

"په فطرت توده وي"

دَ هغې خبره مې پرې کولو ورسته چې دومره وَ وئيلو، نو هغې په ځيګر راته داسې په ناز ځوک راکړو، لکه ما چې رښتيا وئيلي وي - دَ مُوفات ځخه چې دَ اِن سائيټ قافله مخته روانه شوه، نو جوْنا وئيلو-

" قريبًا دَ يوې ګنټې ورسته به موږ دَ دُنيا وَ هغه اولډ بلېک سمتهـ ته ورَسېږو، چې دَ ودونو دَ اهتمام کولو په باب ښېخې زيات شهرت لري- او دَ ليري ليري ځخه ځواني جوړې دَ واده په رښته کې دَ تړَلو دپاره ورته ځکه راځي- چې دَ سکاټ لېنډ دَ قانون په سمه دَ واده عمر شپاړلس کاله دی او دَ برطانيې په نورو رياستونو کې اتهلس کاله- په دې خو واده ته تازيلمن ځوانان دَ نکاح دپاره دَ دې ځای قانون په کارَوي- بله دَ خوند خبره دا، چې دلته ودونه اوس هم هغسې په زاړه روائتي انداز کې کېږي"

دَ يو ځو ټاوْنونو، چې په کې لوکمابېن او لاکربئي نامې زاړه سکاټش وزمه کلي وْ شاته پاته کېدلو ورسته غرمه پاوګم يولس بجې موږ بيا دَ سپينو دېوالونو، تورو دروازو، کهړکيانو، دَ لرګيانو دَ براندو او تکو تورو بامونو په اولډ سمتهـ شاپ کې دننه ګرځېدو-

"دلته واده ځنګه کېږي ؟ "

دَ دې سوال دَ ځواب دپاره موږ دَ لوهار کاکا وَ يوې وړې او ښېخې دَ پخوانۍ زمانې په طرز جوړې زړې خونې ته يُوړل شولو- دلته دَ ګروپ تصوير اخيستلو ورسته دَ زاړه لوهار په جامو کې ملبوسه زاړه سړي، چې غټ تَبر يې په اوږه باندې راځړېدلو ځلور کسان ګوا سوې سُوليوان دَ هلک دَ موراو زه دَ انجلۍ دَ پلار په حېث له ښېخې اوږد توپک سره په غُوسه طبيعت په مخصوصو چوکيانو باندې کښېنَولم- ياني دَ هغې زَوی او زما لُور زموږ بې صلاح تر اتهلس کالو دَ مخه واده ته جوړېدلي وْ- او بلې خواته پېغله اېليسن دَ ناوکۍ او اېډوين ټان دَ ناوکې په کردار کښې دَ خوشالۍ په مُوډ کې وَدرَولو- بيا نو مخته ځه وْ -؟ لوهار کاکا دَ ناوکۍ او ناوکې لاسونه دَ يوې او سپينې په ټوټې باندې کښېښول او په ډډن او له خشمه ډک ژغ کې يې پوښتنه ورځخه وکړه-

"دا راته وَوايئ - چي واده په خپله خوښه کوئ او که دَ بل چا تر زور دلاندي ؟ "

"په خپله خوښه باندي "

ابډين او اېليسن چي څنګه داسي وَوئيلو ، نو لوهار کاکا په ډېره غُوسه کي تَبر په دواړو لاسونو کي تر خپل سر پورته کړو او واي -

"نو بيا دا مور او پلار مو څله خفه دي؟ "

او لدې سره سم يې دَ تَبر ګوزار چي څنګه رښتيا ته مونېدلى وَکړو- هو ، که څه هم په بلي اوسپني باندي، خو دَ ناوکي او ناوکي چيغي په رښتيا وَوتې- او دغه رنګه هر واده له داسي امتحان اخيستلو سره تېرېږي-

دلته دَ اولډ بلېک سمته، چي ورته ګرېټنا ګرين مېرېجز هم واي دَ انتظاميې له خوا دَ دې ډرامائي واده په خوشالۍ کي يو يو کپ کوفي راکولو ورسته چي دباندي څنګه وتلو ،نو جوْنا وَ واده شوي جوړې ته واي- چي

"اوس په کار دي ، چي خپل خفه مور او پلار خوشاله کړئ "

او هغوئ هم چي څنګه دواړه رامخته شولو ، نو ما او سُوليوان يې په سرونو لاسونه څه کښېښنول ، چي هغوئ دَ خپل رسم په سمه مورې دواړه په تنديانو باندي ښپ هم کړلو او لدې سره سم دَ مبارکيانو په نارو او خپړو کي په خندا خندا دباندي را وَوتلو -

او بس يو ځل بيرته مخته منډه پئيل کړه- بيا هغه مورې ، هغه روډ ، او هغسي چاپېريال چي تر ليري ليري پوري يې سترګي خوږَولې -

خو بس که يو شى ما په دې سفر کي نوى تر نظره شوى وْ ، نو هغه وْ - هغه جوړه ولاړ دوه سپېره خرونه ، چي ما په لومړي ځل په اروپا کي ليدلي وْ- اودَ خوند خبره دا ، چي هم په هغسي سوچ او فکر کي ولاړ لکه هر چرته او هر وخت وي چي-

*****

# هلته رنګونه خبري کوي

دَ سکاټ لېنډ څخه په موټروې نمبر 74 باندي چي څنګه بيرته دَ انګلېنډ په هېواد ورګډ شولو ، نو داسي هيڅ بدلون مي تر سترګو نه شو ، چي په ګوته کړی مي وی- ګوا هرڅه هرڅه لا دَ سکاټ لېند په بڼه ځرګندېدلو- خو چي څنګه مخته بس فاصله لنډَوله -- نو هغسي ورو ورو غرونو ، رغونو ، شېلو او هوارو مځکو بڼې اړَولې- او ځای په ځای به بېخي تکو شنو ميدانونو کي توربخون يا خړ پوُسونه چي دَ زياترو مخونه سپين وْ غړېدلو- مخ مخته مي داسي ولاتونه هم تر سترګو شولو ، چي خړي ډبَريني مځکي او څه څه شنه غرونه او غونډيانی ئې درلودلي- چي په لمنو کي ئې ځای په ځای انګلش وزمه روائتي کورونه هم آباد وْ-

دَ ويګرون او کوکرماوت نامي ټاوْنونو څخه وړاندي تېرېدو ورسته دَ لېک ډسترکټ غريزه او ځنګلی سيمه پئيل شوه- دا سيمه که وَوايم چي ارومرو زما دَ کلي تانده وانۍ او چوتېر دَ ناوې په رنګه وه ، نو غلط به نه يم- ولي چي هغه رنګه ډبَرين غرونه او غونډيانی ، يوې بلې خواته واړه کاړه واړه پټيان ، چي حدبنديانې ئې دَ ډبرو په بارو باندي شوي وې او بلې خواته مانده وْ ، چي په کي خړي باراني اوبه بهېدلې يا يوه نيمه شېله هم ، چی لاندي وَ مانده ته توېدله- هر لور دَ تراشل شوْ کاڼو څخه جوړ کورونه برېښېدو- دا کورونه هم بې خاورو ختو داسي هوډل شوي وْ ، لکه دَ سوات په ناوْ کي جوړي مېنې- دَ تنګ سړک له سوبه چي به مخی ته يوه نيمه غټه ګاډۍ راغله ، نو پاسېدل به ګران شو-

موسم شاعرانه وْ، ځکه خو مي دَ دې نندارو پرته بيا بيا دَ برايه شپې دَ هغې ناڅاپي پېښې فلم په مزغو کي تکرارېدلو- خو عجبه دا ، چي دَ ډېره خشمه پرته هم ، دَ ښکلي ننداشاسارا په غلو اداګانو او ماشومو مُسکاګانو مينه راتله- او له ځان سره به داسي وَ هم بُڼېدم --

" چپ له سره بل دَ هر شي تاوان مي خوښ دی ، خو بس چي نتاشا دَ پرون په شاني دَ خپلو شوخيانو او مستو اداګانو سره هر وخت را سره خنګ ځنګ کي ګرځېدلی "

ولي چي دَ ناوړتياوْ پرته هم دَ پرون درسته واقعه دَ هېرولو وَړ نه وه -

---

"دَ لېک ډسترکټ دغه قريبًا **700**مربعه ميله غريزه او درئيزه سيمه په کمبرلېنډ ، ويسټ مورلېنډ او شمالي لينکاشائر نامي مشهورو علاقو باندي اړه لري- دَ وړو غونډيانو سره سره په دې برخه کي دَ برطانيې دَ مشهوره غره Scafell Pike هسکي څوکي ، چي**3210** فټه اُوچتي دي هم ځانته نوم لري- خو دَ ويليئيم ورډز ورتهـ له سوبه دا علاقه لا نوره هم دَ ټورسټانو توجه راګرځوي- او په کال **1951**کي ګورنمنټ دا علاقه دَ نېشنل پارک په توګه غوره کړه- "

جوْنا(اسکارټ) چي دَ لېک ډسترکټ په حقله خبري کولې نو موږ دَ Keswick او Glendding نامي ټاوْنونو څخه تېرشوي وْ- او اوس دَ روډ دواړو څئيو ته دَ وړو وړو پټيانو دَ تنګو بارو په مابېن کي دَ Cumbria او Grasmere نامي علاقو په لور روان وْ- او سړک دَ مار غوندي دَ غرو په تنګيانو کي مخ مخته غزېدلو لګيا وْ-

" دَ انګرېزي ژبي نازک خياله او روماني شاعر ويلئيم ورډز ورتهـ ، چي دَ فرانس دَ خوني انقلاب څخه زړه ماتی شو ، نو له هغه ځايه ئې وَ دې لېک ډسترکت ته له خپلي خور ډورتهي سره کډه وکړه- او بيا تر خپله مرګه پوري دَ دې ښائسته ناوْ په منځ کي دَ هيڅچي سن په مينه کي مست اوسېدو ته جوګه وْ- دَ سياحت په باب مشهوره نظم The Excursion هم ورډز ورتهـ په دغه شنو ناوْ کي ليکلی وْ "

دا خبري جوْنا هغه وخت زموږ تر غوږو تېرَولي، چي موږ دَ درياب وزمه څُوړي سره سره مخته روان وْ- او دا هغه علاقه وه ، چي هغه په کي دَ قدرت ښکلاګاني چُور کولو سره سم دَ خور او مېري هيڅچي سن سره ګډه دَ دې څوړي په څئيو ليدل کېدلو-دَ دې څوړي په مابېن کي يو ځای چي دَ واړه ټاپو غوندي جوړ وْ ، چرته چي به هغه دَ يوې درختي لاندي ناست شاعري کوله-

Khyber.ORG

زما په ضد په ورپ کشتۍ کي تر هغه ټاپو پوري زه ، جوْنا او اېډين دَ نيم ساعت دپاره څه ورَغلو- چي زه هم دَ څو دقيقو دَ پاره له ځانه داسي وَوَتم ، چي بيا کله راغبرګېدم - نو له ځان سره مي " اشنا زما څه ناآشنا غوندي دی " تر عنوان دلاندي نظم هم راويستو- او کله چي ما دا نظم ډائرۍ ته اړَولو ، نو بس هم دَ دې دريابي خوړي وَ ښي لاس ته جوړ ټاوْن چي Ambleside نومېدلو ته دَ غرمې دَ ستاپ په غرض پېښنه وکړه-

---

" زما خو دَ دې لېک ډسترکټ دا ښائسته ناوې ډېري خوښي شوې "

ما چي ځنګه دا خبره دَ مېز شاوخوا ناستو ملګرو ، چي په کي دَ هېري او وېلما فېميلي پرته مسته جرميله پيک او جان سره دَ خپلي ملګري مال پارک هم ناست وْ وَمنځ ته وَ غورځوله ، نو ټولو خلې وکړې- او هر يوه دَ خپل خپل وَس په سمه دَ دې علاقې ستائينه وکړه- بلکې مستې جرميلا خو تر دې هانده لا وَ وئيلو ، چي

" بس دلته مي دَ ژوند يو تکړه ملګری موندلی وی -- او بيا درست ژوند ورسره دلته هلته ګرځېدلی "

دا خبره ئې چي لا سمه سرته نه وه رسَولې، چي ورسره څنګ کي ناست مال پارک هم لاس ورباندي وا چولو او څوکه غوندي ئې ورته وَ وئيلو --

"زما په باب دي څه خيال دی؟ "

او له دې خبري سره سم ټولو څه وَ خندل ، چي جوْنا هم راوَرسېدله او واي -

"اُو للا-- تاسو نن ډېر خوشاله ښکارئ "

لنډه دا ، چي دلته په ريستورېنټ کي دَ کوفي څښنلو سم دستي موږ دَ دې ټاوْن په تنګو روډونو او کوڅو کي ډله ډله ورک شولو- که څه هم زه يوازي وم ، خو دَ رچرډ او جوْنا په ملګرۍ کي مي دَ دې ټاوْن په لمدو ، لاکن دَ ښکلا په اړه تودو ګوڅو کي زړه وزرونه په دې خبره کولو -- چي جوْنا مي په لومړي ځل دومره په مستۍ کي ليدلې وه- کله کله به په ډېره داسي وروَغوړېدله ، لکه هغه چي دَ بس ډرائيور نه ، دَ دې هغه --- وي- خو بيا چي به يې په

Khyber.ORG

خبرو خبرو کي په ما لاس کښېښولو ، نو به زما هم ایمان خطا شو- او په دغه رنګه تودو سړو کي موږ دَ یوه سکول او پولیس سټېشن څخه واخلي ، بیا رک تر بارونو پوري لاري داسي په خوند خوند لنډي کړي ، چي ګرسره پوهـ نه شولو-

" دا ګوره دومره وړوکی ټاوْن او دَ ژوند هره آسانتیا په کي شته "

دَ جوْنا دا خبره مي په ځای ځکه وَ ګڼله، چي دلته سکول، کالج ، اسپتال ، پولیس سټېشن سره سره دَ ماشومانو اوځوانانو دَ پاره ساتځایونه ، پارکونه ،او دَ ماښامونو دَ تودَولو اهتمام دَ دې ټاوْن ښائیست سېوا کوي- چرته مي هم په دېوالونو باندي دَ مردانه کمزورۍ، سیاسي چالبازیانو او فلمونو اشتهارونه تر نظره نشو- ګوا دَ ماحول دَ ښائیست سره سره دَ دې خلګو زړونه او ذهنونه هم خواپاکي دي- زه به لا نور نور دَ مغرب په دې لاسي ماحولیاتي ښکلاګانو کي مسرور کېدم ، چي جوْنا راباندی ژغ وَ کړو-

" شوق ! ستا په هېواد هم ټاوْنونه داسي دي، که تردې ښه دي؟ "

سوال څه وْ ؟ زما دَ امباري ښارونو او کلو دَ سخن او بُوی جن ماحول له سوبه زما په سینه باندي دَ توپنچې ټک وْ- خو بیا مي هم په ځواب کي ورته وئیلو -

" يَه- داسي نه دي ، خو- "

" بېشکه - ولي چي ژواکي بدلون هر څه دَ قامونو بدلوی "

شکر مي وَ ایستلو ، چي زما دَ ځواب دَ مخه دې خپله دا خبره وَکړه او لا به یې نور څه وئیلو ، چي هلته په څه فاصله باندي دَ یوې ځواني جوړې تر منځ فرنچ کیسنګ موږ ټول دَ ځان په لور متوجه څه کړو ، چي جوْنا زما لاس نیولو ورسته څوکه غوندي واي -

" ستا په هېواد کي هم داسي کېږي؟ "

زما په بدن کي دَ ځواب په ځای یوه نرۍ برقي څپه یو دم وَځغلېده، چي دَ یو چټانګ ژبي په ځای مي لس سېره سر ورته یوې بلیخواته وَښورَولو او په زړه زړه کي مي وئیلو-

"چي قيامت کېدلی شي راشي، خو زما په قام يا هېواد کي داسي په ښکاره باندي مينه ممکنه نه ده "

خو زما په ځواب لکه چي هغه مطمئينه نه شوه، ځکه خو يې دَ سترګو تر ګُونجو راته کتلو او وړه غوندي داسي موسېدله ، لکه په ما چي پسخوند وَهي- ما به لا اوس څه ردِ عمل ښکاره کولو ، چي رچرډ وَوئيلو-

" خوند خو هغي جوړې له دې موسمه واخيستو "

او جونا هم ورسره دا خبره خوښه کړه -

---

دَ پروګرام په سمه به اوس دَ لېک ډسترکټ دَ دې نيږدې پلېټ فارم څخه ټول ملګری په کشتۍ کي په سېل باندي تلو ، چي سرې تبي راباندي زور وَ کړو- نو په خپل خواست او دَ اسکارټ جوْنا په رضا په بس کي له رچرډ سره پاته شوم او په نيم ساعت کي دننه دننه دَ Haverth Waitek نامي رېلوې سټېشن سره له بس څخه کښته شولو- ولي چي دَ رچرډ په قول زموږ ملګري به يو ځاي له لانچه کښته کېږي او په ټرېن کي به تر دې سټېشنه پوري راځي- ځګکه زما په ست دواړه دَ سټېشن په کېفې کي دَ کوفي څيښلو په نيت کښېنستلو -

" جوْنا اوس هم زما ملګری ده ، خو اوس زما او دَ دې تر منځ هيڅ قسم جنسي تړون نشته "

زما دَ پوښتني په ځواب کي چي رچرډ څنګه دا خبره وَکړه، نو دَ خپلي مطالعې دَ ضرورت له مخي مي يو دم دا پوښتنه وَکړه -

" څه وجه ده ، چي جنسي تعلق مو وَ شلېدو ؟ "

هغه وَ مُسېدلو او واي -

" وجه نو بله څه کېدلی شي چې له پيسو "

" ګوا هغه شُوکماره ده؟ "

"هو دغسي يې وګڼه "

او سړه غوندی ساه يې دَ خلې څخه چې ځنګه وتله، نو ما وار لا س ته کړو- خو هغه دَ خپل زړه له سوخته په ځواب کې وئيلو-

"اوس په دې سپلونو کې هر ځل دا يو نا يو سپلاني ورګيرَوي او ورنړَوي يې - که څه هم "

"چرته په دې تپوْر کې خو يې ماته --؟ "

دا سوال مي په مزغو کې چې راپورته شو ، نو مي نور معلومات تر لاسه کولو هڅه وکړه -

"ښه تا خبره کوله "

بيا چي مي وار دَ خبري ورکړو ، نو رچرډ دَ هغه "که څه هم " مختنه هيڅ نه وئيلو- خو ما هم پوښتنه نه شوه ځيني کولی- ولي چي دَ هغه دَ دنګي باډی سره دا سي خبري ورام نه خوړلو- نو ځکه مي خبره دا سي واړَوله -

"مسټر رچرډ ! ستا خو واده هم شته "

"هو شته لاکن -- "

"لاکن دا دَ مائينې سره -- "

"منمه ، چي دا چيټنګ دی- خو زه نه غواړم چي زما ښځه دي هم چا سره مينه وَکړي --لاکن څه وَکړم ؟ "

"هو زړه دی -کله دا خبري مني؟ "

لا مي سمه خبره سرته نه وه رسولي، چي هغه خبره په بله واړَوله او دې وخت يوې بوډهی دَ کوفي کپونه هم په مېز راته کښېښول -

Khyber.ORG

غرض دا ، چي مازيګر څلورو بجو خواته ملګري راوَرسېدو او يو ځل بس بيرته په روډ نمبر M 6 باندي دَ لنکاسټر ټاوْن او بُولټنډ په ګټو ځنګلونو کي تېرېدلو سره سره دَ پرسټن نامي ښار په آبادۍ کي ورګډ شولو او دَ دې ښار دَ سرو او توربخونو دېوالونو ، نوي او زاړه طرز جوړو ودانيانو او ځيني کاروباري سېنټرانو سره په څنګ څنګ تېرېدو کي يو وخت چي بس دَ Novotal Hotel مخي ته څنګه وَ درېدو ، نو جوْنا ماته په خپل وار دَ دې ښائيسته هوټل دَ خوني سټيکر راکولو په وخت وَوئيل ، چي دَ ډوډۍ خوَړلو دَ مخه به ته له ماسره په لابي کي خامخا ويني- که څه هم خبره بده نه وه ، خو داسي ووړ غوندي وَربېږدېدم او ورسره مي خوښه کړه -

" شوق ! دَ دې جوْنا له تا سره لګي "

زما تر شا راروان ملګري ايډوين ټان چي دا خبره څنګه وَکړه، نو زما په ځای ورته خپلي ورځرمه ملګري په خندا کي وَوئيلو-

" دا نواوس کومه داسي بده خبره ده - دی هم يوازي دی او هغه هم هڅوک نه لري "

او موږ دري واړه ملګري له خندا ډکو خلو سره سم دَ هوټل په لويه دروازه ورننوتو-

---

دَ قول په سمه پاوْ کم شپږ بجي مازيګر ما او جوْنا دَ انګلش کريم ټی څښلو په نيت دَ خپل هوټل، چي دَ فرنچ په طرز جوړي تکي شنې او توربخوني ښائيسته دروازې او کهړکيان يې لرلې څخه دباندي وَوتو او په ټيکسي کي کښېنستلو- دَ څو دقيقو ورسته موږ چي دَ پرسټن په مېن بازار کي څنګه کښته شولو ، نو جوْنا راته واي-

"بس ته دلته دَ يو څو منټو دپاره وَدرېږه ، زه له يو چا سره وينم ، بيا راځم "

او بيا دا وَ چپه لاس ته په نرۍ کوڅه کي په تېزو ګامونو دَ هوا غوندي په هغو پوړيانو ور وَختله ، چي بالا وَ يو داسي دفتر وزمه فلېټ ته ختلي وې ، چي زما تر شک هم زيات ورباندي دَ Lesbian Association Office يقين ځکه وَشو ، چي دَ سائن بورډ سره سره يې په شيشو او په دېوالونو باندي يوازي دَ ښځو ګڼ شمېر عکسونه جوړ وْ- او څه وخت ورسته

Khyber.ORG

څه ګورم چي يوه تنکۍ پېغله ،چي څنګه له هغه دفتره لاندي راکښته شوه، نو ځنګېدلي غوندي زما له څنګه تېرېدلو په وخت يې له خشمه غاښونه راته سپين کړو او واي -

" هې سړئيه - دلته څه غواړې ولاړ يې - چرته هغه خو نه يې؟

او دَ نرښځيانو په رنګه يې لاسونه وَټکول او دَ سګرېټ دَ يو اوږده کش لګولو سره سمه په کړيکه وَهلو کي مخته تېره شوه- بس بيا نو څه وْ، چي وار په وار مي په ځان باندي غصه راتله او په زړه زړه کي مي وَ جوْنا ته شکنځلي کولې- لا به اوس دَ بې صبرۍ وَ انتها ته رسېدم ، چی جوْنا دَ يوې سوُرچکي پېغلي سره سمه کښته راغله --

"بخښنه غواړم ، مسټر شوق ! وَځنډېدم "

او بيا واي -

" دا شيلا ده "

دغه رنګه يې زما په لور دَ هغې پام را اړَولو په وخت وئيلو -

" او دا شوق دی "

شيلا چي زما په لور لاس راغزَولو، نو وړې او شنې سترګي يې په ما کي داسي په قهر باندي راښخي کړې ، لکه زه چي ورته ښه نه وَبرېښېدم- لاکن زه بيا دَ جوْنا له خاطره ورته وَموسېدم او درې سره ګډ مخته روان شولو- ما به په وار وار دې دواړو ته غلي غلي ځکه کتلو ، چي هغوئ به دَ ډارلنګ دَ توري له بېخي زيات تکرار سره سره کله په يو بل لاسونه هم واچولو او غُوځيان به يې لا جلا خپلو کي وَجنګول- څنګه چي دَ بار وزمه کوفي شاپ په دروازه ورننوتو ، نو شيلا ماته واي -

"دا جوْنا ډارلنګ څنګه جنۍ ده؟ "

Khyber.ORG

حق حریان پاته شوم ، چې زه اوس څه ورته وَوایم- خو بیا هم وَموسېدم او داسې په ورو ورته ګویان شوم -

"ښه ده -- هو زما مطلب دی ، چې ښه ده "

"واوْ ، دوه واره ښه ده -- وندړفُل "

او بیا دواړو کلک وَخندل، لکه ما چې ټوکه ورته اورَولې وي- طبیعت به مې اوس ورته خرابېدو ، چې شیلا وای -

"ښځه هر وخت دَ سړي په نظر کې ښه وي؟ "

"لازمې هم نه ده "

ما چې دا وئیلو ، نو جوْنا مخته وای -

"نرکه آس هم شی - خو ښځې ته مات وي- لاکن دَ سړي له اهمیته بیا هم انکار نشي کېدلی "

دَ جوْنا دا خبره څه وه ، چې دَ شیلا او دَ دې تر منځ تود بحث پئیل شو او په ټوکو کې یې داسې په خوند هغه خبرې هم وَکړې، چې زما په ټولنه کې یې سړي نشي کولی- ګوا جوْنا دَ سړیانو او شیلا دَ ښځو په حق کې چې تاوْده دلیلونه وئیلو ، نو په وار وار به یې له ما بخښنه هم غوښتله- لاکن زه وم ، چې خپلې چائی مې ځیښلې او دَ هغوئ په تودو ګپو مې خوند اخیستلو- هو ، رک تر هغه وخته چې مورِ دَ خپل هوټل په لور په ټیکسي کې تللو- هرڅو که مې په لاره کې دَ جوْنا په باب دَ خپل شک په حقله رائې بدلولو هڅې کولې ، خو دَ شیلا ورسره هوټل ته تګ بیا بیا شکي کولم- او په زړه کې مې وئیلو ، چې

"دا خو هغه خبره نه ده ، چې مسټر رچرډ "که څه هم "تر عنوان دلاندې هضم کړې وه- "

شپه دَ معمول په شان دَ هوټل په لابي او دَ پرستین ښار دَ شپې دَ ژوند په تیارو کې دَ رڼاګانو دَ بځرکو په لټون تېره شوه -- خو چې کله خوب راباندې بار دَ بې هوشۍ ړېدلو ، نو ما غړې

Khyber.ORG

اچولو دَ مخه ژر ژر دا ورو کی نظم دَ " زَما او ستا تر منځ دَ میني عجیبه تړون دی " تر عنوان دلاندي په ډائرۍ کي واړَولو-

---

په هوټل نووټل پرستن کي شپه تېرَولو او دَ 25م اپریل 1996سهار ناری کولو ورسته دَ پروګرام په سمه اتهه نیمي بجې زموږ بس مخته روان شو- نن زما په برخه دَ ډرائیور تر شا سیټ راغلی وْ- دَ مسټر رچرډ دَ خریلي ککرۍ په پرته زما په وړاندي لاکن څه کښته ناسي اسکارټ جوْنا په وار وار زما سترګي خپلي خواته په اړَولو ځکه پارَولې، چي نن یې تر پرونه هم لا په واړه او په تنګ شنه سکرټ کي تکو سپینو غړو زما په شاعر زړه باندي خولې څه -- چي کانې یې لا ویلولو- ځکه خو دَ خپل خپل وَس په سمه هر نر ورته کتلو-

څنګه چي بس په موټروې M6 باندي مخته روان شو، نو دَ دې پراخ روډ په څنګ کي ولاړ بورډ باندي ویګان نامي ځای 13 کلومیټره لیري وْ- او بیا په نه ساعت کي چي مخته په M 58 باندي له موږ څخه هغه ټاوْن یو لاس ته پاته کېدلو، نو فقط 33 کلومیټره لیري وْ- څه نور مخته دَ سهار دَ سلام اچولو ورسته جوْنا دَ خپل معمول په شان مائیک خلې ته وَنیولو او واي-

" دې وخت موږ دَ چیسټر ښار په خوا روان یُو، چرته چي به موږ دَ غرمې سټاپ کوْ- لاکن دې وخت زه ستاسي پاملرنه دَ دې زړَو بلډنګانو چي په څه څه فاصله باندي دَ سړک یو لاس او بل لاس ته ولاړ ښکاري په خوا ځکه اړَوم -- چي په عظیمي برطانیې کي دَ زړَو ودانیانو دومره اهمیت دی، چي که څوک دَ حکومتي اجازې بغیر خپله زړه ودانۍ هم نړَوي ، نو دَ قانون له لاري هغه کس مجرم ګڼل کېږي "

ښشکه چي ژوندي قامونه دَ خپلو تاریخي اثاثو قدر کوي او هر هغه قام چي دَ تاریخ څخه خپلي رښتې دَ حاضر وخت په بیهه شلوي، نودَ هغه قام سباون په نیشت شمارېږي- هو ، لکه زما پښتنو چي دَ خپل تاریخي عظمت دَ ثابتولو په باب په ریکارډ باندي زرکلن زوړ دېوال لا نه لري- ځکه خو نن دَ سیالانو سیال نشو پاته او اوس دَ خپلي بې وزلۍ له سوبه وَ راتلونکي نسلونو ته پخپلو وینو نوی تاریخ نوشته کوي- خو بلي خواته دَ پرون واړه او بې نامه قامونه نن دَ خپلو تاریخي آثارو له لاري ګڼندي یاد ېږي-

لنډه دا ، چي له لومړي سهاره بیا دَ خپل قام په پاته حېثیت او په مانده ورځي داسي مات رامات شوم ، چي دَ زړه سوخت مي په دې یو څو جذباتي خبرو کي یو وخت داسي وَایستلو-

" کوم خواځوږي پښتانه چي دَ پښتون قام شجره دَ آریاوْ یا اسرائیلو سره دَ تړلو دَپاره څومره غټ غټ دلیلونه واي- که چرته له هغوئ څخه څوک دا پوښتنه وکړي ، چي ورونو- دا خو دي اول راته ثابت کړئ ، چي پښتانه په پخوانۍ زمانې کي وْهم که یَه -؟ او شرط هم دا ورباندي وَلګوې ، چي ثابتوئ به ئې په تاریخي آثارو باندي- نه چي دَ بل په لیکل شوْ تاریخونو- نو زما خیال نه کېږي ، چي دا زما دَ ژبي توریالیان به دَ نن دَ دې سرېخوره پښتنو رښته له خپلو هغو نیکه ګانو سره تړلو کي بریالي شي، چي دَ ننګ ترانې ئې موږ څه ، چي اغیار هم واي "

ښکاره خبره ده ، چي کوم قام په ننني زمانې کي لا هم دَ کتاب او قلم په قدر نه پوهېږي ، نو دَ هغه قام له شعوره خلاس غړي به ولي دَ مقدسو ادارو دَ ودانیانو دروازې او کهړکیاني پدې نیت نه باسي، چي دَ کورونو په نغریانو کي دَ بلولو دَ پاره لرګي نه لري- که څه هم دلته زما مطلب دا نه ، چي ګوندي پښتون دَ اسرائیلو دَ هغي بنونضیر قبیلي سره اړه لري ، چا چي کله دَ مسلمانانو دَ زور له مخي دَ ماتی خوړلو ورسته له مدینه څخه کډي باروَلې، نو له ځان سره ئې دَ کورونو او چرچونو دروازې ، کهړکیاني او شاتیران لا هم یُوړو-

او حقه خبره ده ، لکه نن چي موږ په ډاګه باندي دَ خپلو ور نیکه ګانو تاریخ نشو غوره کولی- نو هم دغسي به موږ که سبا ورځي چا دَ قام په حېثیت وَ هم پېژندلو ، نو ذکر به ئې دَ نورو قامونو په ریکارډ کي خو حتمًا وي- لاکن که مو حال دغسي وْ، نو داسي یو روغ دېوال به پاته نه وي -- چي دَ پښتون نوم ورباندي لیک پاته وي- ولي چي دَ بارودو په امبار جوړ پښتون وطن بیا په خپلو کي دَ یو بل دَ سرونو سره دَ لوبي کولو دَپاره چاړې تېرې کړي دي-

ګوره چي څو ستېښنان شاته پاته شوي وْ؟ ځکه چي ما دَ خپل قام دَ ژوندي سره مړو دَ ګور وَ څلو ته لاسونه پورته کړي وْ- بیا چي لږ په هوش کي راغلم ، نو بس دَ M 6 څخه M 56 ته اوینښتی وْ- ګوا مانچسټر ښه شاته پاته شوی وْ او مخته رنکورن نامي ټاوْن دَ بورډ په سمه له موږ څخه په څه فاصله باندي وْ-

نهه نیمو بجو خواته چي ښي لاس ته غټو دودکشانو دَ اوریځي غوندي سپین لوګیان وَ آسمان ته سپارلو ، نو بس په M 53 باندي وَ چپه لاس ته دَ چیسټر دَ ښار په لور وَ ګرځېدو او چي څنګه بس دَ چیسټر دَ پلازو ، ماڼیانو اوودانیانو په منځ کي جوړو هوارو سړکونو باندی روان وْ، نو جوْنا په سپیکرانو کي داسي ژغېدله -

" دَ چیسټر ښار دا زړې ماڼیاني، هسکي میناري ، دېوالونه نن هم دَ رومن عسکرانو دَ پړاوْ ګواهي ورکوي- کوم چي دَ انګلستان په چیشائر نامي سیمي کي مېښته دغه ښار په مشهورو بندرګاوْ کي ځانګړی بلل کېږي- دَ بېخي زړې ګرجا وجود دَ ښار اهمیت که نور زیاتوي -- خو دَ عیسائیت په اړه دَ مذهبي ډرامو پئیل هم له دې ښاره شخه شوی دی "

جوْنا چي دا خبري کولي ، نو موږ دَ چیسټر په تنګو ، پراخو روډونو باندي دَ زړَو او نوْ بلډنګانو په منځ کي مخته روان وْ- دلته زیاتره بلډنګان دوه منزله تر سترګو کېدلو ، خو یوه نیمه هسکه پلازه به هم مخي ته راغله- څه مخته مي دَ یوې لائبرېرۍ سره په سړک باندي دَ پولیس وَ موټر ته پام شو ، چي چپه لاس ته ولاړ وْ- نو یو دم مي خپل پولیس را په زړه شو او ځان سره په دې وَموسېدم- چي که څه هم دَ دې ځای پولیس خلګ تنګوي نه ، بلکې راهنمائي یې کوي- او بیا چي مي ښه په غور ورته وَ کتلو ، نو سر مي دَ هغوئ په دې قانوني خلاف ورزۍ خلاس شو- ګوا په هغه ځای باندي اکسیډنټ شوی وْ او دَ ګاډیانو دَ پاره بله لاره غوره کړل شوي وه -

په چیسټر ښار کي دَ یوې ګنټهې دَ سټې ټوْر کولو ورسته دَ چیسټر دَ مشهوره چرچ څخه نېغ دَ " بلېک اېند وائیټ روز " نامي علاقې ته ورسېدو او هلته ئې دَ شاپنګ کولو په نیت دَ یو تور او سپین څلور چتهیزه غټ مارکیټ وَ مخي ته موږ خَوشي کړل شوْ -

شاپنګ په خپل ځای ، لاکن دَ 13مي صدۍ جوړ دوکانونه او درست بازار دَ کتلو وَړ دی- دلته زموږ په ملګرو کي زَړه هندَوه بانومدون بیا داسي راڅرمه شوه- چي که دَ منیلا رامون فېمیلی نه وی ، نو دې به مي مازغه په ډېرو خبرو راخوړلي وی- دَ چکر وَهلو ورسته په یوې اوپن ائیر کېفې کي دَ کنېښستلو سم دستي دَ رامون ښځه ماریلو واي -

Khyber.ORG

" دَ اروپا خلګ که څه هم ډيرايډوانس دي، خو دَ ايشيا خلګ ورڅخه ښه دي "

"هغه څنګه ؟ "

بانو مدون چي څنګه دا پوښتنه ورڅخه وکړه، نو هغه ورته واي -

" هغه ځکه چي په ايشيا کي که څه هم مائينه او مېړه دَ يو بل سره داسي هم نه ګرځي ، لکه دلته چي يې وينو- خو دلته بيا هم دَ جُدائي(طلاق ) رجحان تر موړه زيات دی "

ما هم غاړي تازه کړې او دَ ماريلو دَ خبري په حق کي داسي چمتو شوم -

" دا زه هم منم ، چي دَ دې ځای خلګ که يوې خواته په رښته جوړَولو کي غښتلي دي، نو بلي خواته يې ماتوي هم ډېر ژر ځکه ، چي دا خلګ په هر څه کي دَ بدلون قائل دي- ګوا دَ خوړَلو څښلو سره سره ئې دَ څکلو او دَ خوښَولو ټېسټ هم بدل بدل وي "

خپله خبره چي مي څنګه سرته رَسوله، نو مسټرمائيک چي دَ رامون ځوان زوی وْ ، واي -

"ځکه خو دا خلګ هر وخت دَ کورو څخه دباندي ليدل کېږي "

" يَه - داسي خبره هم نه ده، زويه ! دوئ په خپلوکورونو کي بچيانو ته زيات وخت ورکوي "

رامون يو دم دَ خپل زوی په ځواب کي وَوئيل او بيا ئې خبري په بله واړَولي -

---

" دلته دَ اروپا په ښکلاګانو کي ځان څنګه سنجَوې؟ "

وَ بس ته دَ ختلو په وخت زما تر شا را رواني نورما واسېلو، چي دَ مېړه مارک سره له آسټرېليا څخه راغلي وه دا پوښتنه داسي راڅخه وکړه، لکه زه چي له دوزخ څخه جنت ته رالېږل شوی وم- خبره بده نه وه ، خو دَ هغې وازکي غوندي انداز راته غصه راويستله- او په مصنوعي موسکا کي مي ورته وَوئيلو -

Khyber.ORG

" بس ګزاره کوم- ظاهری ښکلا یې دَ ستائینې وَړ ده ، خو له اندرونه ئې ته تر ما ته ښه خبره یې "

"ګوا دا خلګ ستا نشو خوښ په روئیو "

"یَه - داسې خبره هم نه ده ، ښې خَویې هم لري "

ما چې دا خبره کوله ، نو په چوکۍ باندې کښېنستمه لګیا وم- ځکه خو دې په اوږه لاس راته کښېښودلو ، او وَئې وئیلو-

" خېر- په دې ټاپک به بیا کله خبرې کوْ "

ګوا دَ عزیزانو په باب زما په منفي رائې څه غوندې ماښېجنه شوه او بیا له خپل شریف مېړه سره دَ شا وَ سیټانو ته ور وَټکېدله-

---

یولس نیمې بجو خواته دَ ستېي وال په نامه مشهوره ببخې زاړه او پلن دېوال ، چې دَ چیسټر ښار شاوخوا راجاروتی وْ سره په څنګ څنګ کې دَ تېرېدو په وخت ماته دَ بادارانو دَ ګلوبلائزېشن تصور دَ جهاني ټوکې په ښه ذهن ته را وَدانګلو او دَ ګلوبلائزېشن په اړه مې خیالات وَ ډائرۍ ته دَ نظم کولو په نیت داسې وَلیکلو-

"عجیبه ټوکه ده ، څوک چې دَ عالمګیریت څومره ناري وَهي؟ هغوئ هغومره په ځان باندې شاوخوا دېوالونه راجارباسلي دي "

ما چې څنګه ډائرۍ بندَوله ، نو هلته په سپیکرانو کې دَ جوْنا ژغ هم خپور شو-

" زه تاسو ته په وېلز کې ښه راغلې وایم "

دا اعلان څه وْ ، چې ټولو یو بل ته داسې وَکتلو ، لکه جونا چې ټوکه کړې وي- لاکن دا ټوکه نه، بلکې رښتیا وْ- ولې چې موږ دې وخت په وېلز کې مخته روان وْ- مځکه هغه ، ونې او

غرونه رغونه هغه ، بس که نه وْ هغسي، نو هغه وْ دَ وېلش دَ ژبي توري ، چي زياتره دَ سړک په بورډونو باندي داسي ليکل شوي وْ- لکه Ff , gy , rf , wr , ll , tt , dd غوندي ټکي په اُوږدو تورو کي تکرار شوي وْ- ګوا دا ژبه له انګلسۍ ډېره بدله ده-

" دَ وېلز دَ خلګو دَ معاش زياتره اړه په سياحت باندي ده ، خو مالداري او ځيني معدني وسائل ، لکه کوئله ډېره لري- په انګلسۍ ژبه وئيلو کي ګوره چي څله شرم محسوسوي او خپله ژبه په ډېر خوند واي- يا بيا دَ ټورستانو سره ماته ګوډه انګلسي هم واي- خو دلته دَ اشارو ژبه هم په کارېږي- کارډيف يې دارالحکومت دی او دَ وېلز شاهي خاندان په عظيمی برطانيې باندي باداري کوي "

جوْنا چي دا خبري کولې، نو بس يو ځل بيرته په غريزو ناوْ کي په تنګو تنګو او کږو وږو لارو باندي روان وْ- هر لور شنېزه وه او ښکلو نندارو سترګو ته سکون سپارلو- ځکه خو جوْنا هم په درنو تورو باندي په وار وار زموږ پام راغلطولو او داسي ښکاره کېدو، لکه دا چي نه - بلکي نندارې خپله ژغېږي-

لس منټه بالا دولس بجې ، چي زموږ بس دَ هسکو غرونو څخه دَ هواري په لور مزل لنډَولو ، نو جوْنا وئيلو-

"دا ټاپو وزمه رياست په سياسي توګه که څه هم په کال **1536** کي په انګلستان کي ورګډ شوی دی- خو دَ دې ځای دَ رواجونو او رواياتو په سمه قوانين تش دَ دې رياست دَپاره غوره شوي دي- ګوا که څه هم دَ لوي برطانيې سرکاري او دفتري ژبه انګلسۍ ده- خو دَ وېلز خلګ که خپله ژبه واي ، نو ګرم نه دي- هم دغه وجه ده ، چي تر نيمي هم زياته آبادي انګلسۍ ژبه نشي وئيلی- بلکي څوک چي لږ ډېر ورباندي پوهېږي ، نو هغوئ هم ښه مهارت نه لري- دا خلګ دَ عادت يا رواج پوره کولو دَپاره پوسُونه (ګډي) ساتي "

هو ځکه خو هر لور په شنو پټيانو کي پوسُونه ښکاري چي غړېږي-

دې وخت موږ دَ LLAN په خوا روان يُو او دَ سړک دواړو خواوْ ته په ولاړو بورډونو باندي که څه هم دَ انګلسۍ په رسم الخط کي نومونه ليکل شوي دي، خو دَ ډېر وَس پرته هم نه وئيل کېږي- لکه cLwyd - Ffutery - cerrigydrudion - cerrigydionr او دغه رنګه نور نورځای په

Khyber.ORG

ځای دَ تراشل شوْکانو څخه جوړي مانۍ هم په ډېره تېزۍ باندي شاشاته په شنو مځکو کي پاته کېدلي لګيا وې-

دَ LLangollen نامي ټاوْن په څنګ کي دَ تېرېدلو ورسته Bela ټاوْن په 9 کلو ميټره فاصله باندي وْ، او ځاى په ځاى ARAF ليکل شوی وْ، د کوم مانا چي په انګلسۍ کي دَ Slow وتله- ځکه خو بس اوس وار په وار ځوکه کېدو، ولي چي دلته په روډ باندي کار شروع وْ- دا منظر دَ کارونو او هغه هم داسي په چسپه، چي دَ سوچ په وړاندي لا دَ خپل هېواد په انجينئيرانو راته شرم دَ سترګو وړاندي وَدرېدو او سترګي مي په بله ځکه واړَولې- چي داسي نه، څوک پوښتنه راڅخه وَکړي- چي ستاسي په هېواد کښې هم داسي په لومړۍ ورځ باندي دَ سړک کډې ډکېږي-؟

دَ بيلا ټاوْن او ډېر مخته دَ Llyn Bela (چي په وېلش کي ئې تلفظ فلين Flynدی- ګوا LL په Fl بدلوي او دلته ئې مطلب دَ Lake Bela څخه وْ) څخه چي تېرېدلو، نو دَ باران نري څاڅکی هم ورېدل شروع شوي وْ- ځکه خو دَ مستي ځوانۍ په دَرشل باندي ولاړي جوْنا وئيلو-

" يو خواته دَ وېلز دا ښکلي ننداري -- ښکلاګاني - ساده ژوند او بلي خواته داسي باران- وايم چي دا خو وَمورِ ته دَ رومانس بلنه راکوي--څنګه ؟صحيح وايم که غلط ؟ "

بيا نو څه وْ؟ چي په بس کي ټولو ملګرو په يوه صلاح باندي ځواب ورکړو-

" حق واې -- بېشکه او انجواى انجواى "

لنډه دا، چي په خندا او خوشالۍ مي په تنګو ناوْکي يوه نيمي بجې خواته دَ غرمې دَ ډوډۍ خوړَلو دپاره په يو ښائيسته ټاوْن ، چي Dolgllau نومېدو، خو په وېلش کي ورته " ډولګليفوْ "وئيلو کي تم شولو-

---

که څه هم دَ وېلز او انګلسيانو تر منځه په ښکاره ښو کي داسي هيڅ توپير نشته ، خو بيا هم دغه وېلش ژبه ده چي دا خلګ له هغوئ بېلَوي- نه يوازي دا ، وايم چی دَ دې ځاى ښځي په سپينو سرو څېرو کي دَ ښځيتوب تاثير او نران په مخونو کي دَ سړيتوب شان هم تر

Khyber.ORG

انګلسیانو زیات لري- دَ ټورستانو سره دَ دې خلګو روئیه هم ډېره ښه ده- که څه هم دَ ژبې مسئله په خپل ځاي ده، خو دَ اشارو په ژبه هم ډېر خواړه ښکاري-

دلته ګوا په ډولګلیفوْ، چې دوه اړخه ورته دَ تکو شنو اوبو ډکې دریابې خوړې په مستۍ بهېږي کې زه او ځیني نور ملګري دَ رچرډ او جوْنا په راهنمائۍ کې ډېر وګرځېدو- کله چې به هم جوْنا دَ دې ځاى په حقله خبرې کولې، نو ما به په واړه ریکارډر کې دَ ځپ کولو هڅه کوله-لاکن یو ځاى دَ ملګرى بارلې زړې ، لاکن ښځې مستې خواپاکې مائینې سُولیوان زما له قدم سره قدم سمَولو ورسته واي -

"فکر کوم ، چې جوْنا نه یوازې ځوانه ده ، بلکې دَ ځوانانو خوښه هم ده "

دا خبره چې ئې کوله ، نو ماته ئې نبغ نبغ راکتلو او اوس به لا ما څه ورته وئیلو ، چې دا بیا واي-

"داسې دې که یَه مستېر شوق؟ "

دومره ئې وئیلو ، چې مېړه یې هم تر موږ راورسېدو او واي -

"دوسته ! دا زما مائینه ډېره اړامه ده - څه واي؟ "

یو وار لا مې زړه وئیلو ، چې ورته وَوایم ، چې "وازَوې ئې" خو همت مې نه وَ شو او ورته وایم -

"هیڅ هم نه واي - بس مازې ټوکې کوي "

"څنګه ټوکې؟ "

هغه چې پوښتنه وَکړه، نو مې په خندا کې ورته وَوئیلو-

"دا واي ، چې زما مېړه لا ځوان دى "

دا خبره مي څه وَکړه ؟ چي جوْنا هم رانيږدې شوه او واي -

" ځوان خو دی - ورته ګوره ښنګه "

او بيا يې چي ښنګه ځانته ورکښ کړو ، نو سُوليوان ته مي څوکه وَوئيلو -

" پام کوه چي در څخه يې دَ ځان نه کړي "

دا خبره مي دومره په اوچته وَکړه ، چي جوْنا هغه زوږ اپله کړو اوله يوې نرۍ کړيکي سره يې په ما باندي راغوټه کړو - خو ما ورڅخه په منډه ځان خلاس کړو -

---

دوه نيمي بجې ماښپښين چي دَ ډولګليفوْ ټاوْن دَ غټ (سيف الملوک وزمه) جهيل څخه تېرېدلو ، نو جوْنا دَ ويلز دَ دې ښار په باب وئيلو ، چي

" دَ ښاروْ دَ روزني دَ پاره دا سيمه ډېره ښه ده او دَ دې پرته هر کال دَ ښه موسم له سوبه په دې ښار کي دَ سندرغاړو تر منځه دَ ويلز قامي مقابلې هم کېږي "

دا خبري چي کېدلې، نو زموږ بس دَ دنګو دنګو غرونو په دَرئيزو ځنګلی لمنو کي مخته روان وْ او په بس کي ويلش موزيک کرارکرار ژغېدلو - دَ بس سپيڼه ځکه وروو وْ ، چي دَ لوړو ژوَرو پرته سړک دَ مار غوندي په وړو وړو ګولايانو کي مخته غزېدلو - دغه رنګه په دې سفر کي New Town , Caersws , Dinas Mawddwy , څخه تېرېدلو ورسته Llandrindod Wells نامي ښار کي دَ Glen Usk نامي غټ هوټل ، چي زموږ دَپاره په کي دَ استوګني اهتمام شوی وْ مخته له بس څخه کښته شولو -

---

لمر چي ښنګه پټ شو او سټريټ لائټونه وَلګېدلو ، نو زه هم سټرې غوندي په ساړه ټاوْن کي دَ خپل هوټل په خوا روان شوم- که وَوايم، چي دې وخت زما په چپه که په درست ښار کي دوه درځنه نور کسان دَ کورونو څخه دباندي ګرځېدلو ، نو غلط به نه يم- يو نيم سړی به چرته

Khyber.ORG

مخی ته راغلو او هغه به هم ما وَ هغه ته او هغه به ماته په داسي حېرت کتلو ، لکه زه او هغه چي سره پېژنو -

" په اروپا کي دَ شپې ژوند ، چي په روډونو او کوڅو کي څومره سوړ ښکاري- هغومره په کلبونو او بارونو کي تود او خوندَور هم وي "

دَ هوټل Glen Usk په کېفې کي ناست چي زما دَ سوال په ځواب کي رچرډ دا خبره څنگه سرته رسَوله، نو هلته په مخامخ مېز باندي بې حاله جوړې فرنچ کیسنگ داسي په بې حیائۍ پئیل کړو- چي په نه څه ئې ماته هم وزر راوَلگولو او لا به نور نور الوتمه، چي یو ژغ می تر غوږو شو-

" ته په خوني کي یوازي ئې ؟ "

"ولي ، خبر خو دی - دا پوښتنه دي ولي وَکړه ؟ "

دَ کېفې باروالا ځوان جېمز دَ یَسکېډلي خبري په ځواب کي چي څنگه ما پوښتنه وَکړه، نو هغه څه سامَولی غوندي شو او په مړه خَله راته واي -

"بخښنه غواړم - زما عمر **17** کاله دی "

" **17** کاله -- څه مطلب ؟ "

لا به نور نور شکي کېدم ، چي هغه ځوان په ماتو ماتو تورو کي راته په نېغه وَوَئیلو-

" زه- زما مطلب --چي ترڅو پوري اتهه لس کلن نه یم شوی ، زه نشمه ځیښلی "

" ستا مطلب دا دی ، چي ته زما په خوني کي --؟ "

" هو-هو ، بس فقط دَ نیم ساعت دَپاره "

رچرډ واي -

"زه دیْ پېژنم -- مه وېرېږه "

نو ځکه ما هم زړه وکړو او ورته مې وَوئیلو -

"ښه دی ، نو زه به کیلی له کاوْنټره درته راواخلم "

" یَه یَه موړ ته یوازې دَ چا په خوني کې دَ تللو اجازه نشته- کله چې ته یې ، نو به درځم "

دا خبره یې څه وکړه ؟ چې خولې راباندې ایله شوې- لاکن کولی مې هم څه شو ، چې رچرډ یې په خوا شوی وْ- مخته که څه هم هغه ځوان زما په موجودګۍ کې خپل عمل پوره کولو سره سره خپل حال څه ، چې دَ مور او پلار دَ بېلتون او دَ خپلې شل کلنې خور وینډې ، چې دَ هغه له کوله په یونیورسګتی کې دَ سبق وئیلو پرته په یو ګارمینټس سټور کې کار هم کوې ذکر په ډېر ویاړ کولو -

"هغه څوک وْ؟

هغه ستا مېلمه وْ؟

دا هغه سوالونه وْ ، چې هغه شپه دلاندې په لابي کې دَ تاش کولو په وخت مستې سُولیوان ، کېوین او بارلې په وار وار کولو- خو ما چې به هرڅه هرڅه په ځواب کښی ورته وئیلو ، خو هغوئ خندلو- ګوره چې ولې ؟

---

دَ 26م اپرېل کال 1996 په سهار دَ عظیم خدای په حضور کې دَ سجدې لګولو ورسته دَ هوټل دباندې وَوتم- او دَ هوټل وَ ښي لاس ته په جوړ واکنګ ټرېک باندې په تېزو قدمونو هغې خواته روان شوم ، چرته چې دَ لوبو یو غټ چمني میدان وْ- دې وخت زما په چپه څه دوه درځنه ښځې او سړې لګیا وْ جوګنګ ئې کولو- که څه هم زه په هغو کې نابلده وم- او هر یوه ماته ډېر په حېرانتیا کتلو ، خو ما هیڅ باک په کې نه وَهلو- بس په منډو او ورزش کولو اخته وم-

پاوْ بالا اووه بجي سهار دَ ضروري تياري دپاره دَ خپلي خوني په باتهـ روم کي لمبېدم، چي نابېره راباندي دروازه خلاسه شوه او يوه چټه پېغله چي ځومره په ځرپي راننوتي وه ، نو په ما يې ستر ګي نښتلو سم دستي ورسته داسي په نرۍ چيغه شاته وَدانګلو- لکه زه چي انسان نه ، بلا وم او دا به خورم- ما وئيلو ، چي دا به له خوني څخه هم په منډه وتي وي- خو چي څنګه زړَور له باتهـ روم څخه راوَوتم- نو دغومره په چټکۍ زه هم بيرته دَ شاته غبرګ ځکه شوم ، چي دَ جامو په ځاى مي تشه توليه په ځان راپېچلي وه- لاکن په ځاى دَ دويمي چيغي هغې کټ کټ وَخندلو او زه لا دننه وم ، چي ژغ يې راباندي وَکړو-

" سوري سر- ماوئيل ، که تاسي وتي ياست او خونه خالي ده- ولي چي دَ دروازې د باندي دَ "مېک اپ روم " کارډ لګېدلى وْ "

" لاکن ما خو برايه شپه دَ " ډوناټ ډسټرب " کارډ په دروازه کي راځنولى وْ "

دَ باتهـ روم څخه راختلو په وخت چي څنګه دَ دې دَ خبري په ځواب کي مي داسي وَوئيلو ، نو دا په عاجزۍ واي -

" سر- تاسي ئې خپله کتلي شئ "

او واقعي ، چي دا په خپله خبره کي صحيح وه- غلطى دَ دې نه - زما وه- ځکه مي سوري ورته وَوئيلو او هغه دَ خوړې موسکا ورسته له خوني وَوته-

---

اتهـ نيمي بجې سهار موږ په بس کي له هوټل څخه چي مختته کوچ کولو ، نو نرى نرى باران هم ورېدلو او زړه مي غوښتلو چي ځه وَليکم- کله چي بس په شنو ناوْ کي دَ غره په سر باندي مېښته کلي Builth Wells سره لاندي تيرېدو ، نو جوْنا وئيلو-

" دا ښائيسته کلى په دې سيمه کي واحد کلى دى ، او زياتره خلګ دَ شاوخوا دَ کلو څخه ورته راځي- ځکه خو په کي دَ ټرېفک جام مسئلې زياتي وي "

له دې ټاوْن څخه ريور وائي River Wye ) ) نامي درياب كه يوې خواته دَ سړک وَ كيڼ لاس ته تر ډېره پوري راسره سره بهېدلو- نو بلي خواته دَ غرونو په شنو لمنو كي تر ليري ليري پوري دَ پوسُونو وَرِې او غټي رمې هم ښكاره كېدلي-

"دَ ويلز قدرتي مناظر دَ ستائيني وړ ځكه دي ، چي درست رياست په شنو ناوْكي آباد دي- او بل څومره پُوسونه چي په دې رياست كښي سترګو ته ښكاري- خيال دا كېږي ، چي په دې شمېر به په ټولی دَنيا كي نه وي"

جوْنا چي دا خبري كولې ، نو مي يوې رمې ته پام شو- چي پوسونه ئې دَ ښي لاس په غره كي په خپلو جوړو نرئيو لارو چي ختلو ، نو دې خبري ته مي پام شو ، چي وئيل كېږي -

" انسانانو په لومړي ځل وَ غرونو ته دَ ختلو او دَ لارو پرانستلو هَنر له بودَګانو زده كړی وْ "

دَ ټالګرتهـ نامي ټاوْن ورسته په ښائيسته ناوْ كي چي بس مخته روان وْ، نو ما هم دَ دې ښكلاګانو تر اثر دلاندي دا نظم په ډائرۍ كي نوشته كړو-

"بس يو خوب دی
چي يې وينم
زه په وينو سترګو باندي
ګنی دا سي بربنډه حسن
او ښكلا دَ كائنات خو
په نصيب نه وي دَ مړو "

نظم چي مي نوشته كولو ، نو بس دَ Abergavenny ټاوْن وړو كي بازاراو كېټل ماركېټ نامي علاقې چي دَ كتلو وړ وې څخه تېرېدلو- دَدې ټاوْن څخه څه مخته چي جوْنا زموږ پام دَ يولسمي صدۍ دَ كومي زړَې مانۍ په لور را اړَولو ، نو هغه ارومرو داسي مونېدله ، لكه چي بس يو څو كاله له مخه جوړه شوي وي- ځكه خو يې ماته دَ خپل هېواد سركاري ودانياني او روډونه راپه زړه كړلو ، چي كه يې څه هم مرمت په هر جون كي په ډېره باقائدګۍ سره كېږي- خو بيا هم دَ نرئيو بارانونو توان نه راوړي-

Khyber.ORG

لس بجې خواته چي موږ دَ Mon mouth Raglan نامي ځای څخه په بائي پاس باندي تېرېدلو ، نو دَ ټاوْن دَ ښکاره پلازې ، مانېاني او ورسره دَ بهېدونکي درياب په څنګ کي ولاړ چرچ دَ اوريځو څخه دَ نيم ښکاره لمر په رڼا کي دومره ښائيسته برېښېدلو ، چي دَ سړي ايمان ورته خطاکېدو - هم ځکه خو جوْنا وئيلو -

" موږ يورپئين چي څومره په لمر مئين يُو - لمر هغومره له موږ څخه نفرت کوي او ځان پَټوي راڅخه
او خبره هم دغه رنګه وه - ګوا هغوئ څه ، چي اوس ما لا هم وَ لمر ته سترګي ختلي وې - او چي به کله راښکاره شو ، نو به مي زړه غوښتلو ، چي ښه ځان ورباندي ټکور کړم - خو دومر بخت مي چرته وْ ؟ "

دَ اُوسک او مونټې پُول نامي ځايونه شاته پرېښولو ورسته چي زموږ مخه دَ ټينټرن په خوا وه ، نو دَ ليري څخه دَ Tintern Abbey هسکي ميناري هم ښکاره کېدلې - لنډا دا ، چي څه وخت ورسته بس دَ هغو دوْو پلونو ، چي په کي يو نوی او بل زوړ وْ او دَ برسټل چېنل نامي سمندري اوبو برسېره جوړ وْ خواته روان وْ - که څه هم دا نوی پُل څو کاله پخوا يوې فرنچ کمپنۍ جوړ کړی وْ ارومرو دَ استنبول دَ باسفورس پُل په رنګه جوړ وْ - او اوس موږ دَ يو ميل په ډېري باندي دَ نوشته تحرير له رُويه چيپس ټاوْن دَ دې سړک ، ګوا په M 4 باندي بس يو څو کلوميټره مخته وْ -

بس چس څنګه څنګه مخته واټونه لنډوَلو ، نو زه هم دَ انساني پرمختګ په اړه داسي له ځان سره اخته وم -

" په ښکاره باندي که څه هم انساني ژوند دَ سائنسي پرمختګ له سوبه ډېر وسا شوی دی ، خو دې پرمختګ انسان په اخلاقي توګه له خپل معراجه راګوز کړی هم دی - ولي چي دې پرمختګ هر انسان دَ ځان په باب خواخوږی کړی او دَ بل په باب يې بې حسه کړی دی - دا نه چي ګني پرمختګ ښه کار نه دی ، بلکې دا پرمختګ په مثبتو لارو نه ، بلکې په منفي لارو يُون کولو ته رووړدېدلی دی او دغه وجه ده ، چي دې آسانتياوْ په هغه کي پټ ځناور را بېداره کړی دی "

*****

# په څنګه ټکو دي وَستايم ؟

په برسټل چېنل باندي له ګاډرانو څخه جوړکړل شوي ببخي اوږده قفس وزمه پُل برسېره تېرېدو په وخت که څه هم لاندي خواره واره او تک شنه سمندر په خپلو څپو کي حال نه وئيلو، خو دَ ژورتيا احساس يې کتونکي سترګي ويرَولې خامخا -

" دغه رنګه نوي ډول پلونه په دُنيا کي نن سبا ډېر ليدل کېږي "

زما تر شا په چوکۍ کي له خپل ځوان زوى Mike سره په څنګ کي ناست رامون چي څنګه دا خبره کوله، نو هغه واي -

" هو پاپا - دا ګوره چي څويم پُل دى ، موږ ورڅخه تېرېږو "

او ما يې په زړه کي لا دَ خبري تصديق سم نه وْ کړى، چي ورسره په دې بل اړخ چوکۍ کي ناستي مور ماريلو هم ورسره دا خبره خوښه کړه او واي -

" زويه ! ته صحيح واې، داسي پُلونه نن سبا هر چرته ليدل کېږي "

دَ رامون فېميلي ترمنځه لا په دې حقله ګپه روانه وه، چي دَ ګائيډ جوْنا ژغ هم په بس کي خپور شو او واي -

" دا پُل که وَوايم ، چي دَ انګلېنډ او وېلز تر ميان بارډر هم ګڼل کېږي- نو غلطه به نه يم- ولي چي ټاپو وزمه وېلز رياست شاته پاته شو او دې وخت موږ بېرته دَ انګلېنډ په خوا روان يُو- کوم چي دَ ژبي او ژوند ژواک په اړه دَ هغو خلګو دَ مسکن ځاى ګڼل کېږي ، چي پخوا هم دَ ستائيني وړ وْ او اوس هم بلل کېږي "

په دې خبري کي شک هم نه وْ- دلته معامله ده هم دغه رنګه، ګوا څومره چي دَ دې سيمي خلګ په مغربي او مختنه وتي انداز ژوند کوي- هغومره په خپل ژواک ولاړ او ټينګار هم کوي- ژبه دَ دې ځاى دَ خلګو انګلسي نه وه ، خو په انګلسۍ ببخي زيات مئين هم نه ښکاره

Khyber.ORG

کېدلو- په درست بس کي په دې خبرو باندي که ځوک شرمنده وْ، نو هغه شاهد چي زه وم ؟ ولي چي نورو خو په خپل خپل ځای دَ قامي پت له سوبه سترګي لوړي ساتلې- او ماته خپل هغه پښتون ، چي پرون يې سندري نورو قامونو لا وئيلې، خو نن هغه تاريخي غښتلی په سيالانو کي دَ نوم اخيستلو وړ نه ګرځي- نو حقه خبره ده، چي ما به په ځان کي ټوکلو- پړده مي په دې خبري کي وه، چي پټه خله کښېنم- او دا هغه لمحې وې، چي يو ځل بيا په خيالونو کي له مانده او ناوسه سوچونو سره ملګری دَ تخيل په سپند ورګډ شوم او دا نظم " هر چا دی په زړه کي بل ته غل ساتلی " مي ډائرۍ ته وسپارلو-

جونا چي ژغېدله ، نو په خپل خپل وار مي دَ Avon mouth او Portishead نامي ټاوْنونو شاته په ښي لاس پرېيښي وْ او بس په موټروې نمبر 5 باندي دَ برسټل په خوا رهي وْ-

" دَ ګلاسټرشائر په علاقه کي دَ ايون درياب په غاړه پراته ښار، چي دې وخت يې موږ په ډېرو تنګو او په لړو پراخو سړکونو باندي مخ په وړاندي روان يُو دَ يوې غټې بندرګاه بريسټل په نامه په نړۍ کي نوم لري- دا ښار که څه هم يو صنعتي ښار دی او دَ روډ دواړو څنډو ته خورا ډېري کارخانې لري - چي په کي دَ کېميايي شيانو ، کاغذونو ، بسکوټونو او دَ څرمنو دَ فابريکو په څېر دَ جهازسازۍ کارخانې هم ګډي دي "

په دې ښار کي ټرېفک بلا زيات دی- خو داسي بې طريقې نه ، لکه زموږ په ښارونو کي چي دی- دَ غرمې پنځه منټه بالا يولس بجې وې ، چي زموږ بس له دې ښاره وتلو ته لاره دَ موټروې په خوا لنډَوله لګيا وْ-

---

دَ بريسټل څخه رک تر Cheddar نامي ټاوْن پوري په بس کي داسي چپه چپيا وه ، لکه مَړي چي په سيټونو ناست وي- او ځينو خو سترګي هم پټي کړي وې- نو ځکه ما هم سترګي دَ څو لمحو دپاره پټي کړې- خو ويده په دې نه شوم، چي دَ دې سيمي شنه ميدانونه مي تر سترګو دې خوا آخوا کېدلو او په زړه کي مي وئيلو ، چي ګوره خالق هم په دې خلګو څومره مهربان دی- په آسمان کي تکه توره اوريځ وه ، خو باران بيا هم نه وربدلو- که سترۍ نه وی ، نو ما به خامخا څه ليکلي وی-

Khyber.ORG

پاوْ کم دولس بجې موږ په Glaston bury ټاوْن کي دَ ګوټونو دَ کارخانې څخه تېرېدلو ورسته چي دَ سېنټ جون چرچ په لور په تنګو روډونو مخته تللو، نو يو ځل بيرته په بس کي ژوند پېښنه راکړي وه او ټول ملګري تر خپلو سره ژغېدلو- نو ځکه ماته هم زړَه جرميلا پېک راڅرمه شوي وه، چي دَ بس له يو دوْ خبرو پرته هم دَ دې چرچ په وړاندي دَلس منټو دَ سټاپ کولو په نيت چي له بسه کښته شولو، نو هم هغه راپوري نښتي وه- ولي چي زما دَ ايکړې په بابت کي دَ کړي سوال په ځواب لا نه وه مطمئينه شوي او وئيل يې-

"ته لکه چي په ايکړ ځان ډېر خوشاله يې؟"

"دا خبره دي اوس څنګه په زړه شوه، چي زياته ټوْر هم په ختمېدو دی-؟"

ما چي يې دَ سوال په ځواب کي څنګه په سوال کس داسي وَوئيلو، نو هغې هم دَ سرو اوبو تل په غاړه اړَولو ورسته په څنګلي وَوهلم او په شوخه لهجه کي راته وئيلو-

"لاکن کله کله خو هغه جوْنا درته نيږدي نيږدي کېږي کنه"

"هو لاکن-"

ما به لا هغه نوره تنګوله، چي جوْنا دَ بانو مدون او Jalati په ملګري کي هم راورسېدله او واي-

"زما له ډېر ليري په تاسو دواړو کي پام وْ"

"ما نه وئيلو، چي جوْنا درسره لګېږي"

جرميلا هم په نېغه چي دا خبره وَکړه، نو مدون واي-

"جوْنا دا ښځه څه واي-؟"

جوْنا هم په سپين سترګې ورته په خندا کي ځواب داسي بيا کړو-

" هو له شوق سره خو زموږ دَ ټولو لګېږي- لکه دا ته چي اوس ورسره غلي غلي کيدې "

او بيا ټو ل په خندا سر شولو -

لنډه دا ، چي دَ دې چرچ شاوخوا خورا ډېر عکسونه ايستلو ورسته چي ملګري بس ته ختلو ، نو هر يو ګوره چي په څه نا څه خوشاله وْ-؟ اوکه دا هر څه زما له زړه وْ- ولي چي جوْنا تر بس پوري غوزی راباندي اچولي وه او جرميلا پېک سره يې ټوکي کولې -

---

دَ Wells نامي ټاوْن څخه مخته تېرېدلو ورسته موږ په Mendip Hills نامي غريزي سلسلې کي مزل لنډولو او له پاسه آسمان هم راوريدلو- ځکه خو لا نور نور مي دې زړه دَ سترګو په لاره دَ دې سيمي دَ قدرتي ننداړو په لور وَټوپ کېدو ته غوښتلو-

" په سمرسېنټ نامي علاقه کي دَ انګلستان دغه تاريخي جارجين ښا ر Bath دَ ابون درياب په څنډه آباد دی- دا ښا ر ډېر په خوا دَ لندن پسته دويم غټ ښا ر او مرکز وْ- په لومړۍ صدۍ کي روميانو دلته تودې چينې دَ اوبو موندلي وې- نو په دې وجه استوګن شوي وْ- "

هو- دا ښا ر يو صحت افزا مقام وْ او دَ زياترو خلګو تودې جامې په تن وې- په Bath کي دَ Abbey Church yard څخه دَ زړَو ودانيانو په منځ کي تېرېدلو په وخت چي کله يو زوړ چرچ زموږ وَکينڼ لاس ته شاته پاته کېدو ، نو جوْنا وئيلو-

" دا هغه ښا ر دی ، چي دَ Gains Borough سره سره William Pitt چي وزيراعظم وْ هم دلته اوسېدلی دی او ځان ځانته يې کورونه هم درلودلو- په دې ښار کي تر ټولو مشهوره او دَ ټوْرستانو دَ پاملرني برخه سرکس نومېږي- چرته چي دَ ژوند دَ ضرورت هر څه شته "

په ښار کي يوې بلي خواته بس ګرځولو ورسته وَ سرکس نامي سيمي ته ورسېدو- په دې تاريخي زاړه ښار کي چرته چي دَ جون ووډ جوړه مانۍ رائل کريسنټ او تاريخي کوڅه Great Putemey Street ، باتهـ ابېې ده- په ابون درياب باندي ځای په ځای جوړو پلونو کي مشهوره پُل Pulteney Bridge دَ ټوْرستانو پام وَ خپلي خواته وراړَوي-

Khyber.ORG

"دلته انجوني څه زياتي نه ګرځي-؟"

له بس څخه کوزېدلو سم دستي آرټيسټ ملګري مارک هېلي زما په اوږه لاس ږدلو ورسته راته واي-

"هو- ماته هم داسي ښکاري"

او بيا موږ چي لا يو دوه ګامه مخته نه وْ تللي، چي دَ مارک هېلي مائينه خپل مېړه ته څوکه غوندي ديکه ورکولو ورسته په ډکه خله خندا کي واي-

"هې- هېلي، په هغه خوا چرته روان يې؟"

"په هغو ښائسته انجونو پسې"

مارک هم په ډېر ښه مُوډ کي وَ مائنې ته وئيلو ورسته زما په خوا مخ را وګرځولو، او څوکه راته واي-

"دا زما مائينه لينا هم ډېره ساده ښځه ده- په دې نه پوهېږي، چي نر کله هم نه زړېږي"

ما به لا خپله رائې ورکوله، چي په غوږو تېزه مائينه يې واي-

"لاکن ښځي سرې زړَوي- پوهی شوې"

ګوره چي له دې خبري يې څه مطلب وْ؟ خو بيا موږ چي ښنګه ښنګه مخته ګامونه او چتولو، نو هغسي هغسي دَ لينا او دَ مارک هېلي تر منځه ګپه خوږېدله- ګوا دَ بېلابېلو دوکانونو مخي ته ګرځېدلو او دَ انګلسی په اصطلاح ويندو شاپنګ کولو سره سره مي دَ دې زړې جوړې دَ تېري ځوانی په کيسو خوند اخيستلو لګيا وم- هن دا، چي يو وخت يې په خوند خوند داسي هم وئيلو-

" چي کله دوئ دواړه ځوانان وْ، نو دَ هغوئ مينه په محلت کي مشهوره وه او دَ دواړو کورنئيو دَ هغوئ وَ ميني ته په ډېره درنه سترګه کتلو-- "

خبره چي تر دې ځايه راورسېدله، نو کرار غوندي وَ موسېدم او په زړه کي مي وئيلو-

" کورنۍ دَ مئينانو خو په پښتنو کله کله دَ يو بل په وينو ځيښلو هم نه مړېږي - چرته په آزادۍ دَ ميني داسي خوب - ؟ "

هو - هغوئ چي څومره څومره خپله دَ ميني ګپه مخته غزوله، هغوني هغوني زه په وينو سترګو باندي دَ خوب په ليدلو بوخت کېدمه او دا کي ګڼلو، چي که نور نه وي- نو زما په ژوند کي يې ګمان کول په ناممکناتو کي راځي- ګوا زما په قام کي مينه تور بلل کېږي او دَ تور دَ پاره ګولۍ په کارَول کېږي-

که څه هم دلته په تنګ تنګ جينز کي انجونو اورونه لګولو، خو زه دَ ميني په خوب کي لاهو هغه انسان وم -- چي داسي خو ګرځېدم لګيا وم ، لاکن دننه دننه مي ځان ژوندی مړی ګڼلو- او مړی وم هم -- ځکه چي زه دَ هغې خاوري بچی وم ، چرته چي مينه څه-- وينه هم هيڅ مانا نه لري-

---

دَ پروګرام په سمه پاوْ کم څلور بجې خواته چي موږ دَ باتهـ له زاړه او خوندور ښار څخه وتلو، نو مخنته مي وړې وړې غونډ‌ياني وې-او جوْنا وئيلو-

" دَ باتهـ رنګيني خو دَ شپې خواته دَ کتلو وي - او دلته په رڼو لائټو ډسترکټ کي ژوند نورنور خوندَور وي "

دا خبره يې که څه هم په ما عجبه وَ لګېده، خو نورو ملګرو ګرسره هيڅ چُرت نه په کي وهلو- هو، دوئ خو آ دچا خبره سېکس په کورونو کي دَ خويندو ميندو او لوڼو سره لا هم په خلاسه زېربحث راولي-

اوس څه مخته مځکي څه پنجاب وزمه ښکاره کېدلې او دَ ځينو ځنګلي ونو په منځ کي جوړي مځکي ډېري ښې هم برېښېدلې- دَ شنو مځکو په مابېن کي څه مختهMelksham او Chippenham ټاوْنونه چي شاته پاته کېدلو، نو زما په ګهړۍ کي دَ دې وخت په سمه پاوْګم پنځه بجې وې- او څه مخته دَ Avebury نامي هغو زړو ولاړو پرشو او کاڼو په لور ورچپېدلو، چي دَ ګائيډ په قول-

"هغه مخامخ غټ غټ کاڼي پنځه زره کاله پخوا په دې غټه دائره کي چا لګولي دي او دَ کوم مقصد دپاره يې لګولي دي ؟ دا خبره نامعلومه ده- لاکن دَ ليري ليري څخه خلګ ورته سېل ته راځي- ولي چي دا يو يو کاڼی له دېرشو تر پنځوستو ټنو پوري وزن لري"

او بيا يې هلته دَ نيم ساعت دپاره خوشي کړلو، چي هغه کاڼي وګورو-

"ته هم لکه چي بور شولې دي کاڼو ته په کتلو؟"

اېډوين ټان، چي له خپلي ياري سره په چکر کي له موږ سره ملګری وْ، رارسېدلو ورسته چي زه په شنه چمني پروت وليدم- نو راڅخه يې پوښتنه وکړه او له پېغلي ملګري سره زما په خوا کي کښېنستلو په وخت چي دا سوال څنګه وکړو، نو زما په ځای ورته پېغلي اېليسن وئيلو-

"په دې کاڼو کي دي څه؟ چي موږ يې ورته راويستلو"

او بيا موږ درې واړو دَ تاريخي ورڅو په باب خوږې او ترخې خبري پئيل کړې- که څه هم زه دَ دې کاڼو دَ اهميت په حق کي وم، خو هغه دواړه دَ سنګاپور ملګرو وئيلو،

"داسي کاڼي خو په هر هېواد کي شته- څنګه زه غلط خو نه وايم؟"

او هغې پېغلي خو لا دا هم وَوئيلو-

"چي دا يې دَ ډالرانو دَ ټولولو لار جوړه کړې ده او بس-"

موږ لا په خبرو کي بوخت وْ، جوْنا راورسېده او واي-

Khyber.ORG

" څه کیسه ده چي درې واړه ابشین په دې تاریخي کاڼو کي دلچسپي نه اخلي -؟ "

پېغله اېلیسن ورته په موسکا کي وَوئیلو -

" په دې کاڼو کي دي څه ؟ چي تاریخ او کیسه یې لا سمه نه معلومه "

هغې هم وخندل او اتفاقًا یې هغه خبره وکړه ، کومه چي اېلیسن څو دقیقې له مخه کړې وه -- ګوا ډالران ډالرن -

بیا دَ خندلو ورسته ماته وای -

" مسټر شوق - ته خو په داسي شیانو کي ډېر خوند لټوې - دلته ولي -؟ "

نور به مي نو ورته څه وئیلو ، چپ له دې چي،

" ستړې یم "

او بیا چي بس له دې ځایه مخته رهي شو ، نو ما په ډائرۍ باندي داسي وَلیکلو -

" انګرېزان، دَ نړۍ دَ ټورسټانو پام چي څنګه دَ دې بې حسه کاڼو په لور په خوند دَ ډالرانو دَ ټولولو دپاره اړَوي، دغسي زما قام او ملي او قامي تاریخي ورثې دَ جوړَولو په ځای ورانوي لګیا دی- لکه دَ بامیان بُت چي ډېر ژر به له منځه وځي او وتلی یې وَ بوله -او نور خو هیڅ لرو هم نه ، چيورباندي توریالي یاد شو "

له اېوبوري څخه په پنځه منټه واټن چي موټروې ته ورسېدو ، نو د جوْنا په قول موږ به نن په سوینډان نامي ښار کي استوګنه کوْ- دا چي یې وئیلو ، نو هغه ټاوْن او زموږ دپاره ټاکل شوی ویلټ شائرهوټل له دې ځایه په نیمه ګنټهه واټن باندي وْ- دې وخت دَ مازیګر پنځه منټه بالا پنځه بجې وې او موږ دَ شنو هوارو پټیانو په منځ کي په جوړ پراخ روډ باندي رهي وْ-

Khyber.ORG

نن دَ برټش ويستا ټوْر ورستۍ شپه وه، چي موږ دَ ويلټ شائر ښار په يو عالي شان هوټل سوينډان، چي په دېوالو کي يې تکي توري ډبري هوډل شوي وې کي اوسېدلو ته چمتو وْ -

" نن فئيرويل ډنر دی - خو تر دې له مخه يو ګروپ فوټو هم "

او بيا له بسه چي څنګه کښته شولو، نو دَ هوټل په وړاندي مي ګروپ تصوير واخيستلو او خپلو خپلو خونو ته چپ شولو - که څه هم ښه ستړی وم، خو بيا هم دَ ورستي مازيګری خوند لوټلو په نيت دباندي له هوټله ووَتم او دَ ښار په لور مي مخه وکړه- لا مي دويم ګام مخته اوچت کړی نه وْ، چي ترشا راته مسټر هېري چي له مائنې سره را روان وْ ژغ وکړو-

" مسټر شوق - که موږ هم لتا سره ملګري وکړو نو به - "

خواست يې لا سم سرته نه وْ رسولی، چي ما ورته وئيلو -

" ولي نه ولي نه - دا به زما بخت وي، چي ستاسو په ملګري کي په سېل شم "

او موږ درې واړه ملګري دَ دې ښار په تنګو او ځای په ځای په پراخو کوڅو او روډونو باندي له خپلو ګپو سره مخ مخ ته روان وْ- په کومه ځو؟ دا هغه سوال وْ، چي هيڅ يو ملګری نه وْ په خبر- خو بيا هم روان وْ-

" دلته ماښامونه ساړه وي "

" ماته هم داسي محسوسېږي "

دَ وېلما دَ خبري په ځواب کي ما چي داسي وئيلو، نو هېري واي -

" ښکاري ساړه، لاکن دي ډېر تاوْده او په مستۍ مست مست هم "

" هغه څنګه -؟ "

Khyber.ORG

زما دَ پوښتني په ځواب کي هغه وئيلو-

" دلته بارونه دي وخت دَ ټولي ورځي سترپيا ډېر په خوند خوند ليري کوي او بيا شپه خو نو دَ اروپا شپه وي "

نو ځکه چي څه مخته تللو ، نو يو ښائسته بار مخته مي دوه سړي په جنګ وليدو او يو بل ته يې وړې وړې ديکې کمي او خبري ډېري په زوره زوره داسي کولي ، لکه که هلته هغه نور دَ ګواش سړي نه وی، نو خود به يې که يو بل هديرو ته نه ، نو اسپتالو ته خامخا رسولو-

" دا هغه مستي ده ، چي هېري ذکر کوله ؟ "

او دَ وېلما په دې خبره درې واړه خندلو ورسته مخته تېر شولو- ګوا که څه هم په کوڅو او روډونو باندي سړي او ښځي نه ښکاره کېدلو ، خو ځای په ځای بارونه او دَ نيمي شپې وَخواته پئيل کېدونکو کلبونو دپاره اهتمام هر ټوْرستې په خپلو سترګو ليدلی او تودښت يې سنجولی شي-

---

ماڅُستن دَ هوټل په رېستورېنټ کي فئير ويل ډنر څه وْ، يو تود محفل وْ، چي ملګرو نور نور تودَولو- خو بيا هغه زه وم او زما ايکړي، چي ناست که څه هم دَ مستو ملګرو تر منځْ وم ، خو ځان راته نيم سړی محسوس سېدلو -

" دا پارټۍ به په ډيسکو تمامېږي "

جوْنا چي دې وخت په حال کي نه وه، چي څنګه دا خبره وکړه، نو يې بې له سازه بدن په خوند خوند ښورول پئيل کړو- او دغه رنګه يو يو ور ولاړېدلو او ورسره يې ملګري کوله- لنډه دا ، چي زما دَ خوب په سمه بيا دَ نړۍ دُښمنان په خپلو کي دَ خپلوۍ په تاوْده احساس يو شوي وْ- او تر نيمي شپې پوري هر يو له بله ځارېدلو لګيا وْ- خو زه وم او زما محروميانې ، چي يو بل ته سره په بيا بيا غاړي وتلو او زه يې په داسي سوچونو پاندي پارولم هم -

"نن راته دا هم معلومه شوه، چي نه یوازي زه خپله یوازي یم ، بلکې زه په نړۍ کي دَ یو داسي هېواد غړی هم یم، چي یو خو دَ دُنیا په هغه بل ګوټ کي دی - چرته چي انسان که څه هم انسان ته مونېږي، خو دا نړیوال یې سړي هم ګوره چي څله نه ګڼي؟ ګوا که څه هم تر پرونه ما خپل ځان دَ دې نړۍ دَ هر هېواد غړی ګڼلو ، خو نن شپه ماته ځان دَ نړۍ څه ، چي دَځان لا نه برېښېدلو - ولي چي کوم څه نړۍ کول غواړي ، هغه زه او زما قام وال نه شي کولی- او دَ کولو ضرورت یې هم ځکه نه محسوسوم ، چي انسانیت یوازي دَ مستۍ نوم خو هم نه دی- "

هو- دا هر څه مي ځکه سوچ کولو ، چي دې وخت خپلوي تر حدونو وتلي وه- ځوک له چا سره په ډانس کي ملګري کوي؟ دا هغه سوال وْ، چي په ځواب کي یې زما سترګو په وار وار ځکه ګُوزولې، چي دَ نظر وړاندي مناظرو په انساني بڼه حېواني حرکتونه پېیل کړي وْ- او دَ ښځي عصمت او دَ سړي عظمت راته خوب ښکاره کېدلو -

---

طبیعت مي نن له اول سهاره غټه شوی وْ- ولي چي په بس کي ناستو ملګرو په خبرو کي ماته نن دَ ځان په نوم دَ دُښمني کرښي له ورایه لیکلي ځکه ښکاره کېدلې، چي ما ورسره برابه په هغه انداز ملګري نه وه کړي- او دَ جوْنا دَ سهار سلام کولو ورسته ، چي بس رهي شو ، نو له ما سره په څنګ چوکۍ کي ناستو ډېفني او بلنډاوائ نامي ملګرو په خپل خپل وار دا ګیله راڅخه وکړه، چي

"شوقه- ته خو ډېر روشن فکره سړی وې- دا برابه شپه څله-؟ "

" څله نه؟ "

او په ځواب کي مي دَ انسان او دَ هغه دَ عظمت په حقله دومره څه ورته وَوَئیلو ، چي که دَ هغوئ په ځای پښتانه وی، نو تر منځه به مو غال ضرور کېدلو- که څه هم هغو راسره ډېري خبري منلې، خو دا خبره هغوئ هم سمه کوله ، چي ګوندي انسان وَ انسان ته جذباتي او اخلاقي ډائیلاګ کم ، عملي جذبې او دَ هغو اظهار زیات نېږدې کوي-

Khyber.ORG

" ټوْر نن ماښام لندن ته په رسېدلو ختم کېږي- نو ځکه که غواړئ چي ستاسو تر منځ بیا دَ برایه شپې په رنګه خواږه ملاقاتونه وشي، نو یو بل ته درکونه ورکړئ او بیا تر خپلو سره اړیکي پیدا کړئ "

دا خبري چي یې سرته وَرسولې، نو بس په Burford نامي ښار کي ورګډ شو- دا ښار دَ هغو پخوانئیو انګلسي ښارونو بېله لري ، چي موږ یې په فلمونو کي ګورو- او دلته دوکانونه واړه او روائیتي بڼه لري- او له دې ښاره چي څنګه بیرته په موټروې ورسم شولو، نو دَ نیمي ګنټهې مزل ورسته موږ په زاړه او مشهوره تاریخي ښار اکسفورډ کي ور دننه شوي وْ-

" دا دی دَ اکسفورډ شائر صدرمقام اکسفورډ ښار، چي دَ تهېمز دریاب او ائسس دریاب سره خواکي آباد دی- دَ زړو ګرجو ، ماڼیانو او ودانیانو ښار په پرته دَ نړی په هغو دوْ سترو پوهنتونانو کي دَ یوه پوهنتون ځېښتن هم دی ، چي دَ بېلابېلو هېوادونو طالبعلمان یوې بلي خواته په فټ پاتهونو ځکه لیدل کېږي ، چي په دولسمه صدی کي جوړ شوي دې اکسفورډ دَ پوهنتون شعبې ، لکه دَ ښار محلې یو بل خواته وجود لري- او په بله مانا درست ښار له تعلیمي ادارو څخه ډک دی "

جوْنا چي دا خبري کولې، نو بس هم په کوئین سټریټ کي ودرېدلو او موږ ټول ملګري دَ جوْنا په مشری کي دَ اکسفورډ پوهنتون په بېلابېلو ډیپارټمنټونو ورسم شولو- اکسفورډ یونین کلب، په کي جوړ عجائب ګهر اېش مولین او بوډلین لائبرېری کي دننه دباندي ګرځېدلو ورسته په نورو متعلقه کالجونو کي په ګرځلاوْ شولو -

دلته دَ ښار بازارونه په پوهنتون کي دننه یوې بلي خواته خپل ژوند لري- خو له دې پرته هم دَ دې ځای تعلیمي فضا او ماحول یې متاثره کړی نه دی- دلته په فټ پاتهونو باندي هلکان په تورو سوټونو او انجوني په تورو هاف سکرټونو، چي تر ګونډو پوري پرده لري کي ښکاري څه - چي ایمانونه هم په خپل ښائست دَ ترږو وږو سپلانیانو په خطره کي اچوي- او زه خو هم سپلاني وم ، نو ځکه چي به مي هر څو کلیمې په ځان راچُوف کړې، خو دَ هغو بېلابېلو نسلونو دَ پېغلو سپینو غړو زه بیا بیا ورته په سترګو اړَولو پارَولم-

دَ آکسفورډ ستوري ، چي دَ دې ښار په منځنۍ برخه کي په بورډز سټریټ نامي روډ کي زموږ دَ رابطي ټاکل شوی ځای وْ، څخه پرته ما کارن مارکیټ سټریټ، پارکس روډ ، هائي سټریټ، هالي وېل سټریټ، جارج سټریټ او فولي بریج چي په ټېمز دریاب باندي جوړ وْ داسي ژر ژر تر پښو دلاندي کړلو ، لکه زه چي هغه څه لټوم، کوم، چي دَ هوا په اوږو له ما او زما وَ مخ مخته ځغلي او زه یې دَ نیولو هڅه کوم لګیا یم- لاکن زیات وخت مي دَ کوئین سټریټ په غټ چوک ځکه تېر کړو ، چي دا هغه ځای وْ، چي دَ آکسفورډ دَ کریم خوند څکلو مواقعې ډېري دي په کي-

زما دَ مطالعې په سمه چي دلته ما څومره سټوډنټس هم وَژغولو ، په هغوئ کي ښځي زیاتو زما دَ سوالونو ځوابونه ډېر په سوچ او تسلۍ راکولو- په هغو کي دَ اروپا دَ بېلابېلو هېوادونو دَ انجونو او هلکانو په څېپه دوه ابشېن پېتان او یوه ټُرکۍ پېغله هم وه، چي ما ورڅخه پوښتني وکړې- لاکن دَ نورو په مقابله کي ډېره خوشکه او دَ اور لمبه وزمه هم وه- خبر، دَ خپلي مطالعې سره سره مي دَ دې نظم " دا جنۍ وې که دَ اور بلي لمبې وې؟ " تهیم هم په آکسفورډ یونیورسټۍ کي دَ سېل کولو په وخت ډائرۍ ته وسپارلو -

یو وخت چي زه څنګه له یو رېسټورېنټ څخه دباندي راوختم، او دَ ښځي غټ او ګران رانډلوف هوټل په خوا ورروان شوم، نو یو چا راباندي په اُردو کي ژغ وکړو-

"بهائي صاحب - بهائي صاحب "

ما چي شاته وَکتلو ، نو څه ګورم، چي یو پاکستانی یا هندوستانی ځوان چي په لاس کي یې دَ اخبارونو بنډل وْ را روان وْ- یو وار مي لا په زړه کي راغلو ، چي راشه ګپه ورسره ولګوم- خو بیا مي شپږم حس دا وېره په زړه کي را واچوله، چي داسي نه پاسپورټ یا پیسې راڅخه وَوهي- دَ کوم دپاره چي دا خلګ په اروپا کي مشهوره دي- نو ځکه مي ځواب نه کړو ور او مخته داسي روان وم - لکه زه چي ګرسره دَ هغه دَ سیمي نه وم- په دې خو هغه ځوان تر یو څه ځایه راپسې دَ بهائ بهائ سُرنا وهله او بیا چي ناوسه شو ، نو ودرېدو -- او زما ګامونه له اوله لا نور ځکه تېز شولو ، چي ماته اوس بیرته هغه ځای ته هم رسېده وْ، چي له کومه ځایه به بس مخته ځي-

Khyber.ORG

دلته په روډ سائیکلان ډېر زیات ښکاري، چي پېغلي او هلکان یې په شوق چلوي- نو ځکه چي یو ځای مي روډ کراسولو ، نو یوې چټي پېغلي په سائیکل هم وَوهلم، خو په خوړو ځکه نه شوم پوهـ ، چي هغې راته په خوږه موسکا بیا بیا سوري سوري وئیلو او بل یې بیا بیا زما په اوږو لاس هم راته داسي رډلو لکه هغه چي په دې حرکت ډېره شرمنده هم وي- هم دغه وجه وه، چي ما هم ورته خله ویړه ویړه ځکه کوله ، چي پښتون وم -- او پښتون خو نو مړی لا هم وَ دُښمن ته په مافي اخیستلو وربخښي- دا خو لا دَ سائیکل یوه وړه دیکه وه او هغه هم دَ ښځي ، چي دَ بدو په ځواب کي ورسره بدو ته ملا تړل پېغور ګڼل کېږي-

---

دَ آکسفورډ په ښکلي ښار کي دَ تعلیمي ادارو او تعلیم په لټون کي راوتلي پېغلي او ځوانان تر خپلو داسي جوړه جوړه ګرځي، لکه دا ښار چي دَ مینې او مئینانو ښار وي- او دا مینه هم خود دلته په نصاب کي ورګډ مضمون په رنګه ځان ته امتحانونه لري- له دې تاثر اخیستلو سره سم چي زموږ بس دَ پروګرام په سمه پاوْ بالا یوه بجه باندي په موټروې M – 40 باندي مخته رهي شو ، نو جوْنا وئیلو-

" دا وْ آکسفورډ چي موږ یې شاته ایله کوْ او قریبًا نیم ساعت ورسته به په مشهوره Windsor Castle باندي ستهاپ کوْ "

او بیا څه چپ کېدو ورسته واي-

" وینډسور کاسل، چي دَ تهېمز دریاب په څنډه جوړه تاریخي شاهي ماڼۍ ده ، دَ فاتح ویلئیم له وخته راهسې تر اوسه پوري دَ باچهانو موسمي استوګن ځای دی- اوس هم هغسي ښایست لري ، لکه دا چي په کومه ورځ جوړ شوی وْ- او دَ وخت هر باچا او رانۍ په کي خپلي خپلي دَ دور او عهد نخښي خوندي ساتلي دي- په دې زړې ماڼۍ کي دَ غټ چرچ په دې وجي لوړ نوم لري، چي په تهه خانو کي یې اتهه باچهان دَ مرګ ورسته پټ کړل شوي دي- "

که څه هم لا ما دا ماڼۍ نه وه لیدلي ، خو په زړه کي دې سوال سر راپورته کړو ،

Khyber.ORG

" دا ماڼۍ به دَ مسلمانانو او پېرنګيانو تر منځ دَ تاريخ خوندي کولو توپير په ربښتيا راڅرګند کړي او که يَه دا سوال به مي ځواب ته نور نور هم کړَوي-؟ "

دا هغه سوچ وْ چي زما سترګي يې ژر تر ژره دَ هغي ماڼۍ کتلو په باب يوې بلي خواته غړَولو باندي مجبوري کړي وې- او کله چي دَ لوي لاري رېستورېنټ Asda څخه تېرېدلو ، نو ما ته دَ خپل قام دَ کتابي تاريخي عظمت په مقابله کي دا سې يو هم تاريخي اثر نه شو را په زړه- چي ما يې نقشه په ذهن کي جوړکړي وي- نو ځکه مي بيا دَ يو مسلمان په حېث دَ مغلو مقبرې او ماڼيانې را په زړه کول پېئيل کړې-

څه مخته په تهېمز درياب باندي ولاړګو ورسته موږ دَ روډ دواړو څنډو ته واړه او غټ ټاوْنونه شاته پرېښولو او دَ وينډسور په لور مي مزل لنډَولو لګيا وْ- دا هغه شنه چمنيزه سيمه وه ، چرته چي ليري ليري يونيم ځای زړې ودانيانې او وړې غټې ماڼيانې دَ خپل تاريخي خوند او رنګ سره دَ سترګو دَ کتلو سوب ګرځېدلې- او بيا يو ښائيسته او رک تر وينډسور محل پوري تلونکي لاره خپل ښي او کيڼ لاس ته تېره شوي مو تر سترګو شوه، چي دواړو اړخه يې غټي غټي وني لګېدلې وې-

ما چي څنګه په دې لاري کي هلته ليري شاهي ماڼۍ وينډسور ته سترګي واړَولې، نو زړه مي نه غوښتلو ، چي ورڅخه يې واړَوم- ولي چي هغې ماڼۍ زما دَ سوال په ځواب کي خپل عظمت زما دَ قام په مقابله کي او چت څرګندَولو--او جوْنا هم وئيلو-

" دا هغه ښائيسته او شنه لاره ده ، چي هغه ليري دَ وينډسور محل ته نېغ په نېغه غزېږي- او بل چي کله هم دَ شاهي کورنۍ څوک دلته راځي ، نو هغه په دې لاره په آس ګاډۍ يا پښو باندي ضرور چکر وهي- او بل دَ هغه محل شاوخوا بېخي زيات تک شنه پارکونه او لانونه هم له ليري ښکاري "

جوْنا لا دا خبري سمي سرته نه وې رسولي، چي موږ وَ خپل کيڼ لاس ته له مارګرېټ نامي اسپتال څخه چي څنګه مخته تېر شولو ، نو هغه لاره هم موږ شاته پرېښوله او دَ وينډسور محل يو ځل بيرته دَ يادونو وَټاپو ته په ستنېدو شو-

" دا وْ دَ ټوْر هغه ورستنی تاريخي ياد ، چي موږ ورڅخه تېر شولو "

او جوْنا مختته خبره ځکه نه وکړه، چي موږ ټول خبر وْ چي نن به لندن ته په رسېدو له يو بل څخه دَ همېشه دپاره بېلېږو- هو، لندن هم اوس په څه واټن باندي وْ- او بالا په آسمان کي دَ جهازونو دَ ورته تګ راتګ هغه خبره رښتيا کوله، چي ګڼي له شکاګو ورسته لندن دَ دُنيا دويم غټ ائيرپورټ دی، چي په هر اتيا سېکنډه کي يو جهاز ورڅخه الوځي او بل ورباندي کښېني-

څنګه څنګه چي موږ لندن ته نيږدې کېدلو، هغومره دَ سړک دواړو څنډو ته واړه او غټ ټاوْنونه زياتېدلو لګيا وْ- دې وخت موږ په پلن او ښېخي هوار تک تور سړک باندي داسي په مزه مختته ځنګېدلی روان وْ، لکه موږ چي په بس کي نه، بلکې په يوې کشتۍ کي ناست يُو او ډېر ژر به دا کشتۍ له طوفان سره مخامخ شي او موږ ټول ملګري به دَ سمندر دَ مستو څپو په زد دَ ماتي کشتۍ په وړو وړو دړو باندي دَ خپل خپل ژوند ژغورني په نيت له يو بله دَ همېش دپاره بېل شو-

" يوه ورځ به دا ژوند او دَ ژوند خواځوږي هم له يو بله داسي بېلېږي لکه مختته بېل شوي خلګ "

هو، خبره هم دغسي وه، که يوې خواته زه دَ ژوند په اړه په سوچونو کي دَ يو دقيقو دپاره بې ځوده شوی وم، نو بلي خواته په بس کي ناست دَ بېل بېل هېوادونو خلګ، چي وْ پرېدي -- لاکن دې وخت يې دَ خپلوۍ دَ خواږه احساس له لاري په څېرو باندي دَ يو بل په باب دَ بېلتون احساس له وراپه ځلېدلو او يو بل ته يې داسي په مړو مړو سترګو کتلو، لکه هغوئ چي په دې بېلتون خوشاله نه وي- خو بيا هم هيچا هيڅ نه شو کولی- ولي چي منزل ته په رسېدلو اکثره ملګري دَ خپلو خپلو خواهشاتو سره غاړه غړۍ شي او بس-

" زياته لندن ته په رسېدو يُو، که څوک په تاسو کي دا راته وَښئي، چي زموږ بس په دي برټش ويسټا ټوْر کي څو ميله سفر لنډ کړی دی، نو دَ اٍن سائټ کمپنۍ له خوا به هغه ته يو شيمپېن بوتل سپارل کېږي "

دَ جوْنا له خوا دا اعلان څه وْ، چي په بس کي ناستو ټولو ملګرو له خپلي خوا په اندازه ځواب ورکولو ته لاسونه پورته کړو او جوْنا له اول نمبر چوکۍ څخه تر ورستنۍ چوکۍ

پوري له ملګرو په خپل غوږ کي ځوابونه اورېدلو ورسته مارک هېلي او لينا په حق داسي اعلان وکړو-

" که څه هم ټولو غلط ځوابونه راکړو ، خو دَ ملګري لينا او مارک هېلي ځواب وَ صحيح ځواب ياني **1541**ميله، چي **2465** کلوميټره جوړېږي دی ته نيږدې دی- نو ځکه زه دَ هغوئ په حق کي اعلان کوم "

او بيا چي مارک هېلي او دَ هغه مائني دَ شيمپېن بوتل تر لاس کولو ورسته څنګه په جوش خلاس کړو، نو په بس کي ملګرو هاهوهو او ووولا غوندي ناري پئيل کړې او دا بوتل په بس کي سيټ په سيټ دَ لينا په لاس تاوېدلو سره سره ټول په ولاړېدو وَهم پارَولو-

مختته څه وْ ؟ يو ځل بيا دې مېلي دَ فئير ويل دَ هغې ډېر رنګ واخيستلو، چي تېره شپه يې زه په ډېر څه ليکلو باندي مجبوره کړی وم- لاکن ماتېدم هغسي نه، ولي چي ماته دَ خپل ملګرو ډېفېني او بلنډا وائ، چي تر اوسه لا هم زما سره په څنګ سيټونو کي ناست وْ خبره رايا ده شوه- نو ځکه خو ما انکار هم نه شو کولی، چي کله ډېفيني راخرمه شوه او دَ بلنډا وائ سره يې په څنګ کي درَولو ورسته په خپرو ټکولو وپارَولم-

" زه او دَ بس ډرائيور مسټر رچرډ دَ ان سائټ له خوا تاسو ته مننه وايُو، چي له موږ سره مو سفر وکړو او دا هيله هم کوْ، چي خفه شوي يا بې آرامه شوي به نه ياست-- "

جوْنا چي داسي دَ ټوْر دَ اختتام رسمي خبري سرته رسولې، نو بس هم په بېلابېلو روډونو باندي کنګزکراس ، چي له کومه ځايه مو مزل ته ملا تړلي وه کي خپل دفتر ان سائټ مخي ته چي په غټ ريان هوټل نامي کي له صدر دروازې سره جوخت جوړ وْ برېکونه څه وَوهل، چي زموږ ملګرو تر منځ ټولي ربښتې وَشلېدلې او ما هم له هر ملګري اجازه اخيستلو ورسته دَ کنګزکراس دَ ټيوب سټېشن په لور ګامونه اوچت کړل او يو ځل بيا يوازي شوم- په Yello Line ټرېن کي تر پېډا انګټن نامي سټېشن پوري رسېدلو ورسته پېدل هغه هوټل کنګزهل ، چي ما دَ ګلاسکو وَ ټکي انجلۍ نتاشا ته ښولی وْ ته په دې هېله ورسېدم ، چي کېدلی شي دَ خپل قول په سمه راشي- ځکه خو به کله کله دَ هغې سره په داسي خبرو کي له خياله بوخت هم شوم ، ګوا -

Khyber.ORG

"نتاشا - تاته داسي نه وْکول په کار "

هغې راڅخه په حېرت پوښتنه وکړه -

"کوم څه ؟ ما خو چپ دَ زړه له ربنتې بله ربنته درسره ساتلي نه ده - ته دَ کوم شي خبري کوې "؟

"هو ، منم ، چې تا مي زړه ته لاري جوړي کړي دي ، خو باور بيا هم نه شم درباندي کولی "

"څله ؟ "

زما دَ خبري په ځواب کي دَ هغې دا "څله "څه وْ ، چې زه هوټل مخې ته دَ يوه موټر په هارن بيرته دَ هوش وَ نړۍ ته راستون شوم- او په ځان مي خندلو ورسته په دويم ګام هوټل ته ننوتم-

*****

# دَ خيالونو په ګودر مي تندر پرېوت

زړه مي غوښتلو ، چي کرار ويده شم او دَ تېرو سترو ورځو ستړيا وسا کړم- خو چي ځنګه به مي سترګي پټي کړې ، نو يوې نا يوې هيلي به په ځينو ښو او بدو سوچونو کي داسي سره وَ وېښلم ، چي بيرته به مي سترګي خلاسي کړې او بالا چهت ته به مي کتل شروع کړو- يا به په پلنګ کي جګ کښېښنستم او سګرېټ به مي وَلګولو-

" کېدلی شي، چي هغه نتاشا چي ماته غله وه دَ خپل قول په سمه راشي، ولی چي دا خلګ په قول باندي ټېنګ مشهوره دي "

دا هغه خبره وه ، چي ما بيا بيا سوچ کوله ، خو آخير تر کومه؟ اوس خو زه هم مايوسه شوی وم- ولي چي قول دَ نن دَ مازيګر وُ او دا مازيګری هم زياته په ماښام بدل شوی وُ- نو ځکه مي خوب ته ټالی ـ وهل پئيل کړې او بيا نه يم خبر، چي ځنګه او څه وخت ويده شوی وم-

لاکن لا سم دَ خوب وَ ټاپوګانو ته رسېدلی نه وم ، چي دَ ټېليفون په ژنګ مي سترګي راخلاسي شوې او دَ هوټل استقبالي کلرک راته پېغام راکړو ، چي

" لاندي ستا يو دوست راغلی دی ، چي که لاندي دَ راتلو تکليف وَکړئ نو- "

" هو هو درځم ، اوس درځم "

او بيا ولاړ شوم او ژر ژر مي جامې بدلي کړې او لاندي کُوز شوم-

" نتاشا ته -؟ "

ما دَ نتاشا په ليدو ، چي دې وخت په شنه جينز او په سره loose shirt کي ملبوسه دَ کاوُنټر سره پرتې صوفې باندي ناسته وه ته له خلې دا خبره داسي وَوته ، لکه هغه چي زما خپله وي- خو بيا مي لږ ځان کنټرول کړو او مخي ته ور وَغزېدم- دا چي زما په ليدلو لومړی لا درېدلي وه هم له خوږې موسکا سره رامخته شوه ،او لاس راکولو سره سمه واي-

Khyber.ORG

" هیلو مائ فرینډ - "

او بیا سم دستي یې دا خبره هم ورسره وَتړله -

"زما یقین وْ، چي ته به زما انتظار کوې"

ګوره چي دَ هغې دا بې ساخته انداز څله زما نه شو خوښ، چي په ځای دَ ښه راغلي مي له خلې ورته دا سي لغازي توري وَوتو -

"وایه - بیا دي کومي تلکي زما وَلُوټلو ته درَولي دي؟ "

هغه هم لکه چي خړه شوه او موسېدلي شونډي یې بیرته ټولېدو سره سم ماته سرتر پایه کتلو ورسته څوکه غوندي وَ وئیلو -

" داسي راته محسوسېږي لکه ته چي اوس هم - "

" هو - ستا په راتګ خوشاله نه شوم - او نه ته زما دپاره سپېشل راغلي یې، بلکې ته خو ستا دَ هغې منحوسي ورځي په قول خپلي خور سره ملاوېدو ته راغلي یې "

" دا هم رښتیا دي -- خو بس که ته زما یوه خبره په سړه سینه واوري، نو- "

" څنګه خبره؟ "

او بیا هغې دَ ځواب په ځای په دې لابي کي هلته په یو کونج کي جوړ رېستورېنټ په لور ورکښې کړم او راته وای -

" ستا ګیله په خپل ځای ، لاکن زه په دې خو تاته راغلي یم "

" -- چي ما نور نور لُوټ کړې ، که څنګه ؟ "

زما دَ دې طنزیه پوښتني په ځواب کي هغې په دواړو لاسو کي زما لاس خپلي سینې پوري نیولو په وخت په ډېره ماته خله وَوئیلو -

" منم- هو زه منم ، چي ما او کېلي لتا سره ډېر بد کړي دي- خو نن زه غواړم ، چي لتا مافي -- "

" معافي -- هغسي معافي؟ "

" يَه يَه دې ځل ما خپل دوسته وګڼه او زه دَ خپلو کړو په بدل کي يوه تحفه هم درکول غواړم "

" تحفه -؟ "

که څه هم دا لفظ زما له خلې نه راوَوتلو ، خو دې وخت ما دَ هغې دَ وجود لمس دَ خپل نيول شوي لاس له لاري محسوس کړو او غلی غوندي ورسره په بار وزمه تک تورکاوْنټر سره جوخت په دنګو چوکۍ باندي کښېنستم او په وار وار مي په غلو سترګو ورته کتل پئيل کړو- لا نور نور به مي دَ هغې دَ تحفي وَ توري ته رقم رقم ماناګاني موندلې، چي هغې له پرس څخه يو باکس راايستلو ورسته زما په لور څه راوَغزولو ، چي په ټولو سنهري خيالونو باندي مي اوبه تېري شوې او--

" دا واخله ګهړۍ دَ هغې ګهړۍ په بدل کي، چي تا- "

" مننه -- لاکن څه؟ "

" څه؟ "

يو دم مي په ځان کليمه وَوَئيله او دَ مات زړه خبره مي په ګېلې کي داسي واړَوله -

" زه خو ستا په دې پېغلتوب افسوس کوم "

" هغه څله -؟ "

هو که څه هم له نوي سره مي بيا ورباندي اعتبار کولو ته حوصلې لويَولې- خو دَ هغې دَ دې \ " څله\ " په ځواب کي ورته وايم-

" ستا ښکلا او دا عمر-- دَ غلا او شُوکوَنو خو نه دی؟ "

" ما درته وَ وئیلو چي زه بخښنه غواړم- اوس که ته بیا هم ما نه ماف کوې ، نو زه به بیرته لاړه شم "

او څنګه چي یې وړوکی ښېګ بیرته اوړې ته اچولو ، نو ما لاس ور واچولَو او کښېنوله مي داسي په موسکنۍ خبره -

" اوکې اوکې ، زاړه به هېرَو اوْ نوي به - "

" او له نوي سره به- ستا په خیال څه کوْ ؟ "

دَ هغې په سپینه څېره یو دم سرخي راغونډېدلو ورسته یې دا خبره زما له خبري سره څه وګنډله، چي لاس یې هم دَ دوستۍ په نیت راوَغزَولو او مخته بیا زه وم اوهم هغه وه-- چي تر ډېره مو په خلو باندي کمي او دَ سترګو په اشارو ډېري ترلي غُوټې پرانیستلو سره سره یو بل ته لاري هم تر هغه وخته پوري غزَولې، چي هغه په ځان کي ماته او زه په ځان کي هغې ته نه وم مات شوی-

---

" ځو به دباندي، چي څه درباندي وَخورم "

ګهړۍ چي څنګه لس نیمو بجې ماخستن ته ستني وَرسولي، نو نتاشا له ولاړېدلو سره سمه داخبره څه وَکړه، چي زه یې هم تر لاس وَ نیولم او ولاړ یې کړم- بیا نو څه وْ ؟ زه او هغه څنګ په څنګ له هوټل څخه دباندي راوَوتو او په ټېکسي کي کښېنستو او راته بیا راته واي -

" درځه دباندي ، چي سبل دَ لندن درباندي وَکړم "

او بیا په ټېکسي کي که څه هم دا په وقفو وقفو ژغېدله- خو زه چپ وم او دا وام راڅرمه شوی وْ، چي چرته خو مي بیا لوټلو ته نه وړي ؟ هو دا خو هغه وسواس وْ، چي زه یې وَ

هغې ته نیږدې نه پرېښولم او په رقم رقم سوچونو یې " حقه دا ، چې حقه وایم- خفه کېږې " نامي نظم سازَولو باندي وَهم پارولم -

په بېلابېلو هوارو ، لاکن بې رونقه روډونو باندي منډه وهلو ورسته چې ټېکسي دَ ننتاشا په وینا په یو بارونقه علاقه کي وَدرېدلو ، نو دَ میټر په سمه پیسې ورکولو دپاره چې څنګه ما بټوې ته لاس کړو ، هغې ډرائیور ته وئیلو-

" دَ دې سرې پیسې چې وانه خلي "

او ډرائیور شاته مخ را اړَولو ورسته پوښتنه وَکړه -

" دا ستا مېلمه دی؟ "

" یَه دا زما بوائ فرېنډ دی "

بوائ فرېنډ یې داسي وَوئیلو ،لکه زه چې دَ هغې له مودو راهسې یار وم- او وه هم داسي خبره، ولي چې هغې اوس غوښتلو ، چې خپلې ټولي تېروَتني زما مخې ته صفا کړي- وایم که زه لږ کمزوره وی، نو هغې به نن خپله هره خوښه ناخوښه هم څو څو ځله راباندي منلي وی- دا زه هم منم چې ایمان یې ښه مزېداره راته کچه کړی وْاو هغې ځانته مات کړی څه،چې زه یې هم تر ډېره هانده په رضا شوی هم وم- خو بیا مي هم دا هڅه کوله،چې فاصله وَساتم دَ هغې دَ غابښَورو خوائشاتو او دَ خپلو خواپاکو احساساتو تر میان،چې تر خپلو متصادم نه شي-

دَ څه سېل کولو او په یو غټ رېستورېنټ کي هغې دَ خواړو ښه لوی بل په انګرېزي هوډه پرې کولو ورسته ، زه دَ ماشوم غوندي تر لاس نیولی دَ لندن په فټ پاتهونو باندي یوې بلي خواته ګرځولم- نه یوازي دا ، بلکې هغې پېغلي اوس خبري تر لاسو هم رسېدلي وې او داسي نیږدې نیږدې راته کېدله ، لکه هغه چې نن هغه څه هم کول غواړي - کوم چې هغې زما دَ ډالرانو په لالچ کي په ګلاسګو کي نه وْکړي- زما ښه په یاد دي ، چې ما ځان نه ورکولو ، خو هغې کله ماته منله - آخیر خودَ لوی بادار لُور وه ، چرته یې داسي په آسانه ماته منله- هم

Khyber.ORG

دغه خو وجه وه، چي ما هم خپلي ماتي ته دَ ګټي بڼه ورکوله او ورته وار په وار نور نور اوبه کېدمه لګيا وم-

که څه هم زه بښه خبر وم ، چي نتاشا په خپلو کړو تېروتنو باندي پښېمانه وه، خو ما خپل ټول Valueables لکه پاسپورټ ، ټروېلرز چېکونه او نور کاغذات له اوله لا دَ هوټل په لاکر کي اېښي وُ- په دې وجه خو ورسره ډېر په لوی زړه روان وم-

"چرته خو مي بيا- "

"هو- اغوا کوم دي "

زما دَ سوال په ځواب کي دَ هغې دې شوخ ځواب که څه هم زه وېرَولی نه وم ، لاکن دا خبره يې مزغو ته ضرور رادننه کړه، چي دا نن يې راته ګوره چي بيا کوم سُوی غلی کړی دی؟

"دا نور مختنه خرڅونه په ما- "

ما لا خواست سرته نه وُ رسولی، چي نتاشا زه په څُوک وَوهلم او راته په شوخه لهجه کي واي-

"دا دَ نن شپه ستا په نوم ، څه چي خورې هغه په ما "

"انګرېزه او دومره بولډاله -؟"

"ولي نه- تا تر اوسه ليدلي څه دي، مورِ چي څوک خوښوُ، نو بيا ټولي پُولي ولانګو "

دا خبري چي يې کولې، نو ماته داسي محسوسه شوه ، لکه هغه چي په خپل حال کي نه وي- نو ځکه مي ورته وئيلو -

"هو ، ته درست واي او اوس خو نيمه شپه ده ، درځه دَ خور کره دي وَرسوم "

"ته به ما رسَوې ؟ هان- ولي زه خپله نشم تلی؟ "

"تلی شې - تلی شې ، لاکن هغه او سېږي چرته "

"په پيکادلي کي "

او ما سم دستي يو ټېکسي وَ درَولو او دا مي په کي کښېنوله ، خو زما دَ ښېځې ضد کولو ورسته هم هغې زه په ټېکسي کي له ځان سره نه کښېنولم او ټېکسي ډرائيورته واي-

" پيکادلي ته درځه "

او بيا ماته مخ را اړَولو ورسته په سترې لهجه کي يې وئيلو -

"ګوډ نائټ ډئير- سبا به سره وينو اوکې "

او بيا يې څو واره لاس له ټېکسي څخه را وَ ايستلو او بائ بائ يې راته وکړو- ما هم شکر وَکړو او په بل ټېکسي کي هوټل خواته روان شوم په داسي سوچ ، چي -

" دا خلګ دَ خپلو خواهشاتو مرئيان دي او په هر قيمت يې تر سره کوي "

بيا مي دَ نتاشا وَ دې پښتني طرز هوډي ته پام داسي واوښتو-

" - نو هغه څله دلته راپسې راغله ، هو- که غله وه؟ "

او مختنه دَ هغې څېره او شوخياني وې او زما سوچونه ، چي ځواب ته يې لاري پرانيستلې- ګوا ما دا ګڼلو ، لکه هغه چي زما په هغو ښکنځاګانو ، چي ما ورته په ګلاسګو کي کړي وې او دې ته مي په غټو غټو تورو کي غله هم وئيلي وُ په زد ځان سپينَولو ته راغلي وي - او ځان يې سپين هم کړو-

---

ولاړ خو وم په هېتهرو ائيرپورټ کي،خو دَ بورډنګ کارډ ترلاسه کولو دپاره په کتار کي ځکه نه،ولي چي دَ جهاز ټکټ راڅخه ورک شوی وُ- او دَ کوټ پتلون او راسره دَ بېګو

جېبونه مي پلټلو راپلټلو- لاکن ټکټ مي چرته هم نه کړو پيدا او نه له ما هيچا دا پوښتنه کوله چي زه په کوم عذاب کي ورګېر يم- هرڅوک په خپل کار بوخت وْ- او بلکې يو نيم لا راباندي وَهم خندلو- هم ځکه خو مي چاته حال نشو وئيلی- هو ،که څه هم بلي خواته په سپيکرانو باندي دا اعلانونه کېدلو ، چي

" الامارات ائيرلائن ، چي له لندن څخه دَ دوبۍ په لور تلونکی جهاز تللو ته تيار دی- له مسافرانو څخه خواست کوْ، چي هغوئ دي ډيپارچر لاونج ته ځانونه وَرسَوي "

په دې اناوْنسمنټ باندي مي زړه چي څنګه حلق ته راغلو او بدن مي رېږدېدلو لګيا وْ، چي سم دستي ورپسې دَ يو بل اعلان ازانګې په سپيکرانو خپرېدل پئيل شوې-

" فائنل کال -- مسټر افضل شوق چي په الامارات انټرنېشنل ائيرلائن کي دوبۍ ته ځي څخه خواست کېږي ، چي هغه دي ژرتر ژر ځان جهاز ته وَرسَوي ، ګني --- "

اعلان لا کېدو ، چي په يو دم سپک راکښېنستم، او څه ګورم ؟ چي زه په هغې صوفې کي غزېدلې پروت وم - چرته چي ما برايه نيمي شپې خواته دَ خوب نه راتللو له سوبه ډائرۍ ليکله- ګهړۍ ته چي مي وَکتلو ، نو په کي دَ سهار اووه منټه بالا اتهه بجې وې او تاريخ 28م اپرېل 1996ع -

نن په 2045 بجې ، ګوا پاوْکم نهه بجې ماخستن زما فلائټ وْ دَ دوبۍ دپاره- دَ سهار ناری کولو ورسته مي دَ شيانو تړلو ورسته يو ځل بيا دَ نتاشا انتظار شروع کړو- نو ځکه خوکله به لاندي لابي ته کُوز شوم او کله به بيرته تر خوني پوري بالا وَختم- او دغه رنګه دَ ګهړۍ ستني مخته ځکېدلې لګيا وې- څومره ګران وي انتظار ؟ دَ دې خبري تريخ احساس په خپل ځای ، خو ما نه هم غوښتلو ، چي وخت دي تېر شي- لاکن وخت وْ، چي مخته روان وْ، او بلي خواته هري تېرېدونکي لمحې زه نور نور دَ محرومۍ له عذاب سره مخامخ کولم-

او چي کله څلور بجې شوې، نو مکمل مايوسه شوم- سامان مي غاړي ته کړو او په ټېکسي کي دَ نيرډې مېټرو سټېشن په لور رهي شوم- يوې بلي خواته مي دَ لبوني غوندي کتلو او دا ګمان مي کولو چي کېدلی شي ، چرته بې وَوينم- لاکن هيڅ نه چې له مايوسي -او بيا چي

دَ پېډانګټن مېټرو څخه په لس منټو کي دننه دننه زه په Hammersmith & city لائن ټرېن کي ولاړ بیا دَ Royal Oak سټېشن په خوا روان وم- او دا زېر زمیني رېل ګاډی دَرائل اوک ، وېسټ بورن روډ ، لېډبروک ګرو ، لېټیمر روډ ، شېفرډ بوش او ګولډهاک روډ نامي مېټرو سټېشنان په خپل خپل وار شاته پرېښولو ورسته چي هېمر سمتھ نامي ټیوب سټېشن ته ورسېدله ، نو دَ رېل ګاډی څخه کُوز شوم او په بلیو لائن رېل ګاډی کي دَ ائیرپورټ په خوا روان شوم- دغه رنګه پنځو بجو خواته مازیګر دَ لندن وَ هېتهرو ائېر پورټ ته وَرسېدم- چرته چي په دریم ټرمینل کي زما جهاز شېډول وْ-

وخت لا ببخي زیات پاته وْ، ځکه مي دَ نتاشا په نوم یو ښوکرښي په پوسټل کارډ باندي داسي وَ لیکلې-

ملګري نتاشا !
دا دي ښه وَ کړو ، چي زما په مزغو کي دي خپل ځان او دَ کېلي په باب دَ غلا شک په ډېره مینه لیري کړو- ګني ما به همېش دَ انګلسیانو په حقله دا رائي درلودله ، چي ګوندي هغوئ نور هیڅ نه -- هغسي دَ کاوْبوائ کلچر تر اثر دلاندي اوس په دې جدید دور کي لا هم غلاګانو ته جوړېدلي دي- که څه هم زه دي نن بیا په خپل تریخ انتظار ډېر کړولی یم، خو دَ پرون میناک انداز دي ما ګیلې ته نه پرېږدي او زه دا یم هغسي په مینه درته لیکم لګیا یم- هو په دې هېله ، چي په خپل حال به مي خبر کړې- مننه -------- شوق

دا کارډ چي مي څنګه پوسټ کړو ، نوسم دستي مي دغه تهیم چي ښه ډېر وخت اخیستلو ورسته نظم هم شو دَ ډائری وَ پاڼو ته "اعزاز" تر عنوان دلاندي وَ سپارلو -

---

دَ پرګرام په سمه فلائټ نمبر Ek 004 k الامارات انټرنېشنل له هېتهرو ائیرپورټ لندن څخه پاوکم نهه بجې ماخستن پورته شو او ببخي ژر بیا دَ اوریځو څخه بالا په آسمان کي په الوت شو- جهاز که څه هم ډک وْ، خو شاته یې څو سیټونه خالي وْ- ځکه زه ورپورته شوم او هلته په یوې خالي چوکی باندي کښېنستم او دَ اروپایانو په روئیو او ژوند ژواک باندي دَ سوچ نیلی ځغلولو سره ورسته په مسلمانانو کي چي کوم قام مزغو ته دَ مقابلې په اړه بیا بیا راتلو- هغه وْ عرب، چي په درستي نړۍ کي دَ یو لوی قام سره سره دَ هغې ژبي قام هم بلل

Khyber.ORG

کېږي، چي دَ اقوام متحده په شپږو سرکاري ژبو کي يوه ژبه ګوا عربي واي،چي جنتي ژبه هم ده- او دَ سګرېټ لګولو ورسته مي داسي مفروضې په ډائرۍ باندي ليکل ځکه شروع کړې- چي ما دَ خپل لنډ وخت په مشاهدو کي له ليدلو اروپايانو سره دَ عربيانو تلنه هم مقصد وْ- ګوا ما غوښتلو چي دا مفروضې دَ سوالونو په توګه ځواب ته په خپلو سترګو وَرسوم- هو ،کېدلی شي چي-

دَ علم دَ حصول په پرته که دولت دَ ژوند آسائشونه زياتَوي ، نو تر عربو زيات دولت به له چا سره وي ؟نو ځکه خامخا به يې دَ ژوند کولو طرز مثالي ځه ، چي تر مختنه تللو ټولنو به لا هم يو په لسه زيات او ښه وي-

عربيان لکه څنګه چي جهان ګشته خلګ دي او په هر هېواد ، په خاص توګه چرته چي ژوند مستي مومي کي ليدل کېږي- نو حقه خبره ده، چي دَ پراخو سينو سره سره به هر بدلون ته چمتو هم ښکاري-

اسلام لکه څنګه چي يو تاريخي حقيقت دی ، له عربو څخه په دُنيا کي خپور شوی دی- نو ښکاره خبره ده، چي دا خلګ به په اخلاق خوارِه ، پاسته او په روئيو کي انساني خاصې تر نورو قامونو هم زياتي لري-

لکه څنګه چي په جامو کي يې بدلون نه دی راوړی- نو دغسي به لازمي خبره وي ، چي په اسلامي ثقافت او دين باندي هم ټينګار کوي-

دَ دې جهازونو، چي زه په کي سفر کوم رنګه به کورونه، هوټلونه،ائيرپورټونه او بلا کارخانې او نور نور ،لکه ماڼياني او ودانياني يې هم دَ ټوْرستانو دَ پام اړَوني سوب ګرځي-

هو دا هغه سوالونه وْ، چي دَ توقعاتو په رڼا کي مفروضې ګرځېدلي وې زما په مزغو کي دَ مختنه وتلو نورو قامونو په مقابله کي په ډېر تجسس باندي دَ هغو لمحو په انتظار وې، چي ما په کي له تللو سره سره ځواب ته هم رسولو- او بل مي په جهاز کي وَ ائيرهوستهسانو ، چي زياتره په کي اروپاياني وې ته په درانه نظر ځکه کتلو ، چي زما دَ دې وخت دَ خيال په سمه دَ عربيانو په جهاز کي مزدوري وې او بس-

Khyber.ORG

نه یوازي دا ، بلکې دَ خپل قام په بدي او مانده ورځې باندي مي هم خوار زړه ، مضطربه اروا ، پرهار پرهار احساساتو ، ناروغه ضمیر او پښتني سپېڅلو جذباتو په خپل خپل ځای باندي ژړلو لګیا وْ- ولي چي زه پښتون وم - خو پښتون مي چرته هم په هېره دَ سوچ په هندارو کي دَ مځکي په سر له یو سیال قام سره څه ، چي دَ پرون له مرئیانو سره لا هم په سیالۍ کي نه شو تر نظره- ګوا چرته په یو ائیرپورټ کي دَ دغه قام په نوم جهاز څه، چي دَ باوارونو په تړو باندي مي هم دَ خپل خوارړه قام نوم په یو شي نه وَلیدو- چرته پښتو ، چي وَ نورو ته دَ انسانانو ژبه څه ، چي دَ مارغانو بولۍ هومره هم نه وه مخه وره- او دغسي یې ننګ او پت، چي دَ تاریخ په پاڼو باندي دَ ډائناسور له کیسو سره هم سم زوړ شو- هم دغه وجه وه، چي دَ "بائیللي واک" په نوم وړوکی نظم مي وَ ډائرۍ ته چي سپارلو، نو رڼا په آسمان کي خپره شوي وه او په سپیکرانو کي په دوبۍ ائیرپورټ باندي دَ جهاز دَ کوُزېدلو اعلانونه کېدلو- نو ځکه زه هم ولاړ شوم او بیرته په خپلي چوکۍ باندي کښېنستلو سره سم دستي مي سیټ بیلټ وَتړلو -

---

که څه هم په دوبۍ ائیرپورټ کي دَ کاوْنټرونو مخته کتارونه جوړ وْ، خو ډېر کرار کرار مخته روان وْ- دلته مي دوې خبري تر مشاهدې لاندي وَنیولې- هغه دا- که یوې خواته په کاوْنټر باندي ناستو ځوانانو له هر مسلمانه سره ښېخي زیاتي او بې مطلبه پوښتني کولې، نو بلي خواته هغو کلرکانو وَ غېر مسلم او په تېره شین سترګو او سرو خلګو ته په ډېره تازیله په پاسپورټونو باندي ټاپې لګولو سره سره خلې هم تر غوږو پوري دَ موسکا په نیت رسَولې- ګوا دې لومړي تاثر ماته دَ عرب قام خیالوره څېره لړه غوندي سېجنه کړه- خو بیا یې هم کور ودان، چي له ما یې هیڅ پوښتنه نه وَکړه او بلکې دَ اختر مبارکي وئیلو سره یې زما دَ هوټل له ووچر سره دَ دوْ وختونو دَ خوراک او ناري سره سره یو وړوکی رېفریشمنټ کولو دپاره واړه سلپونه هم راوَسپارَلو -

دَ ائیرپورټ څخه چي دَ ائیرلائن وېګن په ښائسته او پراخو روډونو باندي روان شو- نو مي یو ځل بیرته زړه را لوړ شو او وئیل مي، څه یاره که څه هم دا خلک دَ نورو مسلمانانو په رنګه وَ سره قام ته مات دي- خو دا بلډنګان او ښائسته جوړښت یې راغلو سیالانو سترګو کي څه مخه ور کوي هم- څه مخته یو راونډ اباوْټ چي په منځ کي یې دَ اور لمبه جوړه وه، څخه تېرېدلو ورسته دَ کلاک ټاور نامي هغه ښېخي غټ راونډ اباوْټ هم شاته پاته شولو ، چي

Khyber.ORG

ښي لاس خواته تلونکي ابوبکر روډ باندي يې جوړه ښېخي هسکه پلازه که دَکتو وړوه، نو مخته په Almaktoum Road روډ باندي Diera Cenima او وَکيڼ لاس ته يې هسکه او په خپل ځانګړي انداز جوړه دَ دوبۍ چېمبر پلازه هم سترګي ګتي-

روډ تر ليري ليري پوري خالي وْ- ولي چي نن دَ اختر لومړۍ ورځ وه او وئيل کېږي ، چي دا خلګ اختر ډېر په خوند تېرَوي- دغه رنګه په دې وېګن کي موږ دَ ائيرلائن مېلمانه دَ يو ښائسته هوټل، چي قندوق ماريدياس، چي ورته ګولډن ټاليپ هوټل هم واي ته وَ رسېدو- دلته په دريم پوړ باندي راسپارلي خوني ته چي ځنګه وَرسېدم، نو په پلنګ باندي له هغو جامو سره واويښتم او په نه ساعت کي دَ ټولي شپې دَ بې خوبي له سوبه ويده شوم-

---

دَ درو ګنټهو خوب کولو ورسته لاندي په لابي کي جوړ ښائسته رېسټورېنټ، چي په کي غوړي انډين انجونو کار کم او روزګار په موسکاګانو زيات کولو ته ورسېدم او دَخپلي خوښي خواړه مي ښه مزېداره په کي وَخوړلو- اوبيا مي دَ هوټل په لابي کي هغو شېلفونو ته ځان وَ رسَولو، چرته چي دَ دې هوټل په حقله معلوماتي لټريچر پروت وْ- يو نظر کتلو ورسته دا پته راته وَلګېدله، چي په دې هوټل کي له دې رېسټورېنټه په څېه دوه بارونه، ګوا نېلسن پب، چي په کي دَ شرابونو پرته دَ رقص اهتمام هم ليک وْ- او بل هائي ټائيډ بار، چي په کي دَ شرابو سره جواري هم کېږي په دويم او څلورم پوړونو باندي وجود لري- دغه رنګه يوه ډيسکو، چي سکارپئيو ډيسکوټيک نومېدله هم شته او يو بل چائنيز رېسټورېنټ هم لري-

هم ځکه خو مي دَ دې اشتهاري مواد په اړه چي کله له بيل بوائ مسټر رمېش ، چي انډين وْ څخه پوښتنه وَکړه، نو هغه راته وئيلو-

"په دې هوټل کي څه --؟ دلته په دوبۍ کي قريبًا زياتره کاروبار انډين کوي"

اومخته يې دا هم لا راته وَوئيلو، چي

" نه تش انډين ، بلکي دَ فلپائن پېغلي او دَ نورو هغو هېوادونو چي مسلمانان نه دي خو پېغلي يې په ښېخي زيات شمېر باندي دلته په دوبۍ کي له جهازه واخلې - بيا تر کلبونو ،

Khyber.ORG

کاسینوګانو او دَ شرابو تر بارونو پوري خپلي دهندې کوي او پیسي په بندلونو خپلو هېوادونو ته لېږي "

"ګوا ستا مطلب دا دی ، چي عربیان او دَ هغوئ ښځي دواړه بېخي آزاد طبعیته دي ؟ "

دَ رمېش له خبري سره چي مي ځنګه دا خبره وَګنډله ، نو هغه دَ نرۍ موسکا ورسته وئیلو-

" ښځي یې پړده خو کوي لاکن دَ خپلو مړونو دَ ښې نه دي- او بل سړي دَ دې ځای یو کار هم نه کوي چې له خوړلو ، څیښلو او دَ ښځو له عیاشۍ "

ما وئیل، کیدلی شي، چي دا هندو دَ دې خلګو خلاف وي، نو ځکه مي په خپلو سترګو دَ هغوئ ژوند کتلو ته زړه وَ شو او په ټېکسي، چي دَ یو پښتانه ځوان وْ کي کښېښستم او ورته وئیلو مي -

" وروره- دا نه درته وایم،چي فلاني ځای ته مي یُو شه- بس ته او ستا ایمان او ستا دَ ضمیر په اطمینان کرایه،خو ما دَ دوبۍ په هغه بازار کي کښته کړه ، چرته چي رش ګش وي او بس "

او هغه ځوان ټېکسي روانَولو ورسته راته واي -

" نن دلته اختر دی ، خو بیا هم دوکانونه ، چي زیاتره یې دَ هندوستان ملواړیان چلوي خلاس دي "

" نو دا عربیان به چرته وینم ؟ خو په ائیرپورټ کي مي لا هم تر سترګو نه شولو "

هغه وَ خندل او په پسخوندي انداز یې راته وئیلو -

" دا نه چي نن اختر دی ، بلکې هغوئ خو موږ هم ډېر کم دَ ورځي وینو "

" څه مطلب -؟ "

ما چي ورځخه پوښتنه وَکړه، نو هغه دَ دې ځای دَ خلګو په باب کلکه شکنځا کولو ورسته وَوئیلو-

"دا خلګ دَ ورځي ویده او شپې په کلبونو کي له انجونو او له شرابو سره تېرَوي "

دومره وئیلو ورسته یې دَ دوبۍ په مېن شاپنګ سېنټر ائیریا کي ګُوز کړم-

واقعي دا خو زیاتره هندوان دي ، چي دوکانونه چلوي او بل پښتانه هم څه کم نه دي- اکثره ټېکسي ډرائیوران پښتانه دي او دغسي مزدوران هم، چي دَ بېلا بېلو هېوادونو سره اړه لري لیدل کېږي- دلته عربي ژبه داسي ده ، لکه په اروپا کي انګلسي، چي شاذ او نادر یې غوږونه اوري- دلته هرڅه دَ ورځي شته- بس که نشته ، نو عربیان او عربي ژبه چي دَ لمر لوېدلو ورسته هر هغه ځای کي لیدل او اورېدل کېږي چرته چي رقم رقم پېغلي وي-

"کېدلی شي، چي څه عربیان په دې غټ ماجت کي وَوینم- "

دَ دې خوائش په سمه چي ماخپښین لمانځه ته په دَ دې وسط البلد کي جوړ لوی ماجت په لوي دروازې چي ځنګه وردننه شوم،نو څه ګورم، چي په درست ماجت کي مي یو لوی کمیسی هم نه شو تر سترګو- او لمونځ کولو ورسته له خپلو مایوسیانو سره ملګری له ماجته دباندي راوَوتم او په ټېکسي،چي بیا دَ پښتون لا لا وْکي دَ هوټل په لور رهي شوم-دَ مزې خبره دا وه،چي دَ عربیانو دَ ورځي او دَ شپې دَ مصروفیاتو په باب دې ډرائیور هم هغسي وَئیلو ، کوم چي مخکي اسدخان راته وئیلي وْ-

---

مازیګر بیا زه وم او ټېکسي چي په دوبۍ کي تر لیري لیري پوري وګرځېدم ، خو له بده مرغه چپ له یوه عربي، چي هغه هم په غټي ګاډۍ کي ناست وْ او په موبائل یې خبري کولې بل یو اورېد کمیسی هم نه شو تر سترګو- لاکن ماخستن ، چي مي له کوم عربي سره اړیکه دَ خپل هوټل په رېستورېنټ کي پیدا شوه ، هغه بیا انسان ګرسره وْ نه- ګوا دَ ډوډۍ په وخت چي ما له یوې توربخوني انډین پېغلي څخه دَ یو شي په حقله پوښتنه څه وکړه، چي هغه په شرابو کي لمبېدلی یار راپورته شو او غال یې په دې راسره وَکړو ، چي ګني ما یې له محبوبه سره خبره څله وکړه- او دای لا نور له حاله هغه وخت وَختلو ، چي ما ورته داسي وَ وئیلو چي -

"دومره خوا که په بدَوې ، نو یې کور کښېنوه "



لیک: افضل شوق

او بیا چي یې لاس زما تر ګرېوانه وَ رسېدلو ، نو ما هم ښه زړه ورباندي سوړ کړو- ګوا څه او څه مي نه ورته وَوَئیلو- هو که څه هم دای تر ما زیات په دیکو کي خوړ شوی وْ، خو کور یې دَ هغو نورو څو عربیانو ودان ، چي کرارَولو سره سره یې له ما څخه وَ مافي اخیستلو ته هم ست کړو- او بیا مخته هغه سړی وْ، چي لکه ماشوم له ما ښېلېدلو نه- زه به کېدلی شو ، چي نور نور ورسره ناست وی، خو که دَ رېستورېنټ مېنېجر، چي هندو وْ ماته دَ تللو مشوره داسي وئیلو کي نه وی راکړي-

" خان بهائ آپ اپنې کمرې مین چلې جائین --ان لوګون کې دین و ایمان کا کوئ پته نهین هوتا "

نو ځکه خو ما هم دا خبره دَ ځان په حق کي ښه وګڼله او بالا خوني ته لاړم- خو خوب نه راتلو ، ځکه بیرته له خوني راوَوتم او ډیسکوټیک په لور ورچپ شوم ، چرته چي انجوني که څه هم دَ سرو او سپینو قامونو څخه وې-- خو یوه نیمه په کي دَ مراکو او شام پېغله هم لیدل کېدله- چي په تنګو پتلونونو او یا نیکرونو کي تر درځن زیاتو عربیانو له زړونو او جېبونو سره یې لوبي څه کولې- چي دې عربیانو ورباندي نوټونه هم شیندلو او ډک ډک بوتلان یې په غاړو کي خالي کولو لګیا وْ-

" دا هغه قام دی ؟ چي ما برایه شپه تر سهاره دَ اروپایانو په مقابله کي سوچ کولو "

دا هغه سوال وْ، چي زه یې په دې وئیلو مجبور کړم، چي که دَ دې ګلف عرب هېوادونو دَ تېلو دَ پیسو ذکواتهـ هم په نورو غریبو مسلمان هېوادونو کي وَ وېښل شي ، نو زما یقین دی، چي هیڅوک به هم په مسلمانانو کي غریب نه شي پاته- لاکن یَه دا خو هغه خلګ دي، چي وایم که دَ یو لکهـ څلورویښت کم او زیات نبیانو په ځای په کي - په هم دغومره شمېر ملکان پیدا شوي وی ، نو به هم سړي شوي وی- خو دا له بده مرغه نه شول سړي- څنګه چي پخوا وْ، تر هغه لا زیات اوس په بلا اخته- نو ځکه خو په دوئ کي دا یو څو خویونه ښځي عام او له هیچا نه دي پټ- هو ، لکه ماته په ښلابېلو موقعو چا او چا وئیلي څه ، چي په انګلسي کتابونو "دي ډاټر آف عربیه" او "دي عرب پرنسس" او نورو نورو کتابونو کي یې داسي ذکر شوی دی ، چي سړی په دې وئیلو پارَوي ، چي

دَ ښځي سختي پړدې تر شا څه څه نه کېږي؟

نور خو نور، دَ باداري کورنئيو ژوند هم په ښکاره که انسان وزمه ، خو په حقيقت کي ځناور وزمه دی-

دَ نرانو شراب څيښنه، جواري، زنا کاري او ډانسونه دَ شپې په پړده کي ساری نه لري-

په کورنئيو کي دننه دننه دَ ترلو او تربورانو تر منځه دَ ميني او جنسي جنون پېښې-

څو څو بلکې بې شمېره ودونه- او له درځنو نورو ښځو سره ناستي ولاړي-

په ښځو کي دَ محرومۍ احساس او دَ نرانو له خوا بې توجهي، چي مخته دَ هغوئ دَ بې راه روۍ سوب ګرځي ښځي زيات رجحان-

له قانون څخه برتر خاندانونه

دَ غېر مسلم هېوادوالو سره رښتې او دَ هغوئ دَ ښځو په سودا معاشي مراسم-

ګوره چي لا به نور څه او څه ښې او بدې خاصې لري، خو ماته خوب راځي -- او زه ويدېده غواړم ، ګوا بيرته هغو ټاپوګانو ته رسېدل غواړم، چرته چي انسان دَ انسان په بڼه ښکاري- که څه هم دا بېله خبره ده، چي انسانيت هلته هم خوب-- بلکې دَ ويښو سترګو خوب ښکاري-

---

سهار دَ هوټل انتظاميه په ټېلي فون کال کولو په شپږ بجې راويښ شوم او دَ لمانځه څخه چي ځنګه فارغ شوم ، نو دَ قول په سمه يو ځوان چي له فلپائن څخه يې تعلق ښکاره کولو ناری خوني ته راوړو- او چي بيرته تلو ، نو يې راته وئيلو--

"برايه تا ډېر ښه وکړو- چي هغه فرعون دي بې عزته کړو "

او دومره وئيلو ورسته يې لا دا هم وَ وئيلو-

"دا خلک ځناور دي ځناور-- نور هيڅ نه "

که څه هم زه چپ ، خو ورته په دې موسېدمه ، چي رښتيا يې وئيلو او په زړه زړه کي مي وئيلو-

"څه نا څه خو دي ، چي دا خلک ورڅخه خفه ښکاري "

او په دغه رنګه سوچونو کي مي خپل بېګونه وَ تړلو او دَ ائيرلائن په ټېکسي کي دَ ايئرپورټ په لور روان شوم-

دَ الامارات انټرنېشنل الوتني جهاز نمبر Ek 600 پاوْ بالا اتهه بجې له دوبۍ ائيرپورټ څخه پورته شو او په نه ساعت کي تر اوريځو بالا - ښه بالا دَ کراچۍ په لور لکه دَ پښتون له توپکه وتي ګولۍ روان څه شو- چي ما هم يو ځل بيرته دَ سوچونو رُخ دَ هغې خاوري په لور واړَولو، چي زه يې زېږولی وم- که څه هم زه په زه کي نه وم پاته شوی، خو ورته روان په خوشالي باندي وم-

*****

Khyber.ORG

# ښکلی خوب - هغسې تعبير

ما چې
په خوب کې برا یه
په منډو ترنډو ښکلی
ځان له خوږو سپیانو ږ ژغورلی
او کښېنستمه
نو مې وَ مخې ته
چې کومه انساني ښځه هم
له ډګانو سره
ښکلی په ښکلی راتلله ،
هغې --
له ډېره خشمه
خپل غاښونه راته داسې چیچل
لکه بې وخته
چې ما سترګې غوړولي وې پرې
او لا
هغو سپیانو
اغوستي وې ښځې دَ انسان

*****


ليک: افضل شوق

# دَ مصنف چاپ ناچاپه کتابونه

١ - شلېدلی امېل (دَ غزلو او نظمونو مجموعه ) چاپ ١٩٨٧ – ١٩٨٨ ع
٢ - اووه ګامه مزل (دَ اوؤ ایشیائي هېوادونو یُون لیک ) چاپ ١٩٩٧ع
٣ - په لټون ستا دَ خبرې (دَ نظمونو او غزلونو مجموعه ) چاپ ٢٠٠٣ع
٤ - مزل په واؤرو باندي (دَ اروپا ئي هېوادونو یُون لیک ) چاپ ٢٠٠٤ع
٥ - دَ لمر دَ کلي په لور (دَ اروپا یُون لیک ) چاپ ٢٠٠٥ع
٦ - اروپا ئي ژوند (دَ اروپایانو په نظر کې) چاپ ٢٠٠٤ – ٥ع
٧ - انګرېزي په اروپا کې (عمراني سروې ) چاپ ٢٠٠٤ – ٥ ع
٨ - پروني مخونه (ناول ) چاپ ته تیار
٩ - علامتي افسانې - ناچاپه

# دَ شاعر درک

کور -- ٩ - نېشنل چمپئین سوسائټي
جوډیشل کالوني / ګلزارقائد ، چکلاله - راولپنډۍ / اسلام آباد
کور فون -- +92 -51 – 5954687
موبایل -- 0300 5206095 / 0346 5455414
اي مېل -- afzalshauq@yahoo-com
afzalshauq@hotmail-com
ashauq@hotmail-com
ویبلاګ http://360-yahoo-com/afzalshauq